د کتاب ځانگړني:

د کتاب نوم: غوره لیکنې

لـیکـوال: شاه محمود میاخېل

کـمـپــــوز: لیکوال

خپـرنـدوی: شاه محمود میاخېل فرهنگي او ټولنیز مرکز

د پښتې ډیـــــزایـن: رحمن الله بهیر

چاپ شـمېر:

چاپ نـېـټـــه : ۱۳۹٦ل / ۲۰۱۷م

چـاپـځـــی :

د چاپ حقوق یې له لیکوال او خپرونکي مرکز سره خوندي دي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکلړ**


۱. سریزه ........................................الف ـ د
۲. د ۲۰۱٦م کال مبارکی........................................۱
۳. د شهید نقیب احمد خپلواک په یاد........................................۱
٤. وطن د وطن په خلکو ښه ښکاري........................................۱۳
۵. هر جامه چې عورت پټ وساتي هماغه اسلامي ده........................................۱۴
٦. د کرکټ شل اوریزه لوبې مسابقه نن د زمبابې له هېواد سره........................................۱۴
۷. یوه وړه تبصره د اشنا له ټلوېزیون سره زما د مرکې په اړه........................................۱۵
۸. د ملک نیاز په یاد........................................۱۷
۹. د شینوارو د بل قومي مشر په کور ځانمرگی برید........................................۱۹
۱۰. قضاوت دروند او سخت کار دی........................................۲۰
۱۱. انساني وحشیان........................................۲۱
۱۲. ایا دا خبره سمه ده چې مخامخ به د چا ستاینه نه کوې؟........................................۲۲
۱۳. د داعش د کسانو معاش به د دوی په درد په اخرت کې........................................۲۲
۱٤. ساده ژوند محتاج ژوند ته نه وایي........................................۲۳
۱۵. د الحاج زبیر خاکسار شهادت........................................۲۳
۱٦. د ولس زور د خدای زور دی........................................۲۴
۱۷. انډیوالي او حکومتداري سره فرق لري........................................۲۵
۱۸. د راتلونکو احتمالي پارلماني ټاکنو لپاره دوه احتمالي ........................................۲٦
۱۹. افغانستان په آسیا کې د ټولو نه وروسته پاتې هېواد لقب ........................................۲۷
۲۰. کا بینه او فیصلې او د جمهور رئیس نه هیله........................................۲۸
۲۱. مننه د ختیځ د مدني ټولنو له ځوانانو........................................۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢٢. د پرتمين شاه محمود خان مياخېل ستاينغونډې ته..................٣١
٢٣. دوه عکسونه د دوستانو سره شريکوم..............................٣۴
٢٤. د يويشتمې د جګړې لپاره د شلمې پېړۍ تاکتيکونه....................٣٦
٢٥. د ګوګل په ژباړې کې د پښتو ژبه اضافه کوم.........................۴١
٢٦. خپل تربوران ويروم..................................................۴٢
٢٧. د مشرانو کار د وطن په ګټه د کادرونو نه مناسبه ګټه....................۴٢
٢٨. د وخت مديريت او د کار د مؤثريت اهميت...............................۴٣
٢٩. دا ښايسته ماشوم ووژل شو............................................۴۴
٣٠. د دوستانو مرسته مې د شهيدانو کورنۍ ته ورسوله.......................۴۵
٣١. د سرکاڼو او وټه پور د يو شمېرانو مشرانو سره..........................۴٦
٣٢. زېرى ...............................................................۴٧
٣٣. هر سړى پيدا دى خپل خپل کار لره که نه.................................۵٠
٣٤. مننه او کوروداني.....................................................۵٠
٣۵. ما ته زما د مشر زوى نايل محمود مياخېل ليک............................۵٦
٣٦. دشاه محممود د مياخېل فرهنګي مرکز د پرانيستې په پار د يار..........۵٧
٣٧. د ښکلي خبرونو ويبپاڼې ليکنه.........................................٦٠
٣٨. د کونړ او لوګر والي صاحبانو د مياخېل فرهنګي مرکز وکوت. ..........٦٢
٣٩. د ميرزا ماما (ډاکټر کبير ستوري) په ياد.................................٦۵
٤٠. د ننګرهار پوهنتون د رئيس ببرک مياخېل سره ليدنه.......................٧٨
٤١. په پارلمان کې د کونړ د وکيل سخي مشواڼې عمل غندل....................٨٠
٤٢. عجيبه قضاوتونه په فيسبوک کې ګورم.....................................٨٩
٤٣. د کتاب د ورځې په ياد..................................................٩٠

(c) ketabton.com: The Digital Library




٤٤. منته او کورودانی........................................٩١
٤٥. د ثور اومه او اتمه............................................٩٣
٤٦. د يومعصوم ماشوم اختطاف او شهادت........................٩٦
٤٧. کور ودانی او منته، د حاجي صاحب فاروق ساپي نه.............٩٨
٤٨. د پکتيا له فرهنګي ټولنو نه منته.............................. ٩٩
٤٩. د لوګرپه ولايت کې د والي حليم فدايي د کارونو ستاينه..........١٠٥
٥٠. په افغانيت افتخار...............................................١٠٧
٥١. د ځوانانو، متوسطو او زړو ترمنځ بايد تړاو موجود وي..............١٠٨
٥٢. الله تعالی انسان ته څومره عقل ورکړی دی..............................١٠٩
٥٣. په لندن کې د جمهور رئيس غني په وړاندې مظاهرې...................١١٦
٥٤. زما لور او زوم دواړه د پوهنتون نه فارغ شول.............................١١٨
٥٥. د طلوع ټلوېزيون د تور او سپين په پروګرام کې د حکومت............ ١١٩
٥٦. . د دايکندې د وکيل اسدالله سعادتي مرکه..............................١٢٠
٥٧. د قانون د حاکميت نشتون د افغانستان د سقوط نخښه ده..............١٢١
٥٨. په پېچ دره کې توره شپه................................................١٢٢
٥٩. د کونړ د روغتون حالت..................................................١٢٣
٦٠. پاکستان همېشه منکر وي چې د طالبانو حمايت کوي.................١٢٥
٦١. د مدني ټولنې جنګسالاران..............................................١٢٦
٦٢. هدف مو نه دی ټاکلی اما مبارزه کوو.....................................١٢٧
٦٣. له کلي ووځه؛ خو له نرخه مه وځه........................................١٢٨
٦٤. Peers pressure يا د ملګرو فشار او يوه هيله..............................١٢٩
٦٥. پيشو تر هغه وي شپخه چې په غوښه نه وي پېښه.........................١٣١

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٦. موږ په ټولنه کې د ګلونو ګلدستې ته اړتیا لرو..........۱۳۲
٦٧. پښتو نړیواله ورځ..........................................۱۳۳
٦٨. د فیسبوک د مخترع مارک زوکربرګ مصاحبه..........................۱۳۴
٦٩. د نورو د ښو تجربو نه باید زده کړو..............................۱۳٦
٧٠. د صحي کنارابونو اوتشنابونو انقلاب ته اړتیا ده..........................۱۴۰
٧١. ګاونډې هېواد ته د افغاني مهاجرو په وړاندې داسې بې رحمه........۱۴۲
٧٢. د فیسبوک په دوستانو کې چاڼ په کار دی که نه.......................۱۴۳
٧٣. د خیالي امنیتي ارګانونو پرسونل او خیالي دولتي مصارفات..........۱۴۵
٧٤. په تورخم کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ نښته.......................۱۴۹
٧٥. د افغانستان په حالاتو نه لایق پوهېږي او نه نالایق......................۱۵۲
٧٦. ستاسې څه فیلنګ دی.............................................۱۵۲
٧٧. د پلار د ورځې په یاد............................................۱۵۳
٧٨. د دفاع نوي وزیر صاحب ته.........................................۱۵٦
٧٩. لیکل زما قضاوت ستاسې...........................................۱۵۷
٨٠. ژبه...............................................................۱٦۳
٨١. د افغانې تحلیګرانو په یاد.......................................۱٦۴
٨٢. داعش تقبیح کول.................................................۱٦۵
٨٣. خاصه کونړی اصطلاح...............................................۱٦۵
٨٤. د دولتي چاړواکو تغییر او تبدیل ته ډېر مه خوشاله کېږئ...........۱٦٦
٨٥. د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د خاصو استازو سره..............۱٦۷
٨٦. د جنګ عدم موجودیت د سولې معنی نه لري.........................۱٦۸
٨٧. د صحرایي محکمو غندل..........................................۱٦۹

(c) ketabton.com: The Digital Library




۸۸. د خولې لپاره حجاب په کار ........................................۱۶۹
۸۹. د اغېزلي هرڅه په خپل ځان دي........................................۱۷۷
۹۰. موږ باید کور جوړ کړو نه ځانونو ته کوټنې........................................۱۷۷
۹۱. یوه لنډه جمله اوږد تحلیل ته اړتیا لري........................................۱۷۸
۹۲. د هویت بحران........................................۱۷۹
۹۳. په وارسا کې د افغانستان سره د ناټو هېوادونو د ملاتړ دوام............۱۸۲
۹٤. . د حکومت توصیف او یا په حکومت نیوکه گناه نه ده.................۱۸۵
۹۵. د وارسا د نظامي مرستو د ژمنو په اړه زموږ وطنداران خفه دي.......۱۸۸
۹٦. په فیسبوک کې دعامه ذهنیت معلومول یا نظرسنجي........................................۱۸۹
۹۷. د جنگ تاوان........................................۱۹۰
۹۸. ولې غربي نړۍ پر مختللې ده............................،............۱۹۰
۹۹. د انټرنېټ استعمال شیطاني عمل دی او که نه........................................۱۹۴
۱۰۰. ملکیت د هر چا خپل دی........................................۱۹٦
۱۰۱. د اکثریت رول په دیموکراسۍ کې.............................،...........۱۹۷
۱۰۲. وایي مطلق قدرت، مطلق فساد رامنځته کوي........................................۱۹۹
۱۰۳. اکبر پادشاه او بیربل........................................ ۲۰۰
۱۰٤. له مولوي محمد یونس خالص سره مرکه........................................۲۰۱
۱۰۵. د ټاکنو د تبې لپاره د درد درېیم مسکن فرمان ........................................۲۰۲
۱۰٦. ژورنالیزم یا اکتیویزم (Activism)........................................۲۰۳
۱۰۷. ایا د امنیتي ارگانونو د منسوبینو وینه د نورو نه کمه ده.............۲۰۴
۱۰۸. مابین همه کجا این بیچاره هم کج........................................۲۰۵
۱۰۹. په تصمیم نیولو کې عجله........................................۲۰٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۰.  تر خپلې وسې د قدرت نه سؤ استفاده یا د ځنګل قانون..................۲۰۶
۱۱۱.  یا الله ته په دې بعضې ژورنالستانو ورحمېږې!............................۲۰۷
۱۱۲.  د خدای بخښلي کشمېرخان د جنازې په مراسمو یوه لنډه تبصره.........۲۰۸
۱۱۳. د ننګرهار په پوهنتون کې د سولې او کړکیچ د مرکز پرانیسته............۲۱۰
۱۱٤.  د مشرانو د کاغذي عکسونو سره عکس اخیستل...............................۲۱۲
۱۱۵. وایي مېړه ووژنه خو مېړانه یې مه وژنه( د محمود صیقل په اړه)..........۲۱۴
۱۱٦. په لوګر کې د پاکستان د هلیکوپټر سقوط.......................................۲۱۵
۱۱۷. د افغانستان د پیازو صادرات.....................................................۲۱۵
۱۱۸. د کونړ ولایت کتاب چاپ ته تیار شو.............................................۲۱٦
۱۱۹.  په ننګرهار کې د الشفا تش په نامه روغتون....................................۲۱۷
۱۲۰.  د نورو قضاوت.........................................................................۲۱۹
۱۲۱.  د آزادۍ د ورځې په اړه.............................................................۲۱۹
۱۲۲. د حکومت سقوط د نظام سقوط دی................................................۲۲۰
۱۲۳.د آزادۍ د ورځې په مراسمو کې حبیب الله کلکاني عکس لګول........۲۲۴
۱۲٤. پپولیست سیاست.......................................................................۲۲٦
۱۲۵.موږ د دایمي سولې لپاره ډېرې اوږدې مبارزې ته اړتیا لرو.............۲۲٦
۱۲٦.د تېرو څو لسیزو جګړې او د سولې ناکامې هڅې............................۲۳۱
۱۲۷.د ټاکنو د اصلاحاتو په اړه د  افغانستان د کابینې د پریکړې هرکلی...۲۳٦
۱۲۸.ملي سرود ته نه پاڅېدل...............................................................۲۳۸
۱۲۹. په اصطلاح د سیاسي نخبه ګانو جفا د افغانانو سره........................۲۳۹
۱۳۰. زما نوی کتاب د چاپ نه راووت..................................................۲٤۰
۱۳۱. د ۲۰۱۰ م کال د پارلمان پرېکړې ته درناوی.................................۲٤۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۲. زړه مو د تیرې نه کلک شوی دی............................۲۴۳
۱۳۳.د رسمي او غیر رسمي سفرونو د تبلیغاتو تر منځ توپیر.................۲۴۵
۱۳٤. د نظام ډولونه د افغانستان ستونزه حل کولی نه شي....................۲۴۹
۱۳۵.بعضې کسان د خولې له خوا د اسهال په مرض اخته دي...............۲۵۱
۱۳٦.د سولې نړیواله ورځ...................................................۲۵۲
۱۳۷.که غواړې چې ټوپک نه زړه بد کړې نو نخښه ورته لرې کېږده........۲۵۴
۱۳۸.د کونړ ډاډه او انار.......................................................۲۵۵
۱۳۹. فرکسوني نهادونه او ستونزې...........................................۲۵۷
۱٤۰. د تراژېدیو د عکسونو خپرولو په اړه یوه لنډه مشوره....................۲۷۲
۱٤۱. د اتفاق او اتحاد ډولونه................................................۲۷۳
۱٤۲. حکومت او اسلامي حزب سره د سولې د هوکړې لاسلیک.............۲۷۴
۱٤۳.د پیر صاحب سید احمدګېلاني د هلو ځلو نه مننه.........................۲۷۵
۱٤٤. د شهید رباني د تلین په غونډه کې د نا مناسبو الفاظو استعمالول...۲۷٦
۱٤۵.ضد او نقیض خبرې......................................................۲۷۹
۱٤٦.افراط او تفریط............................................................۲۸۰
۱٤۷.د ننګرهار د شینوارو ستونزه.............................................۲۸۰
۱٤۸.د ننګرهار د ولایت آوازې................................................۲۸۱
۱٤۹. د معلم د ورځې په یاد....................................................۲۸۵
۱۵۰. د کونړ د کتاب مخکتنه..................................................۲۸۵
۱۵۱. هم مرداري خوري او هم مکوښه څنډي....................................۲۸۸
۱۵۲.د لونګۍ ورځ.............................................................۲۸۹
۱۵۳. د ورځو د تجلیلولو لړۍ....................................................۲۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵٤. د مثبت بدلون هلې ځلې د ستایلو دي........................۲۹۲
۱۵۵.لیډرشیپ او مدیریت................................................۲۹۳
۱۵٦.د عاشورا د ورځې دوه حملې.......................................۲۹۴
۱۵۷.د قدرت د نفوذ یا Authority، مشروعیت..........................۲۹۴
۱۵۸.چې ګرځې ډېر څه به اورې او ګورې؛ تبلیغي حضراتو ته مشوره......۲۹٦
۱۵۹.د بیروکراسۍ ټال چال...............................................۲۹۹
۱٦۰. د مخابراتو د جعلي شبکو عمده غلاوې............................۳۰۰
۱٦۱. له فیسبوک او یا نورو رسنیو نه زړه مه بدوئ.....................۳۰۱
۱٦۲.زما دا نهه بلډیګونه تکمیل شول.....................................۳۰۲
۱٦۳.د ماشومان او لویانو ترمنځ توپیر.....................................۳۰۳
۱٦٤.ناست په سیاسي چوکیو دي خو فکرونه یې  د چریکي...............۳۰۳
۱٦۵.چې باوري نه یاست، د چا مه ښه وایاست ا و مه بد...................۳۰۴
۱٦٦.جګړه به وګټي خوجنګ ګټلی نه شي...................................۳۰۵
۱٦۷.د لیکلو لنډه مشوره ځوانانو ته.........................................۳۰۸
۱٦۸.دوی د بل چا زامن دي...................................................۳۰۸
۱٦۹. شرافت د انسان په علم او ادب دی نه په نسب.....................۳۰۹
۱۷۰. عمده تفاوت د حکومت او د مسلحو مخالفینو او تروريستانو ترمنځ....۳۱۰
۱۷۱. د خپلواک په یاد  د سولې انستیتوت له خوا د ښځو رسامي وښودل شوه...۳۱۰
۱۷۲.مثبت فکر کول په خپله مؤثریت دی....................................۳۱۳
۱۷۳.ستا په جنت کې دې ژرندې وي..........................................۳۱۴
۱۷٤. شخصي اجنډاوې او که ملي اجنډاوې.................................۳۱۵
۱۷۵.د امریکا د جمهوري ریاست ټاکنې......................................۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۶.د بريالي نوماند کاري بريالیتوب او ناکامي د ټاکنو وروسته معلومېږي.. ۳۲۴**
**۱۷۷.وايي ناراستي د کور نيستي ده............................................۳۲۵**
**۱۷۸.احساساتي برخوردونه..............................................................۳۲۶**
**۱۷۹. د بعضې ملکونو د خلکو او مشرانو نه دا مرغان هم هوښيار دي...........۳۲۷**
**۱۸۰. وزير صاحبانو بودجه شايد د ښې بدې ورځې لپاره ساتلې وي............۳۲۸**
**۱۸۱. دا زموږ وزيرانواليان، وکيلان، قاضيان ولې دومره سپک شول.............۳۲۹**
**۱۸۲. په واشنګټن کې د افغان سفير ډاکتر حمدالله محب سره کتنه............۳۳۱**
**۱۸۳.پارلمان په دوه ورځو کې پنځه وزيران سلب اعتماد کړل.................۳۳۲**
**۱۸٤. په حکومت کې د ټولو نه ستونزمنې دندې کومې دي.......................۳۳۳**
**۱۸۵.ليکل د څه لپاره...................................................................۳۳۴**
**۱۸۶.مرغان هم د ښې هوا نه خوند اخلي.........................................۳۳۶**
**۱۸۷.افغانانو ته کاذب غرور او درواغجن تاريخ پاتې دی........................۳۳۷**
**۱۸۸.دنيا په امېد خوږل کېږي خو کله د انسان ارمانونه.........................۳۳۹**
**۱۸۹. شر ع ظاهر مني...................................................................۳۴۰**
**۱۹۰. فکري انکشاف او فکري رغونه...................................................۳۴۲**
**۱۹۱. اول ځان جوړ کړئ بيا خپل کور، کلي او وطن جوړ کړئ.............۳۴۳**
**۱۹۲. موږ بايد په خپلو ليکنو کې مرچکي کم کړو................................۳۴۴**
**۱۹۳.هسې يوه چوټ اندازه پوښتنه......................................................۳۴۵**
**۱۹٤. د مدير او رهبر ترمنځ فرق.......................................................۳۴۹**
**۱۹۵.د محمد رياض قصه.................................................................۳۵۰**
**۱۹۶.د فيدل کاسترو د ژوند محاسبه يا قضاوت...................................۳۵۱**
**۱۹۷.خاورې به دا وطن جوړشي چې انجينران يې په دار ځړول کېږي....۳۵۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۸. د ځمکې خلکو د خدای په امان..........................۳۵۴
۱۹۹. فکر..........................................................۳۵۷
۲۰۰. د فیسبوک د مفتیانو د فتوا نه ځان ساتل.............. ۳۵۸
۲۰۱. افغانستان لپاره د ترياژ پروسه په کار ده.................۳۵۸
۲۰۲. هسې یادونه..............................................۳۵۹
۲۰۳.څلور نسله سالمی روزنې ته اړتیا ده........................۳۶۴
۲۰٤. د ولس او حکومت ترمنځ رابطه او فیسبوکي مبارزه..................۳٦۵
۲۰۵.د يو نظام د بقا لپاره حقوقي او سیاسي مشروعیت دواړه مهم ..........۳٦٦
۲۰٦.د فیسبوک د لیکنو په اړه دوه نظرونه..............................۳٦۷
۲۰۷.تقرر مرکزي کول ښه کار نه دی...................................۳٦۸
۲۰۸.افغانستان کې پرزې شته خو انجن ترې جوړولی نه شو...............۳۷۰
۲۰۹. په هر قیمت چې وي باید د جنګ مخه ونیول شي....................۳۷۰
۲۱۰. د ویلو او لیکلو ژبه باید ساده او عام فهمه کړو نه سخته................۳۷۴
۲۱۱. راځي چې ښه خبرونه د خپلو سیمو سره شریک کړو...................۲۷۵
۲۱۲. د ځوانانو لپاره د قلم د ښوونیز، ټولنیز او فرهنګي مرکز نه مننه......۳۷۷
۲۱۳.د پرفیکشنستانو قضاوته هم عجیبه غوندې وي......................۳۷۹
۲۱٤. د وخت او د امکاناتو د مصرف محاسبه همېشه په کار ده..............۳۸۱
۲۱۵.د خپلې سیمې یو بل ښه خبر.........................................۳۸۲
۲۱٦.نیم بسمل مرغه.......................................................۳۸۴
۲۱۷.زموږه نړۍ یوه وروسته پاتې نړۍ ده.................................۳۸۵
۲۱۸.د ستونزو د حل لپاره یوه طریقه؛ د مخابراتي شبکو تجربه...........۳۸٦
۲۱۹. ژوند په هرحالت کې ټوله مبارزه ده.................................۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غوره ليکنې

د مطبوعاتو په ډگر کې د ټولنيزو شبکو وده او پراختيا په رښتيا د نه پرتلې يو ستر بدلون دی. په وروستيو کلونو کې يې د نړۍ په گوټ گوټ کې د داسې اغيزو شاهدان وو چې د عامو رسنيو له تاثيراتو پورته وو: د ليبيا، مصر، تونس، سوريې، يوکراين او نورو پاخه نظامونه يې يا ړنگ او يا يې په ابدي بحران ککړ کړل. د امريکې په څېر د يو ستر قدرت ولسمشر يې له برکته په کرسۍ کښېناست. دا چې لا به په نړۍ کې د څومره نورو سترو بدلونونو جوگه گرځي د هر چا په حدس پورې تړلې ده.

د ټولنيزو شبکو ځانگړنه دا ده چې په اسانۍ او بې له عواقبو پکې هر سړی کولای شي چې هم کمره مين واوسي، هم ژورنالست، هم کارشناس، هم سياستمدار، هم مشر هم کشر هم هر بل څه چې زړه يې وغواړي.

ټولنيزې شبکې که له يوې خوا گټې لري په دې چې خلک نږدې کوي، د معلوماتو په شريکولو کې چټکتيا راولي، هر وگړی د غږ څښتنوي او داسې نور له بل لوري خپلې ژورې خامیانې هم لري او باعث د سترو ستونزو او بحرانونو گرځېدلای شي .

په فردي انداز که له يو لوري د شخصيت جوړېدنې يوه وسيله ده له بل لوري د شخصيت وژنې موثره وسله ثابتېدلای شي. په يوه احساساتي خبره له يوه کس څخه په څو شيبو کې اتل جوړوي خو په يوه بله احساساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرمؤثقه خبره له بل ځخه ملي غدار. که ښـه اسـتعمال شي د مـلي وحـدت د ټینګښت سبب ګرځي خو د بلې خوا د ملي نفاق هم بهترینـه وسـیله کېـدای شي

د ګران دوست شاه محمود میاخېل د ټولنیزو شبکو لیکنې زما په دې خوښې دي او په لېوالتیا یې لولم چې د ګران هېواد ځانګړي حالت ته په پـام کـې د ټولنیزو شبکو پورتنیو او نورو حساسو اغېزو ته متوجه دي. که له یو لوري یې په لیکنو کې د پند او ځیرکتیا پیغامونـه دي، لـه بـل لـوري یـې لیکنـې د ټولنیزو شبکو لپاره غوره معیارونه او بېلګې دي. نو له دې امله مې څه موده وړاندې ګران ورور میاخېل ته وړاندیز وکـړ چـې خپلـې د ټـولنیزو شـبکو لیکنې دې د یو کتاب په توګه چاپ او عنوان دې یې (غوره لیکنې) کړي. دا چې قدرمن میاخېل صـاحب زمـا د وړانـدیز مطـابق د دې کتـاب پـه چـاپ وتوانېد د لا زیاتو بریالیتوبونو د غوښتنې په خوا کې ورته مبارکۍ هم وایـم او لوستونکو ته په زړه پورې مطالعه غواړم.

**په درنښت**

**حضرت عمر زاخېلوال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سرځو خبرې:**

دا کتاب، غوره ويناوې زما د فيسبوکي ليکنو او بحثونو درېيمه ټولګه ده. د دې نه مخکې لومړنۍ ټولګه د مخکتاب او دويمه د درېيمې زاويې په نومونو چاپ شوې دي. د درېواړو کتابونه نومونه ما د دوستانو سره په مشوره غوره کړي دي. د لومړي کتاب نوم مې د ثناءالله تسل او اسدالله ساحل په مشوره غوره کړ او د دوی دليل دا و چې د فيسبوک له نوم سره زيات خلک اشنا دي او د لوستونکو به خوښ شي؛ نو په دې توګه د کتاب مخ هم د فيسبوک په شکل ډيزاين شو. د دويم کتاب نوم مې درېيمه زاويه ځکه کېښود چې استاد هجرت الله اختيار راته مشوره راکړه، چې ده د کتاب مسوده په غور سره لوستلې ده او په ليکنو کې افراط او تفريط نشته دی او په ډېرو ځايونو کې د مسايلو په اړه د حل وړانديزونه هم شوي دي؛ نو که په دې کتاب د درېيمې زاويې نوم کيښودل شي ښه به وي. ما د اختيار صاحب مشوره ومنله او په دويم ټوک مې درېيمه زاويه نوم کېښود. د اختيار صاحب ورور رحمان الله بهير د کتاب پښتۍ ډيزاين کړه پر پښتۍ درې لاسونه په درې رنګونو کې انځور شوي چې د افغانستان د بيرغ له رنګونو سره شباهت لري. زما د وړانديز پر اساس يې د لاسونو د غټوالي کچه يا سايزونه شين لاس لوی، ورپس يې سور او تور وړوکی و. له لاسو نه زما تعبير دا و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور لاسونه همېشه د تشویق او کار کولو مخه نیسي او په پټه د خلکو د پرمختګ مانع ګرځي. د سور لاس خاوندان همېشه د خلکو احساسات راپاروي او خلک تشدد او جنګ ته تشویقوي اما د مسایلو د حل لپاره کومه مشخصه لار نه لري. شین لاس همېشه خلک تشویقوي او د مسایلو د حل لپاره وړاندیزونه او ښودنې هم لري؛ نو کله چې شین لاس په سره او تور لاس غلبه وکړه، په هغه صورت کې به په افغانستان کې ثبات رامنځته شي.

د دې کتاب نوم مې غوره ویناوې ځکه کېښود چې پا کستان کې د افغانستان سفیر او د جمهور رئیس خاص استازي ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال صاحب چې زما د څو لسیزو نږدې ملګری او دوست دی، د پاکستان نه راته د ۲۰۱۶م کال د جولای په اوومه نېټه ایمیل راولېږه او د اختر د مبارکۍ ترڅنګ یې راته لیکلي وو، چې:

وروروجانه!

زه ستا پوستونه د فیسبوک له لارې په ډېرې دلچسپۍ او شوق سره لولم او ستاسې لیکنې د الفت صاحب د غوره نثرونو سره شباهت لري او که واضحه ووایم نو ستا لیکنې ډېرې هدفمندې او د افغانستان د ورځنیو مسایلو په اړه برابرې دي. امېد لرم چې د دې لیکنو مجموعه د کتاب په توګه چاپ کړئ او که غوره ویناوې نوم پرې کښېږدئ نو ډېر ښه به وي.

که څه هم د ډاکتر صاحب زاخېلوال خپله لورېینه ده چې زما لیکنې یې د الفت صاحب د لیکنو سره تشبه کړي دي خو زه په علمي او ادبي لحاظ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت صاحب د شاگردانو په ليکه کې هم نه راځم او د هغه شخصيت ته زه خاص احترام لرم. د دې خبرې يادونه با يد وکړم چې دالفت صاحب غوره نثرونه او د غوره شعرونو ټولگې ما په ابتدائيه ښوونځي کې چې زه په پنځم او شپږم ټولگي کې وم لوستلي و ځکه زما خداى بخښلي پلار دا کتابونه په کور کې درلودل او همېشه به يې چې کله خبرې او يا وېناوې کولې نو د الفت صاحب د نثرونو او شعرونو ذکر به يې همېشه په خپلو خبرو کې کاوه. کله چې زه د دولسم صنف نه خلاص شوم نو د الفت صاحب د غوره نثرونو کتاب مې يو ځل بيا ولوسته او د هغه د ليکنو نقل قول مې په خپلو ليکنو کې پخوا هم کړې دى. نو په دى توگه زما ليکنې د الفت صاحب د ليکنو نه الهام اخيستى او د هغه ليکنې مې ډېرې خوښېږي ځکه عامه فهمه او د افغانستان د اجتماعي ستونزو سره خاص تړاو يې درلوده.

البته د هر وخت ټولنيزې ستونزې سره توپير لري نو ما په خپلو ليکنو کې کوښښ کړى چې د افغانستان روانې ټولنيزې ستونزې په گوته او د نړيوالو تحولاتو په رڼا کې خپل نظر وړاندې کړم. په دې ليکنو کې کوښښ شوى چې ولس او حکومت دواړه خپلو مسووليتونو ته متوجه شي تر دې چې د افغانستان د ستونزو لپاره مناسبې حل لارې چارې په شريکه ولټول شي. حکومت بې له ولسه او ولس بې له حکومته نه شي کولاى چې خلکو ته خدمت وکړى شي. د افغانستان په ټولنه کې لويه ستونزه دا ده چې هم اشخاص او ډلې  او هم دولتي چارواکي او مشران په نيوکو او دوى خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو ته په متوجه کولو خفه کېږي او په ډېرو مواردونو کې دوی انتقاد کوونکو ته د دښمن په سترګه ګوري. زه د داسې ليکنو جرأت او ولس او حکومت خپلو ستونزو ته متوجه کول اړين بولم. د ستونزو د حل لپاره لومړنۍ مرحله دا ده چې د ستونزې موجوديت څوک ومني که د ستونزې موجوديت څوک ونه مني نو بيا خود ستونزو لپاره د حل لار هيڅکله نه شي پيدا کېدلی او دې ته د تکذيب يا Denial حالت وايي.

له ۲۰۱۳م کال راپه دې خوا ما د فيسبوک ليکنو ته خاصه توجه درلوده څکه په سلګونو او حتی په زرګونو دوستانو زما ليکنې خوښې کړې او يا يې تبصرې پرې ليکلې دی. د دې دوستانو مثبتې او منفي تبصرې مې هم يو څه دلته رانقل کړې دي او هدف مې دا و، چې موږ بايد د ملي او محلي مسايلو په اړه موضوعاتو کې بې تفاوته پاتې نه شو، د ويناو او نيوکو جرأت بايد ولرو او هم د خلکو د نيوکو په مقابل کې حوصله وښيو، چې د ملي او محلي مسايلو په اړه يو مثبت ډيالوګ ته لاره هواره کړو. داسې بحثونه همېشه په ولسونو کې او په خاصه توګه په ځوانانو کې مثبت فکري تحول رامنځته کوي او د تحمل او انتقاد پذيرۍ روحيه تقويه کوي. که داسې بحثونو ته لاره هواره نه شي او ولس په تيارو کې وساتل شي، نو په دې حالت کې ځوانان هرو مرو د افراط او تفريط لوري ته مخه کوي. دا ليکنې ټولې په ۲۰۱۶م کال کې تاريخ وار د افغانستان د روانو ستونزو او سياسي مسايلو سره په تړاو شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخر کې زه د فیسبوک له ټولو هغه دوستانو نه چې په دې بحثونو کې یې برخه اخیستلې او یا یې زه تشویق کړی یم، د زړه له کومې مننه کوم. همدا شان زه د ښاغلي اسدالله ساحل نه مننه کوم چې د دې کتاب په بیا لوستلو سره یې زما د غلطیانو اصلاح کړې ده. زه د ګران رحمن الله بهیر نه مننه کوم چې د دې کتاب په ډیزاین کې یې د تېر په څېر زیار ګاللی دی.

نور ستاسې او د دې لیکنو ترمنځ نه حایل کېږم، امېد دې چې لوستلونکي ترې مثبته ګټه واخلي.

په درنښت

شاه محمود میاخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۲۰۱٦م کال مبارکي:**

د جنورۍ لومړۍ نېټه، ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

د ۲۰۱۶م نوي کال د پیل مبارکي ټولو دوستانو ته وړاندې کوم. په افغانستان او په ټوله نړۍ کې د سولې او سوکالۍ په هیله!

ارامي او سوله د انسانانو په خپل لاس کې ده، چې ښنګه د ځانونو لپاره د سکون فضا جوړه کړي. مسلمانان خو باید دا ایت شریف هیڅکله له یاده ونه باسي که په خپل ځان کې تغییر رانه ولئ نو الله تعالی هم ستاسې په حالت کې تغییر نه راولي: (اِنَّ اللّٰهَ لا یغیر ما بِقَومٍ حَتّیَ یغیروا ما بِاَنفُسِهِم).

**د شهید نقیب احمد خپلواک په یاد:**

۶ د سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل



د ۲۰۱۴م کال د اکتوبر په شپاړسمه، په امریکا کې د متحده ایالاتو د سولې انستیټوټ د ټکنالوژۍ د روان بهیر د رابرسېره کولو په موخه یو کنفرنس جوړ کړی و، په دې بحث کېده چې، د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسواکۍ کې د ټولنيزو رسنيو او ټکنالوژي اغېزې او تاثيرات څه دي.
(TECH RISING: THE INFLUENCE OF SOCIAL MEDIA AND NEW TECHNOLOGIES IN AFGHANISTAN'S DEMOCRACY)

دغه کنفرانس ته له افغانستان څخه هم يو شمېر د سوشل مېډيا فعالين، د سياسي علومو استادان او د مدني ټولنو غړي دعوت شوي وو. سهار چې کنفرانس ته لاړم، په دريغ راسره پنځه نور افغانان: ايميل پسرلی، رحيم الله بشارت، مجيد قرار، حبيب خان توتاخېل، ښايسته سعادت لامع او يو ښکلی ځوان نقيب احمد خپلواک ملګري شول. توتاخېل او خپلواک ما له دې د مخه نه پېژندل او په لومړي ځل ورسره دلته معرفي شوم. کنفرانس کې موږ هر يو په خپل وار په افغانستان کې د سوشل مېډيا د استعمال په پراخېدو، او د ځوانې ولسواکۍ په غوړېدا کې يې پر اهميت خبرې وکړې. د کنفرانس نه وروسته ما دې ځوانانو ته د افغانانو له دود او دستور سره سم ست سلا وکړه، چې ما سره د ماښام لپاره مېلمانه شي. دوی زړه نا زړه وو، خو زه خبر شوم چې دوی له هغه هوټل نه چې پکې اوسېږي، وځي او ځانته بل ځای لټوي، نو ما ورته وويل چې بل ځای دې نه نيسي او ما ته څه ستونزه نشته، ځکه چې موږ څو کوره نږدې سره اوسېږو او يو کور تاسې ته خالي کولی شو. له ډېر اصرار نه وروسته دوی ومنله، خو ويې ويل، چې خپلواک سبا ته وختي پرواز لري او دا بل ښه دليل و، چې بايد له ماسره مېلمانه شوي وای ځکه چې زموږ کور د واشنګټن ډالاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوايي ډګر ته نږدې دی او کولی مو شول چې سهار مهال خپلواک صاحب په اسانۍ هوايي ډګر ته ورسوو.

بالاخره تصميم په دې شو چې دوی زماسره لاړ شي، موږ ورته زما د زوی ضيا مياخېل کور خالي کړ. زه د شپې تر يوه وخته له دوی سره پاتې شوم، بيا ترې کورته راغلم او ضيا ورسره هماغلته و. سهار چې ورغلم، ويې ويل چې د خپلواک نه پرواز تللی و او بيا په ډېر تکليف ورته دوی په بل پرواز کې ځای پيدا کړ. د دې لنډې څو ساعته ليدنې وروسته، د خپلواک څېره او خبرې زما په فکر کې ډېرې پاتې نه شوې او بيا مو سره په لنډ وخت کې ليدل هم ونه شول.

تېر کال د جون په مياشت کې موږ د کابل په دفتر کې يو څه تغييرات راوستل او د قانون د حاکميت د برخې لپاره مو يو پوست اعلان کړ. د دې پوست لپاره مو داسې کس په کار و، چې هم د حقوقو په رشته کې ښه تعليم او تجربه ولري او هم د ادارې او مديريت په برخه کې پوهه او وړتيا ولري. دغه پوست ته د سلهاو کسانو په منځ کې يو هم خدای بخښلی نقيب احمد خپلواک خپل اسناد راستولي وو او لنډ ليست (شارټ ليست) ته يې هم نوم ختلی و. دا به مبالغه نه وياو زما د دفتر د پروګرام ټول کار کوونکي راسره ښايي دا تصديق کړي چې ما تل ټول کسان د يوې رنې پروسې په ترڅ کې نيولي دي او دا توپير مې نه دی کړی چې څوک د کوم ځای دی او کوم قوم پورې تړاو لري. زه شخصاً د قوم او سمت په بنياد د کارکوونکو د ګمارنې سخت مخالف يم. خدای دې وکړي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه دفتر کې ټول کارکوونکي يوازې د يوه قوم وي، خو بايد د ظوابطو او رښې پروسې په بنسټ راغلي وي، نه د روابطو او قانون ماتونې په صورت کې.

په اخره کې ما هم د نهايي نوماندانو سره د انټرويو په پينل کې برخه واخيستله او د شهيد نقيب احمد خپلواک سره مو انټرويو وکړه. اوس هغه وخت تېر دی خو ده زموږ د پينل ټول غړي په دې قانع کړل چې ولې ده دغه پوست ته اپلای کړې او د دې قابليت لري چې د متحده ايالاتو د سولې د انستيتوت د پرواګرام منيجر په توګه کار وکړي. د پينل ګډونوالو د رايو په اتفاق سره دی د دغه پوست لپاره وټاکه او يو څه تخنيکي ستونزې وې چې څنګه خپل تدريس ته هم دوام ورکړي او هم زموږ سره کار وکړي. خو هغه مو هم حل کړې او ده ته مو د دندې رسمي غوښتنليک واستولو. خدای شاهد دې چې تر دې دمه دی زما له ياد وتلی و چې ګوندې دی ما په واشنګټن کې ليدلی و او کېدای شي چې دا به زما بې توجهي او يا د فکر زوړوالی وي خو ده راته وويل چې ما او تا خو واشنګټن کې سره ليدلي و. ده د ۲۰۱۵ م کال د جولای په ۲۴مه زموږ سره کار پيل کړ او د هماغو لومړيو ورځو نه يې په ډېر صداقت سره د دفتر د ټولو ملګرو سره ډېر ښه روابط جوړ کړل او دا يې وښودله چې د مديريت او ادارې ښه استعداد لري او هم په حقوقي مسايلو ډېر وارد او پوه دی او د ټولو ملګرو او همکارانو په زړونو کې يې يو خاص ځای پيدا کړ. دی د متحده ايالاتو د سولې په انستيټوت کې د کار کولو نه سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشاله و او همېشه به يې ماته ويل چې ده په امريکا کې د افغانستان په سفارت کې انټرنشپ کاوه نو دا يې ارزو وه چې بايد په يو تحقيقاتي مرکز کې کار وکړي ترڅو د تحقيق او پاليسي په ساحه کې تجربه حاصله کړي او دا به د ده په راتلونکې ژوند کې مهم رول ولوبوي.

د ۲۰۱۶م کال د جنورۍ په مياشت کې موږ بيا د خپلو دوه نورو همکارانو، حميدالله ناطق او پوپل حبيبي سره واشنګټن ته د خپل دفتر کلنۍ غونډې ته لاړو او ما دوی ته وويل چې که تاسې يو څو ورځې هلته د کنفرانس نه د مخه او يا وروسته پاتې کېږئ نو زما سره اوسېدلی شئ او څه ستونزه نشته دی. دوی هلته دوه شپې د کنفرانس نه د مخه زموږ په کور کې پاتې شول او زما د زامنو سره يې خاص ملګرتوب پيدا شو او ټول د ده د پوهې، انسانيت، ادب او په پراخه ټنده د خبرو او بحث نه ډېر متاثره شول. د کنفرانس نه وروسته دوی بېرته افغانستان ته راغلل. په تېر څه د پاسه يوه کال کې د شهيد نقيب احمد خپلواک او زموږ د دفتر د ملګرو او همکارانو تر منځ صميميت د يوې ورځې نه تر بلې پورې زياتېده او ده د ټولو په زړونو کې خاص ځای پيدا کړ.

څو مياشتې د مخه د ده نيا وفات شوې وه ا و زه د دوی کور ته لومړی ځل د دعا لپاره لاړم چې دوی ختم کړی و او د ده پلار ښارنوال صاحب بشير احمد مو د لومړي ځل لپاره وليده. دا چې ده خپل پلار او کورنۍ ته زما په اړه ډېر توصيفونه کړي و نو د ډوډۍ خوړولو په وخت يې پلار راته د اخلاص په درلودلو سره وويل چې زه د نقيب نه بل هيڅ څه طمعه نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر زموږ خيال ساتي خو په يوه څيز ترې خفه يم چې دی ولې واده نه کوي او ته ورته بايد ووايې چې هرو مرو بايد چېرته چې د ده خوښه وي او هرڅوک يې چې خوښه وي، زه ورسره موافق يم خو دی بايد هرو مرو واده وکړي. ما ورته وويل چې څارنوال صاحب دا ستا خبره سمه ده او موږ به دا تشويق کړوچې کوژده او واده وکړي. نقيب هم د تل په څېر ازاده مسکا وکړه او هيڅ يې ونه ويل.

د روژې نه د مخه په امريکې کې وم چې خپلواک راته ايميل راولېږه، ليکلي يې وو چې، دی غواړي د بين المللي حقوقو په څانگه کې اکسفورډ پوهنتون کې د بلې ماسترۍ لپاره داخله وکړي ستاسې مشوره غواړم؟ ما ورته وويل چې زه همېشه په دې خوشالېږم چې زما د د فتر همکارانو ته د تعليم او تحصيل لاره هواره شي او زه موافق يم. په اکسفورډ پوهنتون کې داخله اسانه کار نه دی او بالاخره ما هم ورته يو تصديق وليکه او په دغه رقابتي پروګرام کې دی قبول شو او د سپتمبر په مياشت کې د ده سبقونه پيل کېدل چې کال کې يوه مياشت يې بايد هلته تېره کړې وای، خو ژوند ورسره ياری ونه کړه د ده دا ارمان نيمګړی پاتې شو.

د اګست په ۲۴مه نېټه چې د افغانستان په امريکايي پوهنتون باندې حمله کېږي، زموږ غرمه سره شريکه وه او د غرمې ډوډۍ په وخت کې ما وويل چې په چين کې د يو داسې ډايناسور اسکليټ کشف شوی دی، چې وايي وزرې يې درلودې او الوتل يې کولی شو. د همدې خبرې نه د خلقت يا Creation Theory په تيوری بحث پيل شو او هر چا په خپل انداز

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر ورکاوه خو خدای بخښلي خپلواک په دې اړه دومره ښه معلومات درلودل چې هم يې د دين له پلوه او هم يې د ساينسي علومو په رڼا کې ډېر ښه بحث وکړ. په همدې ورځ ماسپښين شهيد خپلواک او عزت الله وقار زما دفتر ته دوه ځلې راغلل او مشوره يې غوښتله چې غواړي د راتلونکې سه شنبې په ورځ د جلال آباد ښار په سپين غر هوټل کې د قانون د حاکميت د شبکې په اړه يوه غونډه جوړه کړي؛ نو ما ورته وويل چې هلته يې مه جوړوئ او د امنيت له پلوه به دا ښه وي چې د ښاروالۍ مېلمستون د کنفرانس په خونه کې دا غونډه جوړه کړئ. دی بيا راغی او راته يې وويل چې د ښاروالۍ مېلمستون ۱۵۰۰۰ افغاني غواړي او يو شرط يې دا دی که په همدې ورځ د ولايت مقام دا خونه په کار وه؛ نو بيا شايد موږ ته د غونډې اجازه رانه کړي. ما ورته وويل که پيسي د دولت حساب ته ځي نو ښه خبره ده او که د دولت حساب ته نه ځي نو مه يې ورکوه او زه به د والي صاحب او يا د ولايت د معاون گرديوال صاحب سره وغږېږم او څه ستونزه به نه وي. دا زما د ده سره اخري ديدن او خبرې وي.

په همدې ورځ زه لږ مريض وم او د معمول په خلاف وختي تقريباً درې بجې کورته لاړوم چې استراحت وکړم. د ماښام د لمانځه نه وروسته د مزل لپاره له کوره ووتلم چې زما زوی، ضيا د امريکا نه راته تليفون وکړ چې که زه د ډاکټر فريد ثمين سره تماس ونيسم او که څه مرسته وکړی شم نو ښه به وي، ځکه د هغه مېرمن چې په امريکې کې ده سخته په تشويش کې ده. ما ورته وويل چې ولې په تشويش کې ده؟ ده راته وويل چې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر نه يې چې د افغانستان په امريکايي پوهنتون باندې جګړه روانه ده. سمدلاسه مې مزل پرېښوده، کور ته راغلم او د خپلو ملګرو او همکارانو او په امريکايې پوهنتون کې د نورو دوستانو او خپلوانو تليفونو ته مې د زنګونو وهل پيل کړل.

د ډاکټر ثمين، نقيب خپلواک او صديق الله رښتيا چې درې واړو هلته درس ورکاوه، د دوی تليفونو کار نه ورکاوه او بند وو. زما د ترور زوی، هنر عمرزي چې هلته درس وايه بالاخره تليفون اوچت کړ او ويې ويل چې دوی يو شمېر زيات استادان او محصلين په لومړی مرحله کې د شا د دروازې له لارې راووتل او جګړه روانه ده. د کابل د قوماندانۍ عملياتي مرستيال، جنرال ګل اغا روحاني ته مې زنګ وواهه، ده راته وويل چې تروروستان داخل د پوهنتون محوطې ته ننوتلي دي او جګړه روانه ده او تلفات هم شته دی.

زما د دفتر همکارانو اطمينان راکړ چې صديق الله رښتيا په پوهنتون کې نشته او د هند سفارت ته په همدې ورځې د ويزې اخيستلو لپاره تللی دی او د نقيب احمد خپلواک نه يې د تللو اجازه اخيستې ده. زما د زوی باجه حاجي افضل چې هم هلته درس وايي تليفون يې کار نه کاوه خو بالاخره هغه هم پيدا شو چې د دېوال نه يې ځان اچولی و او ملا يې خوږه شوې وه او هم يې په اغزن مزي لاسونه زخمي شوي وو، په روغتون کې و خو وضعيت يې ښه و. همدا شان د خپل دفتر همکارانو ته مې وويل چې د نقيب د کورنۍ سره اړيکه ونيسي که هغوی سره يې تماس نيولی وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې په اتو بجو او اته ویشت دقیقو مې خپلواک ته مسیج ولېږه که هر وخت دې فرصت پیداکړ نو موږ ته خپل احوال راولېږه خو دا فرصت په لاس ورنغي. د نقیب ورور اسرار احمد په کابل کې و او هغه هم د نقیب د یو نږدې ملګري شکیب سره هلې ځلې کولې چې د نقیب په اړه څه معلومات ترلاسه کړي. دوی زما د همکارانو سره په مسلسله توګه ټوله شپه په اړیکه کې وو ځکه د پوهنتون سره نږدې د عملیاتو ساحې ته نږدې د ورتګ اجازه نه وه.

جګړه چې څومره اوږدېدله هماغومره زموږ تشویش اضافه کېده او رنګ په رنګ اوازې مو اورېدلې. تقریباً د شپې دوه بجې ډاکټر ثمین وکړای شول چې د پوهنتون نه راووځي او په ټویټر کې یې د خپل صحت پیغام ولیکه نو ما ورنه د نقیب پوښتنه وکړه چې هغه دی لیدلې دی او که نه؟ ده راته وویل چې ماښام یې لیدلی و چې په خپل صنف کې یې محصلینو ته درس ورکاوه او د هغې نه وروسته یې نه دی لیدلی. زما تشویش دقیقه په دقیقه زیاتېده.  زما د دفتر همکارانو یوسف کارګر، طارق احمد او یو شمېر ساتونکو او ما ټوله شپه په ویښه تېره کړه او ساعت په ساعت به مو د کابل قومندانۍ سره اړیکه نیوله او هم دوی اکثره روغتونونه لټول که چېرې زخمي شوی وي، نو شاید چې په کوم روغتون کې یې پیدا کړو. د شپې په نیمایي  کې یو لست خپور شو چې اولس کسه زخمیان  ایمرجنسي روغتون ته انتقال شوي او د یو کس نوم نقیب دی. که څه هم د دغه ټپي شوی کس د پلار نوم د نقیب د پلار د نوم سره توپیر درلوده خو ما بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو همکارانو ته وویل چې تاسې لاړ شي او پوره معلومات یې وکړئ. دغه ټپي شوی نقیب د لوګر اوسېدونکی و او زموږ هیله بیا په ناهیلۍ بدله شوه. د استقلال، وزیر اکبرخان، ابن سینا، ایمرجنسي او د شهید داود خان څلور سوه بستریز روغتونونه ټول دوی ولیدل او نقیب یې د شهیدانو او ټپیانو په منځ کې پیدا نه کړ.

سهار شو او د لمانځه نه وروسته، پنځه بجې راته جنرال ګل اغا خان تلیفون وکړ چې جګړه ختمه شوله او هغه څوک چې دننه بند پاتې وو، اوس راوځي نو تاسې هم هلته د پوهنتون په دروازه کې انتظار وکړئ چې ګوندې نقیب هم راووځي. اسرار احمد، کارګر او طارق هلته منتظر وو خو تر پنځو بجو او پنځه څلوېښت دقیقو پورې یو یو کس راوت خو نقیب د دوی په منځ کې نه و. هماغه و چې په شپږو بجو د سهار مې بیا د دوی سره اړیکه ونیوله او دوی راته وویل چې په تېرو پنځلسو دقیقو کې هیڅوک نه دي راوتلي او د نقیب څه پته نه لګېږي. ما بیا جنرال ګل اغا خان ته تلیفون وکړ چې د پوهنتون په داخل کې ایا مړي او ټپیان شته دی او که نه؟ هغه راته وویل چې نه ټول مړي او ټپیان روغتونو ته انتقال شوي دي او هیڅوک پاتې نه دي. ما ورته وویل چې نه په داخل کې څوک پاتې دي او نه دې په روغتونو کې شته دی؛ نو د ده مړی او ژوندی څه شو؟ ده راته وویل چې یو څو دقیقي وخت باید ده ورکړم چې پوره معلومات حاصل کړي، بیا به ما ته احوال راکړي. تقریباً د لس دقیقو نه وروسته یې راته تلیفون وکړ چې دوی یو څه شهیدان د عدلي طب خانګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لېږلي دي او که هلته يې هم لټه وکړئ نو ښه به وي. هماغه و چې کارګر او طارق ته مې وويل چې تاسې د کابل عدلي طب څانګې ته لاړ شئ او هلته يې معلومات وکړئ. دوی د اسرار سره هلته لاړل او د لږ ځنډ نه وروسته يې راته وويل چې نقيب شيهد شوی او جسد يې په عدلي طب کې پروت دی.

د نقيب احمد خپلواک د شهادت غبږ زما په سينه د خنجر ګوزار و او بېدريغه مې کړيکې کړې او سمدلاسه مې د عدلي طب په لوري حرکت وکړ. د امنيتي ستونزو لپاره د عدلي طب په لوري د موټرو تګ او راتګ او هم عدلي طب ته د ننوتو اجازه نه وه خو دا چې جنرال ګل اغا زما د ورتګ خبر دوی ته ورکړی وه او د کورنيو چارو وزارت کې د پخواني معينيت لپاره زما موټرو ته يې اجازه ورکړه او عدلي طب ته داخل شوم. اسرار او زما د فتر همکارانو په غېږ کې کلک ونيولم او خپل زړه مو په ژړا ښه سترې کړ. د عدلي طب زېر زميني ته داخل شوم چې د د دوه تروورستانو جسدونه په لاره کې پراته و او د خدای بخښلي شهيد نقيب احمد خپلواک جسد په تذکره پروت و چې ټول وجود يې په وينو ککړ و او نور جسدونه هم هلته و. ما خپلو همکارانو او د عدلي طب مسوولينو ته وويل چې نور څوک دننه مه پرېږدئ چې د نقيب په وينو کې ککړ جسد په دی شکل وګوري او د عدلي طب مسوولينو ته مې وويل که همدلته ده ته غسل او کفن ورکړل شي او په تابوت کې کېښودل شي؛ نو ښه به وي. د هغوی دې هم کور ودان وي، همداسې يې وکړل او د نقيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنازه مو سهار په لس نیمو بجو د دوستانو، خپلوانو او زما د دفتر د همکارانو په مرسته د عدلي طب نه واخیستله او د جلال آباد په لور مو حرکت وکړ. جنازه مو جلال آباد ښار سره نږدې د شهید نقیب کلي قاسم آباد سیمې د بحرآباد کلي ته یوړه. هلته په سلهاو کسانو د جنازې د رسېدو انتظار کاوه او د جنازې په لیدو، په سلهاو کسانو د نقیب خپلوانو، ملګرو او دوستانو د زړه او د سترګو نه د وینو اوښکې روانې وې او د ټولو زړونه یې د تل لپاره زخمي کړل. جنازه په څلور بجو د دوی په پلرنۍ هدیره کې خاوروته وسپارل شوه او ټولو د ده په حمیده اخلاقو، تواضع او علمیت شاهدي ورکوله.

د دې صحنې یادول اسانه کار دی خو د دغه لوی غم لیدل او د هغه د قلم په ژبه لیکل اسانه کار نه دی. په تېرو څو لسیزو کې زما ورونه شهیدان شوي او مړه شوي دي؛ خو د نقیب شهادت زه د هغوی د مرګ نه هم زیات وځورولم دا ځکه چې دی ځوان و، قاري د قرآن او دیني عالم و، په سیاسي او حقوقي علومو کې یې د ماسترۍ ترکچې زده کړې کړې وې. د پوهنتون استاد و، سولې او د قانون د حاکمیت په ساحه کې یې کار کاوه او د افغانستان راتلونکی و. د خپل ژوند د ۳۱ کلونو نه یې ۲۶کاله په تعلیم او تدریس تېر کړل او ډېر ډېر ارمانونه او پلانونه یې درلودل. خو د ده او همدا شان د نورو هغه کسانو ارمانونه په همدې شپه د وحشي تروررستانو له لاسه له خاورو سره خاورې شول. دی واقعاً شهید دې، د خپل او نورو د ژوند د بهترۍ له ډېرو ارمانونو سره له دې دنیا نه لاړ، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهادت دغه له درده ډکي خاطرې او د ده مسکا لکه چې په دې عکس کې يې گورئ، د تل لپاره به زما په زړه کې پاتې وي. الله تعالی دې هغه وبخښي او د هغه کورنۍ او دوستانو ته دې الله تعالی جميل صبر ورکړي.

انا لله و انا الله راجعون.

دا پورته ليکنه د پژواک خبري آژانس هم خپره کړې ده: goo.gl/ynX۱sr

**وطن د وطن په خلکو ښه ښکاري:**

۲۶ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

دا ادعا ډېر پخه او په افتخار سره کوو چې وطن زموږ مور ده او موږ افغانانو ته خپل وطن د بل هرڅا نه ډېر گران دی خو زما په اند زموږ په دې ادعا کې ډېره زياته مبالغه او تناقض شته دی. د پوهاند ډاکټر بهاؤالدين مجروح د مور شعر که واورئ نو بيا به په ژړا شئ چې له وطن مور سره موږ څومره جفا کړې ده!

https://www.youtube.com/watch?v=pbptf۲LZjbI

که چا ته وطن د مور حيثيت ولري؛ نو د مور بچي ډېر خواږه وي ولو که خفه سره خفه هم وي، په مرگ يې نه پېرزو کېږي، په درد او غم يې نه خوشالېږي او که باعزته او ښه ژوند ولري نو د مور په بچو سرې افتخار هم کوي.

که زموږ دا ادعا سمه وي چې وطن موږ ته د مور حيثيت لري نو د وطن خلک بايد موږ ته هم بې له استثنا، ژبې او سمت هم گران وي. دا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي کېدلی چې وطن درته گران دی خو د وطن  د بچو په مرگ، توهين، تحقير، دربدرۍ او ذلت باندې خوشاله کېږې. ځکه وطن بې له خلکو وطن نه دی بلکې هسې غرونه، سيندونه، دشتې او ځنگلونه دي. وطن د وطن په خلکو ښه ښکاري. راځئ چې له يو بل سره مينه وکړو له يو بل بايد نفرت او کرکه ونه کړو.

**هر جامه چې عورت پټ وساتي هماغه اسلامي جامه ده:**

د جنورۍ دويمه نېټه، کال ۲۰۱۶م، ويرجنيا، امريکا

هر ملک ځانته جلا جلا جامې او رواجونه لري او هيڅ داسې جامې نشته چې موږ هغه جامو ته اسلامي جامې ووايو. موږ فکر کوو چې د عربانو اوږد لباس او يا د ښځو تور حجاب اسلامي جامه ده. داسې نه ده دا د عربانو د کلتور او د جامو د اغوستلو د رواج برخه ده. د اسلام له نقطه نظره د عورت پټول مهم دي چې عورت ښځو او نرانو لپاره تعريف شوی دی.

**د کرکټ شل اوريزه لوبې مسابقه نن د زمبابې له هېواد سره:**

د جنوري لسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

خپل کارونه مو پرېښودل د کرکټ لوبې ته ناست يم دعا به کوو چې افغانستان دا لوبه بيا وگټي. که د کرکټ او تبليغي جماعت کارونو زور واخيست، ان شاالله افغانستان کې به د کارموندنې هلو ځلو ته هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت نه وي او ټول ولس به مصروفه وي. د دين او دنيا لپاره همدا دوه کارونه اکتفا کوي. د افغانستان د هوساينې په هيله.

**يوه وړه تبصره د اشنا له ټلوېزيون سره زما د مرکې په اړه:**

د جنوري ۱۵مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، ويرجينيا

د جنوري په ديارلسمه نېټه ما د امريکا له اشنا د ټلوېزيون يوه مرکه سره وکړه چې د اولس زرو نه زياتو کسانو دا مرکه د فيسبوک له لارې ليدلې وه او په لس ګونو کسانو شريکه کړې وه خو يو شو محدودو نا معلومو کسانو چې جعلي اکاونټونه لري او حتی ځينې يې د ښځو په نامه هم دي، يو څه منفي تبصرې درلودې او دا ډېر يې د استخباراتو له خوا موظف کسان دي چې جعلي اکاونټونه لري او همېشه غواړي چې د افغانستان او د هغو افغانانو پرضد چې وطن ته متعهد دي، تخريب وکړي نو د وطنوالو د اګاهي لپاره غواړم چې دا لاندې تبصره د خپل فيسبوک په صفحه پوست کړم:

دوه ورځې د مخه ما د اشنا ټلوېزيون سره مرکه درلوده او د نطاقې پوښتنه دا وه چې د امريکا جمهور رئيس د کانګرس ته د وينا پرمهال يو ځل د افغانستان نوم ياد کړ حال دا چې کانګرس ته په تېرو شو کلونو کې يې په خپله کلنۍ بيانيه کې د افغانستان نوم شو شو ځلې ياد کړی و نو داسې معلومېږي چې د تېر کلونو په پرتله د امريکا توجه افغانستان ته لږه شوې ده؛ نو دا مسئله څنګه ارزوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول خو په مطبوعاتي مرکه کې خبرېال ته نشي ويلی چې دا پوښتنه له ما نه وکړه او يا دا پوښتنه مه کوه. زما ځواب ډېر واضح و چې کله د امريکا توجه په تېرو ۱۵ کلونو کې افغانستان ته زياته وه هم افغانستان مشکلات درلودل او که توجه کمه وي هم به افغانستان مشکلات ولري ځکه تر څو چې افغانانو په خپله د خپل ځان لپاره کارنه ونه کړي او حکومت داری ښه شوي نه وي د افغانستان ستونزې به همداسې روانې وي او دا سلسله د تېرو درې څلور لسيزو نه راپه دې خوا روانه ده.

دغه مرکه تقريباً د ۱۷ زره کسانو له خوا د فيسبوک له لارې ليدل شوې ده خو د ۱۷ زره کسانو نه لس پنځلس کسانو نظرونه ډېر زما او زما د مرکې په اړه منفي وو، چې اکثره دغه کسان زه نه پېژنم او شايد ما هم سم ونه پېژني خو دا کسان په بهرنيو استخباراتو پورې اړه لري او جعلي اکاونټونه لري او همېشه غواړي چې سمه خبره کږه کړي او په عين حال کې شخصيت کشي هم وکړي. که په ۱۷ زره ليدونکو کې د محدودو کسانو منفي نظرونه چندان مهم هم نه دي او چې يو څه مخالف ونه لري نو بياخو به هر څه سم وي.

دا مسئله مې ځکه پوست کړه چې اول تاسې زما په خبرو کې وګورئ چې کومه خبره ما سمه نه ده کړې. زه په دې پوه نه شوم چې د دې جعلي اکاونټونو د اشخاصوهدف څه دی؟ ايا دوی غواړي چې امريکا يا نور هېوادونه دې په افغانستان کې مداخله ولري او هغه هم د دوی له لارې؟ دويمه خبره دا ده چې د افغانستان د ګټو او منافعو پر ضد څومره منظم کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د دښمنانو له خوا روان دی او دې ته باید زموږ افغانان که په حکومت کې دي او که بهر باید متوجه اوسي. هغه مشهور متل دی چې د یوڅو کسانو په خوله سیند نه مرداریږي.

**د ملک نیاز په یاد:**

**اناالله و انا الله راجعون**

د جنوري ۱۵ مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، ویرجینا، امریکا

په ډېر خواشینۍ سره د فیسبوک له لارې خبر شوم چې د ننگرهار او خاصتاً د شینوارو د سیمې مشهور مشر، د جرگو او مرکو سړی چې همېشه یې د خپل ولس اواز اوچت ساتلی و، ملک نیاز اکا د دې فاني دنیا سره خدای په اماني وکړه. د نوموړي مړینه نه یوازې د هغه د کورنۍ او دوستانو لپاره بلکې د مشرقي او افغانستان د ولس لپاره یوه لویه ضایعه ده. ملک نیاز د خپل ولس همېشه ملاتړ کړی او د افغانستان د دښمنانو په مقابل کې همېشه کلک ولاړ قومي مشر و. مرحوم ملک نیاز چل او ول یاد نه و او همېشه به یې خپله خبره بې له ویرې دولتي مشرانو ته د جمهور رئیس نه نیولې تر کښته چارواکو پورې په ډېره زړورتیا کوله. متاسفانه موږ همېشه مړي ستایو خو ما د ملک نیاز سره د هغه په ژوند هم نږدې اړیکي درلودې او یو ارمان مې پاتې شو چې زما اراده وه چې د ملک نیاز اکا سره به څو ساعتونه تېروم او د باجوړ د تاریخي جگړې په اړه به د دې نه معلومات اخلم. ملک نیاز په دغه جگړه کې برخه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۱۰م کال کې ملک نیاز او د مشرقي نور سپین ږیري مشورتې لويې جرگه ته راغلي وو او زه هم د کونړ ولایت له خوا د دغې جرگې غړی وم نو ما د ملک نیاز او د شینوارو د نورو سپین ږیرو سره ډېري ښې مرکې وکړې او زیاتره د شپې له خوا به زما کور ته چې د لويې جرگې له خېمې سره نږدې و، تللو او هلته به مو گپ شپ سره لگاوه. ما له دې مشرانو نه ډېر څه یاد کړل. الله تعالی دی ملک نیاز وبخښي، د هغه کورنۍ، دوستانو او د مشرقي ټولو مشرانو ته د الله تعالی د درباره صبر جمیل غواړم. د نوموړي تشه نه ډکېدونکې ده او داسې مشران ډېر کم پیدا کېږي.

د ملک نیاز په یاد دا څو عکسونه دلته د فیسبوک له لارې د دوستانو سره شریکوم.






(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شينوارو د بل قومي مشر په کور ځانمرگی برید:**

د جنوري ۱۷ نېټه، کال ۲۰۱۶م، ويرجينيا، امريکا

څو شيبې مخکې خبر شوم چې د ملک عثمان په کور کې يو کس ځانمرگې حمله کړې ده چې ديارلس کسه شهيدان او ۱۴ کسه زخميان شوي دی. په زخمي شوو کسانو کې ملک عثمان او د هغه زوی هم شامل دي. دا لاندې لومړنې پوست مې په فيسبوک کې وليکه:

الله تعالی دې خير کړي خبر مې واورېد چې ملک عثمان د شينوارو او د هغه زوی هم د جلال آباد په ځانمرگې حمله کې زخمي شوي دي. د وطن دښمنانو په مشرانو پسې راخيستې ده چې زموږ مشرتابه ختم کړي او بيا دوی ته اوبه خړې وي ترڅو خپل ماهيان پکې ونيسي اوهر نوع ظلم به د افغانستان په ولس کوي. الله تعالی دې ورحم‌وکړي.

په بل پوست کې مې وليکل:

نه مې غوښتل چې دا دوه عکسونه پوست کړم خو زړه مې طاقت ونه کړ ځکه ډېر لرې يم او روغتون ته د ملک عثمان پوښتنې ته نشم رسېدلی خو د ده په درد ځورېږم او د ده تبسم راسره دی. که د شينوارو نوم يادېده نو د ملک عثمان او ملک نياز نومونه به هرو مرو يادېږي. ملک نياز اکا په خپل مرگ د دې فاني دنيا نه لاړو او الله تعالی دې ملک عثمان ته عاجله شفا ورکړي چې بيا يې په مسکا ووينم. الله تعالی دې د پرونۍ پېښې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهیدانو ته جنت فردوس نصیب کړي او ټولو زخمیانو ته د الله له درباره عاجله شفا غواړم.







**قضاوت درونډ او سخت کار دی:**

د جنوري ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، د واشنګټن دالس هوايي ډګر، امریکا

که په یوه کوټه کې دوه ملګري وي، یو وغواړي چې ځان مړ کړي اما دا بل کوشش وکړي، چې هغه ځان مړ نه کړي؛ خو بالاخره دا ملګری یې په دې وتوانېږي چې خپل ځان مړکړي. کله چې د ده ملګری که څه هم مجرم نه دی او کوشش یې کړی دی چې د ده ملګری ځان مړ نه کړي خو وايي شرع ظاهر مني نو د مقتول ملګري باندې قاضي د مجرم حکم کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او هغه ته د اعدام سزا ورکولی شي. موږ باید په خپلو قضاوتونو کې ډېر احتیاط وکړو.

**انساني وحشیان:**

د جنوري ۲۱مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، دوبې د سهار څلور بجې داسې کسان چې جومات او هدیره، واده او خیرات، مکتب او مدرسه، مدرس او معلم، ملا او مولوي، پوهنتون او علم، دنیوي او معنوي ارزښتونه، حجره او کلي، تاریخي آثار او زیارتونه، حکومت او نظام، مشر او کشر، ښځې او ماشومان، مور او خور، احترام او عاطفه، وطن او قوم او داسې نور ارزښتونه نه پېژني، زما په اند د داسې کسانو ظاهري شکل د انسان دی خو عمل یې د وحشي ځناورو نه بدتر دی ځکه وحشي ځناور چې په خېټه ماړه شي نو بیا ارامه ساه اخلي او بېځایه نور حیوانات نه وژني.

دا انساني وحشیان په وژلو، وینو تویولو، د ارزښتونو په له منځه وړلو، د خپل قام او وطن په تخریبولو هیڅ نه مړېږي. د دوی مقابله په دعاګانو نه کېږي بلکې د دوی مقابله باید حکومت وکړي ترڅو حکومت خپل ولس راټول کړي او ولس هم باید په حکومت اعتبار وکړي، چې ټول په ګډه د دې انساني وحشیانو په مقابل کې مبارزه وکړي. زموږ د نسل ژوند ټول په جنګ او ویره کې تېر شو خو که په ګډه مبارزه ونه کړو نو زموږ راتلونکي نسل به هم د دې انساني وحشیانو له شره په امن کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ايا دا خبره سمه ده چې مخامخ به د چا ستاينه نه کوې؟**

د جنوري ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، دوبۍ

د لوگر قدرمن والي محمد حليم فدايي خپل د فيسبوک په پاڼه کې سوال کړی و چې:

ايا دا خبره سمه ده چې مخامخ به د چا ستاينه نه کوې؟

ما ورته په ځواب کې دا لاندې څو ټکي وليکل. د دوستانو نظر هم مهم دی چې څه وايي.

فدايي صاحب سلام! هر انسان خپل قوي او ضعيفه ټکي پېژني. که د قوي ټکو ستاينه وشي نو ښه ده او هغه لاره نوره هم بايد انسان تعقيب کړي او که په دې پوهېږي چې ستاينه کوونکی زما د ضعيفه اړخونو ستاينه کوي او هغه ستاينه په ما کې نشته نو بايد دا انسان وپېژني چې چاپلوس دی او د چاپلوسانو نه بايد ځان وساتي او که ځان نه شي ساتلی نو په خوله يې پياز هم مه خوره. په درنښت

**د داعش د کسانو معاش به د دوی په درد په اخرت کې وخوري او که نه؟**

د جنوري ۲۶مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

پرون يو چا راته وويل چې داعش خپلو کسانو ته څلويښت زره افغانۍ معاش تعيينوي خو هيڅا د دوی پيسي کور ته نه دي وړي ځکه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library




وژل کېږي او د کسانو معاش يې د دوی د مشرانو سره پاتې کېږي. زما په اند په اخرت کې به يې هم دا معاش په درد ونه خوری.

**ساده ژوند محتاج ژوند ته نه وايي:**

د جنوري ۲۸مه نېټه، ۲۰۱۶م، کابل

ساده ژوند هغه دی چې محتاج نه اوسې، کبر ونه لري، زيات تکلف په ناسته، ولاړه او خوراک کې ونه کړې. ځان درته بېځايه لوی معلوم نه شي او په هرنوع موقف او مقام کې چې اوسي د انسان په ناسته ولاړه او برخورد کې بايد تغيير رانه شي يعنې نور بايد د نظره کم او محتاج ونه ګڼې. د خپل ځان د ګټې، موقف او نوم ګټلو ترڅنګ بايد نورو ته د خدمت هدف درسره وي. نو په دې توګه زما په اند ساده ژوند محتاج ژوند ته نه وايي بلکې ساده ژوند بې تکلفه ژوند ته وايي.

**د الحاج زبير خاکسار شهادت:**



**انا لله وانا اليه راجعون**

د جنوري ۳۰مه نېټه، کال ۲۰۱۶م

د الحاج زبير خاکسار شهادت تېر ماښام د ننګرهار ولايت د سره رود په سيمه کې دردونکې پېښه ده. که څه هم د نوموړي د وژل کېدو لامل نه دی معلوم خو په دې وطن کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره قطره وينه تويېږي د افسوس او خفگان خبره ده. زبير خاکسار ليکوال، شاعر او هنرمند و او ويل کېږي چې د چا سره يې هيڅ دشمني نه درلوده. الله تعالی دې خاکسار صاحب وبخښي او د نوموړي په شهادت د هغه کورنۍ، دوستانو او د افغانستان ټولو ليکوالانو او شاعرانو ته د الله تعالی له درباره صبر جميل غواړم.

**د ولس زور د خدای زور دی:**

د فرورۍ د مياشتې ۳مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

د افغانستان موجوده نظام اسلامي جمهوريت دی چې د اساسي قانون په اساس د انتخاباتو له لارې دا موجوده حکومت جوړ شوی دی. زما په اند د افغانستان د ولس مطلق اکثريت د دې نظام ملاتړ کوي او دا نه غواړي چې دا نظام خدای ناخواسته سقوط وکړي، ځکه د سقوط په حالت کې د اپوزيسونونو، پوزيسونونو او هم د ملت خير نشته دی خودا بايد ومنو چې د حکومت سره ولس ستونزې لري. هغه معقول او مناسب توقعات چې د حکومت نه د افغانسان خلک لري تر اوسه پورې هغه توقعات برآورده شوي نه دي.

افغان ملت همېشه د نظام نه ملاتړ کړی دی اما حکومتونو همېشه د ولس نه ملاتړ نه دی کړی او يوازې د څو محدودو کسانو او يا ډلو د ملاتړ او يا د هغوی د گټو د خوندي ساتلو لپاره يې د ولس گټو ته شا کړې ده. که حکومت غواړي چې د ملت ملاتړ ولري نو بايد د ملت د گټو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړ وکړي او د څو محدودو کسانو د ملاتړ نه باید تېر شي. که څه هم نورمحمد تره کي د ولس په زور اتکا نه درلوده او د خلق په گوند يې اتکا درلوده خو دا خبره يې چې د ولس زور د خدای زور دی سمه خبره وه.

اوس دا په حکومت پورې اړه لري که حکومت د ولس زور او ملاتړ غواړي نو د څو محدودو کسانو د ملاتړ او يا د هغوی د گټو خوندي ساتلو نه باید تېر شي؛ اوس هم اوبه د ورخه تېري نه دي.

**انډيوالي او حکومتداري سره فرق لري:**

د فروري ۴مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

په انگلېسي ژبه کې يو متل چې وايي: Friendship is a friendship and business is a business يعنې کار او انډيوالي سره مه گډوئ. ټيم باید په انډيوالۍ جوړ نه شي بلکې ټيم باید په کاري ظرفيت، صداقت او د ژمنتيا اصولو په پام کې نيولو سره جوړ شي. که د کار په دوران کې انډيوالي د خپل دفتر د ملگرو سره جوړه شوه نودا فرق نه کوي، ځکه د دغو انډيوالانو نه بيا ښه قوي ټيم جوړېدای شي او د هر کاري ملگري قوي او ضعيفه ټکي يو بل ته معلومېږي او بيا ښه مدير کولی شي چې د دغو ملگرو نه په سم او مناسب ځای کې کار واخلي.

زما په اند تر څو چې حکومتداري او يا د هر دفتر مديريت په يوازې انډيوالۍ روان وي؛ نو د هغه حکومت، دفتر او مدير څخه د کار او خدمت طمعه نه ده په کار. زما وړانديز د افغانستان جمهور رييس ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې نور د انډيوالۍ د حکومت نه بايد تېر شي او د هغو صلاحيتونو نه بايد په معقوله او مؤثره توګه کارواخلي چې د افغانستان اساسي قانون ده ته ورکړي دي. د ملي وحدت حکومت د توافقنامې په لومړي سرکې راغلي چې د اساسي قانون ارزښتونه بايد تحقق ومومي. که څوک توافقنامه مني نو د توافقنامې ټول ټکي بايد ومني نه يوازې هغه ټکي چې د دوی په ګټه دي. که دا کار ونه شي فکر نه کوم چې دا وړی شړی شي.

**د راتلونکو احتمالي پارلماني ټاکنو لپاره دوه احتمالي نوماندان:**

د فروری ۶مه، ۲۰۱۶م کال، کابل

د فبرورۍ په پنځمه نېټه (پنجشنبه) د جوزجان په ولايت کې د جمهوري رياست لومړي مرستيال، جلالتماب جنرال دوستم د ځوانانو په يوې غونډه کې اعلان وکړ، چې د ده لور او زوی به په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې د دوی نوماندان وي. دا دستور دی چې هر پلار غواړي چې خپل اولادونو ته رشد ورکړي اما خبره دا ده چې ايا دا به د ديموکراسۍ تمثيل وي او که دا به د نيپوتيزم (Nepotism) يعنې د خپلو خپلوانو حکومتدارۍ يا د اليګارکي (Oligarchy) يعنې د څو محدودو کسانو او ډلو د حکومتولۍ نمونه وي.

د انتخاباتو د اصلاحاتو په خاص کمېسيون کې د کاوون کاکړ او زما د اعتراض يوه مهمه موضوع همدا وه که احزابو ته باج يا سهم ورکړل شي؛ نو د احزابو مشران به يوازې د خپلو کورنيو غړي او يا هغه کسان چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په خوښه وی پارلمان ته راولېږي ځکه تر اوسه پورې لا دیموکراتیکو احزابو په افغانستان کې رشد نه دی کړی. زیاتو مشرانو د احزابوپه نامه د ملت نه باج اخیستی او که د دوی دا د باج سلسله نوره هم قانوني شکل وموميږ، دا به له افغان ملت سره جفا وي او د ملت حق به دوی ته ورکړل شوی وي. د جمهوري ریاست د لومړي مرستیال دا اعلان یې یوه ښه بېلګه ده.

جلالتماب جمهور رئیس نن خپل لومړی مرستیال، د هغه زوی او لور هم خپل حضور ته بللي وو، کېدای شي چې دوی ډاډ ورکړی وي که پارلمان ته دوی راغلل نو دوی به د ملي وحدت د حکومت نه کلک ملاتړ کوي. د دیموکراسۍ نه د الګارکي په لورې.

**افغانستان په آسیا کې د ټولو نه وروسته پاتې هېواد لقب غوره کړ:**

د فبرورۍ نهمه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

پرون د ملګرو ملتونو د UNDP اداره راپور خپور کړ چې افغانستان د نړۍ په کچه د ۱۸۸ هېوادونو په منځ ۱۷۱ درجه او په آسیا کې تر ټولو وروسته پاتې هېواد دې. د دې نه مخکې د ښار نړیوالې ادارې په خپل راپور کې ویلی وو چې د نړۍ په کچه افغانستان د دریو فاسدترینو هېوادونو د ډلې نه دي. د دغه راپور په اړه ما خپل فیسبوک په پاڼه ولیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دا زموږ د خيالي غرور پايله ده چې همېشه زموږ په غوږونو کې د تورې شرنگهار دی اما نه پوهېږو چې توره يوازې وژل کوي.)

**کا بينه او فيصلې او د جمهور رئيس نه هيله:**

د فبرورۍ لسمه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

همدا اوس خبر شوم چې د نن ورځې د کابينې په جلسه کې د انتخاباتو په قانون او طرزالعمل باندې بحث شوی دی. جمهوررئيس نيت لري چې يو ځل بيا د پارلمان د رخصتيو په حالت کې او د غيابت نه د موقع په استفاده، د انتخاباتو په اړه تقنيني فرمان ورکړي. همداسې فرمان مخکې هم د پارلمان له خوا رد شوی و. د افسوس خبره دا ده چې د کابينې هيڅ يو وزير د دغه فرمان په گټو او تاوان بحث نه دی کړی او ټولو ورسره غټ غټ سرونه خوځولي دي. دا مو کابينه او دا مو فيصلې. الله تعالی دې وطن ته خير کړي.

زما هيله د جمهور رئيس نه دا ده چې دا فرمان امضا نه کړي. يوقصه مې راپه ياد شوله:

پلار مې دی خدای وبخښي قصه کوله چې يو وخت د معارف وزير د بلخ ولايت ته تللی و او هلته ورته خلکو د محل د ستونزو په اړه شکايتونه او پيشنهادونه کړي وو. د معارف وزير ورته ويلي چې زه د معارف وزير يم او دا شکايتونه او پيشنهادونه په ما پورې اړه نه لري. يو سپين ږيری ورجگ شوی او ورته يې ويلي وو چې: ما مې دانيم که تو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير معارف هستی، سرو کار تو همراه بچه ها، کتابچه و قلم است اما تو در کابینه عضویت داری و مشکلات ما را باید در کابینه مطرح کنی و به حضور صدراعظم میتوانی که مشکلات ما را برسانی.

دکابینې وزير تر اوسه نه پوهېږي چې د دوی کار په کابينه کې د ټولو ملي مسايلو په اړه، بحث او تصميم نيول دي نه يوازې د خپل وزارت د کاغذاتو په اړه بحث کول. د کابينې وزير بايد يوازې سر ونه خوځوي او په هر مسئله کې بايد ملي موقف ونيسي ځکه هره فيصله د کابينې د افغانستان د ثبات په اړه مثبت او منفي اغېز لري. که سمه فيصله نه وی بايد جمهور رئيس ته واضح ووايي چې موږ د هغو فيصلو سره چې د ملت په تاوان وي موافق نه يو. د وزيرانو کار يوازې سرخوځول نه دي.

**مننه د ختيځ د مدني ټولنو له ځوانانو:**

د فبرورۍ ۱۲مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، جلال آباد

پرون د ختيځ ولايتونو يو شمېر زياتو مدني ټولنو او فعالانو په جلال آباد کې زما د کارونو د قدردانۍ اړوند يوه پرتمنيه غونډه جوړه کړې وه. که مبالغه ونه کړم، د کيفيت او کميت په لحاظ به په ننگرهار کې دا لومړنۍ منظمه غونډه وه چې په اتفاق او وحدت سره ځوانانو جوړه کړې وه. دا ځوانان احساساتي ځوانان نه وو. دوی استادان، اديبان، قانون پوهان، ښه مديران اوپه نورو مسلکي ساحو کې ښه متخصصين وو. که څه هم زه په خپل ځان کې دومره څه نه گورم لکه چې دوی زما قدرداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه خو دومره باید ووایم چې دا د دې ځوانو فرهنګیانو، ادیبانو، استادانو، مخورو او په وطن مینو افغانانو خپله لویي وه چې زما د کارونو قدرداني یې وکړه.

پرون ماته دوی یو نوی احساس راکړ، هغه دا چې تقریباً په تېرو څلورو لسیزو کې که هرڅومره زموږ ولس د خپلو او پردو د لاسه ځپل شوی خو لا اوس هم د دې ملت د احساس ډیوه د خپل وطن او ولس سره د مینې مړه نه ده. زه په دې عقیده لرم چې زموږ د دې نوي او تعلیم یافته نسل فکري خوځښت به ان شاالله د افغانستان په راتلونکې کې فعاله ونډه ولري او د افغانستان راتلونکې به د دوی په علمي قوت، هوډ او ژمنتیا لرلو سره جوړېږي. همدا شان زه د پکتیا د ځوانانو او د اوښتون د ټولنې د استازو نه هم مننه کوم چې دوی په دې غونډه کې یې برخه واخیستله. که احساس نه وی نو په اوسنیو شرایطو کې د دومره لرې ځای نه څوک یوې غونډه ته نه ځي. د دوی نه هم مننه کوم چې ماته یې د خپلې سیمې لونګۍ ډالۍ او په سر کړه.

زه په خاصه توګه د دې غونډې د یوڅو کسو د تنظیم کوونکو، استاد عبدالبصیر سباوون، استاد هجرت الله هجرت، فطرت صاحب، شاداب صاحب، ښالیز صاحب او ګڼو نورو وینا والو نه نهایت زیاته مننه کوم. دوی ماته په شریکه یو ستاینلیک هم راکړ.


الله تعالی دې زموږ د افغانانو د احساس او وطنپالنې د مینې ډیوه همداسې بله ساتي. د پرامنه او سوکاله افغانستان په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې غونډه کې د ملک میرام ګل خان په نامه طنزیه ګروپ یو تن نوید شینواري د اکاډمۍ په استازۍ هم یوه طنزیه مقاله په لاندې ډول لیکلې وه او هغه یې ولوسته. دا باید یاده کړم چې د ملک میرام اکاډمۍ ګروپ ډېرې ښې لیکنې په فیسبوک کې کوي او د ټولنې ستونزې او سم انځور خپل ولس ته په ګوته کوي. د پیغام متن په لاندې ډول و چې زما دا عکس یې د توتي سره د خپل فیسبوک په اکونټ خپور کړي

**د پرتمین شاه محمود خان میاخېل ستاینغونډې ته د اکاډمۍ پیغام:**



ملک میرام ګل اکاډمي د خیال په پلوشو کې د منګوال له کلي راوتلي شاه محمود خان ته د تشریفاتو ملکي قطعه او د ښه راغلاست یو عدد توصیفي ترانه تقدیموي !

ویاړلی میاخېل د ښې حکومتدارۍ لایسنس لرونکی ډرېور دی او په دې برخه کې عادي ډرېورانو ته تن نه ږدي. همدا وجه ده چې په دې برخه کې خارجي کلانتران هم ده ته د احترام ورمېږونه کږوي!

والا حضرت میاخېل په دې وروستیو کې د یوې ښېړنې د مېچنې له تاوولو وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د معمارانو کتاب تقدیم کړ چې د ارزښت جوال یې لس کسه پاخه جوالي لیکوالان هم نه شي پورته کولی!

د شاه محمود خان د شخصیت په اړه به د علومو اکاډمۍ د غړي او د ازادو مجلسونو د نامتو مبصر قیوم جان مشوانۍ دا وینا رانقل کړو چې وایي: ((جناب میاخېل زموږ په حضور کې ژوندۍ مجربه او بې ضرره نسخه ده، چې د راتلونکي نسل خُشک اذهان اوپاشي کوي))

د غونډې جوړوونکو، که ستر میاخېل ته ښه په ختهو کې نه وي نښتې او د اخلاص وږمې یې عطر ورینې وي؛ نو اکاډمي په بشپړ قوت سره دا هڅه نه یوازې دا چې ستایي بلکې د غونډې جوړوونکو ته مبارکي ورکوي چې ستاسې سرونه ستاسې په تنو ارزي او د کار سرونه دي!

دعا د خیر

په گلورینو ولولو

ستاسې ملک میرام گل خان

نوټ: دا پیغام په یاده غونډه کې په لایف توگه د ملک یگانه او نازدانه وراره نوید شینواري په ایجي ولوست!

د پورته ظنزیه لیکنې په اړه ما ولیکل:

د ملک میرام گل خان اکا د اکاډمۍنه زیاته مننه چې دا ظنز یې د پنجشنبې په ورځ د خپل یگانه با استعدا ده وراره نوید شینواری په ښکلي او ښه ایجي اواز کې ولوسته. د ملک میرام گل خان اکاډمۍ ته په اطمینان سره ویلی شم چې نه ما ته د چا پښه په ختهو کې بنده ده او نه زما خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکاري به سره کوو او په دې خبره به مې نه ملامتوئ. د چا چې څومره وسه وي هماغومره به خپلو خلکو او وطن ته خدمت کوي او په يو بل به اعتماد کوو؛ خو احسان به نه کوو. دا همکاري به د ملي منافعو د اصولو په بنياد وي نه د فساد کولو او شخصي هدفونو لپاره. البته زما شخصي هدف همدا دی چې امن وي ترڅو زه او زما اولادونه او کورنۍ په امن کې ژوند وکړي او په نهايت کې د ټول افغانستان ولس په امن کې ژوند تېرکړي او بيا همداسې مجلسونه په دېرو او حجرو کې بې له ترهګرۍ او ويرې سره جوړکړو.


د ملک ميرام ګل خان اکاډمۍ ته او هم د ختيځ ولايتونوځوانانو ته چې د دې غونډې ترتيب او تنظيم يې کړی و، ستاسې په لاس همدا توتي ډالۍ کوم هيله ده چې همدا توتي سم وروزي او په خبرو يې راولي تر څو خپلو خلکو او وطن ته خدمت وکړي ځکه د انسانانو نه؛ خو تر اوسه پوره نه شوله. کېدای شي د دې توتي د خبرو نه عبرت واخلو او الله تعالی موږ ټول په سمه لار روان کړي. په مينه او درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه عکسونه د دوستانو سره شریکوم یو د Valentine Day او بل د دلوې ۲۷مې نېټې په خاطر:**

د فبروری ۱۵مه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل



نن له افغانستان څخه د روسي پوځونو د وتلو ورځ وه او هم د مینې یا Valentine Day ورځ هم وه نو هرچا دا دوه ورځې په مختلفو شکلونو تجلیلولې او د فیسبوک په پاڼو کې عکسونه او خپل نظریات شریکول. ما هم د دوستانو سره دا عکسونه او لاندې لیکنه شریکه کړه.

اول عکس: ما هم یو وخت په جهاد کې د خپل پلار سره برخه درلوده. نه مو دا ټانکونه کباړ کړي، نه مو غلاوې کړي، نه مو ځوک وژلي او نه مو په چا احسان کړی دی. ښه و که بد تاریخ به قضاوت کوي. خدای بخښلي پلار مې، مدیر سیدمحمود حسرت، د یو ځادر سره په خاص کونړ کې ګرځېده او تر اخر د عمره پورې هماغلته و چې وفات شو. انالله و انا الله راجعون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم عکس د مينې ورځې په اړه: ما مې د خپل پلار سره سخته زياته مينه درلوده او د مشر زوی په حيث مې ورسره انډيوالي هم درلوده؛ نو ځکه دا عکس مې پوست کړ. زما د تجربې او زده کړې زياته برخه د هغه سره د خبرو، مجلسونو اوکار کولو پايله ده، باالخاصه د افغانستان په اداري سيستم پوهېدل مې د هغه نه ياد کړي دي. روح دې ښاد وي او الله تعالی دې ورته جنتونه ورکړي.



نوټ: دا سې په سلهاو ټانکونه په کونړ کې د روسانو نه پاتې وو او کله چې کونړ د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر په مياشت تخليه شو؛ نو په هغه وخت کې ما د امريکا غږ راډيو سره کار کاوه نو قوماندانانو ته مې وويل چې که ټول ټانکونه د کونړ په يوه سيمه کې راټول شي او موزيم په شکل يې وساتئ نو ډېر به ښه وي. خو متاسفانه د پاکستان نه ورپسې د ويلډنګ ماشينونه راوړل او دا ټول ټاکنونه کباړ شول او اوسپنې يې د لاهور په فابريکو کې ويلې شولې. د پورته ليکنې په اړه په سلهاو کامنټونه وو خو زيات توصيفي اړخ يې درلود نو ځکه ما دلته رانقل نه کړ او زياترو دوستانو زما خدای بخښلي پلار ته دعاوې کړی وې. الله تعالی دې د دوی دعاوې په خپل دربار کې قبولې کړي او زما پلار ته دې جنت فردوس په نصيب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یویشتمې د جګړې لپاره د شلمې پېړۍ تاکتیکونه او یوه تراژیدیکه زړه بوږنوونکې قصه:**

د فبروری ۱۷مه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل

نه مې غوښتل چې دا قصه ولیکم خو زړه مې طاقت ونه کړ او کېدای شي چې موږ لپاره د عبرت یوه قصه وي چې د خپلو اولادونو په راتلونکي فکر وکړو او خپل اولادونه د جدي مراقبت لاندې ونیسو ځکه منطقې یې ناولې کړي او دا ډلې زموږ د ځوانانو د انحراف لپاره له هر ډول تاکتیکونو نه کار اخلي تر څو خپل غیر انساني او غیر اسلامي شومو اهدافو ته ورسېږي. دا ډلې زموږ ځوانانو ته دین، پیسې او نور خیالي جنتونه وسیله کوي او غواړي چې زموږ ځوانان منحرف کړي.

تر شلمې پېړۍ پورې د جنګونو په موخو او پوځي تاکتیکونو کې چندان تفاوت نه و. د جنګونو عوامل همېشه ویره، اقتصادي ګټې او عزت یا غرور ساتل وو. د پورته اهدافو لپاره ایډیالوژي او د نیشنلیزم په بنیاد د خلکو احساسات راپارول وسیله وه تر څو جنګي مشران د ولس ملاتړ لاسته راوړي او د جنګ انګېزه ژوندۍ وساتي. د دښمن د ضعیفه کولو لپاره د جنګ تاکتیکونه هم په درې ډوله وو: د دښمن قوت تقسیمول او پاشل، په نا خبره توګه په دښمن حمله کول او د دښمن په منځ کې د پنځم ستون پیداکول، ترڅو د تبلیغاتو له لارې د دښمن مورال او روحیه ضعیفه کړي. روحي جنګ یا Psychological War د سوړ جنګ لویه برخه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يويشتمې پېړۍ په سر کې د جنګ تاکتيکونه د جبهه يي جګړې (Conventional War) او چريکي جګړې(Guerilla War) نه په ځان وژونکې يا Suicide جګړه باندې بدل شول. د ځانمرګي جګړې د له منځه وړولو لپاره د جبهې او چريکي جګړو تاکتيکونه په درد نه خوري. دا داسې معنی لري لکه ماشی چې په توپ ولې نو ځکه تر اوسه په افغانستان کې او هم د نړې په نورو سيمو کې د موجوده جګړو پايله د ناکامۍ سره مخامخ ده او ورځ په ورځ د جنګ لمنه پراخېږي. زه دلته په Conspiracy Theory يا د شک کولو په تيورۍ باندې خبرې نه کوم ځکه د شک کولو په تيورۍ باندې شرقي ټولنه او باالخاصه د اسلامي هېوادونو اوسېدونکي خاصه عقيده لري او دا جدا بحث دی. د شک تيوري زموږ په وطن کې هغه مشهور متل ته ورته ده چې وايي د يو لغماني سره يو کس په لاره تله نو د لغماني هرې خبرې ته يې د شک په سترګه کاته او د ځان سره به يې ويل کېدای شي په دې خبره کې هم د لغماني څه چل وي. شرقي ټولنو ته هرڅه د شک د تيورۍ په هنداره کې ښکاري او د خپل اولس ټولې نيمګړتياوې او وروسته والي د پردو د مداخلې سبب ګڼي.

د فرورۍ په ۱۲مه نېټه د نورستان والي حافظ عبدالقيوم راته په جلال آباد کې قصه وکړه چې د کامدېش د سيمې يو مشهور قومي مشر مولوي محمدصادق په خپله سيمه کې د طالبانو او داعش پرضد فعاليت کاوه خو هغوی ورته د مولوي محمد صادق زوی داسې تربيه کړ چې په خپل پلار ځانمرګې حمله وکړي. مولوي محمد صادق چې په دې اړه ثقه معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل؛ نو کله چې د ده زوی چې د منفجره موادو واسکټ یې په تن و او د دې خواته راتله نو هغه یې د مخه په کلاشینکوف ټوپک وویشت او مړ یې کړ. وروسته چې د خپل زوی مړي لټوي نو د ځانمرګي واسکټ یې په تن و. داسې نورې عیني قصې شته چې پوره ریسرچ او تحقیق ته اړتیا لري. د دغه قصې کولو په وخت کې د جمهور رئیس مشاور وزیر اسدالله وفا هم ناست و.

که موږ دغه پورته قضیې ته وګورو نو دا واقعاً یوه زړه بوږنوونکې او تراژیدیکه پېښه ده او الله تعالی دې هیڅوک د داسې ستونزې او حالت سره نه مخامخ کوي. موږ ټول اولادونه، وروڼه او خپلوان لرو او دا ډېره سخته صحنه ده چې پلار دې پر خپل زوی د ټوپک ماشه کش کړي او خپل زوی دې ووژني. الله تعالی دې موږ او تاسې ټول د داسې حالت نه وساتي. سوال دا دی چې د مولوی صاحب محمد صادق زوی څنګه دې ته حاضر شو چې خپل پلار چې هغه هم یو مشهوره دیني عالم دې ووژني. که دا فرض کړو چې د مولوي صاحب او د ده د زوی سره په عقیده کې څه توپیر و نو ابراهیم (ع) خو خپل پلار آذر چې کافر و ونه واژه او نه نوح (ع) خپل زوی کنعان چې کافر و وواژه. همدا شان لوط (ع) خپله ښځه چې کافره وه ونه وژله او نه محمد (ص) خپل ترۀ ابولهب چې کافر و وواژه. په اسلام کې همېشه دا تاکید شوی دی چې د خپلوانو سره باید خپل علایق قطع نه کړئ او دا ګناه لري نو وژل یې خو لویه ګناه ده. که مولوي صاحب او د ده زوی سره په مذهبي توګه څه اختلاف نظر درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دواړه مسلمانان وو، نو څنګه مسلمان خپل مسلمان پلار وژني. که څه هم زه ملا نه يم خو اوس تاسې ما ته ووايئ چې د اوسنۍ روانې جګړې کوم اړخ اسلامي او مذهبي شکل لري.

که تاسې دې پورته قضيې ته وګورئ نو د داسې جګړې ګټل د چريکي او جبهه يې جګړو په تاکتيکونو سره نه شي ګټل کېدای ځکه دا کسان چې ځانونه وژني، دوی نه د مرګ او بنديخانې نه ويرېږي او نه ورته خپله کورنۍ، دين، وطن او قوم او يا نور ارزښتونه څه اهميت لري. دوی د تکفيري اډيالوژۍ د تبليغاتو لاندې راغلي دي. د داسې کسانو ماغزه په مطلقه توګه وينځل يا Brain Wash شوي دي. يعنې د دوی ماغزه د نورو ټولو ارزښتونو نه وينځل شوي او پاک شوي دي او يوازې د تکفيري ايډيالوژۍ تبليغاتو د دوی په ماغزو کې ځای نيولی دی. البته دا ډول تبليغات د هغو ځوانانو په ماغزوکې ډېر اثر کوي چې لا د پختګۍ مرحلې ته نه وي رسېدلي. تکفيري ايډيالوژۍ پيروان په دې عقيده دي چې څوک د دوی پيرو نه وي هغه که مسلمان وي او که کافر بايد ووژل شي او دا سلسله بايد د قيامت د ورځې پورې دوام پيدا کړي. زما په اند دوی د الله د مخلوق د پيدايښت په خلاف مبارزه کوي او فکر کوم چې دوی دا نه ګوري چې الله تعالی رب العالمين دی.

زما په اند د دې ډول جګړو د مخنيوي لپاره يوازېنۍ لار کلکه هماهنګي، هر اړخيزه او دوامداره مبارزه ده. دا مبارزه بايد د مساجدو او مکاتبو نه نيولې د کلي او کور په سطحه دوام پيدا کړي ترڅو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکفيري ډلو مخه ونيول شي او زموږ ځوانان نور جذب نه کړي. همدا شان په سيمه ييزه او نړيواله کچه د تکفيري ډلو روزنتونونه يا د توليد فابريکې او د مالي منابعو سرچينې که په هر ځای او هر ملک کې وي بايد له منځه لاړې شي. که دا ډول مبارزه ونه شي زموږ په ملک او سيمه کې د ناسالمه حکومتدارۍ له امله زيات ځوانان بېکاره دي او د دې تکفيري ډلو له خوا د دوی د جلب او جذب لپاره ښه لاره هواره ده. که د دې ډلو په مقابل کې پخوا سم اقدام شوی وای نو افغانستان به د ستونزو سره مخامخ نه وای او که اوس هم هر اړخيزه مبارزه د دوی په مقابل کې ونه شي، د جنګونو دا سلسله به ډېر زيات وخت دوام وکړي او زموږ زيات وطنوال به د تکفيري جګړو ښکار شي.

د پورتنۍ ليکنې په اړه هم ډېرو دوستانو خپلې تبصرې ليکلې وې او مننې يې کړې وې خو ما دلته يوازې د صديق الله رشتيا صاحب دا لاندې تبصره رانقل کړه:

فاعتبروا يا اولی الابصار: الاية: ای د سترګو ((عقل)) خاوندانو ((تاسې د دې نه)) عبرت واخلئ!!

واقعاً ډېره دردونکې کيسه ده، زه خو وايم چې دا کيسه ځومره هم شريکه شي لابه هم کمه وي. د ايت کريمه ((فاعتبروا يا اولی الابصار.الاية)) ژباړه او هدف دا دی چې د دا ډول کيسو نه موږ بايد عبرت واخلو. يوه مشهوره غوره وينا ده چې وايي: قصص الاولون، مواعظ الاخرين: يعنې د لومړيو خلکو کيسې د وروستيو لپاره د پند او نصيحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



باعث دی. ښاغلی مياخېل صاحب ستاسې منطقي، ديني او علمي تحليل د دې کيسې لپاره هغه څه دي چې زموږ د دې بې وزلې او دردېدلې ټولنې لپاره په کې د ستونزې په ډاګه کولو او بې مثاله ديني بېلګو چې د ابراهيم (ع) د پلار آذر، د نوح (ع) د زوی کنعان، د لوط (ع) مېرمن د حضرت محمد (ص) د ترهٔ ابولهب کيسې يادول يو قوي استدلال او معقوليت افاده کوي . په ګوتو مو برکت ډېر جالب تحليل!!

نوټ: روهي ويبپاڼې هم دا ليکنه نشر کړه:

http://www.rohi.af/fullstory.php?id=٤٣٧١٤

او هم د پژواک خبري آژانس دا ليکنه نشر ته وسپارله:

http://goo.gl/BMpLCh

**د ګوګل په ژباړې کې د پښتو ژبه اضافه کوم:**

١٨ فبروری ٢٠١٦م کال، کابل

د پرون راهيسې د فيسبوک په پاڼو کې سخته خوشالي وه چې پښتو ژبې ژباړنه ګوګل ته داخله شوه او هر چا په برېتو لاسونه کش کول چې ګونډې دا د دوی د فعاليت پايله ده؛ نو ما دا لاندې څو جملې وليکلې:

د ګوګل د ژباړنې ژبې مې وشمارلې نو ١٠٣ ژبو ته رسېدلې فکر کوم چې پښتو ته يې اوس خاصه توجه وکړه که څنګه؟!!

دا ښه کار دی چې د ګوګل مارکېټ کې پښتو اضافه شوه خو دا د هغوی د مارکېټنګ برخه ده. موږ بايد خپلې ژبې او وطن ته په خپله کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو. که خفه نه شئ نو ډېره خوشالي هم په کار نه ده ځکه موږ ته دا مصنوعي خوشالتیا رابخښي.

**خپل تربوران ویروم:**

د فبرورۍ ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

زموږ د کلي یو ملک یوه ورځ د کلي نایي نا حقه وهلی و. چا د ملک نه پوښتنه کړې وه چې دا نایي دې ولې نا حقه وواهه ځکه دا خو غریب او بېچاره سړی و. ده ورته په ځواب کې ویلي وو چې دا خو مې ځکه وواهه چې په خپلو تربورانو مې وسه نه کېده او په دې مې خپله تنده د انتقام ماته کړه، چې زما تربوران را څخه وویرېږي. ما ویلې اممممممممم

**د مشرانو کار د وطن په گټه د کادرونو نه مناسبه او په ځایه گټل اخیستل دي:**

د فبرورۍ ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

ښه مشر او ښه نظام هغه دی چې پردي خپل کړي نه دا چې خپل درنه پردي شي. د ټولنې په جوړېدو کې موږ هر چا ته اړتیا لرو. د بېلگې په توگه که معمار ښه او تجربه کار وي نو ماتې او نیمې خښتې هم په مناسب ځای کې د دېوال استعمالوي او هیڅ ټوټه د ماتو خښتو ترې نه پاتې کېږي. که معمار نه پوهېږي نو ماتې خښتې خو د سره استعمالولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شي بلکې روغې خبنتې هم ماتوي. نو په دې توګه زما په اند، د ظرفیت یا کادرونو کمی په افغانستان کې نشته خو ستونزه دا ده چې د کادرونو نه مناسبه او په ځای ګټه نه اخیستل کېږي.

**د وخت مدیریت او د کار د مؤثریت اهمیت:**

د فبروری ۲۵مه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل

هر څوک چې لاپې وهي چې ډېر کار کوم او وخت نه لرم معنی یې دا ده چې په مدیریت نه پوهېږي او نه د مدیریت طبیعي استعداد لري. پرون په یوه ټرېننګ کې موږ ته وویل شول چې نارمل انسان د ۸ نه تر ۱۰ ساعتونو زیات مؤثر کار کولی نه شي یعنې د اته ساعتونو مسلسل کار نه وروسته انسان سم فکري تمرکز نه شي کولا ي. که څوک وایي چې زه ۱۵ یا شل ساعته کارکوم مطلب دا چې اته ساعته مؤثره کار کوي او د کار په نورو اضافي ساعتونو کې چې کوم سم کار یې کړی وي هغه هم خرابوي. د ریاضي په اصطلاح مثبت ضرب منفي پایله د کار به یې هرو مرو منفي وي. یو مشهورعالم توني شوارتز وایي:

"Manage your energy, not your time"

د خپل انرژۍ مدیریت وکړئ نه د خپل وخت یعنې په دې معنی چې د خپل صحت فزیکي، فکري او روحي اړخونه باید په پام کې ونیسئ. د ۱۵۰ کالو تحقیقاتو ثابته کړې ده هغه کسان چې د اونۍ ۴۰ ساعته کارکوي د هغوی مؤثریت د کار د هغه کسانو نه چې په اونۍ کې ۵۲، ۶۰ او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زيات کارکوي زيات دی. الله تعالی هم شپه د خوب لپاره او ورځ د کار او ژوند کولو لپاره پيدا کړې ده. که مزمل سورت ته وګورو نو الله تعالی ټوله شپه عبادت هم په خپلو بندګانو بند کړی او ورته يې ويلي چې د شپې درېيمه حصه يا د هغه نه هم کم عبادت کوئ. د لازياتو معلوماتو لپاره د انګليسي ژبی دا مقاله لوستلی شئ. ښه جمعه ولرئ.

http://www.salon.com/٢٠١٢/٠٣/١٤/bring_back_the_٤٠_hour_work_week

**دا ښايسته ماشوم ووژل شو:**

د مارچ نهمه نېټه، کال ٢٠١۶م، جلال آباد



الله تعالی دې د افغانستان په ولس ورحمېږي. نه د خوشاليو په ځمانځلو پوهېږو او نه د غم. د کرکټ د خوشاليو په ډزو کې دا ښايسته ماشوم ووژل شو. الله تعالی دې د دې ماشوم کورنۍ ته صبر ورکړي. هغه چا چې هوايي ډزې کړي وي د دې ماشوم عکس يې ليدلي وي که نور څه نه وي نو د خپل ځان سره به خو خجالت وکاږي.

خدای دې وکړي چې د خوشاليو د ځمانځلو په وخت نور داسې عمل تکرار نه شي او د دې ماشوم قرباني اخري قرباني وي. دا زموږ د ټولو دنده ده، هغه کسان چې غواړي د خوشاليو په وخت کې ډزې وکړي بايد مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ونيسو او د حکومت مسوولیت خو هيڅ وجه توجيه کېدلی نه شي چې په جرایمو سترګي پټوي.

**د دوستانو مرسته مې د شهیدانو کورنۍ ته ورسوله:**

د مارچ يولسمه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کونړ



نن د کونړ ولایت د يو شمېر مشرانو سره مې د مروري ولسوالۍ د ایسار کلي ته سفر وکړ او هغه نغده مرسته چې کاوون کاکړ او ما د خپلو نږدې دوستانو او ملګرو نه راټوله کړې وه هغه کورنۍ ته ورسوله، چې په ځانمرګي حمله کې يې دري زامن شهيدان شوي او يو بل ورور يې زخمي شوی و. دغه ځانمرګي پېښه د فرورۍ په ۲۷مه نېټه د کونړ ولايت په مرکز اسعد آباد کې د ولايت مقام مخې ته شوې وه چې ټول شپاړش کسان شيهدان شوي او ۵۱ کسان زخميان شوي و. دغه مالي مرسته ټوله پنځه لکه اتلس زره درې سوه او شل افغانۍ (۵۱۸،۳۲۰) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو شهيدانو پلار عظيم خان نومېږي چې مشر زوی يې حبيب الله نومېده چې يو کونډه، دوه نجونې او يو زوی ترې پاتې دي. دويم زوی يې احسان الله نومېده چې يوه کونډه، يو زوی او يو لور ترې پاتې دي. درېيم زوی يې روح الله نومېده چې يوه کونډه او يو زوی ترې پاتې دي. څلورم زوی يې جعفر نومېږي چې اوس هم د جلال آباد په يوه روغتون کې د درملنې لاندې دی خو د کورنۍ په قول صحي وضعه يې په ښو کېدو ده.

زه د حاجي صاحب فضل اکبره، حاجي صاحب روزي، حاجي صاحب عليم گل، ډاکتر صاحب سيد قاهر عاطف، استاد هجرت الله هجرت، استاد عبدالبصير سباوون، حاجي فدا محمود او قاري عبدالهادي نه مننه کوم چې زما ملگرتوب يې کاوه او زما سره يې د مرورې ولسوالۍ ته سفر وکړ.

**د سرکانو او وټه پور د يو شمېرانو مشرانو سره:**

د مارچ ۱۲مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، چغه سرای، کونړ



نن مې د کونړ درنو مشرانو ملک محمد ميران، ملک رئيس خان، ملک محمد اسلام او معاون حاجي صاحب سره د جهاد او هجرت قصې وکړې او هم مې د د دوی سره د کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قومي جوړښتونو مرکې وکړې ترڅو د کونړ په اړوند خپل کتاب چې تر یو حده پورې مې پرې کار کړی تکمیل کړم. د دوی نه مننه کوم چې د سرکاڼو او وټه پور ولسوالیو نه راغلل او زحمت یې وګاللو. د ښې خوا نه د برکنډۍ حاجي فضل اکبر چې په معاون حاجي شهرت لري، د سرکاڼو د ګنجګل د سیمې مشر حاجي رئیس خان، د وټه پور حاجي محمد اسلام، د سرکاڼو د ګنجګل مشهور مشر ملک محمد میران او لیکوال. د ملک محمد میران یوه مهمه خبره دلته رانقل کوم چې ویې ویل که غواړئ چې د کلي سره تربورولي وکړئ باید د خپل ورور سره جوړ اوسئ او که غواړئ چې د ورور سره تربورولي وکړئ باید د کلي سره جوړ اوسئ ځکه په یوه وخت په دوه جبهو کې نه شئ جنګېدلی.

**زېرى:**

د مارچ ۱۵مه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل



د کونړ ولایت مرکز اسعدآباد ته د فایبر اپتیک د کیبل د غځېدو کارونه په درز سره روان دي. د دې انټر نېټي کیبل په غځېدو سره به د کونړ ولایت د زیاتو سیمو ولسونو ته انټرنېټ په ډېره ارزانه بیه عرضه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې پوست په اړه د بعضې دوستانو غبرگونونه مختلف وو. چا يې تاييد کاوه او بعضې دوستانو دا نظر و چې برق نه وي، او خلکو ته ډوډۍ نه وي نو په انټرنېټ به څه وکړي.

يو کس د عابد کاظمي په نامه ليکلي:

ځومره کومک او پيسې چې وطن ته راغلي که هغه په نظر کې ونيسو نو دا کارونه هيڅ هم نه دي. مياخېل صاحب زه منم چې د وطن په پرمختګ بايد هر افغان خوشاله شي

خو کوم شي ته چې اولويت يا لومړيتوب ورکول په کار دي په هغه خو زموږ سياستمدارانو سترګي پټې او په غوږونو يې ځېري اچولي دي.

ما يې په ځواب کې وليکل چې:

په تللو پسې زړه مه غورځوه هغه څه چې په لاس مو دي بايد سمه ګټه ترې پورته کړو. په هرحال ستاسې نظر هم په خپل ځاى سم دى.

صديق وزير ليکلي وو:



مياخېل صاحب يو متل دى چې(يو د لوږې مري بل ور ته سر ته پراتې پخولې) ما په کونړ کې يو څه وخت تېر کړى ډېر غيرتي او مېلمه دوست خلک دي سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې غربت اوج ته رسېدلی خو بیا هم دوی خپله حجره او دېره د هر چا په وړاندې خلاصه ساتلې، د ژوند ډېر مشکلات لري. د مثال په ډول برق'امنیت' 'بې روزګاري 'مجهز کلینیک'په لسګونو داسې نور 'اول چې برق نه وي انټرنېټ هیڅ فایده نه لري 'لکه اسلحه چې کارتوس ونه لري. زه خپله د کامې یم خو د یو افغان په حیث باید دا ووایم چې کونړ کې هیڅ قسم پرمختګ زه نه وینم. حکومت ورته خاصه توجه نه ده کړې سره له دې چې ډېر وطن پرسته خلک دي. زما په نظر انټرنېټ به صرف شتمنو خلکو ته یو څه فایده مند وي خو غریب ته چې اکثریت هم دی هیڅ فایده نه لري. مننه

**ما د پورته لیکنې په ځواب کې ولیکل:**

**مننه وزیر صاحب!** دا ستاسې حسن نظر دی. اوس شمسي برق د کونړ په اکثره کورونو کې شته دی چې هم خلک ټلوېزیون ګوري او هم د اوړی پکي پرې چلوي. په هر ساحه کې چې پرمختګ کېږي ښه خبره ده. داسې وخت فکر نه کوم چې د نړی په یوه هېواد کې راغلې وي، چې هر پرمختګ په یوه وخت شوې وي. انکشاف ورو ورو کېږي خو ورانول د وطن یو دم وي. الله تعالی مو دې نور دا وطن د ورانولو نه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره که نه:**

د مارچ ۱۷مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

ډېر داسې لیکوالان، د پوهنتون استادان، سیاسي مبصرین او ادیبان پېژنم که ورته د مدیریت معمولي چاري هم وروسپارې؛ نو هغه نه شي سمبالولی خو بعضې وخت د دوستانو احساسات داسې وي که ده او هغه ته وزارت ورکړل شي نو ډېر ښه به وي او هر څه به سم کړي. زما په اند مدیریت د علمي پوهې ترڅنګ طبیعي استعداد هم غواړي چې د انسان په طبیعت کې اغېزل شوی وي. هر اقتصاد پوه ښه تجار کېدلی نه شي. که داسې نه وي نو هر د اقتصاد استاد به میلونر وای.

**مننه او کورودانی:**

**مینه په تلو راتلو زیاتېږي  کله راځه کله به درځم مینه**



د مارچ ۲۱مه نېټه، ۲۰۱۶م، کونړ،

د قدرمنو درنواستادانو، علمای کرامو، مخورو، سپین ږیرو، ادیبانو، شاعرانو، لیکوالانو او ځوانانو نه د زړه له کومې مننه کوم  چې پرون یعنې د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال په لومړۍ ورځ د کونړ ولایت د خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ ولسوالۍ د تنړ په کلي کې د شاه محمود مياخېل د فرهنګي او ټولنيز مرکز په پرانيست غونډه کې يې ګډون وکړ. زه د هر يو نه په ځانګړي توګه مننه کوم چې دوی زحمت ګاللی و او د ډېرو لرو پرتو ولايتونو نه د کونړ ولايت او په خاصه توګه د خاص کونړ ولسوالۍ ته تشريف راوړی و. که د وطن سره مينه او محبت نه وي نو د يوې غونډې لپاره څوک د دومره لرې ځايونو نه په اوسنيو شرايطو کې سفر نه کوي. الله تعالی دې د دوی هر قدم د ايمان په تله کې واچوي. د قدرمنو درنواستادانو، علمای



کرامو، مخورو، سپين ږيرو، اديبانو، شاعرانو، ليکوالانو او ځوانانو نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه له کومې مننه کوم  چې پرون یعنې د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال په لومړۍ ورځ د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د تنر په کلي کې د شاه محمود میاخېل د فرهنګي او ټولنیز مرکز په پرانیست غونډه  کې یې ګډون وکړ. زه د هر یو نه په ځانګړي توګه مننه کوم چې دوی زحمت ګاللی و او د ډېرو لرو پرتو ولایتونو نه د کونړ ولایت او په خاصه توګه د خاص کونړ ولسوالۍ ته تشریف راوړی و. که د وطن سره مینه او محبت




نه وي نو د یوې غونډې لپاره څوک د دومره لرې ځایونو نه په اوسنیو شرایطو  کې سفر نه کوي. الله تعالی دې  د دوی هر قدم د ایمان په تله کې واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه دوستانو راتګ خاص کونړ ته دا وښودله چې دوی د افغانستان سره خاصه مينه لري او دوی د افغانستان په هرګوټ کې په يوه وړوکې لاسته راوړنه هم نهايت زيات خوشالېږي. الله تعالی دې په افغانستان کې دايمي سوله ټينګه کړي چې افغانان په اسانۍ سره د يو ولايت نه بل ولايت ته سفرونه وکړي او خپل دوستان او ملګري د نږدې نه وګوري، وايي:

مينه په تلو راتلو زياتېږي

کله راځه کله به درځم مېنه

کېداې شي چې د دوستانو او وطنوالو سره دا سوال پيداشي چې ولې ما دا مرکز په خپل نامه ونوماوه او هم مې ورسره ټولنيزه کلمه اضافه کړه. که څه هم پوهنوال محمد اسمعيل يون صاحب په خپلو خبرو کې په دې اړه ډېره ښه رڼا واچوله خو زه هم دا زياتوم چې که د يو فرهنګي او ټولنيز مرکز ژوندی سرپرست نه وي، هغه مرکز تر ډېره وخته سم نه چلېږي او بيا بالاخره سقوط کوي. الله تعالی دې ماته دا توفيق راکړي چې په راتلونکې کې دا مرکز وپالم اونوره هم وده ورته ورکړم. په دې ډاډه يم چې زما اولادونه او کورنۍ به تر يوه وخته زما نه وروسته هم د دې مرکز پالنه وکړي. يوه خبره غواړم چې دوستانو ته واضحه کړم چې ما په خپل ۳۸ کلن کاری ژوند کې همېشه په خپل معاش ګوزاره کړې ده او دا مرکز ما د خپل معاش نه د صرفه جويي په نتېجه کې جوړکړی دی. کېداې شي چې ما دومره خدمت خپل ولس او خلکو ته نه وي کړی خو دا خبره په ډېر جرأت سره کولی شم چې د خپل وطن او خلکو سره مې خيانت نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او نه مې د چا سره په فساد کې برخه اخيستلې ده. الله تعالی ما ته هم د حلالې لارې همېشه دومره معاش راکړی چې زما د مناسب او منځمهال ژوند د اړتياو نه زياته وه او کمه نه وه. په ما د خپلو اوه اولادونو همدا حق و چې سم يې وروزم او دوی ښه تعليم وکړي خو په ما د خپلواولادونو او کورنۍ دا حق نشته دې چې هغوی ته د حلالو او حرامو لارو بلدېنگونه جوړ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولنيز کلمه ما د فرهنګي هلوځلو ترڅنګ ځکه زياته کړه چې زموږ زياتې ستونزې ټولنيزې او خپلمنځي دي. فرهنګي هلې ځلې بايد



زموږ فکري ذهنونو ته وده ورکړي ترڅو موږ خپلې ټولنيزې ستونزې حل کړو او د نړيوالو سره سيال شو. فکري تغيير او د ټولنيزو ستونزو له منځه وړل د افغانستان د سوکالۍ يوازېنۍ لار ده. که موږ په خپله په خپل ژوند او ورځنيو کړو او وړو کې فکري او ټولنيز تغيير رانه ولو، هيڅوک په دې اړه زموږ سره مرسته نه شي کولی او د دوی مرستې که په ښه نيت هم وي زموږ په درد نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري خدای مهربانه دی چې داسې نور مرکزونه به هم د هېواد په هره ولسوالۍ کې د هغو دوستانو او وطنوالو له خوا چې وسه يې لري، په راتلونکې کې جوړکړي ترڅو موږ خپل فرهنګ او کلتور ته رشد ورکړو او ټولنيزې ستونزې په خپله حل کړو. په اخره کې د محمد داؤد تپاند او استاد قاري فضل هادی نه په خاصه توګه مننه کوم چې د د ې غونډې چارې يې په مخ بيولې. همدا شان د پښتونخواه د خوږژبې شاعرې اوليکوالې حسينه ګل تنها نه مننه کوم چې دې غونډې ته يې تشريف راوړی و. د هېواد د آرامې او سوکالۍ په هيله.

پژواک خبرې اژانس او تاند ويب پاڼې هم د پورته مرکز په اړه دا لاندې خبرې راپورنه خپاره کړي وو:

http://www.taand.com/archives/٦٦٣٩٠

http://www.pajhwok.com/dr/node/٤٤٩٤٩٤

**ما ته زما د مشر زوی نايل محمود مياخېل ليک:**

د مارچ د مياشتې ۲۲مه، نېټه، کال ۲۰۱۶م

د ۱۳۹۵ هجري شمسي کال په لومړۍ نېټه چې ما د کونړ ولايت د خاص کونړ په ولسوالۍ کې په خپل نامه فرهنګي او ټولنيز مرکز پرانيسته؛ نو زما مشر زوی ډاکټر نايل محمود مياخېل راته د امريکا نه ايميل راولېږه. که څه هم نه مې غوښتل چې دا ايميل فيسبوک له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوست کړم خو دا چې تشويقي جنبه يې درلوده نو د دوستانو سره مې شريک کړ.

**سلام ميرزا لالا،**

**خدای دې وکړي چې تاسې ښه اوسئ او د نوي مرکز د پرانيستو مبارکي درته وايم. اميد لرم چې د دې مرکز پرانيستنه به موږ ته، د کونړ خلکو ته او هم د افغانستان ولس ته د رڼا لار پرانيزي.**

**ان شاءالله، موږ به خپله نهايي وسه وکړو چې د دې مرکز ډيوه ژوندۍ وساتو او د دې مرکز موخې په راتلونکو کلونو کې عملي کړو.**

**په احترام، نايل محمود مياخېل**

**د کونړ ولايت په خاص کونړ ولسوالۍ کې د شامحمود مياخېل فرهنگي مرکز پرانيستل کېدو په پار د زيار مدني ټولنې مبارکي:**

زيار مدني ټولنه وياړي، چې په يو داسې کار د هېواد يو سياستوال او فرهنگي شخص ته مبارکي ورکوي، چې ترسره کول يې کلک هوډ او د وطن او ولس مينه غواړي، دا سړی شامحمود مياخېل دی. ښاغلی مياخېل يو سياستوال، فرهنگي او ليکوال دی، چې له تېرو څو کلونو راهيسې د هېواد په سياسي، ادبي، فرهنگي او کليوالي ناسته پاستو کې ښه فعال هم دی. د دې فرهنگي مرکز بنسټ ايښودونکي شاه محمود مياخېل وويل چې دغه مرکز يې په شخصي لگښت په دوه جريبه ځمکه کې رغولی دی وويل: (( دا يو تعليمي مرکز دی چې ځوانان له فيس پرته په کې زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي او قومي مشران کولای شي د جرگو او مرکو لپاره گټه ترې پورته کړي)).

دا يو ستر نوښت دی، چې په خپله شخصي ځمکه کې يو ستر فرهنگي مرکز پرانيزي او د خپلې سيمې د خلکو د ژوند او پوهې د کچې د لوړولو په پار يې دا هرڅه وقف کړي دي. په دې مرکز کې په وړيا توگه د ځـــوانانو لپاره د زده کړې په موخه سيمينارونه، ورکشـــاپونه او د جرگو مرکو کولو لاره هوارېږي. دا يو ستر کار دی او د دې ستر کار بدله دې خدای په دواړو جهانونو کې ورکړي .

زيار مدني ټولنه په خپل دغسې يوه هېوادوال وياړي او د نورو هڅو او خدمت په پار يې لوی ښتن تعالی ته لاسونه لپه کوي، چې زموږ په وطن کې دې دغسې بچي ډېر کړي، چې وکولای شي، وطن له اوسنيو بدمرغيو وژغوري .

مياخېل صاحب، کونړيانو، فرهنگيانو او ټولو افغانانو ته دې مبارک وي.

درنښت

د زيار مدني ټولنې دارلانشا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښکلي خبرونو ويبپاڼې ليکنه: د شاه محمود مياخېل د فرهنګې او ټولنيز مرکز په اړه

## د پژواک د خبري آژانس نه:

د بدو خبرونو ډېرې رسنۍ ډکې دي، موږ له تاسې سره ښه او ښکلي خبرونه شريکوو. د کونړ ولايت په خاص کونړ ولسوالۍ کې د شامحمود مياخېل فرهنګي او ټولنيزمرکز پرانيستل شو.

په دې مرکز کې په وړيا توګه د ځـــوانانو لپاره د زده کړې په موخه سيمينارونه، ورکشـــاپونه او د جرګو مرکو کولو لاره هوارېږي.

د دې فرهنګي مرکز بنسټ اېښودونکي شاه محمود مياخېل وويل چې دغه مرکز يې په شخصي لګښت په دوه جريبه ځمکه کې رغولی دی وويل: (( دا يو تعليمي مرکز دی چې ځوانان له فيس پرته په کې زده کړې کولای شي او قومي مشران کولای شي د جرګو او مرکو لپاره ګټه ترې پورته کړي. ((ده وويل چې د دې مرکز تالار په يو وخت کې د درېيو سوو کسانو د ناستې وړتيا لري او ډېر ژر به په کې کتابتون هم فعاله شي)). د خاص کونړ ولسوالۍ د قومي شورا مشر ملک طاووس خان وويل: (( زه له شامحمود نه مننه کوم ځکه پخوا موږ په دې ولسوالۍ کې داسې کوم ځای نه درلود.)) دخاص کونړ ولسوالۍ د ځوانانو شورا مشر ميرسلام مجاور وويل چې ځينې وختونه يو شمېر نا دولتي مؤسسې غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانانو لپاره ځينې پروگرامونه جوړ کړي، خو د ځای د نشتون له امله دغه چاره بيا نه ترسره کېږي.

ده وويل: ((د دې مرکز په جوړېدو سره نور موږ دغه مشکل نه لرو اوس به هر ډول پروگرامونه دلته جوړېږي)).

د پښتونخوا ليکوالې او ژورنالېستې حسينه گل تنها د دې مرکز د پرانيستې پرمهال پژواک ته وويل: (( د دغه شان مرکزونو جوړېدل ډېر مهم دي، ځکه دغه مرکز له ځانه سره کتابتون هم لري او موږ بايد کوښښ وکړو چې د ځوانانو ترمنځ د کتاب لوستل مروج کړو.)) دغه راز په دې غونډه کې د ملي تحريک گوند مشر محمد اسماعيل يون وويل چې د دې مرکز له کتابتون سره به د سلگونو جلدو کتابونو مرسته وکړي. د کونړ د اطلاعاتو اوفرهنگ رئيس جنت گل فدا وويل چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت هم پلان لري چې په ځينو ولسواليو کې کتابتونونه جوړ کړي. ده وويل چې د ياد مرکز له کتابتون سره به هم د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د کتابونو مرسته وکړي، دا لومړی ځل دی، چې په کونړ کې دغسې يو مرکز پرانيستل کېږي او د ځوانانو په واک کې ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کونړ او لوګر ولایتونو والي صاحبانو او د ولایتي کمیټي رئیسانو د شاه محمود میاخېل مرکز وکوت**

پرون د اپریل د میاشتې په لومړۍ نېټه کال ۲۰۱۶م، د لوګر ولایت



محترم والي صاحب محمد حلیم فدایي، د کونړ و لایت محترم والي صاحب وحیدالله کلیمزي، د دواړو ولایتونو د ولایتي شوراګانو محترمو رئیس صاحبانو، دولایتې شورا ګانو محترمو غړیو، او یو شمېر نورو قومي مشرانو او ځوانانو د کونړ ولایت د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د شاه محمود میاخېل فرهنګي او ټولنیز مرکز نه کتنه وکړه. زه د ټولو د راتګ نه دغه مرکز ته، د زړه له کومې مننه کوم او هم د خاص کونړ د ولس نه مننه کوم چې د دې دوستانو مېلمه پالنه یې وکړه.

**د کونړ والي صاحب په خپل فیسبوک پاڼه لیکلي وو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کونړ او لوګر ولايتونو واليانو د خاص کونړ د فرهنګي او ټولنيز مرکز ښخه ليدنه وکړه

د لوګر والي محمد حليم فدايي  د يو پلاوي په ملتيا کونړ ولايت ته سفر وکړ او د دې ولايت له والي الحاج وحيدالله کليمزي او قومي مشرانو



سره يې ناسته و کړه او د سيمه ييزې حکومتوالۍ پراختيا، سولې او ثبات د ټينګښت په برخه کې يې د کونړ د ولايتي

*د کيڼې خوانه وحيدالله کليمز، شاه محمود مياخيل، حليم فدايي او ترشا*

*جنرال سيدخيلي د کونړ ولايت امنيه قوماندان*

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري او ولسونو هڅې وستايلې. د کونړ والي او راغلي پلاوي د ډيورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د خاص کونړ ولسوالۍ په تنر کلي کې د شاه محمود مياخېل د فرهنګي او ټولنيز مرکز څخه ليدنه وکړه او د ياد مرکز جوړېدل يې د هېواد د فرهنګ،ادبي او تاريخي وياړونو د خوندي ساتلو او ديادې سيمې د خلکو د ټولنيزو ستونزو دهوارۍ په برخه کې د وياړه ډک ګام وباله او د تقويه په برخه کې يې ورسره دهمکارۍ ژمنه وکړ.

د کونړ والي الحاج وحيدالله کليمزي د لوګر ولايت د مشرتابه او ورسره مل پلاوي سفر د ملي يووالي او د دواړو ولايتونو د دولتي ادارو او ولسونو ترمنځ د اړيکو پراختيا او قوي همغږۍ رامنځته کېدو په برخه کې ارزښتمن ګام وباله، نوموړي زياته کړه، کونړ د امنيت،ښکلاګانو او دعلم او پوهې ټاټوبی دی او ولسونو يې د سولې او ثبات د ټينګښت په لاره کې د هيڅ راز همکارۍ څخه ډډه نه ده کړې ښاغلي کليمزي د شاه محمود مياخېل فرهنګي هڅې وستايلې او د دود سره سم د ولايت مقام له لوري چمتوشوې ډالۍ د کونړ والي او ولايتي شورا رئيس په لاسونو راغلي ميلمنوته ورکړل شوې.

**قاري صاحب ضياالرحمن ضيا ليکلي وو:**

مينه په تلو راتلو زياتېږي<br>
کله رازه کله به ځه درځم مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره ورځ زړه ته رانږدې دوست د لوګر پياوړې او فرهنګپال والي ښاغلي محمدحليم فدايي او ورسره مل پلاوي د لوګر د ولايتي شورارئيس او اعضاو يې ننګرهار همېشه بهار ته تشريف راوړی و. لومړی ورځ د ننګرهار د شريفو ولسونو په نماينده ګۍ موږ ورته غرمنۍ تياره کړې وه. , د شپې د ننګرهار د والي له خوا ورته مېلمستيا برابره شوې وه. په دوهمه ورځ موپه خاص کونړ تنړ کلي کې د پياوړې ليکوال اوسياستوال او فرهنګپال مشر ښاغلي شامحمود مياخېل د فرهنګي او ټولنيز مرکز څخه پداسې حال کې ليدنه وکړه چې د کونړ والي او ورسره مل پلاوي ولايتي شورا رئيس او اعضاو هم شتون درلود. واقعاً مياخېل صاحب په زړه پورې ستر نوښت د فرهنګي او ټولنيز مرکز په برخه کې کړې. سهارنۍ سوچه کليوالي ناشته راته جناب مياخېل صاحب په ډېره مينه تياره کړې وه چې مننه ترې کوو. غرمنۍ مو د کونړ د محترم والي صاحب او ولايتي شورا سره وه.

د سفر هدف:

د لوګر، ننګرهار، کونړ ولسونو ترمنځ همغږي د ورونو ولسونو ترمنځ د ښو اړيکو د رامنځ ته کولو په موخه ووږ موږ د ښاغلي فدايي صاحب دان وښت ستايو او مننه ترې کوو. له نورو واليانو، ځوانانو، مدني ټولنو هيله لرو چې په هېواد دننه سفرونه وکړي ترڅو د نورو قومونو له فرهنګ او دودونو سره اشنا شي او همدارنګه د سولې ښه سفيران واوسېږو. په پای کې د کونړ د شريفو ولسونو، د کونړ دوالي صاحب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاوړي مشر شاه محمود میاخېل څخه بیا هم مننه چې د کونړ عنعنوي ډالۍ یې مېلمنو ته د اعزازپه شکل ورکړې. د مینې مو پوروړي یو.

**د میرزا ماما (ډاکټر کبیر ستوري) په یاد:**



ډاکټر کبیر ستوری

زه نه غواړم چې د ډاکټر کبیر ستوري د ژوند په علمي او سیاسي اړخونو وغږېږم، ځکه چې ګڼو دوستانو د هغه کتابونه، مقالې او شعرونه لوستي دي او د ویلو لپاره به ډېر څه ولري. زه غواړم چې په دې وړه مقاله کې د ډاکټر کبیر ستوري سره زما د شخصي اړیکو، تړاو او لیدنو کتنو په اړه څه ولیکم.

وړوکی وم، هغه وخت په کلونو نه پوهېدم، خو دا مې یاد دي د کابل په واصل آباد سیمه کې د عمراخان په ابتدایه ښوونځي کې چې اوس د عمراخان لېسه ده، د دویم صنف زده کوونکی وم، ډاکټر کبیر ستوری چې مورږ ورته میرزا ماما وایه، جرمني ته د لوړو زده کړو لپاره روان و. نو؛ زما پلار خدای بخښلي سیدمحمود حسرت چې په هغه وخت کې یې د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو په وزارت کې کار کاوه، موږ يې د ځان سره واخيستلو او کابل هوايي ډګر ته يې يوړو چې د ډاکټر کبير ستوري سره چې تازه د رحمان بابا لېسې د دولسم صنف نه فارغ شوی و، خدای په اماني وکړو. د کابل هوايي ډګر ته ورغلو او دا زما لومړی ځل و چې هوايي ډګر ته لاړم. د کابل هوايي ډګر په رستورانټ کې چې د ميدان د ودانۍ د بام په سر و، موږه چای وڅښه. د چای څښلو نه وروسته مو کبير ماما سره خدای په اماني وکړه او دی د الوتکې په لور وخوځېد. ښه مې ياد شي چې موږ ورته د کابل د هوايي ډګر د ودانۍ په بام ولاړ وو او ده د الوتکې له دننه تر هغو لاسونه خوځول چې الوتکه والوته.

دا ۱۹۶۴م کال و چې ډاکټر کبير ستوری د لوړو تحصيلاتو لپاره پخواني غربي المان ته لاړ. په هغه وخت کې زه د ده په سياسي افکارو، په مکتب کې د زده کړې په کچه او يا نورو راشه درشه باندې نه پوهېدم ځکه وړوکی وم او د ده د شخصيت، پوهې او سياسي افکارو اندازه مې نه شوه لګولی. زما مينه د ده سره يوازې د ماماولۍ په بنياد وه او په مور مې ډېر ګران و. ډاکټر کبير ستوری او زما بل ماما محمد نعيم چې دواړه د رحمن بابا په لېسه کې شاګردان وو او هلته په ليليه کې اوسېدل نو؛ اکثره به د پنجشنبې په ورځ زموږ کور ته راتلل، ځکه چې هغه وخت د ليليې د شاګردانو او محصلينو لپاره په کابل کې دا يوه لويه تفريح وه، چې د جمعې شپه يا ورځ د خپلو خپلوانو او دوستانو کورونو ته ورشي. د پوهنتون د دورې په وخت کې ما هم د دې تفريح خوند ليدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خدای بخښلی پلار ډېر اجتماعي او سخي سړی و، نو د جمعې په ورځ به زموږ نور خپلوان هم چې په مختلفو مکتبونو کې يې درس وايه، زموږ کورته راتلل او په اصطلاح ښه مېله به ګرمه وه. په هغه وخت کې چې د جامو وينځلو ماشينونه نه وو، نو زما مور به همېشه د دې خپلوانو جامې هم وينځلې او پلار به مې زياترو ته يو څه جمعه ګي يعنې د جمعې د ورځې د خرچې په نامه لس شل افغانۍ هم ورکولې. خو زما د ماماګانو کورنۍ چې په سيمه کې يوڅه اندازه متموله کورنۍ وه، کله به چې دوی دواړه کابل ته راتلل نو نيا به مې ورته د خرچې پيسې ورکولې، دوی به دغه پيسې زما له مور سره ايښودې او دجمعې په ورځ به يې ترې د يوې اونۍ د خرچ لپاره يوه اندازه بېرته اخيستې. د دې پيسو سربېره کبير ماما يوه بله پټه پانګه هم لرله، او هغه دا چې زما نيا به زما مور ته يوڅه پيسې پټې ورکولې او ويل به يې چې کبير بد مصرفه دی نو که پيسو ته يې ضرورت شو، دا پيسې به له نعيم نه پټې ورکوې چې هغه خفه نه شي. د کبير ماما بد مصرفي همدا وه چې ده به پيسي په خپلو دوستانو او انډيوالانو مصرفولې او د پيسو د جمع کولو او زياتو پيسو د راټولولو شوقي نه و او د عمر تر اخره پورې يې همدا حال و. په هغه وخت کې به د خارج نه محصلينو خپلو کورونو ته يو څه پيسي لېږلې خو ده به د جرمني نه کابل ته د راتګ ټکټ هم له کوره غوښته. زما پلار په اوښيتوب سربېره، د خاص کونړ په ابتدايه ښوونځي کې د ډاکتر کبير ستوري استاد هم و. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ډاکټر ستوری د مکتب په دوره کې همېشه اول نمره و نو په پلار مې ډېر زيات گران و.



ليکوال د ډاکټر کبير ستوري سره

پخوا چې ټليفونونه عام نه و نو د يو بل سره رابطه چندان نه وه او څوک به چې خارج ته لاړ نو مياشتې او کلونه به يې نيول چې دی د کور او کور د ده له حاله خبر شي.

ډاکټر کبير ستوری چې په اول ځل د غربي المان نه په رخصتۍ افغانستان ته راغی، نو زما د پلار وظيفه په مزارشريف کې وه، موږ ورسره هلته وو، نو دی مې ونه ليد. دويم ځل دی په ۱۳۵۰ هجری شمسي کال کې کونړ ته راغی، نو زه د خاص کونړ په لېسه کې د نهم ټولگي زده کوونکي وم يعنې تقريباً پس له اته کلونو مې وليد. دا چې زموږ د خپلوانو او ترورزو تعداد زيات و، ده به هر خوريې ته ويل چې که دېرې ته د ورځې لس ځلي هم راځئ، ماته به ځانونه رامعرفي کوئ، چې نومونه مو ياد کړم او له ياده مې ونه وځئ.

په دې وخت کې ډاکټر ستوري په خپله ماسترۍ کار کاوه او د ذهنې کچې د معلومولو لپاره يې د ريسرچ سوالونه جوړ کړي وو. دا يې د خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونړ او عمراخان په لېسو کې په شادگردانو و ازمویل. په خصوصی توگه یې په خپلو خپلوانو هم تجربه کړل او ما ته یې وویل چې خوریه! ستا ذهن ډېر ښه دی او دا چې زه هم په مکتب کې اول نمره وم نو راته یې وویل چې ته به هرو مرو خارج ته ځې، نو د اوس نه ورته ځان تیار کړه.
په دې وخت کې ده د پښتو او د پښتنو د حقونو خبرې هم کولی، خو زموږ پرې چندان سر نه خلاصېده نو یوه ورځ ورته ما وویل چې ماما په کونړ کې دا ستا خبرې څه په درد خوري ځکه دلته خو نور قومونه نشته او ټول په پښتو خبرې کوي. ده راته وویل چې دا سمه ده چېرته چې نور قومونه نشته نو زموږ د نورو قومونو سره څه حساسیت هم نشته خو په خارج کې د نورو قومونو کسان ځانونه افغانان معرفي کوي او پښتنو ته کوچیان او د بدوي کسانو خطاب کوي چې دوی د افغانستان او پښتونخوا په سیمه کې تگ او راتگ کوي او د افغانستان دایمي استوگن نه دي. خو د دې خلاف بیا په کابل د افغان نوم یوازې د پښتنو گڼي او پښتنو ته د افغان غول خطاب کوي او ځانونو ته افغانان نه وایي. داسې دوه گونی چلند سړی مجبوروي چې د پښتنو د هویت او حقوقو لپاره مبارزه وکړي.
په دغه وخت کې ډاکتر کبیر ستوري او یو شمېر نورو ملگرو لکه قدوس تندر، د المان په دویچې ویلي راډیو کې د پښتو ژبې پروگرام نوی پیل کړی و او موږ ته یې ویل چې تاسې باید هره اونۍ د ټولو دوستانو او خپلوانو له خوا دوه سوه لیکونه راولېږئ، چې ووایي دوی د پښتو پروگرام اوري او خوښ یې دی. دا لیکونه به موږ لیکل او د پوستې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې به مو دويچې ويلې راډيو ته لېږل. د هماغه وخت د کوښښونو او د ډاکتر کبير او د ده د ملګرو د هلو ځلو له امله د دويچې ويلې په راډيو کې د پښتو پروګرام اوس هم شته دی.

ځنګه چې مخکې مې يادونه وکړه، هغه وخت کې ټيلفونونه نه وو او د ليکونو د وړو راوړو چاره ستونزمنه وه، نو کله به چې مياشتې، مياشتې وروسته د کبير ماما کوم ليک راورسېد، نو زما خدای بخښلې نيا به هغه ليک د بالښت لاندې ايښی و او چې مور به يې ليدو ته ورغلو، زر به يې راواخيست او ويل به يې ماته د کبير خط ووايه، چې تسل مې پرې وشي. دا ليک به يې په بېلابېلو خلکو دومره ډېر ولوسته چې اخر به د ليک کاغذ وشرېده او په همدې به يې د کبير د ليدو تنده ماتوله.

کله چې ډاکتر کبير د دويچې ويلې په راډيو کې کار پيل کړ او د پښتو خبرونه به يې ويل نو دا زما د نيا لپاره يوه لويه سرګرمي وه. راډيو به يې د کټ سرته پرته وه او هره ورځ به يې د دويچې ويلې خبرونه اورېدل. که څه هم زما نيا ډېره پوهه او مدبره ښځه وه، خو د هغه وخت د افغانو ښځو فکري پراختيا ته پام سره، فکر نه کوم چې د خبرونو نه يې چندان خوند اخيست خو هدف يې يوازې دا و چې د خپل زوی غږ واوري.

په وروستيو وختونوکې چې ټيپ ريکارډر (ټيپونه) راووتل، نو بيا به ډاکتر کبير خپلې خبرې ثبتولې او د ليک په ځای به يې د ټيپ کيسټونه خپلې مور او کورنۍ ته رالېږل. نيا به مې بيا هم ټيپ ريکارډر د کټ سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پروت او د شپې د ویدو کېدو نه د مخه به یې ویلي چې د کبیری کیسټ وروا چوئ چې زه ویده شم.

ډاکټر ستوری بیا المان ته لاړو او څلور کاله وروسته چې زه د دولسم صنف نه فارغ شوی وم، بیا افغانستان ته راغی. دی به معمولا څلور کاله پس د اوړي په موسم کې افغانستان ته راته. په دې وخت کې زه یوڅه په سیاسي مسایلو پوه شوی وم او د سیاسي بحثونو لړ مې پیلی شو، که دا مبالغه ونه کړم نو په خوریونو کې زه ورته ډېر ګران وم او فکر کوم چې دا به د ده سره زما د فکري تړاو او په سیاسي مسایلو د بحث له امله وو. موږ کله هم په مادي مسایلو بحث نه کاوه اما نورو خپلوانو به په مادي مسایلو ډېر بحث کاوه چې څومره دې معاش دی او څه کوې او داسې نور. د ده به دا خبرې چندان نه خوښېدې. په کابل کې یوه ورځ په شهرنو کې پښتو ټولنې ته د تګ په تکل روان و، ده له یو چا نه په پښتو د پښتو ټولنې د پتې پوښتنه وکړه، خو هغه کس ورته په دری ځواب ورکړ. ده ورته وویل چې زه په دري نه پوهېږم که دا راته په پښتو ووایې نو ښه به وي. هغه نفر په تکلیف پښتو وویله او چې حرکت مو وکړ نو راته یې وویل چې خوریه ښه په تکلیف خو مې په دې بیچاره پښتو وویله. زما په اند دا د هر چا حق دی چې خپلې ژبې ته په خپله کار وکړي او نور څوک په دې متهم نه کړي چې ولې خپلې ژبې ته کار کوي. متاسفانه زموږ اکثره پښتانه نور د خپلو نیمګړتیاو لپاره ملامتوي او په خپله هیڅ نه کوي نو دا سم کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر کبير بېرته المان ته لاړو او د وطن حالات سره بدل شول. په ۱۳۵۷ هجرى شمسى کال کې په کابل کې د ثور کودتا وشوه، دننه او بهر د خلکو ترمنځ د اړيکو ساتلو چينلونه له منځه لاړل، تماسونه پرې شول، د مرګ او ژوند خبره شوه او په دې لړ کې موږ مهاجر شولو، زيات وخت مو په غرونو کې تېر کړ او بيا پاکستان ته مهاجر شولو. ( د هجرت او مهاجرت قصې زما په کتاب د واقعيتونو په بهير کې لوستلې شئ). يو وخت مو سره تماس ونيوه ځکه دى هم د خپلې کورنۍ سره بى رابطې شوى و. زما بل ماما محمد نعيم هم مهاجر شوى و او د کبير ماما کورنۍ او مشر ورور عبدالجليل ملنګ لا هم په افغانستان کې وو. دى مو وهڅاوه چې پېښور ته راشي او هم به د ده کورنۍ پېښور ته راشي او د يوبل سره به وګورو. هماغه وو، چې په ۱۹۸۲م کال کې پېښور ته راغى. په پېښور کې د پښتنو د ځينې مشرانو سره د ليدو نه وروسته لا يوه اونۍ نه وه تېره چې د پاکستان د حکومت له خوا ونيول شو. په هغه وخت کې جنرال ضياالحق د پاکستان نظامي واکمن و، د جهادي ډلو طرفدارى يې کوله. هغه په پاکستان کې او هم د افغانانو په منځ کې د ملي ډلو او کسانو د رشد سخت مخالف و. په دغه وخت کې ما په پېښور کې د يو امريکايي پروفيسر سره د انتروپولوجي ريسرچ کاوه.

ډاکټر کبير تقريباً اتلس مياشتې د پېښور په سنټرل جيل کې بندى و او حتى د خپلې کورنۍ سره يې هم ليده کاته نه کېدل. د ده سره به موږ هغه وخت ليده چې دى به يې هره اونۍ اتکړي په لاس د کچرو مجسټريټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قاضي) ته راوست، او مور به د لرې نه لیده او که کله به چې د سپاهیانو مزاج ښه وه او د چایو په نامه به مو یو څو روپۍ ورکړې نو د دې لاره به یې برابروله چې یو څو خبرې ورسره وکړو. د ده ګناه دا وه چې ولې یې د پښتنو د مشرانو سره لیدنه کتنه کوله. د پېښور په سنټرل جېل او بالخاصه په لومړیو شپو او ورځو کې چې مور ته د ده د بندي کېدو د ځای درک نه و معلوم، د پېښور په بالاحصار کې شکنجه شوی و او په تورو خونو کې کوټه قلفي و. په پېښور کې د جرمني قونسل به هره اونۍ سنټرل جیل ته د ډاکټر کبیر لیدو ته ورتلو، ځکه دی د المان غږ راډیو کارکوونکی و او مور ته به یې اطمینان راکوه چې نن دی که سبا، دی به خلاصېږي. په دې نن سبا کې اتلس میاشتې ووتلې.

کله چې د پاکستان حکومت د جرمني په منځګړیتوب تصمیم ونیوه چې ډاکټر کبیر راخلاص کړي؛ نو مور ته یې احوال راولېږه چې د ده پاسپورټ راوړئ چې دی مور له پاکستان نه وکاږو او جرمني ته یې لېږو. ما د ده پاسپورټ چې موده یې تېره شوې وه، واخیست او اسلام آباد ته مې د جرمني سفارت ته یوړ چې موده یې تمدید کړي. د جرمني سفارت ډېر ښه وضعیت وکړ او ډېر ژر یې پاسپورټ تمدید کړ. دا ۱۹۸۴ م کال و، دی یې له زندانه خوشې کړ، خو کور ته د تلو اجازه یې ورنه کړه او کورنۍ یې ورسره د لږې شېبې لپاره د پېښور په یوه هوټل کې ولیدل، زما بل ماما محمد نعیم او زه ورسره اسلام آباد ته لاړو او په هوایي میدان کې مو ورسره خدای په اماني وکړه. د حالاتو د خرابېدو له امله بیا زموږ رابطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره منظمه نه وه او يوازې کله کله به مو د ده کوم ليک تر لاسه کړ. ما ته يې وويل چې جرمني ته راشه او که جرمني دې خوښ نه و نو بېرته تللی شې او ژبه به خو ياده کړې خو موږ هم د جهاد او د افغانستان د آزادۍ په ولولو کې غرق وو؛ نو جرمني ته مې د تګ زړه ښه نه کړ او پلار مې هم راته اجازه نه راکوله.

په ۱۹۸۷م کال کې چې ما د امريکا غږ راډيو لپاره د محلي خبريال په توګه کار کاوه او هم د بلجيم د کمېټې مرستيال وم، په يوه رسمي سفر امريکا ته لاړم او د امريکې نه د راتګ په وخت کې بلجيم ته د دوه اونيو لپاره لاړم. ما د کبير ماما سره اړيکه ونيوله چې که بلجيم ته راشي نو ښه به وي ځکه په هغه وخت د اروپا ټولنه نه وه جوړه شوې او د ويزې مشکل و. کبير ماما د بلجيم د ليژ ښار ته زما د ليدو لپاره راغی او نيت مو و چې هالينډ ته لاړ شو. خو دا چې د ده سره نقشه نه وه نو څو ساعته مو د ليژ په ښار کې سرګردانه تېر کړل چې بالاخره د شپې يوه بجه شوه نو راته وې ويل چې، ما به بېرته زما د کوربه کره کښته کړې، دی به بله اونۍ راشي، بيا به هالينډ ته لاړ شو. هغه وخت لوګزامبورک، هالينډ او بلجيم د بنيلاکس په نامه يوه ګډه ويزه درلوده. کبير ماما يوه اونۍ وروسته بيا بلجيم ته راغی او د هغه ځای نه د هالينډ روټردام ته لاړو. په لاره مو ښې قصې وکړې او شپه مو سره يوځای تېره کړه. په سبا دی بېرته جرمني ته لاړو او زه د پېښور په طرف وخوځېدم. يوه خبره چې ما ورته وکړه هغه دا وه چې پېښور د ځوانانو لپاره او د ده د اولادونو د زده کړې لپاره برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپېريال نه لري اوکه خپله کورنۍ جرمني ته راولې نو ښه به وي. ده راته وويل چې زه به پيسې درلېږم او څوک چې سبق وايي مرسته ورسره کوه خو که دوی دلته راولم نو دوی بيا د وطن او خپلو خلکو په درد نه خوري.

په هرحال دی له خپلې کورنۍ نه لېرې پاتې شو ځکه پېښور ته راتللی نه شو او افغانستان کې جنګ روان و. په ۱۹۹۰ م کال زه امريکا ته لاړم او په ۱۹۹۲م کال کې جرمني ته د ده د ليدو لپاره لاړم. يوه اونۍ مو سره يوځای تېره کړه، دويچې ويلې راډيو مو وليده او د کولن پوهنتون مو چې ده په کې هلته خپله دوکتورا اخيستې وه، وليده. د ده ژوند ساده و او د ده کوټه د ډېروافغانانو، پښتنو او خپلوانو لپاره دېره وه. ډېر بحثونه مو د وطن د حالاتو په اړه وکړل او ترې د تګ په وخت کې مې ورته بيا تکرار کړه چې د افغانستان حالات معلوم نه دي نو ښه به دا وي چې خپله کورنۍ جرمني ته راولې. ده راته ښه وکړه او له هغې نه وروسته يې لومړی خپله مېرمن او دوه زامن نسيم ستوری او ايمل ستوری جرمني ته بوتلل.

په ۱۹۹۶م کال کې چې کله د سوات افضل خان لالا، د بېنظير بهټو په کابينه کې د شمالي علاقه جاتو وزير و، ډاکټر کبير ستوری يې رسمي مېلمه کړ او پس له دولس کلونو يوځل بيا پاکستان ته راغی. په دغه وخت کې زه هم له امريکا نه پاکستان ته د خپلې کورنۍ د ليدو لپاره راغلی وم. د اسلام آباد هوايي ډګر کې ورته خان لالا په خپله هرکلي وواېه او بيا د خان لالا کور ته لاړو. شپه مو هلته وکړه او د هغه ځای نه د خان لالا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوات لاړو. د سوات نه وروسته چارسدې ته راغلو او د ولي خان سره مو وليدل. همدا شان مو په اکوړه خټک کې د اجمل خټک سره وليدل. يوه مياشت يې په پاکستان کې تېره کړه او بيا بېرته جرمني ته لاړ. په دې وخت کې طالبانو کابل نيولی و او سياسي بحثونه ډېر گرم وو. ولي خان وويل چې پاکستان خو د طالبانو حمايت کوي خو په حقيقت طالبان د پاکستان لپاره ډېر خطرناک دي ځکه د طالبانو ځاله خو په پاکستان کې ده او دلته شل زره مدرسې دي.

اخر ځل زما په خيال چې په ۲۰۰۵م کال په مني کې ما کبير ماما وليده چې زه جرمني د مونشن ښار سره نږدې د اوبر امرگاو په سيمه کې د ناټو تعليمي مرکز کې د لکچر لپاره تللی وم او يو دوه شپې مې د ده سره هم په ويسلنگ ښارگوټې کې وکړې. په همدې پېره راته د ده کورنۍ وويل چې کبير ماما ستا خبره مني او که تشويق يې کړې چې د زړه عمليات وکړي نو ښه به وي. ما چې ورته دا خبره ياده کړه نو ده راته عملي دلايل وويل چې د زړه عمليات زما لپاره فايده نه لري او د زړه عمليات يې ونه کړ. په همدې وخت کې يوه شپه نا وخته چې تقريباً يوولس بجې به وي نو راته يې وويل چې خوريه ځه بهر به ووځو او قدم به ووهو او ازاده هوا به تنفس کړو. د ويسلينگ په ښار کې مو قدم واهه چې يو ترافيکي څراغ ته ورسېدو او انتظار مو کاوه چې څراغ شين شي او موږ د سرک نه پورې وځو، په دغه وخت کې ده راته وويل چې خوريه! زما تقريباً څلويښت کاله وشول چې زه په جرمني کې اوسېږم، دلته مې لسانس، ماسټری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکتورا واخیستله او د دې خلکو په ژوند، کلتور او ژبه هم ښه پوهېږم خو ما ته داسې ښکاري لکه چې ما دلته څلوېښت ورځې تېرې کړې وي او هیڅ مې زړه دلته نه دی نښتی. بله خبره یې راته دا وکړه چې ده یو وخت فکر کاوه چې افغانستان ته به ځي، ښه کتابونه به لیکي او په اکاډمیک ډګر کې به ډېر کار کوي خو زیاته یې کړه چې زموږ د پښتنو ژوند داسې کارونو ته چمتو نه دی ځکه اکاډیمیک کارونه ځانته فکر او ژوند غواړي او موږ هیڅ وخت ځانته کېږو نه، نو اوس هره ورځ په دویچې ویلې راډیو کې د خپل رسمي کار نه دوه درې ساعته زیات پاتې کېږم او یوڅه لیکم. که واړه کتابونه هم وي باید چاپ یې کړم او اوس وخت کې لوی لوی کتابونه هسې هم څوک نه لولي. ده وویل چې د شعرونو ویلو نه زما مطلب دا دی چې دا د پښتو شعرونه هنرمندان ریکارډ کړي او د پښتنو په کورونو کې یې خلک واوري. بله مهمه خبره یې راته دا وکړه چې ده زما یادښتونه لیدلي وو نو راته یې وویل چې خوریه دې پسې مه ګرځه چې ښه تحقیق او ریسرچ وکړې او بیا کتاب چاپ کړې نو ښه به دا وي چې خپل یادښتونه منظم کړې او چاپ یې کړې. په دی وخت کې ما د کورنیوچارو د وزارت د معینیت نه استعفا ورکړې وه او زیات شخصی یادښتونه راسره وو نو ما هم ورته لستوڼي راونغښتل چې، خپل یادښتونه چاپ کړم او دا دی اوس زما اته کتابونه چاپ شوي او درې نور چاپ ته تیار دي خو یوازې یو کتاب چې د بېړنۍ لویې جرګې په اړه و، هغه کبیر ماما ولید او نور یې ونه لیدل. کاش چې دی ژوندی وای او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نورې ليکنې يې هم ليدلې واى ځکه دى د علمي کارونو په ارزښت پوهېده او همېشه به يې زه تشويقولم؛ خو ژوند همېشه نيمګړى دى او د انسان امېدونه نه پوره کېږي، الله تعالی دې هغه وبخښي او جنت فردوس دې يې نصيب شي. انا لله وانا لله راجعون.

پورتنۍ مقاله روهي ويبپاڼې، تاند ويبپاڼې او پژواک خبري اژانس هم خپره کړه

http://www.taand.com/archives/٦٧١٦٨

http://www.rohi.af/fullstory.php?id=٤٤٧٤٨

http://goo.gl/Dal١MB

**د ننګرهار پوهنتون د رئيس ببرک مياخېل سره ليدنه:**

۱۰ اپريل ۲۰۱۶م کال، ننګرهارپوهنتون، جلال آباد

نن مو د ننګرهار پوهنتون رئيس پوهندوى ببرک مياخېل سره، د دغه پوهنتون د محصلينو د چارو مرستيال استاد نعيم سروري او اداري مرستيال صاحب سره ډېر ښه او تفصلي مجلس درلوده چې څنګه سره د Peace Educationپه اړوند همکاري وکړو ترڅو دا مضمون د پوهنتون د نصاب جز وګرځي او په عملي توګه محصلين پکې برخه واخلي. د ننګرهار پوهنتون مشرتابه په دې اړه پوره لېوالتيا وښودله او ژمنه يې وکړه چې دا پروګرام به په لومړي سر کې په پنځو پوهنځيو کې تطبيقوي. زه شخصاً د ننګرهار پوهنتون د نوي مشرتابه نه مننه کوم چې د ننګرهار پوهنتون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپېریال کې یې فزیکي بیارغاونه، تدریسي او تشکیلاتي چارو کې پوره مثبت تغییر د پخوا په پرتله راوستلی دی.



\

دوی ته دې الله تعالی نور هم توفیق ورکړي چې خپل ولس او خلکو ته خدمت وکړي او د پوهنتون چارې سمې کړي. د یو هېواد د پرمختګ لپاره اساسي بنسټ سم تعلیمي نظام دی. پوهنتونو کې د معیاري او د موجوده حالاتو سره مناسب زده کړې خورا مهمې دي. د ما سره زما د دفتر همکاران حمیدالله ناطق صاحب او رفیع الله ستانکزی صاحب هم ملګري وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پارلمان کې د کونړ د وکيل حاجي سخي مشوانۍ عمل غندل:**

۱۳ اپریل کال ۲۰۱۶م، کابل

نن د کونړ وکيل حاجي سخي مشوانۍ د انکشاف دهات وزير، انجينر نصير دراني له خوا په دې متهم کړ چې گوندې ده د يوې پروژی نه شل سلنه کمېشن غوښتلي دي. کله چې د انکشاف دهات وزير د استجواب له پارلمان ته راځي نو حاجي ظاهر د ننگرهار ولايت استازی چې لومړی مرستيال دی، رياست د ولسي جرگې کوي او عرفان الله عرفان دويم منشي د حاجي سخي خبرې قطع کوي  نو دی راپاڅېږي او عرفان الله عرفان د گرېوان نه نيسي. هغه ورته وايي چې ته پوه شه او وزير دې  نو منډه اخلي او د وزير ميز ته ورځي او په هغه باندې گوزار کوي. زه لومړنی کونړی وم چې د حاجي سخي  دا عمل مې په کلکه وغانده او په فيسبوک کې مې وليکل:

نن زه د يو کونړي په توگه د يو کونړي  وکيل عمل په پارلمان کې چې په يو وزير گوزار کوي، په کله غندم. پارلمان د دليل او منطق ځای دی نه د جنگ ميدان.

زما دا ليکنه د ډېرو کونړو له خوا تاييد شوه نو بيا ما بله ليکنه په همدې ورځ وکړه:

**لنډغر په حکومت او پارلمان کې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تاسې د حکومت او پارلمان هغو غړو ته چې لنډغري کوي لږ متوجه شئ، ګورئ چې دوی هغه کسان دي چې په مختلفو مافيايي کړيو کې لاس لري، په غلا، رشوت او چپاولونو يې صرفه نه ده کړې، دوی کوشش کړې چې د خپلو سيمو مخور او تعليميافته طبقه وځپي او بيا د خپل قوم او ډلې د حقوقو په شعارونو نور هم ځانونه چاق کړي. دوی نه د ځان په ابرو دي او نه د وطن. زما افسوس هغه تعليميافته کسانو ته دې چې دوی لا اوس هم د لنډغرو حمايت اوصفت کوي. زما په اند اوس د لنډغرو سيزن دی او ښه خريدار لري. د حکومت مشرتابه هم د لنډغرو په ملا تړلو فخر کوي. (د دې نه يوه ورځ د مخه جنرال دوستم په ارګ د جمهور رئيس اشرف غني ملا په دستمال وتړله او ويې ويل چې موږ ازبکان ستا حمايت کوو. دا ښه کار دی چې ازبکان د جمهور رئيس حمايت وکړي خو دوستم د لومړي مرستيال په توګه بايد د حکومت ملاتړ وکړي خو داعمل د ټلويزيون په څپو خپور شو چې ډېر نمايشي او بې خونده و او هسې تصنعي بڼه يې درلوده)

**يوه قصه مې راپه ياد شوله:**

کله چې ما د کورنيو چارو په وزارت کې کار کاوه، د شينډنډ يو لنډغر(قوماندان امان الله د زيرکوه) چې اوس خدای بخښلی دی، يوه ورځ مو وزارت ته راوغوښته او (د هرات د والي اسمعيل خان سره مو په ميز کښېناوه) او ما فکر کاوه چې دی به په ټولو حالاتو پوهېږي، د ښه او بد فرق به کولی شي او موږ به ورسره مرسته وکړو چې د هرات په محلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت کې برخه ولري او د منطق او دليل له لارې به د خپلو خلکو حقوق ترلاسه کړي. خو ده همدا يوه خبره کوله چې زه د پښتنو حقوق غواړم او رياستونه نه غواړم. نو ما ورته وويل چې په شعارونو او يوازې جنګ حقوق نه غوښتل کېږي ترڅو ته کومه معقوله طرحه ونه لرې. بل تا ته چا دا حق درکړې چې تاسې د يو لوی قوم استازيتوب په خپله سيمه کې وکړئ.

**بريالي عمرزي صاحب راته وليکل:**

جناب مياخېل صاحب زما سلامونه او نېکې هيلې ومنه.ستاسو د دې ليکنې څخه داسې جوتېږی چې په خپلو پرونيو څرګندونو پښېمان ياست ولې په دري ژبه کې يو متل چې وايی ماهی را که هر وقت از آب بګيری تازه است.

**ما ورته وليکل چې:**

پيښمانه نه يم خو د هغوی دی هم پوښتنه وشي څکه د فراه وکيل څه ونه کړل همداسې په مزار کې د عطا او دوستم ډلو د مظاهرو له امله خلک زخمنيان او مړه شول. زما خبره دا ده چې که جدي او مناسب برخوردونه ونه شي ستونزې نورې هم زياتېږي.

په فيسبوک کې مې بله ليکنه په سبا وکړه:

**يوه بله خبره!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرون خو ما د کونړ د وکیل دا عمل په داخل د پارلمان کې وغندلو. ایا دا خبره به ځوک سپینه کړي هغه وکیلانو چې له پارلمان بهر یې پولیس وهلي او خلک یې زخمیان کړي، چا ترې پوښتنه کړې او که نه؟

یو مشر سپین ږیری مریض و او د مرگ انتظار یې کاوه، نو زوی ورته ویلي و چې پلاره! زموږ د چرگو هگۍ چا پټې کړي دي. پلار یې ورته ویلي و چې د هگیو د ورکېدو پوښتنه وکړئ. زوی ویلي وچې اوس به د هگیو په سر د چا سره څه جنگ او جنجال کوو پرېږده غوږ به پري نه ښورو. څو ورځې وروسته یې زوی ورته ویلي وو چې ولا زموږ چرگې هم چا پټې کړي دي. پلار یې ورته ویلي و چې د هگیو پوښتنه وکړئ. زوی ورته ویلي وو چې موږ د چرگو خبره کوو او ته وایې د هگیو پوښتنه وکړئ. زوی یې بیا د چرگو پوښتنه نه وه کړه نو څو ورځې وروسته یې غوا چا پټه کړه نو بیا یې پلار خبر شو او زوی ته یې وویل چې د هگیو پوښتنه وکړئ. زوی یې فکر وکړ چې د پلار یې اعصاب خراب شوي دي ځکه چې موږ ورته وایو چې غوا ورکه شوې او دی وایي چې د هگیو پوښتنه وکړئ. پلار یې ورته وویل زویه! زما اعصاب خراب شوي نه دي خو که د هگیو پوښتنه مو کړې وای نو ستاسې چرگان او غوا به چا نه پټولای. غل هم فکر کړی چې ته شوده او بوده سړی یې او د څه شي پوښتنه نه شي کولی نو غوا یې هم درنه یوړه. که حکومت په اوله کې د هغو وکیلانو، زورمندانو او قانون ماتونکو سره لږ په جرأت برخورد کړی وای نو هیڅا به په پارلمان کې دننه او نه د پارلمان نه بهر د خلکو توهین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قتل، غارت، لوټ او داسې نور جرايم کړي واى. دا سلسله په پخواني حکومت کې او هم په اوسني حکومت کې دوام لري، بېلګي يې ډېري زياتي دي.

**سلطان محمد الياس سلطانزى راته وليکل:**

مياخېل صاحب خفه کېږه مه دا وزيران هم د سړي زامن نه دي تاته بهتر معلومات شته دى دا چې په تېرو وختو کې تا هم په اوچتو چوکيو کار کرى دى ته او خداى تا په خپل وخت کې د معين او د مشاور په صفت کار کړى دى.؟ تا د خپل ولايت کنړ ته او بيا خاص کنړ ځوانانو ته د وظيفى د پيدا کولو کوم اقدام کړى؟ نه هيڅ د مشوانې طر فداري نه کوم هغه څه چې کړ ي ښه يې کړى زموږ استازى دى زموږ په رايو دې مقام ته رسيدلى دى دا کار ما او تا کړى چې موږ رايه نه وى ورکړې ولې به نن داسې بده پېښه رامنځته کيده. نن چېهر ځوان ګورې له ما نه نيولې تر نورو ځوانانوپورې هر وزارت ته چې ورشو د وظيفې عريضه مو په لاس کې وي او وکيل صاحبان مو هم ده غوږه نيولي وي، وزير صاحب په چوکۍ ناست او خو ښه چلن و کړي ورته ووايې ته خلاص يې نور موږ پوه شه او ستا دا کس زه به يې مقرر کړم خو اخرې خبر ته به راشم همدا وزير به درته ووايې سبا دومره بجى راشه چېورشى بيا به سکرتر صاحب به ووايې که پنحه زره دالر ورکولى شى نو ښه او که نه يې شى ورکولى لار دې وهه همدا وکيلان د وزيرانو په مذهب پوهېږي..

**ما ورته په ځواب کې وليکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطانزی صاحب! اول خو زه په انتقاد خفه کېږم نه. که معقول و او زما نيمگړتيا په نخښه شي نو خوشاليږم او خپل ځان به اصلاح کړم. دا زما د ژوند تگ لاره ده.راغلو ستاسو خبری ته که په زرهاو نه وی نو په سل گونو کسان ما مقرر کړی او روزلي دي. دويمه خبره دا ده چې قضاوت هغه وخت سړی ښه کولی شي چې کافي معلومات ولري. ما د وه کال په وزارت کې کار کړی چې يو کال مشاور وم او بل کال معين وم. دا ۱۱ کاله پخوا و هغه وخت دومره کم امکانات و چې لس موټرو د خريد لپاره وزارت بودجه نه درلوده او د پوليسو معاش ۱۸ ډالره و. دوه کاله موږ ووهل چې وزارت ته بودجه پيدا کړو. بيا هم د تحکيم ثبات پروکرام موږ پيل کړ او يوازې په کونړ کې ما شپږ ولسوالي جوړکړي، دوه کاله مبارزه زموږ په حکومت کې دننه او هم بهر روانه وه چې زما د کورنيو چارو وزارت کتاب که ولولئ نو بيا به ان شاالله سم قضاوت وکړئ. زه د افغانستان معين وم او د افغانستان په کچه ارزونه کولی شئ. بل دا چې ما په داسې وزارت کې چې منبع د فساد وه کومه بدنامې کونړو ته نه ده راوړی او نه څوک ويلي شي چې ما د چانه رشوت اخيستي دی او يا مې د خيانت د جوال خوله د چا سره نيولې وي. په هرحال زه چې څه کوم هغه زما مسووليت دی او هر څوک چې لږ لږ خپل وطن او خلکو ته کار وکړې بهتره ده، په يو بل به احسان نه کوو.

**سلطانزي صاحب بيا وليکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاخېل صاحب زه په تا انتقاد نه کوم فکر کوم چېتاسو په خپل وخت کې چې د یو افغان په حیث ډېر کارونه کړي دي امکان لري  زه به پوره معلومات پیدا کړم او ستاسې په حضور کې به یې کیږدم. خبره اصلی زموږ د وکیل صاحب وه هغه ما مخکې ذکر کړې وه هغه چې کوم کار کړی د خپل شخصی غرض لپاره به یې نه وي کړی. کېدای شی د ملت د ستونزو په درد درد من شوی وي او داسې غلط عکسل العمل یې وښوده دا چېزموږ ډېری وکیلان په قانون نه پوهېږي چېیو چاته د قانون له مخی قناعت ورکړي بس د زور نه کار اخلي. په همدې ځاي به یې پرېږدو کنه زموږ گناه زموږ ده چې رایه مو ورکړې ده

په هر صورت، راځم ستاسو کارنامو ته رښتیا به ووایو تاسو به په فساد کې لاس نه لری او سوک چېفساد کوي کېدای شي د هغوی مخه تاسو هم نیولي وی.نن چې زه تاسو سره په دی بحث کوم دا هم ستاسو د نیک اقدام نتېجه ده دنن نه دوه لسیزی وړاندې تاسو د خاص کونړ لیسه زموږ ځوانانو پر مخ پرانیسته او د وخت نه د گټې اخیستو نه موږ بیا خپلو ټولگیو ته روان شو. نن چېموږ څه زده کړي ستاسې برکت دی که نه موږ به اوس د جهل او ناپوهۍ په لمپو کې شپې او ورځې تېرولې.رالنده به یې کړم تاسو ته زه ډېر احترام لرم زموږ شمله یې دا چېتاسو په خپلې ولسوالۍ کې یو فرهنگي اداره پرانسته ډېر خوښ شوم که د الله ج رضا وه بیا به له نږدی نه وگورو او په ټولو ادارو باندی به بحث وکړو. که ستاسې  د لاسه پوره وه ډېرو ادارو کې به تغییر راولو ستاسې په همکارۍ یوه خبره رایاده شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي  ډېر دوستان پرې خفه هم شي که دا لیکنه وګوري او یا یې ځوک یې تر غوږو ورسوی. ډېر بد به راباندی ووایي.چې دی لیوني  ته ګوره په خاص کونړ ولسوالۍ کې ډېر داسې مکاتب شته دی چېټاسې به هم پرې خبر یاست چې دوه۲/ وخته تدریس کوي  یو ځاي معاش د دولت له بودیجې اخلي او بل معاش د سویدن کمیټې  نه اخلي  ډېر  ځوانان ګورو چې درې، څلور او پنځه کاله کېږي چې  د پوهنتون نه فارغ شوي او تر دی ساعت پورې بې روزګاره دي که په دې برخه که کوم اقدام تر سره کرئ الله ج به ډېر زیات اجرونه درکړي نور دې  په لوی رب العزت سپارم بریالي اوسی په خپلو چارو کې...

**ما یې په ځواب کې ولیکل:**

مننه! بحث به کوو ځکه هدف مو اصلاح ده او زه بیخي نه خفه کېږم. که ولس زموږ آباد او تعلیمیافته وي نو زه پرې خوشاله کېږم. ما په کراتو ویلي چې څه مې تر وسې  پوره وي  کوم به یې او دا زما مسوولیت دی او څه طمعه نه لرم کنه ۲۲ کاله دمخه خو ما مزدوري کوله او منصب مې نه درلوده اما دخپلې مزدورۍ  نه مې دخاص کونړ مکاتب چلول نه مې ان جې او درلوده او نه بل تجارت خو که هر څوک لږ لږ څه وکړي اخر تری دریاب جوړېږي. د لیدو په هیله

**۱۶ اپریل ۲۰۱۶م کال مې په فیسبوک کې ولیکل:**

نن مازدیګر مو په هغه جرګه کې برخه واخیستله چې د انکشاف دهات وزیرنصیر دراني صاحب په کورکې چې ګڼ شمېر قومي مشرانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي چارواکو او مخورو له خوا جوړه شوې وه. د جرګه هدف د چارشنبه په ورځ د وکيل سخي مشوانۍ له خوا په پارلمان کې د نوموړي د احساساتي او عجولانه برخورد په اړه وه او وکيل سخي مشوانۍ خپله ملامتيا ومنله. دا پېښه کوم پلان شوې پېښه نه وه چې سياسي، قومي، سمتي او يا د پارلمان او حکومت ترمنځ کومه ستونزه وه. دراني صاحب په خپلو خبرو کې وويل چې د کونړ شريفو خلکو د بل هرچا نه دا عمل زيات غندلی او دې د ټولو کونړو د احساساتو نه منندوی دی. موږ هم د وکيل مشوانۍ دا عمل چې په خپله ګناه يې اعتراف وکړ وستايه.

که پورته بحث ته متوجه شو نو د سم افهام او تفهيم په پايله کې روغه جوړه وشوه او دا موضوع نوره جنجالي نه شوله. خو بيا هم بعضې کسانو ليکل چې ده ته بايد سزا ورکړل شي حال دا چې ولسي جرګه په خپله پريکړه کې وکيل مشوانۍ د لسو ورځو لپاره د پارلمان نه اخراج کړ.

**نو ما بيا وليکل:**

هرعمل جداجدا محاسبه کېږي. که يو چا پرون بد کار کړی وي او نن ښه کاروکړي نو پرونی عمل ته يې بد او نني عمل ته يې ښه بايد ووايو. که داسې ووايو چې پرون دې بد کړي نو ته نور ښه کار مه کوه او ستا د نن ورځې ښه کار هم د غندلو دی ځکه پرون تا بد کړي دي نو دا سمه نه ده او په دې توګه بيا موږ نه شو کولای چې په کور او ټولنه کې اصلاحات راولو. د ټولنې سره برخورد زموږ بايد داسې وي لکه پلار چې د اولاد سره برخورد کوي. که زوی بد کار وکړي نو پلار ورته نصحيت کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زويه نن دې  بد کار وکړ سبادا بد بيا ونه کړې. جزاګانې هم دخفيف او تأديبې ډول نه پيل کېږي او شديد يا اشدمجازات ته رسېږي.

**عجيبه قضاوتونه په فيسبوک کې ګورم؟**

۱۸ اپريل، ۲۰۱۶م کال کابل

چا چې د چا سره په ګيلنه اوبه څښلي دي
د هماغو ملاتړکوي کورکورانه
سياست او ملګرتوب
او کاکګې سره ګډوډه ده
عقيده هم د ملګرتوب
په تله تلل کېږي
اقتصاد او تجارت هم
په اصولو نه بلکې په ملګرتوب روان دی
او همداسې نور.......
يو خوا هندو سترې خدای نا راضه
او بل خوا هم عجيبه خلک
هندو زوړ شو مسلمان نه شو
همدی ته وايي د عقيدې
او سياست کمزوري
همدی ته وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمونيکيشن خلا
او همدې ته وايي
چې اهداف رانه ورک دي
او ملي خطر نه پيژنو
د سوکړوکو او سبو جنګ و
په منځ کې دل شول
د مرچکو غوندې لعلونه
وطن وسو او ملت غرق شو
موږ لا اوس هم په الف زر آ
او ب زر به کې يو
ګاونډيان په کومه خوا روان دی
دنيا په کومه خوا روانه ده
او موږ په کومه خوا
په فضل د مولا هرڅه به جوړ شي

**د کتاب د ورځې په یاد:**

۲۳ اپریل ۲۰۱۶م، کابل

پرون مو د خاص کونړ په ولسوالي کې د شاه محمود مېاخيل فرهنګي او ټولنيز مرکز کې زما د نوي کتاب د مخکتنې په موقع د څلور مختلفو عنوانو(ځوانانو لپاره دحقوقي پوهاوي کتاب، ټولنيز ژوند په اسلام کې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن معماران او درېیمه زاویه) د کتابونو ۸۰۰ ټوکه د غونډې په ګډونوالو او ځوانانو وویشل. د کتاب د ورځې په مناسبت مو همدومره د وسي پوره وه.

**مننه او کوروداني:**

۲۲ اپریل ۲۰۱۶م کال، خاص کونړ




پرون د کونړ ولایت د خاص کونړپه ولسوالۍ کې زما د نوي کتاب (درېیمه زاویه: فیسوکي لیکنې او خاطرې ) د مخکتنې غونډه وه. په دغه غونډه کې د قومونو او قبایلو د چارو محترم وزیر محمد ګلاب منګل، د همدغه وزارت سیاسي معین لیکوال، ادیب او شاعر ځېرونوندی عبدالغفور

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوال، د ننګرهار د پوهنتون رئيس پوهندوی ببرک مياخېل، په پارلمان کې د کندوز استازی انجنير کمال ساپی، استاد نعمت الله کرياب، استاد هجرت الله اختيار، استاد عبدالبصير سباوون، قاري ضياالرحمن ضيا، سناتور رفيع الله حيدری، محمد انور سلطاني، شفيق الله شاداب، شاعر شرافت مياخېل، استاد نقيب الله خپلواک، احمدالله ارچيوال، د علومو د اکاډمۍ غړيو عبدالقيوم زاهد مشواني او عبدالظاهر شکيب، روح الله انوری، فضل واحد افکاري، ملنګزي، خان ولي سالارزی، ډاکټر محمديونس بارګامي، ميرويس وردک، عبدالوکيل آتک، شاعر رمضان صايم، د لغمان د ولايتي شورا رئيس طاوس خان او ګڼ شمېر نورو ځوانانو، قومي مشرانو، ليکوالانو، اديبانو، شاعرانو او د علم او فرهنګ مينه والو برخه درلوده.

که د علم او فرهنګ او هم د خپلو خلکو او وطن سره مينه نه وي نو دومره اوږد سفر څوک د يوې غونډې لپاره د کابل، لغمان، ننګرهار، او د کونړ د نورو ولسواليونه په اوسنې شرايطو کې نه کوي. زه د هر يو د راتګ نه په ځانګړې توګه د زړه له کومې مننه کوم او موږ ته يې وياړ راوبښه.

دا کتاب د شاه محمود مېاخيل د فرهنګي او ټولنيز مرکز له خوا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ثور اومه او اتمه:**

۲۷ اپریل ۲۰۱۶م کال، کابل

دوه بنې وې او مېږه یې ترې سخت په تکلیف و. د یوې نوم عایشه و او د بلې گله. نو ده به ویلې چې:

نه عاشه ښه ده اونه گله     بلا دی وخوري یو تربله

نه اوم د ثور ښه دی او نه اتم     بلادی وخوري یو تربله

اوس پرې هم نه پوهېږو ځکه د دواړو تحولونو اهداف انترناسونالیستي و او حال دا چې د یو هېواد حریم او ځمکه د یو چا ملکیت دی او د یو چا په ملکیت تجاوز د غندلو دی. راځي چې دا خپل ملکیت وساتو او چې خپل ملکیت مو د هر ډول مرضونو نه وساته نو بیا به ټول ارامه او سوکاله ژوند ولرو. د آباد او سوکاله افغانستان په هیله!

د پورته کامنت په اړه په لس گونو دوستانو زما خبره تایید کړې وه؛ خو **نظیف زیرک راته لیکلي وو:**

میاخېل صاحب، تاریخ به هیڅکله ۷ او ۸ ثور هېر نه کړي، ځکه ۷ د ثور د طاغوت او باطل ورځ وه او ۸ ثور د حق او قربانۍ ورځ وه، د مجاهدینو څخه باید اول کمونستان او خلقیان ډېر ۷ د ثور وغندي ځکه دوئ غولول شوي و او دغه ۳۸ کاله غمیزه هم د هغوئ د کودتا لامل ده، که اتمه ده او که اومه = یوه رڼا او بله تیاره ده

**مایې په ځواب کې ولیکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیرک صاحب سلامونه!

موږه او تاسې ټول د جهاد په صف کې شریک و او قربانۍ مو ورکړې دي. البته په چا احسان نه کوو. مسایل سره باید ګډ نه کړو. زما په لیکنه کې د جهاد کلمه نه ده ذکر شوې. دا ډېر اوږد او تفصیلي بحثت ته اړتیا لري چې د فیسبوک له لارې نه شي کېدلی خو بحث ځکه په کار دی چې موږ باید واقعیتونه ومنو اوپه کل کې درته یوڅو نقطي په ګوته کوم.

د ظاهرخان او داود خان په حکومتونو کې پاسپورټ اخیستل ډېر سخت کار، خارج سره د افغانانو روابط ډېر محدود و، یوه ورقه دې هم بې له حکومت د اجازې چاپ کولی نه شوه او داسې نور. زموږ محصلین که شرق ته تللي، که غرب ته او یا اسلامي هېوادونو ته نو د دوی سره د خپل وطن او خلکو د رشد او انکشاف او تحصلي سطحي د لوړیدلو فکر و. خودوی هم د هماغه ملک د سیاسي انګیزو د اغېز لاندې راغلي و که هغه سوسیالستي مفکوره وه، که امپریالستي مفکوره وه که اسلامي وه او یا نیشنالستیکي مفکوره وه. په هغه وخت کې نورو هېوادونو کې او هم په افغانستان کې د وروسته والي علت او موجب د وخت دکتاتوري نظامونه و اود هرې ایډیالوژۍ پیروانو به د وروستوالي علت پړه به په یو بل اچوله. د جوانان مسلمان او یا ځوانو مسلمانانو ډلې مشران د داود خان په وخت کې پاکستان ته لاړول او د هغه ځای نه تربیه اومجهز شول او د افغانستان حکومت پرضد یې عملیات پیل کړل یعنې دا مسئله د ۷ د ثور نه مخکې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې خلقيان راغلل دوی ډېرې سهوې او حتی جنايتونه وکړل او دا د تاريخ جز دي. که ايډيالوژي تری لرې کړو نو دوی هم د مجاهدينو ډلو په شان په څو ډلو ويشل شوي و، د اډيالوژي په نيلي سپاره و او په غير اهاگانه توگه يې خپل وطنوال ووژل، د دوی کورونه يې وران کړل او داخلي جگړو ته يې زمنيه مساعده کړه او د پردو لاسونه په پوره توگه افغانستان ته راوغځېدل.

مجاهدينو ډلي هم هماغه څه وکړل چې دوی کول. ډېر افغانان په پاکستان کې لا درکه شول، داخلي جنگونه يې په خپل منځ کې وکړل او چې قدرت ته ورسېدل نو د کابل جنگونه او جنايتونو نه سترگي پټولې نه شو. ډېر کسان د پاکو احساساتو قرباني شول.

د شوروی اتحاد د سقوط نه مخکې او هم وروسته، د بهرنيانو لپاره او په خاصه توگه لويو ستر قوتونو لپاره ايډيالوژي د اقتصادي گټو وسيله وه که نه مارکسيزم او امپرياليزم دوه جدا اقتصادي نظامونه و. د شوروی اتحاد د سقوط نه وروسته، اوس ايډيالوژي ډېر لږ اهميت لري او مسئله ټوله اقتصادي ده. دا چې دومره تحولات په دنيا کې راغلل او دومره قرآنۍ مو ورکړې، زموږ سرونه بايد لږ د دنيا په سياست خلاص شي چې څنگه موږ کولای شو، خپل اقتصادي گټې وساتو او دا ولس د فقر او غربت نه وژغورو. افغانستان اسلامي هېواد دې او اسلامي هېواد به وي خو که فقير وي نو بيا موږ داسې کارونه کوو چې هغه د اسلام د عقيدې سره هيڅ سر نه خوري او هره ورځ موږ او تاسې په لس گونو داسې مسايل گورو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی هغه کسان چې ځانونو ته د اسلام ټیکه داران وایې هم د اسلام پیروي نه کوي. وطن جوړول ملي انګېزه او حاکمیت د قانون غواړي ترڅو اجتماعي عدالت د یو باثباته نظام لپاره تامین شي. په درنښت

**د یومعصوم ماشوم اختطاف او شهادت:**

۲۹ اپریل ۲۰۱۶م کال، کابل

قاري ضیاالرحمن ضیا د خپل فیسبوک په پاڼه لیکلي وو او دا عکسونه یې خپاره کړي وو:





انالله وانالیه راجعون

چې د بل په درد دردمند شي درد هغه دی
د خپل ځان په درد حیوان هم ښه پوهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دې خبر په اوریدو مې سخت ټکان وخوړ، غیرله ژړا او دعاکولومې بله هیله نشته، ظالمه څنګه دې په دې تنکي ګلاب د مرګ زړه کېدلو، دالومړی پېښه نده خو دا دا پوسټ او انځور دومره شریک کړئ چې ان تر ولسمشره ورسېږي،ترڅوعاملین یې عاجل ګرفتار اوپه اعدام یې محکوم کړي!

دا کوچنی اباسین نومېږي، د نهه خویندو یوازېنی ورور و چې له ننه درې میاشتې وړاندې د کابل له کارته نو نه یوې ډلې انسان تښتونکو وتښتاوه او په بدل کې یې له کورنۍ څخه د سل زره ډالرو غوښتنه وشوه، خو کورنۍ یې دومره پیسې نه درلودې، وروسته یې د لاس یوه ګوته غوڅه او کورنۍ ته یې راواستولې و خو... بیا هم پیسې پیدا نه شوې او بل اخره ظالمانو نن په بې رحمۍ سره په شهادت ورساوه.

کورنی ته یې د زړه صبر غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياالله ج ته مو نور د ظالمانو د ظلم او دسيسو وساتې، امين ثم امين
ما د فيسبوک په خپله پاڼه دا پورته عکسونه او ليکنه شريکه کړه او وليکل:

وحشت هم حد لري دا انسانان ځناور شوي او هر غل او قاتل بايد اشد مجازات شي تر څو نور عبرت ترې واخلي. د ظالمانو سره صله رحمي د ظلم حمايت دی.

**کور ودانی او مننه، د حاجي صاحب فاروق ساپي نه:**

د مې مياشتې لومړۍ نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

زه د حاجي صاحب فاروق ساپي نه يو نړۍ مننه کوم چې د شاه محمود مېاخيل فرهنگي او ټولنيز مرکز سره يې ۱۰۰۰ امريکايي ډالره مرسته وکړه او دا مرسته به د کتابخانې په الماريو ولگول شي.

که څه هم زه نه غواړم چې د مرکز په نوم د دوستانو نه مرسته وغواړم ځکه څه چې زما په وسه پوره وي هغه به کوم خو بعضې خپلوان او دوستان چې د نږدې نه له ما سره په اړيکه کې دي غواړي چې په دې مرکز کې له ما سره په خپله خوښه او مينه برخه واخلي، زه د دوی د مرستو نه منندوی يم او د دوی نوم به د مرکز په مجله کې چې (وستل) نومېږي او په هرو درېو مياشتو کې به خپرېږي نشروم.

د (وستل) نوم د علومو اکاډمۍ د غړي څېړنوال عبدالقيوم مشوانې وړانديز و او نن د کابل راډيو او ټلوېزيون د عمومي رئيس زرين انځور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوره خوښ شو او دا به د شاه محمود مياخېل د فرهنګي او ټولنيز مرکز نشريه وي.

**د پکتيا له فرهنګي ټولنو نه مننه:**

۷ مى ۲۰۱۶م کال، کابل

پرون د پکتيا ولايت فرهنګي ټولنو لکه د سمون کلتورې ټولنې، د پکتيا پريس کلب، د لويې پکتيا فرهنګي مرکز، د پکتيانيو خويندو د همغږي مرکز، د مصور بنست، د مدار ويپ پاڼې، د پکتيا د پوهنتون استادانو او محصلينو، ليکوالانو، اديبانو او شاعرانو، د پکيتا پوهنتون په تالار کې، زما لپاره لمانځغونډه جوړه کړې وه. په دغه غونډه کې چې په سل ګونو خويندو او ورونړو ګډون کړې و، زه د دې غونډې د ټولو ګډونوالو او ترتيب کوونکو نه نهايت زيات منته کوم چې زما د کارونو او ليکنو ستاينه يې وکړه. ما دومره څه نه دې کړي لکه چې څومره زه دوی وستايلم، زموږ يې قدرداني وکړه او د پکتيا د دود او دستور سره سم يې شمله زما په سر کړه. د پکتيا فرهنګپال ولسونه په خپله قدرمن ولسونه دي چې د نورو قدرداني کوي.

دا غونډه چې د کيفيت او کميت په لحاظ درنده غونډه وه، د غونډې ځانګړې او مهمه برخه دا وه چې دا غونډه د قومي او سمتي ساحې نه بهر وه چې د هېواد د نورو سيمو او ولايتونو نه ګڼ شمېرو ليکوالانو او په وطن مينو اشخاص ګډون په کې کړی و او په ملي مسايلو بحث وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په دې غونډه کې د لوګر قدرمن او هڅاند والي صاحب محمد حليم فدايي، د جمهور رئيس د ټولنيزو چار ارشد سلاکار استاد لعل پاچا ازمون، د فراه پخواني والي شېرزاد صاحب، د لوګر پخواني والي اقبال عزيزي، د ودان افغانستان ګوند مشر محمد يار صاحب، د پکتيا د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس شفا مشفق صاحب، د پکتيا د ولايتي شورا پخواني رئيس ښايسته جان احدي صاحب، د پکتيا پوهنتون استادانو او ژورنالستانو ګډون درلوده. زه د پکتيا د پريس کلب نه مننه کوم چې د غزل ماښام يې د شيرالله مراد صاحب په ياد برابر کړی و او ډېره ښه مشاعره وه او ما ترې ډېر ښه خوند واخيست

(c) ketabton.com: The Digital Library





چې زموږ د ولسونو احساس لا مړ نه دی او ان شاالله د افغانستان راتلونکې ډېره روښانه وي. زه په خاصه توګه د داؤد تپان صاحب او سمیع الله پیوند صاحب نه مننه کوم چې د



(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ملګرو سره یې د نورو هلو ځلو ترڅنګ فزیکي ستړیا ډېره وګالله.

د غونډې ګډونوالو ته ما څلورسوه جلده کتابونه ډالۍ کړل خدای دې وکړي چې د دوی د لوستلو یوښه تنده پرې ماته شي. په اخره کې مې د ګډونوالو او د پوهنتون محصلینو سره عکسونه وویستل او هم مو د پکتیا ولایت محترم والي صاحب نصرت سره د هغه په دفتر کې وکتل.



*د غزل شپې ماښامنۍ غونډې انځور*

[http://www.pajhwok.com/en/۲۰۱٦/۰٥/۰۷/special-gathering-pays-tribute-miakhel-paktia](http://www.pajhwok.com/en/۲۰۱٦/۰٥/۰۷/special-gathering-pays-tribute-miakhel-paktia)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوګر والي صاحب محمد حلیم فدایي د پورته غونډې په اړه د لوګر ولایت په فیسبوک پاڼه لیکلي و:

**ترټولو لوی فاتح هغه دی چې خپل ځان فتح کړي:**

یاده خبر د لوګر والي محمد حلیم فدایي د پکتیا ولایت مدني ټولنو، ژورنالستانو، لیکوالانو او د پوهنتون استادانو له خوا د هېواد وتلي لیکوال او سیاستوال شاه محمود میاخېل په نمانځغونډه کې وکړه، یاده غونډه چې د پکتیا پوهنتون د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، د لوګراو لغمان پخواني والي محمد اقبال عزیزي، د فراه پخواني والي شهرزاد، د ولسمشر مشاور لال پاچا ازمون د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه راغلو لیکوالانو او د قلم خاوندانو او د پکتیا پوهنتون محصلینو ګډون کړی و.

د لوګر والي محمد حلیم فدایي یادې غونډې ته په خبرو کې د شاه محمود میاخېل د خدمتونو یادونه او ستاینه وکړه، والي وویل جګړه په دوه ډوله ده یو بالقوه او بله بالفعل جګړه ده، چې موږ په بالفعل جګړه کې ښکیل شوي یو او بالقوه جګړه چې نسلي، فرهنګي او معلوماتي خلا رامنځته کوي د جګړې خطرناک ترین ډول دی چې شاه محمود میاخېل د جګړي په مقابل کې د جهاني تجربو څخه د ځان وخت او ټولنې مدیریت تربل هرچا څخه په ښه ډول کړی دی.

والي وویل تر څو چې یو انسان د خپل لس سانتي متره مغز او یو نیم متر بدن فتح نه کړای شي نو ټولنه او جهان نه شي فتح کولای، او که چېرته د خپل ځان لپاره لرلید ونه شو ټاکلی، نه شو کولای د هېواد لرلید وټاکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید د مشرانو د نوم او تصویر غځولو لپاره نه بلکې د هغوی د فکر غځولو لپاره کار وکړو.

همدرانګه فدایي د پکتیا ولایت د ټولو مدني ټولنو، لیکوالانو او ژورنالستانو څخه مننه وکړه او دغه ګام یې وستایلو.

په غونډه کې اقبال عزیزي، استاد لال پاچا ازمون، لیکوال او شاعر عبدالمحمد محمد یار او د پکتیا د ولایتي شورا د پخواني رئیس سربېره د پوهنتون استادانو، قومي مشرانواو لیکوالانو هم د شاه محمود میاخېل د هېواد لپاره د کارونو ستاینه وکړه او د د اسې غونډو جوړول یې وستایل.

غونډه کې شاه محمود میاخېل هم خبرې وکړې او د غونډې جوړونکو څخه یې مننه وکړه.

په پای کې د لوګر والي او یوتن قومي مشرله خوا د پکتیا د مدني ټولنو له خوا برابره شوې لونګۍ او ستاینلیک ورکړل شو.

**د لوګرپه ولایت کې د محترم والي محمد حلیم فدایي د کارونو یاودنه او ستاینه:**

۷ مې ۲۰۱۶ م کال، کابل

پرون مو د پکتیا ولایت ته د تګ په مهال د لوګر ولایت مرکز وکوت او غرمه مو د لوګر محترم والي محمد حلیم فدایي صاحب سره تېره کړه. د لوګر محترم والي یو کال وړاندې د والي په توګه وټاکل شو خو په دې لنډ وخت کې او په لږو امکاناتو سره ده د ولایت مقام، استوګنځی او ماحول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دومره تغيير ورکړي دی چې ما هيڅ فکر نه کاوه ځکه دا ولايت ما مخکې ليدلی و چې چندان خونده يې نه وه. د دې نه سربېره، د اميرابدال د غره سره يې ښه تفريحي ځای جوړ کړی او ان شاالله چې که دا ونې غټې شي نو د لوګر او هم د نورو ولايتونو او په خاصه توګه به د کابل ولايت اوسيدونکو ته ښه د تفريح ځای وی. لوګر ډېر تاريخي ولايت دی اما چا ورته سم کار نه دی کړی سره له دې چې ډېر لوړ پوړي چارواکي يې درلودل. د سراجي مؤلف چې د ميراث مهمه برخه ده لوګری دی، اميرابدال او حسن ابدال سره وروڼه و، يعقوب چرخي صاحب، غلام حيدرخان چرخي، عبدالمالک عبدالرحيم زی او داسې نور او د اوسنې حکومت به خو خبرې نه کوو چې د ټولو سيمو نه لويه ونډه په حکومت کې لري.

د فدايي صاحب د ټولو نه مهم ابتکار د ۷۲۶ کلونو نه وروسته د صرف بهايي چاپ په نوې بڼه او په پښتو ژبه دی او دا يې د لوګر ولايت ټولو مدرسو ته ويشلی دی. موږ په مکتب کې ضرب او ضربا ډېر وايه خو په معنی يې نه پوهېدو. دا د عربی ژبې ګرامر دی چې افعال يې په وهلو پيل کېږي. دا چې موږ د عربې ژبې په ګرامر کې طالبانو او شاګردانو ته وهل په مغزو کې ږدو؛ نو د اوسني تدريسي مېتود سره سم کار نه دی او فدايي صاحب د ضربه کلمه په خدمه بدله کړې او د شاګرد او طالب په مغزو کې بايد د وهلو په ځای بايد خدمت کېښودل شي. فدايي صاحب نه مننه چې يوسل او پنځوس جلده دا نوی کتاب يې موږ ته ډالی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه چې مهم وو، هغه دا وو چې د ولایت د دفتر په ساحه کې ښایسته جومات چې ۲۵۰ کسه پکې ځایېږي جوړ کړی او دا جومات به د شهید ارسلا جمال په نوم ونوموي. ارسلا جمال د لوګر ولایت محترم والي و چې د اختر په ورځ په جومات کې په شهادت ورسېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**په افغانیت افتخار:**

۹ مۍ ۲۰۱۶ م کال، کابل



(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې عکس کې دې قدرمن او سپېڅلي افغان ته وګورئ چې په يوې لرې پرتې سرحدي ولسوالۍ خاص کونړ کې د خپل وطن بيرغ وربانده ځومره ګران دی چې د خپلې کراچۍ په څنډو يې لګولی او افتخار پرې کوي. دی د خپل ولس او خپل وطن سره خيانت نه کوي او خپلو اولادونو ته حلال رزق ګټي او په خپل افغانيت افتخار کوي.

اوس دا راته ووایاست چې دی قهرمان دی او که یو وزیر، والي، رئيس، مامور، وکيل، معلم او بل دولتي چارواکی چې هم معاش لري اوهم د دولتي امکاناتو نه ګټه اخلي اما د دې ټولو امتيازاتو د پاسه له خپل ولس او خلکو سره خيانت کوي. خپله دنده په صداقت نه اجرا کوي او د دولت د ضعيفه کولو لپاره په هيڅ نه شرمېږي. داسې دولتي چارواکو ته چې د خپل ولس او وطن سره خيانت کوي، دوی ته د دې سپېڅلي افغان په پرتله شرم او خجالت په کار دی.

### د ځوانانو، متوسطو او زړو نسلونو ترمنځ باید تړاو موجود وي:

۱۰ می ۲۰۱۶ م کال، دوبۍ هوايي ډګر

پرون ماښام په يو ډېر ښه محفل کې وم چې ځوان ديپلوماتان، دولتي چارواکي او د مدني ټولنو غړو پکې برخه درلوده. دا دوستانه محفل، چين ته د افغانستان د نوی سفیر جانان موسی زي په وياړ جوړ شوی و. په محفل کې شايد د ټولو نه زما عمر زيات و. که څه هم په افغانستان کې د ځوانۍ عمر معلوم نه دی چې يو څوک د کوم عمر ترمنځ وي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library




ځوان لقب ورته ورکړل شي خو اکثره ګډون کوونکي د پیغمبرۍ عمر ته نږدې ووو. سوال دا دی چې په دې وختونو کې همدا یو شعار ډېر زیات عام شوی او د هرکاره و په خوله دی چې د ځوانانو نه باید کار واخیستل شي او ځوانانو ته باید موقع ورکړل شي.

د پرنسیب په لحاظ دا سمه خبره ده خو په عین وخت کې دا ډول شعارونه ټولنه نوره هم تقسیموي ځکه یو نسل د بل نسل سره تړاو ته سخته اړتیا لري او موږ نه شو کولای چې د دې تړاو اهمیت ته په کمه سترګه وګورو. ځوانانو ته په کار ده چې هم د خپلو مشرانو احترام وکړي او هم باید د دوی د تجربو نه ګټه واخلي تر څو موږ یوه سالمه ټولنه ولرو چې د هرنسل کسان پکې خپل ځای وګوري. که د ځوانو نیالګو سمه روزنه ونه شي نو دا نیالګي یا وچېږي او یا حاصل د میوې به یې ډېر کم وي. خدای دې وکړې چې زما خبره په ځوانانو بده ونه لګېږي ځکه د دوی خبرې په ما بدي نه لګېږي.

### الله تعالی انسان ته څومره عقل ورکړی دی:

۱۱ مې ۲۰۱۶م، ویرجینیا، امریکا




پرون د دوبۍ نه امریکا ته په ایربس ۸۰۰-۳۸۰ الوتکه کې د لومړي ځل لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلم چې د دنيا د سورليو د الوتکو د ټولو نه لويه الوتکه ده چې د سر نه ترلکي او د وزرونو ترساحې پورې د دې الوتکي مساحت ۷۹.۸ X ۷۲.۷ دی يعنې ۵,۸۰۱.۴۶ متره مربع کېږي چې تقريباً درې جريبه ځمکه کېږي.

دا دوه منزله الوتکه د ۶۱۵ سورليو ظرفيت لري چې سورليو ته د درې وخته خوړو ترڅنگ تشابونه او نور سهولتونه تر شاوره پورې لري. دا الوتکه تر ۱۵،۰۰۰ کيلومترو پورې فاصله بې له دمې وهلی شي او موږ يې په ۱۴ ساعتونو کې واشنگټن ته راورسولو. په عکس کې د دې الوتکې ترڅنگ د اماراتو د شرکت د نورو الوتکو تفصيل هم کتلی شئ.

ما ويل چې الله تعالی انسان ته څومره عقل ورکړي چې دا درې جريبه الوتکه يې د سورليو اوسل گونو بکسونو سره په هوا روانه کړې ده. ما ته د کوندې د زول د فلم صحنې راپه ياد شولې چې د افغانستان د ښارونو او اطرافونو ترمنځ د ژوند واټن يې په دې فلم کې ډېر ښه تمثيل کړی دی. د افغانستان او د دنيا د نورو ملکونو ترمنځ تفاوت همدومره دی، چې څنگه د کوندې زوی په خپل فلم کې تمثيل کړی دی. موږ لا اوس هم د فيل په غوږ کې ويده يو او په جنگ افتخار کوو. زما په اند، نه اسلام د کشف او انکشاف مخه نيسي او نه انسانيت. بېځايه ارادي او غيرارادي جنگونو، بېځايه غرور او تش په نامه شعارونو زموږ حالت داسې کړې دی چې د آسيا په هېوادونو کې افغانستان د ټولو نه وروسته پاتې هېواد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پورته پوست په اړه ډېرو دوستان ښه او مثبت نظرونه پوست کړي وو خو يو تن د وحدت افغان په نامه چې مستعار نوم يې دی لږ متفاوت او انتقادي پوستونه کړې وو، چې غواړم کتې مټ، زما او د ده پوستونه دلته رانقل کړم:**

افسوس دی چې همدې مشرانو چې اوس خلکو ته د نورو خلکو د الوتکو صفتونه کوي همدوی خلکو ته د جهاد فضايل بيانول. دی مشرانو خپله په امريکا او اروپا کي ژوند غوره کړ او د دې بدبخت وطن خلکو ته يې جهاد جهاد ياداوه. اوس چې دا خلک په داسې الوتکو کي سفرونه کوي علت يې دا دی چې دوی خپل خلک بدبخته کړل. په هغوی يې جهاد وکړ، هغو ته يې ونه ويل چې په بچيانوباندې تعليم وکړي بلکي هغو ته يې وويل چې جهاد وکړي. نو اوس تاسو ووايې د يو مجاهد ملت نه نور څه تمه کېداى شي. د مجاهد ملت بيوزله ښځې په لاس ګاړو کي د تورخم په دروازه کي بندي ولاړي وي او جهادي مشران يې په لويو لويو الوتکو کي سفرونه کوي. خداى به دا ملت له دی هم بدتر کړي چې داسې مجاهد مشران لري او د مجاهد مشرانو پيروي کوي.

**ما ورته په ځواب کې وليکل:**

وحدت افغان صاحب! خبره دا ده چې هرنظام که په هرنوم وی او اجتماعی عدالت پکې نه وی نو خلک تری فرار کوي. د هغه وخت درژيمونو نه فرار په خپله خوښه نه و، دا فرار وروسته د مجاهدينوپه وخت کې، هم د طاليبانو په وخت کې او اوس هم دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دطیاروصفت منحیث چکر او طیاره کې د تگ لپاره نه دی کړی هدف مې دا دی چې موږ باید د خپلو استعدادونو نه کار واخلو نه دا چې دفرار زمینه ورته مساعده کړو. دامریکا یو راز د ترقی همدا دی چې د نورو هېوادونو نه استعدادونه جذبوی. موږ خو د نورور هېوادونو نه استعدادونه نه شو جذبولې خو خپل استعدادونه رانه هم فرار کوي. دا مسایل او زموږ ستونزې په عاطفی برخوردونو باندې حل کیدی نشی. ترڅو موږ داحساساتو په عوض منطقی او سم خورد د خپلو ستونزو په اړوند ونه کړو زموږ ستونزې به په خپل حال پاتې وی او ورځ په ورځ به زیاتېږي.

**ده بیا ولیکل:**

د ناسمو رژیمونو سره سیاسي مبارزه هم کېدای شي یواځي دا نه ده چې بی سواده خلک یې د نورو د گټو لپاره د جهاد په نامه راوپاروه او وطن پری له یو مخه خراب کړه. که دا مشران په حقه واي نو دی ته به یې هم فکر کړای واي چې د پاکستان په مرسته د وخت د حکومت را پرځول او د هېواد ورانول د خلکو او هېواد په گټه نه وو. دا جهاد افغانستان دفاع پاکستان او د هېواد د ورانولو په بیه د جهادی مشرانو او قومندانانو گټې پکي وي. د ډاکتر نجیب حکومت چې مجهزه اردو او منظم حکومت یې درلود همدې جهادي ټیکه دارانو د جهاد تر نامه لاندې رانسکور کړ. هغه سړي ډېري ناری وکړي چې راځي روسان تللی دي راشی نوري دنیا ته وگوري خلک څه کوي او موږ څه کوو. هغه سړي ۲۸ کاله مخکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته وويل چې راځي چې وطن ته ترقي ورکړو، سوله وکړو او پر مخ لاړ شو. خو د جهادي بامبړانو ګټې په دې کې وې چې دا وطن ښه زپ زپ کړي اود وطن ښځې يې بيا پاکستاني ډاکټر ته په لاس ګاړي کې رواني وي. فکر وکړي که ۲۸ کاله مخکې خلکو د هغه سړي خبره منلی وای اوس به موږ په ډېر ښه حالت کې وای البته جهادي مشرانو به دومره شتمني نه لرلای.

**ما ورته په ځواب کې بيا وليکل:**

کله چې د نظام واکداران اعتبار د لاسه ورکړي نو بيا سمه خبره يې هم څوک نه مني. بله مهمه خبره دا ده چې زموږ ولس همېشه په تيارو کې ساتل شوی او پخوانيو مشرانو هم د ځانه ابتکار نه درلوده او نه او ورپسی مشرانو. که زموږ او يا دهغه کسانو چې موږ ورته مشران وايو او کيست يې سرچپه واچوو نو ګورو چې څومره اشتباوی شوی دی. داشتباو تکرار په خپله ديو ملت او دهغه ملتونو د مشرانو ضعف ښايی. موږ اوس ډېری نيمګړتياوی لرو او په خپلو ناکاميو منحيث ولس بايد اعتراف وکړو.

**ده بيا وليکل:**

خبره دا ده چې د تاريخ په اوږدو کې زموږ ټول مشران زموږ د خلکو سره اعتبار له لاسه ورکړي وو. د دې خبرې يواځيني علت دا نه وو چې همېشه به مشران مقصر وو او ځکه به نو په وړاندې به يې خلکو بغاوت کاوه. امير امان الله خان غوښتل چې دا ملت د پرمختګ په لور رهبري کړي. د دې ملت د سوکالۍ، پرمختګ او ارامۍ فکر يې په سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرځاوه او په همدې موخه يې اقدامات وکړل خو د خارجي کړيو په ملاتړ ځينو په اصطلاح مشرانو لکه گوډ ملا همدا مجاهد ملت د امير پر ضد راوپاروه او د هغه نظام يې ړنگ کړ. تر هغې راوروسته چې د نظام واکدار ښه وو او که بد نو دا مجاهد ملت ورپسي راپاڅېدلی دی. همدا اوس لويه فيصدي خلک همدا اوسنی حکومت کفري گڼي او جهاد يې پر ضد فرض گڼي. پروني مجاهد نن د حکومت چارواکي دی خو د ځينو نورو په نظر اوس نو دا کافر دی او هغه مجاهد. همدا کار د پروني حکومت پر وړاندي روان و. نني مجاهد به سبا د حکومت چارواکي وي او نور مجاهدين صاحبان به يې پر ضد جهاد کوي. گلبدين وگوره چې تر اوسه پورې يې په همدې کابل کي گرځېدونکي عادي انسانان د جهاد په نامه ووژل او اوس نو کابل ته راروان دی. جهاد يې بريالیتوب ته ورسېده ځگه دی ته پکي يو څه ورسېدل. برهان الدين رباني به خلکو ته ويل چې مجاهيدن د دې وطن اصلی وارثان دی او هغه چا چې جهاد کړی بايد چوکي ولري. خو د همدې مجاهد صاحب زامن او لورگاني په انگلستان کي رالوييدل. د انگلستان تابعيتونه لري او دلته اوس هم د مجاهد په نامه لوی لوی چوکی د دوی دي. اصلي خبره دا ده چې تر څو پورې د دې بې سواده خلکو استعمالول د جهاد په نامه پای ته ونه رسېږي، تر څو چې د دې ملت بچيان د پوهې په وسله نه وي سمبال شوي دا وطن به همداسې وي. داخلي مجاهدين به يې د خارجي ملاتړو پر مټ همداسې ورانوي. خلک به مو همداسې وروسته پاتې کېږي. هغه ورځ به زموږ خلک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکو او نورې ټکنالوژۍ په اړه خبرې کوي کله چې د مجاهد په نامه جنګېدونکو ته نه ووايي او ووايي چې موږ خپل وطن جوړوو، تعليم کوو او پر مخ ځو. بله لاره نشته خو زه چې دې خلکو ته ګورم تر يوې پېړۍ نور پورې هم د جهاد په نامه غولول کېدای شي او د دوی اصلاح حد اقل ۱۰۰ کاله غواړي.

**ما ورته بيا په خوب کې وليکل:**

وحدت صاحب! درسره موافق يم چې تعليمي سطح بايد پورته لاړه شي دين او ايډيالوژي د سياسي اهدافو او ګټو لپاره وسيله وه او ده. ما پخوانيو پوستونو کې په دې اړه ليکلي دي. يو وخت ما انګليسي ژبه په پېښور کې ويله او کورسونه مو جوړ کړي وو؛ خو موږ ته به يې ويل چې دا کفري ژبه مه وايه حال دا چې د هماغه کسانو زامن به انګليش ميډيم مکاتبو ته تلل. په هر حال د مشرانو او د دولت د واکدارانو کمال دا دی چې هم انکشافي پلانونه او د تعليم د سطحې د د لوړېدو لپاره لاره هواره کړې او هم ورته بايد د خپل ولس نبض معلوم وي. د امان الله اشتباه همدا وه چې ښه نظر يې درلوده خو ولس ورته اماده نه و. مشران بايد د ولس سره داسې په چل وچلبړي لکه د يو ماشوم سره موږ برخورد کوو. د پاليسيو تطبيق همېشه د ولس ملاتړ غواړي که نه هره پاليسي ډېره ژر ناکامېږي. در سره موافق يم چې د افغانستان د ستونزو حل کلونه نيسي.

**تبصره:** د دوستانو سره بحث پوره حوصله غواړي او هدف مې د دومره بحث همدا و چې خپلې ستونزې راوسپړو او خپل نظريات بايد په معقوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه مطرحه کړو ترڅو د يو بل سره سم تفاهم وکړی شو او د ټوپک او وژلو په عوض بايد د استدلال او د نظرياتو اورېدلو دود رواج کړو.

**په لندن کې د جمهور رئيس غني په وړاندې مظاهرې:**

۱۲ مۍ ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا




همدا ډلې او ګروپونه چې په تېرو پنځلس کلونو کې په خپله په فساد کې تر ستوني غرق دي نن د جمهور رئيس نه بلکې د ټول ملت سپکاوی کوي. همدا اعتراض په خپل وطن کې فرق نه لري او نه يې چا مخه نيولې ده. که څوک په خپل وطن کې چا ته د اعتراض کولو حق ور نه کړي نو بيا دوی کولی شي چې بهر دا ډول اعتراضونه وکړي. خو دوی د ملت د ګټو پروا نه لري او داسې ښکاري چې د کوم ځای نه همدغه کار ته مؤظف شوي دي. د دوی دا عمل په کلکه د غندلو دی او هر څوک چې د دوی ترشا وي بايد افشا او د حکومت د سياسي قدرت نه لرې کړی شي. (ويل کېږي چې د پاکستان ای اس ای د کوټې يو شمېر هزاره ګان منظم کړي وو چې د جمهور رئيس غني اعتبار په نړيواله کچه راټيټ کړي ځکه د افغانستان او پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ روابط په دې ورځو کې ډېر خراب شوي، د صلحې خبرې په ټپه ودرېدلې وې او پاکستان د طورخم لاره بنده کړې وه)

**۱۳ مۍ ۲۰۱۶م کال ویرجینیا، امریکا**

په لندن کې چې پرون بعضې حلقو د جمهور رئیس غني توهین وکړ دا د افغانستان توهین و خو دا خبره هم سمه نه ده چې موږ ټول یو قوم ته د گنده خطاب وکړو ځکه په هر قوم کې ښه او خراب شته دی. موږ افغانستان د ټولو لپاره غواړو او هرافغان د افغانستان په داخل کې مساوي او متناسب حق لري. دا چې ځوک ځانونه افغانان نه گڼي او د ملت سره خیانت کوي او یا د ملي منافعو پرضد عمل کوي، دا د هماغه اشخاصو ستونزه ده نه د افغانانو او نه د یو قوم او یا افغانستان.

زما یوه وړه غوښتنه د جمهور رئیس غني نه دا ده چې پخوا مې هم لیکلي و، چې مشوره او مصلحت ښه کار دی خو په دې ډول نه چې دا مصلحتونه ملي منافع د پښو لاندې کړي او افغانستان د بې ثباتۍ سره مخامخ کړي. په چوکیو ورکولو ځوک خوشالولې نشې او هغه اشخاص چې اهلیت او تقوا لري او د ولس په منځ کې ځای لري، باید په کار وگمارل شي ترڅو د ولس او حکومت ترمنځ واټن ورک کړي. که وزیر، والي او ولسوال او یا نور چارواکي د ولس سره خبرې نه شي کولی او د ولس په ژبه نه پوهېږي نو یوازې تخنیکي پوهه په درد نه خوري. دوی به داسې وی لکه چې یو خارجي چېرته لاړ شي اوخپله پروژه تشریح کړي خو دوی د ولسونو په زړونو کې ځای نه شي نیولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئيس دا ستاسې خوښه ده چې څنګه اداره چلوې څکه ته د پنځو کلونو لپاره انتخاب شوی يې خو خفه په دې يو چې ستا د ناکامۍ سره افغانستان ناکامېږي او دا ځل ناکامي به د افغانستان تعليم يافته طبقې ته ډېره قيمتي تمامه شي چې څوک به بيا په تعليميافته اشخاصو تر ډېر وخته اعتماد ونه کړي. الله بلا در گردن ملا

**زما لور او زوم دواړه د پوهنتون نه فارغ شول:**

۱۳مې ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا





پرون همدا ساعت زما د زوم او ماما زوی نيګيالي يوسفزي د جارج ميسن پوهنتون نه په Applied Information Technology کې ليسانس واخيست او نن مې مشرې لور هم د همدغه پوهنتون نه محاسبه کې يعنې Accounting په رشته کې لسانس واخيست. دری خبری ماته مهمي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خو دواړو په ډېرو سختو شرايط کې د درې ماشومانو سره زده کړې سرته ورسولې. لور به مې راته همېشه ويلې چې ته تشويش مه کوه اوستا ارمان چې ټول اولادونه به مې هرو مرو لسانس اخلي، پوره کوم. دويم زه د کابل نه د دوی د فراغت په مراسمو کې د ګډون لپاره امريکې ته راغلم. که نه وی راغلی نو دا به مې دلور سره تبعيض وی ځکه د زامنو فراغت ته راغلی وم. زما په اند دا په مور او پلار فرض دي چې زامنو او لورګانو ته يوشان د تعليم لاره هواره کړي. دربيمه مسئله مهمه دا ده چې په هر ډول سختو شرايطو او عمر کې که څوک اراده او عزم ولري هم تعليم کولی شی او هم مصدر د خدمت ګرځېدلی شي.

**د طلوع ټلوېزيون د تور او سپين په پروګرام کې د حکومت د نظام په اړه زما بحث:**

۱۳ د مۍ ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

که څه هم دا مرکه شپږ مياشتې د مخه ثبت شوې وه خو طلوع پرون خپره کړه. زما اصرار دا و چې د نظام يا د حکومت سيستم تغيير د افغانستان مشکل حل کولای نه شي او د دې احتمال زيات دی چې پارلماني سيستم به د جمهوري سيستم نه د افغانستان په موجوده شرايطو کې ډېر متزلزل او د فساد نه ډک وي. د افغانستان ستونزه د مديريت ده او په هر سيستم کې چې مديريت سم نه وي هغه نظام د بې ثباتۍ سره مخامخ کېږي. بل دا چې تغيير د سيستم همېشه قيمتي وي او د افغانستان غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غريب هېواد کې نوې نوې تجربې نه شي کېدلی. تاسې کولای شي دا بحث په لاندې ويډيو کې وګورئ.

https://www.youtube.com/watch?v=GCC_nit۳ClI#t=۵۸




**د دايکندي د وکيل اسدالله سعادتي مرکه د طلوع نيوز ټلويزيون سره:**

۱۵ مې ۲۰۱۶م، ويرجينيا، امريکا

نن د دايکندي وکيل اسدالله سعادتي د طلوع نيوز د ټلويزيون سره د TUTAP د پروژه په اړه نظر څرګنداوه چې که دا د برق پروژه د دايکندي او باميان له لارې تېره نه شي نو دا ملي خيانت دی. ما په فيسبوک کې وليکل:

همدا اوس مې د دايکندي د وکيل اسدالله سعادتي خبرې واورېدلې ده ويل چې دولت خيانت ملي کرده. افسوس د دغه وکيل په حال چې د دولت او حکومت فرق نه شي کولی. که دولت خيانت ملي کړی وي نو مطلب دا چې ملي شورا، حکومت او قضايي قوې ټولو خيانت ملي کړی دی نو که د ټولو قواو فيصلو ته خيانت ملي وايي نو دی هم د دغه خيانت ملي برخه دی او بايد محاکمه شي او که ځان نه غواړي چې د خيانت ملي جز وګڼي نو بايد د پارلمان نه استعفا ورکړي. همداسې بېهوده بحثونه به يې له موږ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انتخاباتو د اصلاحاتو په کمېسيون کې هم کول چې د دې دا غلطې مشورې د دې باعث شولې چې د پارلمان ټاکنې شاته ولوېدلې او په حقيقت کې عمداً يې غو ښتل چې د دولت اعتبار ته صدمه ورسوي. ستونزه دا ده چې دی د جمهور رئيس د ټيم نه دی او د دويم مرستيال خاص مشاور دی. يوه ورځ مې د دې وکيل صاحب نه پوښتنه وکړه چې ته دومره د ملي او مليتوب خبرې کوې ايا تا کندهار، مشرقي ولايتونه، لويه پکتيا او حتی کندوز ليدلي دی که نه؟ ده راته په ځواب کې وويل چې نه. نو ما ورته وويل چې همدا علت دی چې ته د ملي او سمتي مسايلو فرق نه شې کولی. که کله موږ ملي مسئله يادوو نو بايد په ملي مسايلو اجماع يا توافق د نظر د ټولو سيمو موجود وي.

**د قانون د حاکميت نشتون د افغانستان د سقوط نخښه ده:**

۱۶مۍ ۲۰۱۶ م کال، ويرجينيا

د قانون حاکميت نه تطبيق په يو ملک کې داسې دی لکه چې کوټه ښځېږي او څوک يې غم نه کوي نو بالاخره کوټه کښېني يعنې راغورځېږي او کور د اوسېدو نه وځي. په تېرو څلور لسيزو کې د افغانستان همدا حال دی خوپه تېرو پنځلس کلونو کې د قانون د پښو لاندې کېدل اوج ته ورسېدل. د تېرو څو لسيزو لوبغاړي همېشه د ځان لپاره حقوق غواړي خو دوی هيڅکله په خپلو وجايبو فکر نه دی کړي چې دوی د خپل ولس او وطن په وړاندې څه وجايب لري. که اوس هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون په تطبيق فکر ونه شي نو د افغانستان اينده راته ښه نه ښکاري. که ملت په دې پوه شو چې دا د قانون ناقضين د دولتي امکاناتو نه کار نه شي اخيستلی نو تاسې باور وکړئ چې همدا تش په نامه مشرانو ته به خپل ولسونه په خپله سزا ورکړي. اوس ولس ځکه څه نه شي کولی چې دوی د حکومت د موقف او مقام نه اول په خپلو ولسونو کې هغه څوک ټکوي چې د دوی لپاره خطر دی.

**په پېچ دره کې توره شپه:**

د مې د مياشتې ۱۸مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، ويرجينيا



که څه هم د کونړ په ځينو ولسواليو کې نا امني وه خو دا اول ځل دی چې د اسلام، وطن او ولس دښمنانو دا ډوله جنايت وکړ چې درې مکتبونه يې په يوه شپه له منځه يوړل. تر اوسه پورې د کونړ ولايت ټول مکتبونه د زده کونکو د زده کړې لپاره ببرته وو. دا د ولس کار دی چې د دې مکتبونو د ورانولو په عاملينو پسې راپاڅي او له منځه يې يوسي ځکه د دوی بچي د تعليم نه محروم شول. ولس او حکومت بايد سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونه ورکړي او پرې نه ږدي چې داسې عمل بيا تکرار شي. دا عادي مسئله نه ده د حکومت او ولس توجه ورته په خاصه توګه په کار ده.

**د کونړ د روغتون حالت:**

۱۹ مۍ ۲۰۱۶م کال، ويرجنيتا

ښاغلي جاويد ساپي د کونړ د روغتون داسې عکسونه خپاره کړي وو او ويلي يې و چې د کونړ د روغتون وضعه ډېره خرابه ده نو ده د يوناما او د ملګرو ملتو د نورو ادارو سره اړيکه نيولې ده چې د دغه روغتون سره مرسته وکړي.

**ما د ساپي په ځواب کې وليکل:**

ساپی صاحب په بخښنې سره!

د تېرو پنځلس کلونو پرېمانه پيسو په راتګ سره چې د دې روغتون دا حال دی، د دې نه معلومېږي چې د دغه روغتون او عامه روغتيا د رياست پوره بې کفايتۍ ښايي چې دوی ونه شو کړی چې د دغه روغتون لپاره مرستې جذب کړي او يا د خپلو ناچيزو امکاناتو نه د دغه روغتون ماحول ښه کړي. زما په اند د صحي چارو په اداره کې لومړی جدي بدلون ته اړتيا شته او دا بيا د هغوی کار دی چې د دغه روغتون لپاره مالي مرستې د دولت د بودجه نه او يا د نورو خيريه مؤسسو د لارې لاس ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**طارق خان ساپي ليکلي وو:**

زه چې څومره معلومات لرم، د کونړ د روغتيا برخه د يوې کورنۍ په انحصار کې ده. نه يې خپله څه وکړل او نه يې نور پرېښودل.

سنگرمل پښتون ليکلي وو:

په دې روغتون کې دا ځوارلس کاله کېږي چې د يو کور راج دی او د وروسته پاتې والي علت يې همدا دی.

**قاهر ساپي ليکلي وو:**

دا ښکاره خبره ده چې د کونړ د صحت عامې رياست دا ځوارلس کاله د يوې کورنۍ له خوا غصب شوی دی که پلار يې تقاعد شي نو زوی يې د هغه ځايناستی ټاکل کېږي.

که څه هم ماته معلومات نه و چې د صحي چارو رياست د يوې کورنۍ په قبضه کې دی خو د شواهدو نه همداسې معلومېدل چې د صحي چارو په مديريت کې جدي ستونزه ده ځکه د دغه روغتون حالت داسې خراب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکستان همېشه منکر وي چې د طالبانو حمایت کوي:**

۲۰ مۍ ۲۰۱۶م کال، ویرجنیا

خدای بخښلي افضل خان لالا د بېنظیر بهټو د صدارت په وخت کې په کال ۱۹۹۲م کې د پاکستان په پارلمان کې د طالبانو په اړه ویلي وو؛ هغه به څه شی وي چې هم زېړ وي او هم تریو وي چې نارنج نه وي نو څه به وي. ده ویلي وو چې هیڅوک د پاکستان سره دا خبره نه مني چې ګوندې پاکستان د طالبانو حمایت نه کوي. سرتاج عزیز هم تېره ورځ وویل چې طالبان د کابل د حکومت سره خبرو ته تیار نه دي معنی یې دا ده چې پاکستان خبرو ته تیار نه دی.

**ریاض احمد نعیمي صاحب لیکلي وو:**

میاخېل صاحب! سره د دې چې دا څرګند حقیقت دی چې پاکستان د طالبانو پوره حمایت کوي مګر نړیواله ټولنه هم په دغه مسئله کې ګونګه ده او هیڅکله یې د پاکستان څخه دا پوښتنه ونکړه چې ولې مو خپل ګاونډی د اور لمبو ته نیولی، زما پوښتنه دا ده چې آیا موږ به تر کله چوپ پاتې یو او آیا نړیواله ټولنه به یوازې د پاکستان طرف نیسي او موږ به تر قیامته په دغه اور کې سوځو؟ مننه

**ما د نعیمي صاحب په ځواب کې ولیکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال خپل هدف لري او خپل کار کوي  او زموږ لپاره به هیڅکله پاکستان ونه ډبوي. موږ ونه کړای شول چې د نړیوالو د حضور او یا عدم حضور نه ګټه واخلو.

**د مدني ټولنې جنګسالاران:**

۲۰ مۍ ۲۰۱۶م کال، د ویرجینیا لودن روغتون

په ۲۰۱۰ م کال کې ما دا  لاندې مقاله لیکلې  وه چې اوس هم د تطبیق وړ ده؛  نو په دغه مقاله کې ما  مدني ټولنو ته  د جنګسالارانو لفظ استعمال کړی و خو ډېرو راسره دا نه منله اما اوس پته لګېږي چې د مدني ټولنې جنګسالاران چې د اصلي جنګسالارانو ښي لاسونه او وسیلې  دي د هغوی نه زیات د هېواد د ثبات او صلح راوستلو لپاره خطرناک دي.

په صوتي، تصویري او چاپي رسنیو کې اوسنی جنګ د مدني  ټولنې د جنګسالارانو له خوا د افغانستان پرضد او د افغانستان د خلکو پرضد روان دی او هم دوی د جنګ اور ته لمن وهي. الله تعالی دی ورحمېږي، هغوی چې ځانونو ته مدني او تعلیم یافته وایي دا یې حال دی نو د غریب او بېسواده ولس نه خو ګیله په کار نه ده.

https://www.cigionline.org/.../۲.../٤/plan-stabilize-afghanistan

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هدف مو نه دی ټاکلی اما مبارزه کوو:**

۲۰مۍ ۲۰۱۶م کال، د ویرجینیا لودن روغتون

د دنیا او ګاونډیوهېوادونو سیاست زما فکر نه دی خراب کړی خو زما فکر تعلیمیافته افغانانو خراب کړی دی. تر اوسه دوی فکر کوي چې سیاست عاطفي او احساساتي لوبه ده او په یوه غونډه، سیمینار او د جذباتو په اظهارولو هرڅه سمېږي. اما موږ لا په دې پوه نه یو چې سیاست اوږده مبارزه غواړي ترڅو خپل هدف ته ورسېږو. افغانانو لاتر اوسه د خپلې مبارزې لپاره د کورني او بهرني سیاست اهداف نه دي ټاکلي نو څنګه به د دوی مبارزه که په هره ساحه کې وي رنګ پیدا کړي او ښې پایلې به ولري.

د مینجمنټ د اصولو په اساس د پروګرام او پروژې ترمنځ فرق شته دی. که خفه نه شو، موږ لا پروژې عملي کوو خو د پروګرام نه خبر نه یو.

**شرافت میاخېل لیکلي وو:**

همداسې ده. موږ د راتلونکې اوږد مهالې مبارزې لپاره هیڅ پروګرام نه لرو. کاش چې موږ د لرې راتلونکې لپاره کار کړی وی
لکه د هند وزیراعظم د دېرش کاله اوږد صبر نه وروسته وزیراعظمۍ ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له کلي ووځه؛ خو له نرخه مه وځه:**

۲۲ مۍ ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

په تېرو څلور لسیزو کې چې ما څومره د افغانانو مشران لیدلي دي، دوی همېشه فرصتونه په بحرانونو بدل کړې دي. ښه مشران هغه دي چې بحرانونه په فرصت بدل کړي. موږ ډېر ښه فرصتونه درلودل او لرو یې خو ګټه د فرصتونو نه نه شو اخیستلی.

که رښتیا ووایو، موږ کلتوري او فرهنګي ستونزې لرو او ترڅو چې خپلو کلتوري او فرهنګي ستونزو ته مناسب د لارې حل پیدا نه کړو، نو یوه ورځ به مو د بلې نه بدتره وي. یو سیاسي بحران به مو د بل سیاسي بحران نه لوی وي او د سیندوړي قوم په څېر به کله یوې څانګې ته لاس اچوو او کله بلې ته، یو بل ته به په ټیقو سترګو ګورو او په دریاب کې به غرقېږو.

پښتو کې متل دی چې وایي د کلي نه ووځه خو د نرخه مه وځه. موږ د دنیا په نرخ نه پوهېږو او نه د کلي نه چېرته تللی شو ځکه چې دنیا اوس یو لوی کلی دی او موږ د دې کلي په نرخ نه پوهېږو. نو په دې اساس د افغانانو نه د مسلمان سره ګوزاره کېږي او نه د کافرو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Peers pressure یا د ملګرو فشار او یوه هیله:**

۲۴می ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

په سوسیالوژي او سایکالوژي علومو کې یوه اصطلاح چې د Peers pressure یا د ملګرو د فشار په نامه یادېږي ډېره مهمه د اغېز وسیله ده. د ملګرو فشار د ماشومتوب نه پیل کېږي چې لومړی د کوڅې د ملګرو سره ناسته ولاړه وي، بیا د مکتب د ملګرو سره او همدا شان د کارو بارو د ملګرو سره ناسته ولاړه وي یعنې په هره مرحله د ژوند کې انسان د ملګرو او همکارانو سره په اړیکه کې وي.

په نننۍ دنیا کې او هم پخوا د ملګرو او دوستانو ناسته ولاړه په یو بل باندې تاثیر لري او انسان مثبت یا منفي خواته تشویقوي. په دري ژبه کې هم یومتل دی چې وایي: اګربا ما بنشینی ما شوی و اګر با دیګ بنشینی سیاه شوی. نن که موږ په مخدره موادو روږدو ځوانانو ته ګورو او یا هغه ځوانانو چې د جنګ ډګر یې تود ساتلي او د مختلفو ګروپونو سره یو ځای شوي دي، د نورو مسایلو ترڅنګ د ملګرو منفي اغېز په دوی باندې د دې لامل شوی چې دوی انحرافي کارونو ته تشویق کړي.

سوال دا دی چې ایا موږ څنګه کولای شو چې هم د ملګرو سره کېنېنو او هم د ملګرو د منفی اغېز نه ځانونه وساتو؟

موږ نه شو کولای چې خپل ځوانان د ملګرو د ناستې ولاړې نه محروم کړو ځکه موږ ټول د ملګرو سره ناستې ولاړې ته اړتیا لرو. زما په اند،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید خپل ځوانان داسې وروزو چې هم د ملګرو سره ناسته ولاړه وکړي او هم دوی دومره باطني قوت ولري چې د ملګرو د بد اغېز لاندې رانه شي او په عوض د دې، د ښو ځوانانو اغېز باید په خپلوملګرو اضافه شي. که څه هم دا ستونزمنه کار دی ځکه منفي شیانو ته تمالیات د مثبتو شیانو په پرتله زیات وي خو ځوانان باید دې ته متوجه کړو چې د دوی مثبت اغېز باید په خپلو ملګرو زیات وي او که مثبت اغېز یې زیات نه وي نو لااقل دوی باید د خپلو ملګرو د منفي اغېز لاندې رانه شي.

دا یوه لویه مسئله ده او موږ ټولو ته په کار ده چې خپل اولادونه، ځوانان، کلیوال، انډیوالان، د مکتب او کار ملګري مثبتو عادتونو ته ته تشویق کړو. تر څو چې زموږ ځوانان او ټولنه مثبت فکر پیدا نه کړي تر هغې پورې به موږ یوه مریضه ټولنه لرو او د مریضې ټولنې نه د ښو کارونو طمعه په کار نه ده. که موږ په لویه کچه څه نه شو کولای، په وړه کچه دا کار د خپلو نږدې ملګرو، دوستانو او همکارانو سره کولای شو او په دې توګه یوه لویه مبارزه به موږ سرته رسولې وي. هیله ده چې هرڅوک په خپل ماحول کې دې مبارزې ته دوام ورکړي. دا ډول مبارزه پیسو او امکاناتو ته اړتیا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیشو تر هغه وي شېخه چې په غوښه نه وي پېښه:**

۲۵ مۍ ۲۰۱۶م کال،و ویرجینیا، امریکا

نن مې یو پوست ولید چې قضاوت یې راته سم نه ښکاري نو ځکه دا لاندې پوست لیکم.

په تېرو کړو به قضاوت تاریخ کوي خو زه په حال خبره کوم. په هر گروپ، ډله او قوم کې ښه او خراب، صادق او خاین، پاک او رشوت خور شته دی. د پخوانیو رژیمونو ډېر دولتي مامورین پاک کسان وو اما اوس د هماغو رژیمونو مامورینو ته چې لاره هواره شوې، نه هغه پاکي شته او نه هغه صداقت او که سمه سروې وشي نو همدا کسان په امنیتي ارگانونو کې زیات نفوذ لري او د ټولو نه هم دوی په فساد کې زیات غرق دي .که د دوی ژوند ته په تېرو پنځلس کلونو کې نظر واچول شي، د دوی په ژوند کې دومره فرق راغلی چې هیڅ تصور نه شي کېدلی اما یو شمېر اوس هم در په در دي. قضاوت نشم کولی که دوی ته قدرت په لاس ورشي ایا دوی به هم پاک پاتې شي که نه. همدا شان د مجاهدینو، طالبانو او یا په وروستیو رژیمونو کې هم داسې کسان شته دی چې په هیڅ یې صرفه نه ده کړې اما ډېر کسان د همدغو ډلو نه ځانونو ته ډوډۍ هم نه شي پیدا کولی.

وایي پیشو تر هغه وخته پورې شیخه وي چې په غوښه نه وي ورپېښه. نو په دې توگه ماته ډله ییز قضاوت سم نه ښکاري  او په هر چا قضاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د هر شخص په شخصي اعمالو وشي نه دا چې موږ ټول په یو شان د قضاوت په مجموعي غشو وولو.

**موږ په ټولنه کې د ګلونو ګلدستې ته اړتیا لرو:**

۲۷ می ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

ډېر دوستان داسې فکر کوي چې ټول افغانان دې په یوه لاره لاړ شي، ټول دې یو قسم فکر وکړي، ټول دې د حکومت د هر کار نه بې له دلیله ملاتړ وکړي، د مخالفو نظریو د هر نظر سره باید بې دلیله مخالفت وشي، که د چا د ذوق او سلیقې سره خبره برابره نه وي هغه خبره دې بې دلیله وغندل شي، ټول دې د رنګرېز په یوه خم کې د رنګ شویو جامو نه ځانونو ته یوشان جامې جوړې کړي، د ټولنې ټول وګړي دې په یو شان ژوند ولري، قیافه او وزن د ټولو باید یوشان وي، همدا شان د خبرو او حرکاتو ټول کړه وړه باید یوشان وي او داسې نور....

دا ټولې ښې خبرې دي خو شون نه لري. موږ باید ځانونو ته په خپلو فکرونو کې داسې موخې ونه ټاکو چې عملي کېدای نه شي او نه د داسې ټولنې په فکر کې اوسو چې تر اوسه یې بېلګه په دنیا کې نه شته دی.

لکه څنګه چې په ټولنه کې د ډېرو منظمو ودانیوجوړول ښه کار دی همدا شان د ډېرو منظمواحزابو او ټولنو جوړول هم ښه کار دی. د نظریاتو اختلاف او د متبادل نظریاتو اظهارول هم ښه دي. اما ستونزه دا ده چې موږ مثبت فکر نه کوو، څوک چې راسره مخالف نظر لري، په هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسي ټوپک رااخلو، هغه وژنو، توهينوو يې او له منځه يې وړو. چېرته چې زه نه اوسيږم، هغه ځای او مکان، مکتب او سرک بايد وران شي، که زه د کوم شي نه ګټه نشم اخيستلی نو نور دې هم بايد ترې ګټه وانخلي او داسې نور منفي فکرونه.

که موږ په خپل فکرونو کې مثبت تغيير راولو او د مثبت رقابت لپاره په ټولنه کې لاره هواره کړو دا کومه ستونزه نه ده چې موږ دې په ټولنه کې د زياتو نظرياتو، حرکتونو او ټولنو په درلودلو سره د ستونزو سره مخامخ شو. لکه څنګه چې هر ګل ځانته بيل رنګ او بوی لري همداسې هر نظر او رنګ ځانته بيل خوند لري او د ټولو رنګونو او بويونو نه ښه ګلدسته جوړيدې شي.

**پښتو نړيواله ورځ:**

۲۹ می ۲۰۱۶م کال، دالس هوايي ډګر، واشنګټن ډي سي

پښتو ژبه او پښتونولي دوه جلا څيزونه دي نو د پښتو ژبې د نړيوالې ورځې د لمانځنې سره دوه وړانديزونه :

اول دا چې ژبه ژوندۍ پديده ده اما زموږ زيات پښتانه ليکوالان داسې فکر نه کوي او غواړي چې پښتو ژبه مړه کړي ځکه د نورو ژبو د لغاتونو د استعمال سره احساساتي ستونزه لري. دا چې موږ وايو ژبه ژوندۍ پديده ده نو په نورو پرمختللو ژوندیو ژبو کې هره ورځ نوی لغاتونو هغو ژبو کې داخليږي او په همدې ډول يو تعداد لغاتونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال نه وځي. يا په بل ډول د ژبې يو شمېر لغاتونه په مؤقتي يا دايمي توګه مري او په عوض کې يې يو شمېر نور لغاتونه محيط زيږوي.

دويمه مسئله، پښتونولی هم ژوندی دود دې ځکه ارزښتونه هم د وخت دشرايطو سره تغيير کوي. زياتره پښتانه داسې فکر نه کوي او ارزښتونو ته د مړي په سترګه ګوری. موږ ته په کار ده چې ښه، مؤثره او ګټور ارزښتونه وساتو او غير ضروری او غير مؤثره ارزښتونه چې زموږ د ژوند د وروستوالي سبب ګرځي او ټولنې ته زيان رسوی، دخپل ورځنې ژوند د ارزښتونو نه وکاږو.

زما په اند موږ بايد پښتو او هم پښتونولي ژوندې وساتو او پرې نږدو چې دواړه رانه مړه شي. په همدې اميد د پښتو نړيواله ورځ دې تاس ټولو ته مبارک وي.

**د فيسبوک د مخترع مارک زوکربرګ مصاحبه په فضا کې له هوانوردانو سره:**

۲ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

دلچسپه ويډيو ده او دلچسپه بحث دی. د هرچا به تری جلاجلا برداشت وي خو زه هم درسره دا لاندې څو ټکې په مختصره توګه شريکوم.

اول: څنګه دوی په مثبت فکر دغه ځای ته ورسېدل. د اوس لپاره کار نه کوي خو د راتلونکې لپاره کار کوي. دوی زموږ په شان نه دی چې په هرې خبرې او فکر ته په منفی سترګه ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: د دنیا په ګوټ ګوټ کې ځنګه د نورو ساینس دانانو سره اړیکه لري او د یو هدف لپاره کار کوي. دوی د مختلفو ملکونو د ساینس دانانو سره چې مختلفي ژبې لري ځنګه افهام او تفهیم کوي. دوی زموږ په شان نه دي چې یو بل وژنو. دوی هم د یو بل د وژلو دورې تېرکړې دی خو څه ګټه یې ترې نه ده اخیستې اونن د یو بل سره تفاهم کوي او د بشریت د رفاه لپاره کار کوي. په همدې اپولو کې دری کسه روسان، یو انګلیس اودوه امریکایان سره ژوند کې او د یو بل سره په شریکه کار کوي.

دریېم: دوی د خپل کار سره مینه لري او د تبلیغي حضراتو په شان یې شپږمیاشتې او یو کلن د خدمت نیت کړی دی.

څلورم: د ټولو نه مهمه دا ده چې ځنګه دوی د یو لرې فضا نه په انټرنېټ او سوشل مېډیا باندې د ځمکې د خلکو سره خبرې کوي. دوی د ځآنونو سره د ایس کریمه پورې خواړه هم لري.

پنځم: د فیسبوک دا ځوانکی مالک، مارک زوکر برګ چې نن د بیلونونو سرمایه خاوند دې ځومره په ساده لباس کې د دوی سره خبرې کوي. دا فیسبوک همدې ځوان اختراع کړی او اوس هم کار کوي او دا نه ګوري چې اوس خو ډېرې پیسې لري نو نور کار په کار نه دی. دوی زموږ په شان نه دي چې یو ختېه غنم پیدا کړو نو بیا په تکبر خبرې کوو.

https://www.facebook.com/zuck/videos/١٠١٠٢٨٦٦٩١٠٤٩٥١٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library



The Hospital is everyone's responsibility

**د روغتون مسوولیت د ټولو شریک دی: د نورو د ښو تجربو نه باید زده کړو:**

۴ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

څه موده د مخه د فیسبوک یو دوست د کونړ د اسعدآباد د روغتون یو عکس خپور کړی و چې د روغتون حالت اصلا روغتون ته ورته نه و. پاکي او صفايي د روغتون تر ډېره حده پیسې نه غواړي او ښه مدیر کولی شي چې روغتون پاک وساتي. په افغانستان کې ستونزه ده چې اکثره دولتي مسولین کوښښ کوي چې هغه امکانات چې کومې ادارې ته تخصیص شویدی د هغه نه څه ووهي اما په پرمختللو ملکونو کې په اکثره توګه دوی د دولت د مال نه څه نه وهي او همېشه ولسونه روغتونو او خیریه ادارو سره مرسته کوي. نو اوس تاسې زما دا لاندې معلومات زموږ د کونړ د روغتون د حالت سره مقایسه کړي.

تقریباً دوه میاشتې  د مخه زما مورجانه په خاص کونړ کې په کور کې راغورځیدلې وه او د ملا هډوکی یې سخت ژوبل شوی و. په جلال آباد او کابل کې مو په ډاکترانو وګرځوله خو هرچا به ورته بیل بیل سفارشونه او تشخصیونه کول. راسره افسوس پیدا شو چې موږ په ټول ملک کې داسې یوستندرد روغتون نه لرو چې د مریض او د مریضانو د خپلوانو تسل پرې وشي. مور مې راته وویلې چې د شناخت او واسطې سره، کله چې د دې د ملا عکسونه یې د جلال آباد په روغتون کې اخیستل نو نرسې  ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې برخورد کاوه ته به وايي چې همدا د هرڅه متخصصه ده. مورجانې مې نرسې ته ويلي و چې ته خپل کار وکړه اونور تشخيص د ډاکترانو کار دی. نرسې ورته ويلي و چې ته خو ډېره بد ماشه ښځه يې او هسې په قهر يې. نرسې دا فکر نه کاوه چې دا خومريضه ده او د سخت درد نه په تکليف ده نو په دې وخت کې ښه خبره هم مريض ته ډېره مؤثره وي او د مريض تسل پرې کېږي.

بالاخره مورجانه مو امريکې ته يوړه او هلته مو په روغتون کې بستر کړه. د خدای بخښلي پلار خدمت مو ترخپله حده په خپل وخت کې کړی و خو د مورجانې خدمت راته هم ډېر مهم دی ځکه زموږ د تسل او دعا وسيله همدا ده او خدای پاک دې راته تر ډېره وخته پورې ژوندۍ لري.

دغه روغتون چې زما مورجانه پکې بستر وه، يو محلي روغتون دی چې د واشنگټن سره نږدې د ويرجينيا ايالت د لوډن ولسوالۍ کې موقعيت لري. څو شپې مو هلته تېرې کړې. د روغتون د ودانيو، طبي وسايلو، د پايوازانو لپاره د سهولتونو او د ډاکترانو او نرسانو او نورو مستخدمينو د رويې نه ډېرسخت متاثره شوم. د مريض ټول خدمت د روغتون پرسونل بې له ويلو کاوه. ټول کارکوونکو خپلې دندې په مينه او اخلاص سره سرته رسولې. دلته کارکونکي د بيلا بيلو نژادونو او ملکونو نه و. مشر اورتوپيدي ډاکتر عرب و، اکثره نور ډاکتران او نرسان هندوان، پاکستانيان، ايرانيان، هسپانويان، لرې ختيځ ملکونو، اروپايان او امريکايان و. څوک سپين پوستي، څوک تور پوستي او څوک غنم رنگه و. څوک مسلمان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک هندو، ځوک عيسوي، ځوک يهودي او بعضو لا په هيڅ مذهب عقيده نه درلوده. مريضان هم زاړه، واړه او د متوسط عمر درلودنکي د بېلابېلو ملکونو او نژادونونه و. هيڅا د چا نه پوښتنه نه کوله چې ته د کوم ځای يې، د کوم قوم پورې تړاو لرې، په کوم مذهب يې، څه دنده لرې، سرمايه داره يې که غريب يې، خو د ټولو مريضانو خدمت دوی بې له کومه توپيره کاوه.

دا چې د مريض خدمت ټول دوی کاوه نو سوچ واخيستلم چې څنګه دوی دغه مرحلې ته رسيدلي دي؟ د تکنالوژۍ او طبابت له لحاظه پرمخ تللي دي، انساني برخورد له امله هيڅوک خپلې دندې ته په سپکه سترګه نه ګوري او د زړه له کومې د مريض خدمت په ورين تندي کوي. ټولود روغتون دپاکۍ خاص خيال ساته او د وسايلو استعمال ته يې خاصه پاملرنه کوله. هماغه و چې په روغتون کې مې په ګرځېدو پيل وکړ او د بېلابېلو ځايونو عکسونه مې واخيستل غواړم چې دا د تاسې درنو دوستانو سره شريک کړم او بيا تاسې قضاوت وکړئ چې ولې موږ وروسته پاتې يو.

د روغتون په يوه څنډه کې د دغه روغتون د تأسيس نه راپه دې خوا تاريخچه او هغه وسايل چې دوی په لومړي سر استعمالول د موزيم په شکل ساتلي و. دوی هم د نن نه دوه سوه کاله د مخه وروسته پاتې و، ماشومان به يې په کورونو کې تولد کېدل او روغتونونه او داسې مجهز وسايل چې نن يې لري، پخوا دوی نه درلودل. خو دوی کې فکري تغيير

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته شو او خپلو ټولينزو ستونزو لپاره دوی په خپله د حل لارې پيدا کړي او داسې تهداب يې کيښود چې اوس که د هر ځآی نه څوک هلته لاړ شي په لاره سم ځي.

دا روغتون په ۱۹۱۲م کال کې د يو ډاکتر له خوا جوړ شوی دی او يوازې په ۱۹۹۱م کال کې د دغه سيمې خلکو ۳۶،۸۷۰ ساعته کار په دغه روغتون کې په داوطلبانه توګه کړی دی. دوی وايي چې روغتون ساتل د ټولو خلکو مسووليت دی. دوی ليکلي دي چې که څه هم اوس د دوی طبي تکنالوژي ډېره پرمخ تللې ده او د طبابت د نوی ميتودونو نه کار اخلي خو د کار په ښه والي، خدمت او د ټولنې په حمايت کې هيڅ تغيير نه دی راغلی. په دغه روغتون کې د مريض او پايوازانو د سهولتونو لپاره چې انسان څه فکر کولی شي هغه ټول سهولتونه موجود دې. مريض خو پريږده، ته به وايې چې په فايف ستار هوتل کې ژوند کوي خو د پايوازانو لپاره ارامه خونه، ټلوېزيون، چاې او قهوه او حتی د تليفونونو د بېلابېلو چارجرونو سهولتونه موجود دې.

مورجانه مو اوس مخ په ښه کېدو ده او د روغتون يو څوعکسونه د تاسي سره شريکوم.

اوس موږ بايد د خپلو ځانونو سره قضاوت وکړو چې موږ په تېر يوه کال کې څومره داوطلبانه کار کړی دي ترڅو په خپل محيط او ماحول کې خپلې ټولنې ته د خدمت مصدر ګرځېدلي يو؟ که موږ سره دا فکر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې ټولنې ته او خپل ځآن ته باید په خپله خدمت وکړو نو موږ به هیڅکله د ښې ورځې خاوندان نه شو.

**د صحي کنارابونو اوتشنابونو انقلاب ته اړتیا ده:**

**خاندئ مه مهمه خبره ده: فیسبوکې کمپیاین په کار دی چې ولس او حکومت ټول ورته متوجه شي**

۵ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

نن سهار مې د CNN ټلوېزیون نیولی و چې د ټلوېزیون د GPS مشهور تحقیقي ژورنالست فرید ذکریا په نړۍ کې د صحي کنارابونو او تشنابونو د نشتوالي او یا د نه لاسرسي په اړه یو ډېر دلچسپه رپوټ جوړ کړی و. په نړۍ کې د هرو لسوکسانو له جملې نه څلور کسه صحي تشنابونو او کنارابونو ته لاسرسی نه لري او د دې له امله هغه هېوادونو کې چې کافي صحي کنارابونه او تشنابونه نشته دغه هېوادونو ته هرکال ۲۶۰ بیلونه ډالره تاوان د مختلفو ناروغیو له امله رسېږي. په هند کې ۷۵۰ میلونه کسه او په چین کې ۳۵۰ میلونه کسه صحي کنارابونو او تشنابونو ته لاسرسې نه لري. نو په دې خاطر د چین حکومت د Toilet Revolution یا د صحي کنارابونو او تشانابونو انقلاب پیل کړی دی او همدا شان د هند صدراعظم نریندا مودي د ر Toilet Before Temples یعنې د درمسال د جوړولو نه د مخه بایدصحي تشنابونه او کنارابونه جوړ کړو، دشعار لاندې کمپیاین پیل کړې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه قصه مې راپه ياد شوله چې په ۱۳۵۳ هجری شمسي کال کې خدای بخښلي پلار مې د لغمان په ولايت کې د ثبت احوال نفوس مدير و نو زه د روښان په ليسه کې زده کوونکی وم، د لغمان ولايت په مرکز کې په هيڅ يوه اپارتمان کې کنارابونه نه و او داستونزه په اوړي کې چې شولې کرل کيدې نو د لغمان ولايت د مرکز شاوخوا ټولو ځمکو کې د شولو د کرلو له امله هيڅ وچ کوم پټې نه پيدا کيده چې سړې خپل ضرورت رفع کړي. د لغمان ولايت مرکز چې د حسن خان والي په لومړې او دويمه دوره کې زياته برخه جوړه شوې وه نو په همدې وخت کې حسن بيا د لغمان والي و نو پلار مې ورته وويلي چې والي صاحب تاسي په ولايت کې د انسانانو د صادراتو لپاره هيڅ نه دي کړي نو که يو شمېر کنارابونه جوړ کړئ نو ښه به وي. هماغه و چې حسن خان والي شاروال ته امر وکړ چې د ښار نه بيرون په مختلفو ساحو کې کنارابونه جوړکړي ترڅو د خلکو ستونزه حل شي. که څه هم دا صحي کنارابونه نه و خو د خلکو لپاره لوي سهولت جوړ شو.

واقعيت دا دې چې د صحي کنارابونو او تشنابونو جوړول په کورونو او عامه ځايونو کې د ژوند د مهمو اړتياو نه دی. دا هم زموږ ټولنيزه ستونزه ده چې موږ ښه کور جوړو اما يو صحي تشناب او کناراب نه جوړواو دا ستونزه په خاصه توگه د اطرافونو په کورونوکې زياته ده او زياتره دا هم وايي چې دا شرم دی چې څوک هغه تشناب ته لاړ شي چې د کور په منځ کې وي. که څه هم د مهاجرتونو له وجهې يو ښه تغيير د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو په فکر کې راغلی دی خو د دې ترڅنګ د صحي کنارابونو او تشنابونو کافي نشتون په ښارونو او کورونو کې زيات دی او دا د ژوند ضروري اړتيا ده نو که د افغانستان ښاروالان، واليان او ولسوالان او نورې ذيربطه ادارې دې مسلې ته جدي توجه وکړي چې د صحي کنارابونو او تشنابونو يو لوی کمپياين د ولس په ملاتړپيل کړي نو دا به د خلکو په صحت او ژوند باندې خاصه اغېزه ولري.

**څه به ووايو، ايا مسلمان ګاونډې هېواد ته د افغاني مهاجرو په وړاندې داسې بې رحمه عمل مناسب کار دی؟**

۵ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

په اسلامي، بين المللی، مدنې، اخلاقي او ټولو قوانينو کې د پوليسو له



(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا داسې عمل د يو افغان مهاجر سره په کلکه د غندلو دی. د افغانستان حکومت، د بهرنيو چارو وزارت او په پاکستان کې د افغانستان سفير د پاکستان د دغه بې رحمه عمل په وړاندې بايد په کلکه

احتجاج ملګرو ملتونو ادارې ته وکړي. د ظلم په مقابل کې چوپ پاتې کېدل د دې بيوزله مهاجرينو په وړاندې يوه لويه ګناه ده.

**ايا د فيسبوک په دوستانو کې چاڼ په کار دی که نه؟**

۸ جون ۲۰۱۶ م کال، کابل

بعضې دوستان ليکي چې دوی غواړي د خپل فيسبوک په ملګرو او دوستانو کې چڼ او للون وکړي او يا په اصطلاح خانه تکاني وکړي ځکه چې د دوی پوستونه څوک نه لايک کوي، يا کامنټ نه ورکوي او يا بعضې وخت مناسب الفاظ په خپلو ليکنو کې نه استعمالوي.

زما په اند دا سم کار نه دی ځکه چې د فيسبوک استعمال ډېر اړخونه لري. د يوې خوا د دوستانو سره سړی په اړيکه کې اوسي، له بله خوا خپل نظريات، تشويشونه او وړانديزونه د دوستانو سره شريکوو او په مقابل کې د نورو دوستانو د نظرياتو، وړانديزونو او تشويشونو نه خبرېږو. کېدای شي چې بعضې دوستان ستاسې د ليکنو او نظرياتو د څرګندولو نه مثبته ګټه واخلي او د دوی د منفي اغېز نه وساتل شي. همدا شان موږ د فيسبوک له لارې د ورځني خبرونو نه خبرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نه سربېره د فيسبوک له لارې دولتي او غير دولتي چارواکي او سياسي زورواکي دولس د افکارو، نظرياتو، ستونزو او تشويشونو نه خبرېږي او د فيسبوک د ملګرو په عکس العمل شايد دوی خپلو منفی تګ لارو ته تغيير ورکړي. بله دا چې فيسبوک د زړه د براس د ويستلو يوه ښه وسيله هم ده.

يودوست راته په نږدې وختونو کې وويل چې هغه زما د فيسبوک هره ليکنه ډېر په شوق سره لولي خو لايک کوی يي نه او نه کامنټ ليکي. نو په دی توګه هغه دوستان چې ستاسې په ليکنو لايک نه کوي او يا کامنټ نه ورکوي نو تاسې خفه کېږي مه ځکه هغوی هرو مرو ستاسې ليکنې ګوري او لولي يې او ستاسې د احوال او نظرياتو نه خبرېږي.

**د خيالي امنيتي ارګانونو پرسونل او خيالي دولتي مصارفات:**

**د کابل ښار د بوشکو ښار**

۱۰ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

څو کاله د مخه کرزي صاحب د لويه جرګې په خيمه کې د انکشافي شوراګانو په کلنۍ غونډه کې په واضحه توګه وويل چې رشوت اخلي خو په خپل ملک کې پرې کورونه جوړوئ او خارج ته پيسې مه وړئ. دې خبرې دوه اړخونه درلودل. له يوې خوا رشوت اخلئ او خيانت کوئ او له بلې خوا هم که پيسې بهر ته وړئ نو دا ښه کار نه دی. اما له بله پلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي صاحب رشوت اخیستلو او خیانت ته جوازورکړ چې څه مو خوښه وي هغه کوئ دا سلسله اوس هم دوام لري.

د هلمند د خیالي پولیسو مسئله او یا په نورو ادارو کې د خیالي پرسونل مسئله څه نوی خبره نه ده او همدې خیالي پرسونل د دولتي ارګانونو د پرسونل نه د طالبانو او یا نورو جنايي جرمونو د ګروپونوسره د مبارزي روحیه له منځه وړی ده او هر څوک په راجمع کولو کې دي که نه د طالبانو او جنايي ګروپونو قوت د دولت د قوتونو په پرتله ډېرکم دی. دري کاله د مخه ما دغه مقاله  لیکلي وه چې د طالبانو قوت کې مبالغه شوې ده او که دوی سم چیلنج شي نو امنیت ډېر ژر ښه کېدلی شي.

د خیانت یو واضح ثبوت دا دی چې د کابل په هره کوڅه کې به تاسې د تیلو د بوشکو دوکانونه ګورئ، دا د خیانت ښه بېلګه ده. دا عکس چې تاسې ګورئ، ما د جمهوررئیس د لومړې مرستیال د کور ترڅنګ اخیستی دی او داسې دوکانونه د ښار



(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره کوڅه کې شته دی او په دې ټولو دوکاندارانو باندې دولتي نظامي اوملکي پرسونل تيل په غيرقانوني توګه خرڅوي. دا د خيانت لويه نمونه ده چې د کابل ښار په هره کوڅه کې کتلی شئ. که دا بوشکې د کابل په ښار کې ورکې شوې نو تاسي پوه شئ چې د رشوت مخه نيول کېږي، بيا به نه د امنيتي ارګانونو تيل خلاص شي او نه مرمۍ او هم به د خيالي پرسونل مخه ونيول شي.

### Clashes between Afghanistan and Pakistan in Torkham: Let's put the facts in the right context١٥ June ٢٠١٦

President Ghani in the last two years used all means to reach out to Pakistan and seriously wanted to improve relation between Afghanistan and Pakistan. Even he put his own credibility in line and blamed inside Afghanistan that he went too far. But unfortunately, in return, Pakistan have stepped up support of terrorist groups to destabilize Afghanistan and thousands of Afghans lost their life.

When you lose argument, you indulge fighting to distract people attention from the real problems. Afghanistan is victim of terrorism for decades and ten of thousands of innocent Afghans have lost their precious life. If we look to the reality, harboring terrorist leaders were not in the border areas between Afghanistan and Pakistan but they were and are in the bustling cities of Pakistan. It is fact that three top leaders of terrorists groups Bin Laden, Mulla Omar and Mulla Mansoor plus numerous other top world terrorists were captured and killed in Pakistani cities.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Unfortunately during this month of Ramadan, Pakistan government trying to change reality by false argument of border management to provoke unnecessary fighting in Torkham area between Afghanistan and Pakistan in which several people were killed from both sides. If there is a problem in that area, they have to solve these problems through diplomatic channels not through armed fighting. If the argument is Afghanistan is weaker and Pakistani military is stronger and they can achieve their strategic goals by force, it is false hoping because Afghans are in war for decades with regular armies and defeated them badly. Afghans are in war and nothing will lose but Pakistan will lose a lot.

No doubt that people of Pakistan are also victims of wrong policies of their own government. A Peaceful Afghanistan is not threat to Pakistan and it will never be a threat to Pakistan but unstable Afghanistan will be a serious threat to Pakistan and the region. Using terrorists groups by Pakistan as strategic assets not helping any country except only few who benefit from war economy of drug trafficking, illegal mining, ransom and so on.

I believe it is in the interest of both countries to cooperate, solve their problems through diplomatic channels and Pakistan should not support terrorist groups and nor use them as strategic assets. It is known fact that Pakistan support and harboring terrorist groups and cannot change facts by diverting attention to unnecessary skirmishes in Torkham area by the name of border management. As long as Pakistan's talk to talk not matching walk to walk, Afghans and world community won't believe Pakistan argument and Pakistan will be isolated from the world community day by day.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورته مقاله د دوستانو خوښه شوې او په زياتو سايټونو کې بيا بيا خپره کړې وه. همدا شان عبيدالله امرخېل صاحب په پښتو ژباړلې وه نو ما هم د هغه ژباړه کټ مټ د يوې وړې مقدمې سره دلته رانقل کړه.

مننه د امرخېل صاحب نه چې زما انګرېزي ژبې ليکنه يې ترجمه کړې ده. په انګرېزي ژبه ما دا ليکنه ځکه کړې وه چې موږ افغانان خو ټول پوهېږو چې پاکستان څه کوي؛ خو بايد موږ په نړيواله کچه لابې وکړو او د خپلو حقه حقوقو نه دفاع وکړو. موږ هره ورځ قرباني ورکوو اما په نړيواله کچه موږ منظمه او هر اړخيزه دفاع د خپلو حقوقو نه نه ده کړې او نه موږ خپل حالات په سمه توګه نړيوالوته تشريح کړي دي. د پاليسيو تغيير يوازې په څو رسمي اعلاميو او د څو متخصصينو په مقالو نه کېږي بلکې منظم او منسجم کار ته په نړيواله توګه اړتيا ده. افغانان که په هر ملک کې اوسېږي بايد سره متحد شي او د هغو ملکونو له حکومتي او غير حکومتي ټولنو او ادارو سره تماس ونيسي او هغوی په واقعيتونو پوه کړي. د هېواد په داخل کې خو افغانان هره ورځ قرباني ورکوي خو د هېواد نه بهر هم افغانانو ته په کار ده چې د افغانستان د ګټو نه په ډېره ښه توګه دفاع وکړي. زموږ سفارتونه بايد فعال شي. پاکستانيان همدا کار کوي او د ټولو ناخوالو سره بيا هم په خپلو اعمالو د همدغه لابيو له لارې پرده اچوي. هيله ده چې زموږ متحده مبارزه چک واچوي او افغانستان د دايمي صلح په لورې قدم کېږدي. د هرافغان هلې ځلې په هېواد کې دننه او د هېواد نه بهر د ستايلو او د قدر وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړونکی: عبيدالله امرخېل ( ګوډ او ماته مې ژباړلې خو مفهوم ورڅخه اخيستل کېږي ان شاالله)
د تورخم د شخړې په اړه د شاه محمود مياخېل صاحب د انګريزې ليکنې ژباړه

**په تورخم کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ نښته: راځئ چې حقايق بيان کړو.**

ولسمشر غني د کلک هوډ سره په دوه ورستيو کلونو کې هر هغه ممکنه هڅه وکړه ترڅو د افغانستان پاکستان اړيکي بهتر شي، ان دا چې خپل باور يې په افغانستان کې دننه ترسوال لاندې راوستلو او په دې خبره ملامت وګڼل شو چې د افغانستان پاکستان د اړيکو په ښوالي کې له حده ډېر ورانډې تللی دی، خو له بده مرغه پاکستان د دې کار په بدل کې د ترهګرو ملاتړ لاپسې ډېر کړ ترڅو افغانستان بې ثباته کړي او په زرهاو افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. کله چې يوڅوک بحث(خبرو) کې پاتې راشي بيا جګړې ته مخه کوي ترڅو ذهنيتونه له رښتينو ستونزو څخه بل لوري ته واړوي. د څو لسيزو راپه دې خوا افغانستان د ترهګرۍ قرباني دی او په لسهاو زرو افغانانو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی دی. که حقايق راوسپړو د ترهګرو مشران د افغانستان پاکستان په پوله کې نه وو ساتل شوي بلکې د ترهګرو مشران د پاکستان په لويوښارونو کې و او اوس هم په هم دې ښارونو کې ساتل کېږي. دا يو حقيقت دی چې د ترهګرو درې نامتو مشران اسامه بن لادن، ملا عمر، ملا منصور او ګڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر نور ترهګر د پاکستان په ښارونو کې نیول شوي او وژل شوي دي. له بده مرغه د دې روژې په میاشت کې د پاکستان حکومت زیار باسي ترڅو حقایق د پولې د مدیریت په نامه په یوه غیرحقیقي بحث او ټینګار بدل کړي ترڅو په تورخم کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ناغوښتل شوې جګړې ته لاره هواره کړي چې د دواړو غاړو د ګڼ شمېر کسانو د مرګ سبب شوه. که د تورخم په سیمه کې ستونزه وي، دا ستونزې باید دوی د ډیپلوماتیکو لارو حل کړي نه د جګړې له لارې. که بحث دا وي چې افغانستان ضعیفه دی او د پاکستان نظامي ځواک غښتلی دی او پاکستان به خپلې ستراتیژکې موخې ته د زور له لارې ورسېږي دا غلط سوچ او هیله ده ځکه افغانان دا څو لسیزې د منظمو پوځونو سره په جګړه بوخت دي او دې پوځونو ته یې ماته ورکړې ده، افغانان تیار په جګړه بوخت دي او هیڅ څه به له لاسه ورنه کړي خو پاکستان به ډېر څه له لاسه ورکړي.

شک نه شته چې د پاکستان ولس هم د خپل دولت د غلطو پالیسیو قرباني دی، سولیزه افغانستان پاکستان ته ګواښ نه دی او په راتلونکي کې به هم ګواښ نه وي خو بې ثباته افغانستان به هم پاکستان او هم سیمې ته ګواښ وي. د پاکستان له خوا د ترهګریزو ډلو څخه د یوې ستراتیژیکې شتمنۍ په توګه کار اخیستل به هیڅ هېواد ته ګټه ونه کړي یوازې د مخدره توکو قاچاق، غیرقانوني معادن کیندنه او د پیسو په وړاندې د سړي تښتونې له جګړېز اقتصاد څخه به کم شمېر خلک ګټه پورته کړي. زه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي باوري یم چې دوه اړخيزه همکاري د دواړو هېوادونو په ګټه ده. خپلې ستونزې دې د ډيپلوماتيکو لارو حل کړي، پاکستان بايد د ترهګرو ډلو ملاتړی نه شي او د يوې ستراتيژيکي شتنمی په توګه يي ونه کاروي. دا يو منل شوی حقيقت دی چې پاکستان ترهګرو ډلو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړی دی. د پاکستان حکومت په تورخم کې د پولې د مديريت په نامه په پوله کې اخ و ډب ته په پام وراړولو حقيقت نه شي بدلولی. ترڅو چې د پاکستان خبرې او عمل سره ورته نه شي افغانان او نړيواله ټولنه به د دوی په خبرو باور ونه کړي او ورځ تر بلې به پاکستان د نړيوالې ټولنې څخه منزوي او کونج ته شي.

http://www.pajhwok.com/en/opinions/torkham-clashes-lets-put-facts-right-context

http://www.dawatmedia.com/clashes-between-afghanistan-and-pakistan-in-torkham-by-shahmahmood-miakhel/

http://www.afghansabawoon.com/%D٩٪BE%D٩٪٨٧-%D٨٪AA%D٩٪٨٨٪D٨٪B١٪D٨٪AE%D٩٪٨٥-%DA%A٩٪DB٪٩٠-%D٨٪AF-%D٨٪A٧٪D٩٪٨١٪D٨٪BA%D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٨٪B٣٪D٨٪AA%D٨٪A٧٪D٩٪٨٦-%D٨٪A٧٪D٩٪٨٨-%D٩٪BE%D٨٪A٧٪DA%A٩٪D٨٪B٣٪D٨٪AA%D٨٪A٧٪D٩٪٨٦-%D٨٪AA%D٨٪B١٪D٩٪٨٥٪D٩٪٨٦/

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان په حالاتو نه لايق پوهېږي او نه نالايقه:**

۱۷ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

ډاکټر صاحب سيد قاهر عاطف راته ويل چې د سليمان لايق نه چا په خپل وخت کې (چې وزير و) پوښتنه کړې وه چې لايق صاحب! دا حالات په کومه خوا روان دي؟

سليمان لايق ورته ويلي و چې وروره! په حالاتو نه لايق پوهېږي چې کومه خوا روان دي او نه پرې نالايقه پوهېږي چې کومه خوا روان دي.

**ستاسې څه فيلنګ دی؟**

له مانه پوښتنه وشوه چې زما فيلنګ څه دی؟

زما فيلنګ دا دی چې په يو چا پور و او پور يې نه ورکاوه او پور ورکوونکی يې ډېر ستړی کړی و. پوروړي ته يې ويلي وو چې نيمايي پيسي به درته پرېږدم خو دا نيمايي نورې پيسي راکړه. پوروړي ورته ويلي وو چې ډېره ښه ده د پنجشنبې په ورځ راشه او دا نيمايي پيسې به درکړم. پور ورکوونکی خوشاله شوی و چې نيمايي پيسې خو بود شوې. د بلې پنجشنبې په ورځ چې پوروړی پسې ورغلی و نو پوروړي ورته بيا پور نه و برابر کړی نو پور ورکوونکی ورته ډېر سخت په غصه شوی و. پوروړي ورته ويلي وو چې وروره دومره غصه کېږه مه، هغه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمايي پيسي چې دې ځنګه خلاصې شوې همداسې به دې دا نورې پيسې هم خدای خلاصي کړي.

زما فيلنګ دا دی چې دا نظام سقوط نه کوي خو دا وروسته دوه درې کاله وخت د حکومت به هم خدای همداسې تېر کړي چې ځنګه دا دوه کلونه تېر شول. يو څه ښه والی به راشي خو زموږ د توقعاتو په اندازه به نه وي. ښه به دا وي چې لږ خپل توقعات راټيټ کړو، يو څه ګوزاره وکړو او يو څه هم حکومت بايد لږ ځان وخوځوي چې حکومتداري ښه شي نو فکر کوم چې د ټولو به سره ګوزاره وشي.

**د پلار د ورځې په یاد:**

۱۹ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

د انسان د مرګ نه وروسته درې شيان د يو چا په قبر کې په درد خوري:

۱ .صدقه جاريه

۲ .نېک عمل

۳ .صالح اولاد

زما خدای بخښلی پلارجان (سيد محمود حسرت) چې هم زما استاد و، هم مې انډيوال او لارښود و نو زما په اند دا پورته صفات يې درلودل. صدقه جاريه، پاکۍ او نېک عمل کې يې شک نه لرم او تر يوه حده اولادونه يې هم نېک عمله دي. هغه دوستانو چې زما پلار جان د نږدې نه پېژانده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید د دې خبرې تائید له ماسره وکړي چې زما پلار جان نهایت سخي، صله رحم، صادق، پوه، مدبر او انډیوال شخصیت و. د مشرانو سره مشر، د عوامو سره عوام او د کشرانو سره کشر و.

د روژې مبارکې میاشت کې د پلار د ورځې په یاد، خپل پلارجان او د ټولو هغه دوستانو د پلرونو روح ته چې له موږ سره نه دي دعا کوم او ټولو ته د الله تعالی له درباره برین جنتونه غواړم. د هغو دوستانو چې مور او پلار ژوندي دي باید د خپلو میندو او پلرونو ډېر قدر او خدمت وکړي ځکه د مور او پلار تشه هغه وخت انسان ته معلومېږي چې د دوی له دعاګانو نه محروم شي.

دا څو عکسونه د خپل پلار هم د دوستانو سره شریکوم. لومړی عکس ۱۳۵۸ کال چې مهاجر شولو.




دویم عکس د خپلو یو شمېر زامنو سره د کچه ګړۍ د مهاجرینو په کمپ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library






دريیم عکس کې زه او پلارجان مې؛



او په څلورم عکس کې پلار جان مې د مطالعې په حال کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د دفاع نوي وزير صاحب ته!**

۲۰ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

دا چې جنرال صاحب عبدالله خان د دفاع وزير شو نو دا لاندې جملې اوس ليکم چې دی خپلو تېرو اشتباګانو ته متوجه شي او د کونړو حقوق تر پښو لاندې نه کړي.

اول: وزير صاحب ما په تېرو پنځلس کلونو کې د هيڅ يو کونړی په مړي او ژوندي کې نه دی ليدلی. نه پوهېږم چې چا به نه غوښته او يا ده نه غوښتل چې له خړو کونړو سره مړی ژوندی وکړي.

دويم: ما ته د افغانستان ټولې سيمې يو شان ښکاري خو د هرې سيمې او خلکو حقوق بايد يو شان او په متناسبه توګه خوندي وي. په لس ګونو کونړو چې د دفاع په وزارت کې کار کوي ما ته يې ويلي دي چې د دفاع موجوده وزير صاحب ورسره دا نه چې مرسته نه ده کړې بلکې د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقه حقوق یې نه دي ورکړي چې د ده د همدې برخورد له امله ډېرو کونړو خپل ژوند د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د لاسه ورکړی دی.

دربیم: په هر حال څه چې تېر شوي د هغه جبران نه کېږي خو دا دې په دې پوه شي چې که اوس د کونړو سره د مور مېرې سلوک وکړي نو کونړي به د دې په مقابل کې کلک مقاومت وکړي. هیله ده چې د تېرو نیمګړتیاو جبران وکړي.

**لیکل زما قضاوت ستاسې:**

۲۱ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

یو ورور راته لیکلي وو چې تا هم په لویه څوکۍ کار کړی نو تا د کونړو لپاره څه کړي دي، د نوموړي دا پوښتنه او نیوکه ډېره په ځای نیوکه ده. دا بحثونه ځکه په کار دي چې د کونړو په اصطلاح هم د زړه ګونډۍ زموږ ووځي او هم موږ باید د سالم او منطقي انتقاد د منلو، اورېدلو او دفاع کلتور په خپل ځانونو کې پیدا کړو. زه همېشه خوشالېږم چې ما ته که مشران وي او که کشران زما نیمګړتیاوې په ګوته کړي او هغه اصلاح کړم. پرون چې ما د ملي دفاع په نوي وزیر صاحب کوم انتقاد وکړ هغه زما شخصي مسئله نه وه او که چاپلوسي مې کولی نو باید صفت مې ورته کړی وی ځکه اوس یې خو رایې واخیستلې او برحاله وزیر د دفاع دی. شاید که زما لیکنه یې لیدلې وي د مانه به خفه شوی هم وي او که خفه نه وي نو لا اقل ګیله خو به ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه څوارلس کاله د مخه د يوه کال لپاره د کورنيو چارو د وزارت سلاکار او د يوه کال لپاره د کورنيو چارو د وزارت معين وم. دا چې موږ په هغه وخت کې د ملک په سطحه څه کړي دي، زما په کتاب کې ؛ د کورنيو چارو وزارت: لاسته راوړنې او ځنډونه؛ نومېږي او تقريباً څلور سوه صفحې دی، لوستلی شئ چې زياته برخه يې د روهي په ويبپاڼه کې هم نشر شوې ده. هغه وخت نه امکانات وو، نه د ملي پوليسو درک و، نه د محلي ادارو سيستم سم و او تقريباً ملک الطوايفي وه چې د اوس نه حالات هم ډېر خراب وو.

راغلو مشخص د کونړ په سطحه ما څه کړي يو څو عمده مستنده بېلګې صرف د کونړو د معلومات لپاره وړاندې کوم او دا د دې معنی نه لري چې زه د ځان صفايي کوم. يو وخت راته په کونړ کې يو چا وويل چې ته ولې د خپلو کارونو په اړه تبليغ نه کوې؟ نو ما ورته وويل چې زه چې څه کوم هغه زما وجيبه ده او په چا احسان نه کوم او نه بېرته کومه طمعه لرم او نه وکالت ته کانديد يم چې د خلکو نه د رايو اخيستلو لپاره د ځان لپاره تبليغ وکړم.

۱. د ببړنۍ لويې جرګې په وخت کې کونړ نا امنه ولايت ښودل شوی ځکه په پشد کې څو کسه مشران شهيدان شوي وو نو ملګرو ملتونو غوښتل چې په کونړ کې ټاکنې وشي او غوښتل يې چې په ننګرهار کې د کونړ ځخه څوک دوی په انتصابي شکل باندې وټاکي خو موږ د ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملتونو اداره مجبوره کړه چې کونړ ټولو ولسواليو ته لاړ شي او هلته ټاکنې وکړي ترڅو کونړي په خپله خوښه استازي وټاکي. (تفصيل يې زما په کتاب کې؛ بېړنۍ لويه جرگه او په مشرقي ولاياتو کې د ټاکنو بهير؛ کې لوستلی شئ.

۲. کله چې زه د کورنيو چارو وزارت سلاکار شوم نو سيد فضل اکبر پاچاصاحب د کونړ والي و؛ نو ما ورته وويل چې په کونړ کې ستونزې زياتې دي نو ته بايد جدي اجراآت وکړې. هغه راته وويل چې قوماندان د امنيه او د ولايت مرستيال زما په خوله کار نه کوي؛ نو ترڅو چې دوی موجود وي زه کار نه شم کولی. ما ورته وويل چې ته راته ووايه چې څوک مقرر کړو. هغه راته وويل چې حاجي صاحب روزي راته د مرستيال په توگه او قوماندان صاحب مطيع الله خان راته د امنيه قوماندان په توگه تعين کړه، نور به کارونه سم شي. دړېواړه ژوندي دي او ما همدا کار وکړ.

۳. بيا هم د کونړ حالت سم نه و او هرڅا کوشش کاوه چې د خپلې خوښې والي هلته ولېږي ځکه د لرگيو مافيا قوي وه؛ نو ما اسدالله وفا چې په پکتيا کې يې ښه کار کړی و، په دې قانع کړ چې کونړ ته د والي په توگه لاړ شي. فکر کوم چې زما دا انتخاب د کونړ په گټه و او د کونړ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایت او ښار رونق چې یوڅه جوړ شو په هغه وخت کې د هغه هلې ځلې وې. وفا صاحب ژوندی دی او پوښتنه ترې کولی شئ.

٤. هغه وخت PRT هم د کورنیو چارو د وزارت پورې تړلی و او ریاست یې ما کاوه نو د کونړ لپاره مو مستقل PRT منظور کړ ځکه د جلال آباد نه یې سم کار نه شو کولی. که وروسته په کونړ کې څه شوي د همدې PRT برکت و.

٥. د کونړ شپږ ولسوالیو د تعمیرونو جوړونه مې د ملي تحکیم د ثبات په پروګرام کې ونیوله چې د نورګل، خاص کونړ، څوکۍ، نرنګ، چپې درې او دانګام ولسوالۍ په کې شاملې وې. د نورګل ولسوالي د جوړونې ډېره ما په خپله کېښوده. حاجي صاحب روزي ته پته ده او ژوندی دی.

٦. د غازي آباد ولسوالۍ په جوړښت د کونړو او د نورستانو ورونو ستونزه وه، ځکه غازي خان د څونک نورستانی و او هغوی غوښتل چې دا ولسوالۍ په نورستان ولایت پورې وتړل شي اما د جغرافیوي موقعیت له امله او هم د مطلق اکثریت د ولس له نقطه نظره دا کار امکان نه درلوده. دا چې شخړه پرې زیاته نه شي نو کابینې فیصله وکړه که دوی پرې نه جوړېږي نو دا ولسوالۍ دې منحل شي خو ما دا کار ونه کړ او بېرته مو فیصله وکړه چې د ولسوالۍ منحل کول سم نه دي او دا به د محمد غازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپان د نوم سره جفا وي. دا چې اکثریت پښتانه دي نو ولسوالۍ دې په کونړ ولایت پورې وتړل شي. حتی د غازي خان زوی هم له ما نه خفه شو چې دا ولسوالۍ دې ولې په نورستان پورې ونه تړله؛ نو ما ورته وویل چې د منحل کېدو نه دا ښه ده چې دا ولسوالۍ ستا د پلار په نوم پاتې شي. اوس هم د ما نه مانیجن دی. د کونړ پخوانی والي جلاله خان د دې شاهد دی.

۷. د همدغه کال د خپل معینیت بودجه مې چې دمېلمستیاو او نورو مصارفاتو لپاره چې تقریباً دوه ویشت لکه افغانۍ وې، هغه د کونړ ولایت د موجوده تالار جوړولو لپاره ولېږلې او د وفا صاحب په وخت کې د سیدجمال الدین تالار جوړ شو.

۸. د خاص کونړ مکاتب مې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۳م کال کې فعال کړل او بیا مې وروسته ورته د کورنیو چارو وزارت د تحکیم ثبات د پروګرام نه د منګوال د لېسي تعمیر جوړ کړ چې په کونړ کې نمونه یي لېسه ده.

۹. په لس ګونو کونړي ما په دندو ګمارلي دي او که لست مو په کار وي چې هم درته برابرولی یې شم. دا څه چې ما کړي د قانون په چوکاټ کې مې کړي دي او د هیچا حق مې نه دی خوړلی. زما د معینیت دروازه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو په مخ بېرته وه. البته که کوم کونړي غیرقانوني غوښتنه درلوده هغه مې نه ده کړې شاید یو څو کسه خفه هم وي.

۱۰. د ټولو نه ماته مهمه دا ده که کار مې لږ کړی او یا ډېر خو دا په جرأت سره ویلی شم او د کورنیو چارو وزارت د منسوبینو نه پوښتنه کولی شئ چې نه مې یوه روپۍ رشوت خوړلی، نه مې نور کوم خیانت کړی او نه مې د دولت مال خوړلی او نه مې غصب د ځکمې چېرته کړی دی. حتی د افغانستان په هیڅ یو ښار کې چې ټولې ښاروالۍ زما د معینیت لاندې وې، یوه نمره ځکمه د ځان یا د کورنیو د نورو غړو په نومونو نه ده اخیستلې. دا زما د ژوند پرنسیپ دی او د ټولو هغه دوستانو نه پوښتنه کولی شي چې له ما سره یې په تېرو ۳۸ کلونو کې په مختلفو ادارو کې کار کړی دی.

۱۱. په شخصي لحاظ مې چې څه کړي هغه زما د معاش څخه دي او د خدای فضل دی چې همېشه زما معاش زما د ضرورت نه زیات و او کم نه و. که د چا توقع زیاته وي شاید خفه شوی به وي چې ولې ورسره ما مرسته نه ده کړې ځکه زه نه تجار یم او نه کوم بل عاید لرم او د خپلې شړۍ سره مې پښې غځولې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. په فرهنګي ساحه کې مې هم تر خپله وسه کار کړی او د کونړ په نوم یو کتاب مې چاپ ته تیار دی شاید زما په اند د کونړ لپاره خاص فرهنګي ارزښت ولري. اوه جلده نور کتابونه مې هم لیکلي او په خاص کونړ کې مې یو فرهنګي مرکز هم په خپلو شخصي پیسو او ځمکه کې جوړ کړی دی، چې د ولس او ځوانانو په خدمت کې دی. په درنښت

**ژبه:**

۲۳ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

ژبه بې هډوکي یوه ټوټه غوښه ده چې په اسانۍ سره په خوله کې اوړي راواړي. ژبه هم خبرې کوي او هم مزې څکي.

ژبه کله د ترخو مزه څکې، کله د خوږو، کله ورته مزه پیکه ښکاري او کله ترشنه.

خفه کېږئ مه، دا د ژبې فزیکي خواص دي چې فکر سره تړاو نه لري. څه چې خولې ته وراچوئ د هماغه خوراک مزه درته ژبه معلوموي، نو په دې توګه د ژبې د ویلو او مزې څکلو نه ګیله مه کوئ ځکه چې زموږ ژبه زموږ د فکر سره تړاو نه لري.

که ژبه همېشه د فکر سره مستقیمه او دايمي رابطه وساتي نو ژبه به یا ګونګه شي او یا به پرې شي ځکه چې بیا به ژبه د فکر تابع وي نه د مزو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکلو. کله چې ژبه د فکر تابع شوه نو بيا د ژبې ژبه باندې اعتماد کېدلی شي او په هغه صورت کې به موږ متعهده، وفاداره، او ثابته ژبه ولرو.

**د افغاني تحليگرانو په ياد:**

۲۴ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

زما په اند د اروپا د اتحاديې نه د انگلستان د وتلو په پرېکړه کې به هم د انگرېزانو لاس وي:) څه پوه شوئ!

دا خو به د افغانستان په اړه کومه دسيسه نه وي؟

وروه! غم خوده بخور که لاغر نه شوی.

ستا يې د اورپا په اتحاديه کې څه کار دی ته د چا په ياد هم نه يې.

هسې ځان درته ډېر مهم مهم ښکاري.

دا ځينې افغاني تحليگران د ټلوېزيونونو خو داسې دي ته به وايې چې په بکنگهم، کرملين او سپينه ماڼۍ کې ناست دي او د دنيا سياست د دوی په لاس کې دی. د دوی نه مشورې اخيستل کېږي او دوی هغوی ته مشورې ورکوي.

يو نيم خو وايي چې امريکا، انگلستان، جرمني، پاکستان، ايران، روسيه او دا نور بايد داسې وکړي او هغسې وکړي ته به وايې چې هرڅه د دوی په قومانده کې دي.

خفه کېږئ مه ستاسې په خولو پياز هم څوک نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داعش تقبيح کول:**

۲۵ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

پرون د داعش ډلې د ننګرهار د کوټ په ولسوالۍ کې بېګناه ماشومان، ښځې او نرينه شهيدان کړل او د دوی کورونه يې وسېځل چې د روژې په مبارکې مياشت کې ډېره دردوونکې پېښه وه.

د دې داعشيانو قوارې او د ځناور په شان د سر او قيافې ناولي مخونه خو وحشيانو ته ورته ښکاري. خپله ظاهري بڼه نه جوړول په مناسبه توګه د دوی په اعمالو او وحشي کړنو تاثير لري. دا چې د دوی ظاهري قوارې د عادي افغانانو سره تو پير لري همداسې د دوی وحشي اعمال هم د عامو افغانانو او مسلمانانو سره توپير لري.

**خاصه کونړۍ اصطلاح:**

۲۵ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

د روژې مياشتې د ورې اندې نن پوره شو سبا به په سرباری پيل وکړو.

دا اصطلاح څو لسيزې وړاندې په کونړ کې استعمالېده. يعنې شل روژې نن پوره شوې سبا ته به په اخري لسو پيل وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوستانو د دولتي چارواکو تغيير او تبديل ته ډېر مه خوشاله کېږئ!**

۲۶ جون ۲۰۲۶م کال، کابل

د محلي ادارو د چارواکو يوه لويه ستونزه د مسووليتونو او صلاحيتونو ترمنځ عدم توازن دی. د اشخاصو رول هغه وخت مهم دی چې د مسووليتونو په تناسب صلاحيتونه هم ورکړل شي. دا چې د يو چارواکي مسووليت د شانزده بيست ټرک نه شي وړلی او صلاحيت يې د رکشا د ډرېور په اندازه وي نو سمه نه ده. زما په اند په ډېرو مواردو کې محلي چارواکي مسوول نه دي.

يوولس کاله مخکې کله چې ما د کورنيو چارو د وزارت د معينيت نه استعفا ورکوله نو په خپلو مصاحبو کې مې وويل چې که د موټر انجن خراب وي، ډرېوران يې که لس ځله تبديل او راتبديل کړي دا موټر چېرته نه ځي. اوس هماغه خبره بيا تکراروم چې د اشخاصو تغيير او تبديل ته ډېر مه خوشالېږئ ترڅو چې د محلي ادارو په مديريت باندې اساسي فکر ونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د پخواني او اوسني خاص استازي سره

د جون ۲۶مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل



تېر ماښام مو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي له خاص استازي Nicholas Haysomسره خدای په اماني وکړه. ښاغلي هيسم په افغانستان کې څلور کاله تېر کړل او دی د نړۍ په کچه د مهمو حقوق دانانو له ډلې نه و چې په جنوبي افريقا کې د پخواني جمهور رئيس نيلسن منډيلا د حقوقي ډلې مشر او د جنوبي افريقا د اساسي قانون د مسودې د ليکلو د کمېسيون غړی و چې د جنوبي افريقا ډېموکراتيک انتقال ته يې لاره هواره کړه. د هيسم په عوض Tadamichi Yamamotoچې مخکې د هيسم مرستيال و او پخوانی جاپانی ډيپلومات دی، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د خاص استازي په توګه ټاکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جنګ عدم موجوديت د سولې معنی نه لري؛ د کامې ولسوالۍ ته جدي پاملرنه په کار ده:**

د جون ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

د جنګ او سولې په بحثونو کې وايي چې د جنګ عدم موجوديت د سولې معنی نه لري تر څو چې د جنګ عوامل له منځه وړل شوي نه وي. کېدای شي چې حاکمه طبقه په دې توانېدلې وي چې مخالفين وټکوي او هغه له منځه يوسي خو د جنګ عوامل لا شته او دا داسې حالت دی لکه سکروټه چې په خوړلن يا ايرو کې پرته وي چې هر وخت د اور اخيستلو امکان يې شته دی.

نو په دې اساس يو کاموال دوست راته وويل چې په کامه کې داعشي او طالباني تروريست پيريان شته دي خو چا ته څه نه وايي ځکه دوی د کامې ولسوالۍ ته خپلې کډې انتقال کړي دي او غواړي چې د مشرقي فعاليتونه د هغه ځای نه رهبري کړي. فکر کوم چې زياتره د کامې مهم سياستوال په دې اړه معلومات لري خو دوی هم پرې سترګې پټوي او حکومت هم فکر کوي چې هغوی جنګ نه کوي نو د دوی ورسره څه کار.

اما د دوی د رهبرۍ ځاله او کورنۍ په کامه کې دي او په همدې توګه دوی داسې لوبه روانه کړې چې په کامه کې محلي پوليس هم بايد جوړ نه شي ځکه که محلي پوليس جوړ شي؛ نو بيا د دوی فعاليتونه هم رسوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. فکر کوم چې کامې ته جدي توجه په کار ده. زموږ ویل وو نور د حکومت او کامې د معززینو خوښه چې غوږ پرې ګروي که نه.

## د صحرايي محکمو غندل:

۲۸ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

صحرايي محکمې، په موټرو پسې بندیان کش کول، د سر غوڅونه، د ولس نه عشر ټولول، د علني قانون ماتوونکو په وړاندې چوپتیا او دې ته ورته نور غیرقانوني حرکتونه داسې تهدیدات دي چې نظام د جدي ستونزو سره مخامخوي.

داعشي، د القاعدې اړوند، پاکستاني، منطقوي او طالباني تروریستان نه شي کولی چې دا حکومت د جدي تهدید سره مخامخ کړي خو د پورته ناخوالو او خودسریو په وړاندې چوپتیا او نه مخ نیوی يې نظام د شدید تهدید سره مخامخ کوي. هیله ده چې د حکومت مشرتابه پورته ستونزو ته جدي پاملرنه وکړي.

## د خولې لپاره حجاب په کار دی:

۲۹ جون ۲۰۱۶م کال،کابل

نن مې دا لاندې پوست ولیکه:

نن مې یو ځای کې مجلس درلوده او د افغانستان په مسایلو مو یو مهم تحلیلي بحث وکړ. د مجلس نه وروسته یو پوست مې دوه ځلې ولیکه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته مې پاک کړ نو د ځان سره مې وويل چې شيخ فريده چوپه خوله دې بهتري ده.

ويره نه وه خو ليکل يې راته د افغانستان په گټه نه معلومېده.

بعضې وخت موږ ټولو ته په کار دي چې خپل احساسات د ملي مسايلو په اړوند کنټرول کړو او هر څه بايد ونه وايو او نه يې وليکو. د احساساتو کنټرول د دې نه مهم دی چې گوندې سړی د احساساتو بيان وکړي ځکه په انگليسي ژبه کې يو متل دی چې وايي Talking is cheap يعنې خبرې کول ارزانه او اسانه دي خو عمل سخت دی.

**نعيم شينواري کاموال راته وليکل:**

ښه نظر دی مياخېل صاحب تاسې په خپله مهرباني وکړه چې دوه ځلې مې پوست وليکه او بېرته مې پاک کړ، ستاسې سياسي درک او پوهه ډېره لوړه ده خو دلته د ځينو مسايلو پټ پاتې کېدل هم د ملي گټو په زيان دي. حکومت د ملت د مشکلاتو د حل او د يو عادلانه نظام د جوړېدو اراده نه لري نو ملت خو د حکومت د دې ناوړه او ځان محوره منفي حرکاتو څخه خبرول په کار دي که څنگه؟

**ما يې په ځواب کې وليکل:**

کاموال صاحب! ملت اوس د ډېرو شيانو نه خبر دی خو په دوه دلايلو څه نه شي کولی. اول تر اوسه موږ ته شخصي گټې په ملي گټو اولويت لري او فکر کوو که شخصي گټه نه وي نو د ملي گټو موږ ته څه خير نشته دی. حال دا چې که موږ ملي گټو ته لړه په شخصي گټو ترجيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړو نو بيا زموږ شخصي ګټې او هم ملي ګټې به دواړه خوندي وي. يعنې شخصي ګټې زموږ په ملي ګټو پورې تړلي دي. دويمه مسئله دا ده چې موږ د خپل کلتور د منفي اغېز لاندې يو او نه شو کولی چې سياسي حرکت جوړ کړو او په اورګنيزشن عقيده نه لرو.

**کاموال صاحب بيا وليکل:**

مياخېل صاحب! ستاسې نظر د قدر وړ دی خو که ستاسې د خبرو په تاييد ملت د هر څه نه خبر وي بيا به ملت د اورګنيزشن او په چوکاټ کې راتلو ته هم اماده وي زما او ستا په همدې وروسته پاتې ټولنه کې ملي ګوندونه، سياسي او حتی د ضرورت په وخت کې وسلوال حرکتونه راټوکېدلي دي هغه هم په هغه وختونو کې چې سياسي درک د اوس په پرتله ډېر کم او د نشت برابر و اوس خو د الله فضل دی خلک بيداره دي د ملي ګټو او شخصي ګټو په تعريف هم پوهېږي او په يو فورم کې د راتلو وړتيا او امادګي هم لري خو ځينې خبرې داسې وي چې په ښکاره کولو سره يې عامه پوهاوی وشي البته د شخصي ګټو موضوع به د ملت يا د ملت د سياسي او مخورو او اصيلو بچيو د احساسه ډېره ټيټه او وړه وي.

**ما ورته بيا په ځواب کې وليکل:**

کاموال صاحب! دا اوږد بحث دی خو پخواني ګوندونه د ملي منافعو په بنياد نه و جوړشوي بلکې د هغو اډيالوژيو په بنياد وو، چې د بهر نه يې الهام اخيسته او هغه زموږ لپاره ناکامه تجربه وه. موږ ته يوازينۍ لار اوس د حکومت فعاله رول دی چې بيا په مرور د زمان سره د ملي احزابو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشد ته د دوامداره او د خپل وخت ټاکنو په لړ کې لاره هواره شي. سمدلاسه موږ بله عاجله نسخه نه لرو خو دا چې حکومت څنګه مؤثر شي دا هم د حکومت په مشرتابه پورې اړه لري. که مسئله داسې مطرح کړو که خدای ناخواسته په دې نظام فشار دومره زیات شي چې بیا سقوط وکړي، متبادل به یې څه وي؟ بیا طالب یا داعش. دا هم اپشن نه دی نو په دې توګه د دې نظام د تقویې نه بله لار نه لرو چې خپله موده پوره کړي.

**کاموال صاحب په اخر ځل ولیکل:**

ستاسې د نظرونو ډېر څه زده کوو میاخېل صاحب تاسې خو وخت هم نه لرئ خو زما د سوالو او جواب هدف هم همدا وي چې ستاسې څخه څه زده کړو، خو یوه خبره بله د خوشالۍ ده چې نه ملت پخوانی دی او نه پخوانۍ او فرسوده تګلارې او حرکتونه مني د نویو ملي او افغان شموله حرکتونو په تمه یو.

**طارق یوسفزي لیکلی وو:**

میاخېل صاحب! د اخرنۍ جملاتو په جواب کې چې دې څه لیکلي دي ورسره مخالف یم دا ځکه کله چې د کرزي په حکومت نیوکې زیاتې شوې نو د ارګ لاس پوځو به ویل چې متبادل شخص او حکومت نشته دا دروغ ثابت شو او نوی د ملي وحدت حکومت رامنځ ته شو. د دې حکومت نه توقعات زیات وو مګر داخلي کشمکشونو له امله حکومت بیا د ملت اعتماد له لاسه ورکړ نو خبره دا شوه چې متبادل شتون لري، مګر شرط یې دا دی چې د ملت ارادې ته احترام او رجوع وشي نه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي راشي او د انتخاباتو باوجود حکومت جوړ کړي. نور به ملت خپل ځان پېژندلی وي چې دا هر څه مصنوعي او لا پخوا تصميم نيول شوی دی که هغه حکومتداري، امنيت، صلحه، ځمکنۍ بشپړتيا او يا ديموکراتيکې پروسې دي.

**د طارق يوسفزي په ځواب کې ما وليکل:**

طارق صاحب! زما اخري جمله بيا ولوله چې دا حکومت بايد خپله دوره پوره کړي بيا چې د ټاکنو وخت راغی نو د قانوني پروسې د لارې بايد متبادل رامنځته شي. د کرزي متبادل هم د قانوني پروسې په نتيجه کې رامنځته شو. هغه کسان چې وايي د حکومت نه ناخوښه دي بايد د دې دورې تر پای پورې صبر وکړي او بيا مبارزه وکړي تر څو د ولس په منځ کې ځای پيدا کړي. د اوس نه څوک نه شي ويلی چې څوک به د دې حکومت متبادل وي.

**طارق يوسفزي بيا وليکل:**

مياخېل صاحب! د حکومتونو تاريخ دا ښودلې ده که د حد څخه زياته بې کفايتي هم رامنځته شي نو حکومت معزول گرځول کېږي او نوی انتخاب بايد را منځته شي. په هر صورت د غني حکومتدارۍ څخه ولس خوښ دی مگر تر څنگ شخص يې دومره وړ نه دی چې ملي بدلون او روحيې ته کار وکړي.

**نعيم شينواري کاموال صاحب زړه طاقت ونه کړ او بيا يې وليکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاخېل صاحب! زما په نظر دا حکومت کومه قانوني دوره نه لري یوازې د یو پروتوکول له مخې راغلی و، هغه هم په ځینو مراحلو مشروط چې دوه کاله وروسته به لویه جرګه راغواړي او بیا به دې دورې ته مشروعیت وربخښي. د کرزي دوره د دې دورې سره فرق لري، کرزی د انتخاباتود کمېسیون له خوا بریالی اعلان شو نو ځکه د قانون د مخې یې باید پنځه کاله پوره کړي وای چې البته د دوی کامیابي او ناکامي د تقلب او غلا سره مله وه.

**ما ورته بیا ولیکل:**

مننه کاموال صاحب! په دویمه دوره یعنې ۲۰۰۹م کال کې کرزی کامیاب اعلان نه شو ځکه په اوله دوره کې یې ۵۰ جمع یو ونه ګټل او ډاکتر صاحب عبدالله دویم دور کې ورسره انتخابات ونه کړل. په قانوني لحاظ باید د دویم دور ټاکنې شوې وې نو ځکه نیمچه کامیابه و یا په اصطلاح مشروطه کامیابي وه.

**عابد زاهد صاحب را ته ولیکل:**

سمه ده میا صاحب دا منم چې د افغانستان هر یو باشنده په مساوي ډول حقوق لري خو بعضې کسانو خپلو قوم یا قام ته ښه خدمت کړی او خپل اقربه یې ښه پوستونو ته رسولي او ښې دندې یې ورته ورکړي. ایا تاسو خپل خوار، مجبور ولس او قوم ته څه داسې څه کړي دي چې په لکونو قومیان مو اوس هم مهاجر دي؟ ایا تاسو کله په غیر له خپلې دندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور داسې د توجه وړ خدمت کړی؟ ایا تاسو د مهاجرو قومیانو لپاره کومه حکمت عملي لرئ او که نه.

**داسې ښکارېده چې زاهد صاحب په پاکستان کې او یا د ملک نه بهر اوسېږي او زما په اړه سم معلومات نه لري نو ما یې په ځواب کې ولیکل:**

عابد صاحب! زه خو کوم حکومتي چارواکی نه یم. اما کله مې چې په هره دنده او یا هره اداره کې کار کړی یو څو اصول مې ساتلي دي. د ملي منافعو نه مې همېشه دفاع کړې، نه مې خیانت کړی او نه مې د چا سره د فساد د جوال خوله نیولې ده. راغلو مشخص سوال ته؟ زه په دې عقیده یم که حاکمیت د قانون نه وي، حکومتداري ښه کېدای نه شي او چې حکومتداري ښه نه وي نو د هیچا حقوق خوندي نه پاتې کېږي. په دې اړه ما ډېرې لیکنې هم کړي دي.

**عابد صاحب بیا ولیکل:**

سمه ده میا صاحب! منم موږ ټول باید ملي ګټو ته ترجیح ورکړو نه شخصي خو نن هر چا د ملت پر ځای قوم ته اولویت ورکړی دی. که تاجک دی که هزاره که ازبک دی که ترکمن د خپل سهم نه څو چنده زیاته ونډه په هره برخه کې لري عامل یې قوم پرستي ده. زه له تاسو غوندې شخص نه سل کاله کې هم د خیانت طمع نه کوم او نه به یې وکړم تاسو زموږ ویاړ یې؛ خو قوم راباندې ډېر عزیز دی. الله دې د وطن او خپل قوم لپاره یو ښه امین او خدمتګاره شخص جوړ کړه.

**قاضي صاحب لودین لیکلي وو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترم ميا خيل صاحب! ستاسې هره ليکنه زموږ د پاره هم يو درس دی نو دا ليکنه دې هم موږ ته يو ښه درس را ښيي الله ج مو تل بريالي لره.

**ارشاد حسين اسير راته ليکلي وو:**

مياخېل صاحب: د بيان ازادي خو شته دا چې تاسې موضوع نه روښانه کوئ موږ به څنګه مبارزه وکړو. موږ خو مشرانو ته ګورو او په همغه نقش باندې قدم ږدو.

**ما ارشاد حسين ته چې زما د خورينو له جملې نه دی وليکل:**

ارشاد جانه! په همدې ليکنه کې هم خبره واضح ده چې زموږ ويل او عمل بايد د منطق، دليل، عقل او د فکر تابع وي نه د احساساتو.

**ډېرو دوستانو نورو هم ليکنې کړې وې خو ما يې يوازې دوه درې بحثونه دلته رانقل کړل او په اخره ما د احسان الله درمل په وال دا لاندې جملې وليدلې نو هغه مې هم دې دوستانو ته پوست کړې نو ځکه مې د دې بحث نوم هم د خولې لپاره حجاب په کار دی، کېښود:**

د ژبې او خولې لپاره هم يو حجاب په کار دی، مګر له پرونه دا حجاب هيڅا مراعات نه کړ. فسبوک يې د حجاب پر ننګه پر حمام بدل اړولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اغېړلي هرڅه په خپل ځان دي:**

جولای ۴مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

د ورور، کورنۍ، دوست او د بل هر چا مرسته همېشه محدوده وي. که توقع د دوی د توان نه اوچته وي، نو بیا هغوی هم ځانونه گوښه کوي او په اخر کې ټول ښه او بد تا ته پاتې کېږي. په دې اساس موږ باید داسې پېټي ته اوږه ورنه کړو چې نه يې په خپله اوچتولی شو او نه راسره د نورو د اوچتولو څه مرسته کېدلی شي.

انسان مخکې له دې چې کوم کار کوي او یا د ژوند کوم ستنېږد د ځان لپاره تعیینوي، باید گټه او تاوان او عواقب يې هم ښه وسنجوي او Risk Factor یا د تاوان فکتور باید د برداشت وړ وي. که د تاوان فکتور د زغم او تاوان وړ نه وي نو بیا انسان د ستونزو سره مخامخ کېږي.

په پښتو کې هم ښه متل دی چې وایي: اغېړلی په خپل ځان په خپله تش کېږي.

**موږ باید کور جوړ کړو نه ځانونو ته کوټنې:**

۵ جولای، کال ۲۰۱۶م، کابل

بعضې کسان د کور جوړولو په عوض ځانونو ته کوټنې جوړوي، د خپلو کوټنیو نه ځانونو ته په حکومت کې دننه او بهر موازې گروپونه جوړوي، کرایه شوي کسان پېري چې توصیفونه ورته وکړي که خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول دوی به یوه ورځ د افغانستان ولسمشر شي. زه وایم راځئ چې کور سره جوړ کړو بیا به د هرچا ځای معلوم وي. که کور جوړ نه وي، ځانونو ته کوټنۍ جوړول څه گټه نه لري.

د منجمنټ د علم له نظره موږ باید د پروگرامونو په چوکاټ کې پروژې تطبیق کړو نه دا چې پروژې بې له پروگرامه. په تېرو پنځلس کلونو کې ډېرې پروژې تطبیق شوې خو دا چې د پروگرامونو سره یې تړاو نه درلوده، د افغانستان ستونزې لا په خپل حال پاتې دي. د پروژو د پلي کولو نه یوازې محدود کسان گټه اخلي او د پروگرامونو د تطبیق نه ټول هېوادوال گټه اخیستلی شي.

**یوه لنډه جمله اوږد تحلیل ته اړتیا لري:**

۵ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

ډېر وایي چې مدرسې د ځانمرگو ځوانانو په اډو بدلې شوې دي.

سوال دا دی چې مدرسو ته ولې ځوانان جذبېږي؟

زما په اند لنډ ځواب دا دی چې مدرسو ته د ځوانانو په جذب کې عقیده وسیله ده نه هدف، ځکه فقر او عقیدوي جذبات د ځوانانو د جذب لپاره وسیله کېږي چې په مدرسو کې ځانونه شامل کړي. کله چې مدرسو ته ځوانان داخل شي او یا ورته عقیده وسیله شي نو بیا د تکفیري تروریستي ډلو مربیان د دوی د جذباتو نه گټه اخلي او عقیده ورته وسیله گرځوي ترڅو دا ځوانان ځانمرگو حملو ته چمتو کړي. د مدرسو د تنکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانانو مربیان په دې پوهېږي چې دوی د ځوانانو د مجبوریت او عقیدوي جذباتو نه سؤ استفاده کوي. د پاکو ځوانانو د مجبوریت او یا جذباتو نه سؤ استفاده لویه ګناه ده چې دوی هم د دې ځوانانو د قتل سبب ګرځي او هم د نورو مسلمانانو او بېګناه کسانو د وژلو لامل کېږي.

**د هویت بحران:**

د جولای ۷مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

کوشش مه کوئ چې ځانونه ډېر زیات مسلمان مسلمان، پښتون پښتون، افغان افغان، مجاهد مجاهد دیموکرات دیموکرات او داسې نور وښیئ ځکه افراطي حالت موږه، زموږه کورنۍ او هم زموږه ټولنه په اوږد مهال کې د ستونزو سره مخامخ کوي. دا د تېرو څلورو لسیزو زما او زما د کورنۍ د مهاجرت، امریکا، اروپا، استرالیا، عربي هېوادونو او هم په افغانستان کې د اوسېدلو پخه تجربه ده. د میانه روۍ حالت ښه دی.

هغه برخه زما د کورنۍ او خپلوانو چې تفریط کړی نن د ستونزو سره مخامخ دي او هغو چې د میانه روۍ حالت غوره کړی و د لږو ستونزو سره مخامخ دي.

په خاصه توګه هغه افغاني کورنۍ چې د هېواد نه بهر اوسېږي زیات کوشش کوي چې اولادونه یې زبردسته مسلمان وي، هم ښه افغان او ښه پښتون وي او هم ښه دیموکرات وي، خو بې له دې چې موږ خپل اولادونه په دې پوه کړو چې د ښه مسلمان، ښه افغان، ښه پښتون او ښه دیموکرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف څه دی؟ او نمونې یې څه دي. همدا شان ایا دا ټول تعریفونه په مورږ کې په خپله شته دي او که نه؟ چې مورږ خپلو اولادونو ته رول ماډل شو.

زما په اند اول خو شاید مورږ سم تعریف د ښه مسلمان، ښه افغان، ښه پښتون او ښه دیموکرات خپلو اولادونو ته ونه شو کړای او که ویې کړای شو نو بیا مورږ په خپله هغه اوصاف شاید په خپلو ځانونو کې ونه لرو چې خپلو اولادونو ته رول ماډل شو. په دې توګه مورږه او هم زمورږه اولادونه د هویت د بحران یا Identity Crisis سره مخامخ کېږي. د هویت بحران، چې مورږ څوک او په کومه عقیده یو؟ او څه ټولنیز ارزښتونه باید ولرو؟ ډېرې ستونزې په منځ او اوږد مهال کې کورنیو او ټولنې لپاره زېږوي.

په افغانستان کې او د هېواده نه بهر چې نن کومې زیاتې ستونزې مورږ ګورو، مهمه ستونزه یې د جنګونو او مهاجرتونو له وجهې د هویت بحران دی چې نن سبا ورسره په خاصه توګه زمورږ ځوانان مخامخ دي. د هویت بحران ستونزه یوازې تعلیم او یا مادي شتمنې نه شي حل کولای. ترڅو چې مورږ په خپلو کورنیو کې دا ستونزه په سمه توګه حل کړې نه وي، زمورږ هر حکومت او هم نړیواله ټولنه به د ستونزو سره مخامخ وي.

د پورته لیکنې په اړه ډېرو دوستانو ډېر نظرونه ورکړي وو خو غواړم چې یوازې د څو دوستانو نظریات دلته رانقل کړم:

په پاکستان د افغانستان سفیر او خاص استازي، ډاکټر حضرت عمر زاخیلوال صاحب راته په ایمیل کې لیکلي و چې زه ستا لیکنې د فیسبوک له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې په منظمه توګه لولم او ستا لیکنې د الفت صاحب د غوره نثرونو ته ورته دي او رښتیا وایم ستا لیکنې د وخت د حالاتو سره ډېرې برابرې دي نو که ته دا لیکنې د یو کتاب په شکل چاپ کړې او غوره ویناوې نوم پرې کېږدي نو ډېر به ښه وي.

ما د زاخېلوال صاحب د ایمیل په ځواب کې ولیکل چې که څه هم دا به ستونزمنه وي چې زما لیکنې دې د الفت صاحب د لیکنو سره پرتله شي خو دا چې تاسې د دولتي چوکۍ نه سربېره یو علمي او اکاډمیک شخصیت یاست نو ستاسې تشویق ما ته نوره هم حوصله راکوي چې خپلو لیکنو ته د فیسبوک له لارې دوام ورکړم. زما هڅه په لیکنو کې دا ده چې څنګه مغلق مسایل په ساده ژبه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم. که څه هم ما د فیسبوک د خپلو لکینو دوه ټوکه کتابونه د فیسبوک او دریېمي زاویې په نومونو چاپ کړي دي، نو دا دریېم ټوک به ستاسې د مشورې په اساس د غوره لیکنو په نوم چاپ کړم.

**انجینر صاحب سید فریدالله فرید لیکلي وو:**

میاخېل صاحب! د سلام او اختر مبارکۍ په ترڅ کې غواړم چې په دې اړه یو څه ورزیات کړم. د فزیک د حرکت د قانون په بنسټ د ښي او کیڼ افراطیونو مخه په پای کې یوې خوا ته اوړي. که ښي افراطي، ۱۸۰ درجې په ښي لاس دوره وخوري او کیڼ افراطي بیا په کیڼه خوا ۱۸۰ درجې څرخ وکړي نو د دواړو مخونه به په یو لوري وي. ډېر ځل داسې شوي چې د کیڼ افراطي سر د ښي افراطچي له ګرېوانه راوځي او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرعکس. سياسي تجربو ښوولې چې کله کله د دوارو لاسونه په گډ لستوڼي کې خپل پلانونه تنظيموي او د نورو په وړاندې خنډ جوړوي.

**په وارسا کې د افغانستان سره د ناټو هېوادونو د ملاتړ دوام په اړه لنډه تبصره:**

۹ جولای، کال ۲۰۱۶م، کابل

نړۍ او په خاصه توگه اروپايي هېوادونه نن سبا د ډېرو داخلي، سيمه ييزو او نړيوالو ستونزو سره مخامخ دي او د افغانستان سره د پوځي او يا غير پوځي مرستو د دوام په اړه د دې هېوادونو د ولس او سياسيونو ترمنځ ډېر متفاوت او حتی بدبينانه نظريات موجود دي. د ډېرو هېوادونو ولسونه او سياسيون په دې فکر دي چې افغانستان جگړه د دوی لپاره لومړيتوب نه لري او بايد د خپلو مرستو کچه ډېره زياته راټيټه کړي. د داسې ذهنيت سره سره چې د نړۍ مهم هېوادونه د افغانستان د جنگ او مرستو د دوام په اړه د Donor Fatigue يا د مرستندويه هېوادونو له خوا د مرستو په ستړيا يا ستومانتيا په ذهنيت اخته دي، دا د افغانستان لپاره لويه لاسته راوړنه ده چې ناټو هېوادونه او په خاصه توگه د ناټو د اروپايي هېوادونو غړي ملکونه دې د افغانستان سره خپل پوځي ماموريت او مرستو ته د يو اوږد مهال لپاره دوام ورکړي.

د ناټو دا نوی تعهد چې د ۲۰۲۰ م کال پورې به خپل پوځونه په افغانستان کې ساتي او هم د افغانستان د پوځ سره به د امريکا د مرستو په شمول خلور ميلياردە ډالره هر کال مرسته کوي، يوه لويه لاسته راوړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناټو هېوادونو پوځي او مالي مرستو دوام د افغانستان شرقي او غربي ګاونډويو هېوادونو ته او هم مسلحو تروريستي ډلو ته ډېر سخت تماميږي او فکر نه کوم چې دوی د يوې اوږدې مودې جنګ ته نور تياری ولري.

که تروريستي ډلې غواړي چې جنګ ته دوام ورکړي، په خاصه توګه پاکستان نور د دې توان شايد ونه لري چې د نړۍ په مقابل کې ودرېږي او د افغانستان د حکومت پرضد تروريستي ډلو ته کمک ورکړي. که فرص کړو چې پاکستان دې کار ته دوام ورکړي، پاکستان به نور هم په انزوا کې واقع شي او نړيوال به نور د دوی د دوه ګوني سياست په مقابل کې بې تفاوته پاتې نه شي او د دې سره به پاکستان د خپلو داخلي ستونزو سره هم مخامخ شي.

په داسې حال کې چې نړيوالې ټولنې د افغانستان سره د خپلو مرستو د دوام ژمنتيا، که څه هم مشروطې دي، د اوږد مهال لپاره وښودله نو د افغانستان د حکومت مشرتابه ته هم په کار ده چې د حکومتدارۍ په کړنلارې کې جدي بدلون راولي ترڅو د ملت حمايت ترلاسه کړي. که د ناټو مرستې مشروطي هم نه وي، يوازې نړيوالې مرستې نه شي کولی چې افغانستان ته د ملت د حمايت نه پرته دايمي سوله او امن راولي. د حکومت لپاره به دا ښه وي چې د حکومت د قدرت انحصار د مافيايي کړيو نه راوکاږي اوپه خپل ملت اعتماد وکړي.

زما په اند په تېرو پنځلسو کلونو کې د حکومت ستونزه همدا وه چې حکومت يوازې په سل دوه سوه کسو چې په مختلفو مافيايي کړيو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې تړاو درلوده، اعتماد کاوه او دوی ته يې سياسي، اقتصادي او امنيتي قدرت په لاس کې ورکړی و؛ خو په عوض يې ټول ملت ته شا کړې وه. ملت هم د حکومت نه په دې خفه و چې حکومت ولې دا مافيايي کړی هره ورځ نورې چاغوي او ملت پرې هره ورځ داړي. که حکومت په خپله تګ لاره کې ژر جدي بدلون هم راوسته، فکر کوم چې د افغانستان ملت د دې درک او پوهه لري چې د حکومت نه خپل پوره ملاتړ وکړي.

دا پورته ليکنه پژواک خبري آژانس هم نشر کړې ده:

http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D٩٪BE%D٩٪٨٧-%D٩٪٨٨٪D٨٪A٧٪D٨٪B١٪D٨٪B٣٪D٨٪A٧-%DA%A٩٪DB٪٩٠-%D٩٪٨٤٪D٩٪٨٧-%D٨٪A٧٪D٩٪٨١٪D٨٪BA%D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٨٪B٣٪D٨٪AA%D٨٪A٧٪D٩٪٨٦-%D٨٪B٣٪D٨٪B١٪D٩٪٨٧-%D٨٪AF-%D٩٪٨٦٪D٨٪A٧٪D٩٪BC%D٩٪٨٨-%D٨٪BA%DA٪٩٣٪D٩٪٨A%D٩٪٨٨-%D٩٪٨٧٪DB٪٩٠٪D٩٪٨٨٪D٨٪A٧٪D٨٪AF%D٩٪٨٨٪D٩٪٨٦٪D٩٪٨٨-%D٨٪AF-%D٩٪٨٥٪D٩٪٨٤٪D٨٪A٧٪D٨٪AA%DA٪٩٣-%D٨٪AF%D٩٪٨٨٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حکومت توصیف او یا په حکومت نیوکه گناه نه ده:**

**ستونزه چېرته ده؟ ولې موږ په اگاهانه او غیراگاهانه توگه د مخالفینو سره مرسته کوو**

۹ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

زه په دې خفه نه یم چې ولې څوک د حکومت کړنې ستایي او یا د حکومت په کارونو باندې نیوکې کوي. سیاسي ژوند کې د لوړپوړو چارواکو په کړنو او حتی شخصي ژوند باندې انتقاد روا کار دی. په سیاسي علومو کې لوړپوړو دولتي چارواکو او سیاسیونو ته Public Figure یا عامه څېرې وایي نو په عامه څېرو باندې نیوکې او یا د هغوی ملاتړ روا دی.

خفه په دې یم چې پوه کسان به وي خو صفت یا ملاتړ د حکومت به بېځایه او بې له دلایلو کوي. دا د حکومت دوستان چې د دکتاتوري رژیمونو په شان د حکومت هر ښه او خراب کار ته ښه وایي، دوی فکر کوي چې دا ولس ډېر بې عقله دی او هرڅه چې دوی وایي نو ولس به د دوی سره همنوا وي او یا به د دوی خبرې تاییدوي. دا ډول د حکومت دوستان که غواړي چې د حکومت د مشرانو لپاره نمبرې جوړې کړي او یا که دوی د حکومت له خوا د تبلیغاتو لپاره استخدام شوي هم وي او غواړي چې خپل معاش حلال کړي، بیا هم حکومت ته گټه نه شي رسولی بلکې د دوی دا ډول کورکورانه تبلیغات د حکومت په تاوان تمامېږي. ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه يې دا ده چې ځينو په فيسبوک کې دا اوازه خپره کړې چې د وارسا په کنفرانس کې ګوندې د کاناډا صدراعظم د جمهور رئيس غني لاسونه ښکل کړل. همدا شان د کمپاين په وخت کې د جمهور رئيس غني يو پلوي په کونړ کې په يوه غونډه کې وويل چې کله جمهور رئيس غني د جمهور رئيس کرزي سره يوځای د امريکا جمهور رئيس اوباما سره غونډه درلوده نو ډاکټر اشرف غني ورته د نړۍ ټول اقتصادي سياست په لس دقيقو کې تشريح کړ؛ نو جمهور رئيس اوباما د ډاکټر غني نه وغوښتل چې که دی د هغه سره کار وکړي نو ښه به وي؛ خو ډاکټر غني ورته وويل چې نه زه د تاسره کار نه کوم او په افغانستان کې کار کوم. دا داسې خبره وه چې د کونډې د زوی په فلم کې هغه مامور صاحب چې په ښار کې اوسېده، هره خبره به يې د کلي ځوانانو ته د ښاري ژوند په اړه کوله، نو هغوی به ورته هک پک ناست و او مامور صاحب به د کلي ټول کارونه په دې قصو باندې په ځوانانو مفته کول. اما اوس هغه وخت نه دی او د ولس د معلوماتو کچه ډېره لوړه ده او دا ډول بې محتوا او بې منطقه خبرې د حکومت لپاره څه ګټه نه لري.

همدا ډول هغه کسان چې د حکومت مخالف دي او په حکومت نيوکې هم بې له دليله او کورکورانه کوي په عوض د دې چې د دوی طرفداران اضافه شي، د دوی نيوکې حکومت ته ګټه رسوي چې ښه بېلګه يې په وارسا کنفرانس کې د جمهور رئيس غني او ډاکټر عبدالله د عکسونو خپرول وو، چې ګوندې ډاکټر عبدالله ولې د جمهور رئيس غني نه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان دی حال دا چې دا کومه خبره نه ده. په همدغه عکس کې د امریکا جمهور رئیس اوباما د جمهور رئیس غني نه وروسته روان و؛ نو د دې مطلب دا نه دی چې د امریکا جمهور رئیس د جمهور رئیس غني نه لږ مهم دی.

د حکومت په توصیف او یا په حکومت باندې په نیوکو کې کومه ستونزه نشته دی او نه دا کومه ګناه ده. دا د هر افغان حق دی چې د حکومت د کړنو ملاتړ وکړي او یا د حکومت په کړنو نیوکې وکړي. زما په اند ستونزه په دې کې ده چې د حکومت د ملاتړو او یا منتقدینو، توصیفونه او نیوکې کورکورانه، بې دلایلو او په واقعیتونو ولاړې نه دي. د دې سره د توصیف کوونکو او منتقدینو اعتبار یا Credibility په ټولنه کې ډېره راټیټېږي او دا دواړو خواو ته تاوان کوي. بې منطقه ملاتړ او مخالفت هم د حکومت اعتبار او هم د اپوزیسون اعتبار له منځه وړي. څومره چې حکومت بې اعتباره کېږي او هم که د متبادل اپوزیسون اعتبار د حکومت نه هم ټیټ وي نو په دې توګه لاره د افغانستان دښمنانو او مسلحو تروریستي ډلو ته هوارېږي او په دې توګه موږ په اګاهانه او یا غیراګاهانه توګه د مخالفینو سره مرسته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وارسا د کنفرانس د نظامي مرستو د ژمنو په اړه زموږ يو تعداد وطنداران خفه دي او وايي چې ولې نړيوالو زموږ امنيتي قواو سره د پوځي مرستو د دوام ژمنه وکړه او دا د دې معنى لري چې جنګ به دوام کوي:**

۱۰ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

اول خو موږ په هرحالت کې پوځي مرستو ته اړتيا لرو که غواړو چې نظام ولرو، قوي پوليس او منظمه اردو د اړتيا په اندازه ولرو چې د افغانستان د ټامي ارضيت نه دفاع وکړي. اوس خو دا مرستې بلا عوض دي او که نه نو دې مرستو ته موږ اړتيا لرو او دا به که په قرض ولې نه وي، اخلو.

اوس نو تاسې په خپل ګريوان کې سر ټيټ کړئ چې دا ښه وشو او که نه.

هغه کسان چې د حکومت په مقابل کې جنګيږي، سوال دا دی چې ايا دا کسان افغانان دي او که نه؟ که افغانان وي نو جنګ دې نه کوي ترڅو چې دا وسلې او مرستې د هغوی پرضد استعمال نه شي او که افغانان نه وي نو بيا خو دا اړينه ده چې د هغو کسانو پرضد دا مرستې بايد استعمال شي ځوک چې د دې وطن بچي وژني، جوماتونو کې چاودنې کوي، مکتبونه سوځي، سرکونه ورانوي، د خلکو نه سرونه پرې کوي او په هيڅ جنايت صرفه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشويش مه کوئ د بروکسل په کنفرانس کې به چې د اکتوبر په مياشت کې دايرېږي، د اقتصادي مرستو ژمنه به هم وشي او دا به هغه هېوادونو او اشخاصو لپاره د خفګان بله ورځ وي څوک چې د افغانستان سره د مرستو په دوام خفه کېږي.

**په فيسبوک کې د عامه ذهنيت معلومول يا نظر سنجي:**

۱۰ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

زما د فيسبوک نظر سنجي ښايي چې د فيسبوک په سلو کې يو کم اتيا سلنه استعمال کوونکي د عسکونو، افواهاتو، خبرونو، تنقيدي او يو بل ته د توهين کوونکو الفاظو په استعمال ډېر ژر عکس العمل ښيي اما علمي او منطقي ليکنو، کره معلوماتو، مؤثقو تحليلي خبرونو په اوربدلو لږ سر خوځوي او يا د لوستلو حوصله نه لري.

نو په دې توګه بيا هم د هغه کسانو لپاره فيسبوک ښه وسيله ده چې د منطقي، علمي او مؤثقو معلوماتو په لټه کې دي.

زما په اند په سياسي مبارزه کې او هم د يو چا د نظر نقد هم بايد په استدلال ولاړ وي او د يو بل د توهين نه بايد ډډه وشي ترڅو د فيسبوک دا نظر سنجي سرچپه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جنګ تاوان:**

۱۱ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

وايي چې په يو ملک کې يو کال داخلي جنګ تېر شي نو پنځه کاله نيسي چې هغه تباهي چې د داخلي جنګ له امله راپيدا شوې، بېرته جوړه شي او هم ويل کېږي چې کور يو ځل وګړېږي نو بيا د کور سامان مشکله ده چې د پخواني په شکل بېرته ځای په ځای شي.

زموږ په ملک کې ۳۸ کاله کېږي چې داخلي جنګونه روان دي نو دا په پنځو کې ضرب کړئ چې ۱۹۰ کاله به نيسي چې دا زموږ فريکي، ټولينز، فرهنګي، اداري، پوځي، سياسي، اقتصادي، تعليمي او داسې نور سيستمونه بېرته جوړ شي.

**ولې غربي نړۍ پر مختللې ده؟**

۱۳ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

همدا اوس د انګلستان صدراعظم ډيويډ کمرون پس له شپږو کلونو صدارت استعفا ورکړه خو د استعفا نه يې د مخه دولتي کور تخليه کړ او خپل کور يې لا خالي نه و ځکه بل کرايه دار پکې اوسېده؛ خو ده د خپل کور ټول سامان بل ځای ته انتقال کړ او بهانه يې نه کوله چې ګوندې د ده کور لا تخليه نه دی نو بل ځای ته کډه نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library








ده د دولتي کور په خالي کولو کې چې نوې صدراعظمه ورته ورکړه شي، هيڅ سکتګي رانه وستله او نه يې چنې ووهلي ځکه اصول معلوم دي او نه يې غوښتل چې د خپل ملک په خير، د راتلونکې صدراعظمې د کارونو په وړاندې يوه لحظه هم مانع واقع شي او يا د سياسي قدرت د انتقال په پروسه کې ځنډ راولي. عکسونه چې په فيسبوک کې خپاره شول نو ډيوېډ کيمرون په خپله خپل سامان د نورو کسانو سره بل موټر ته انتقالاوه.

د CNN د ټلوېزيون د لارې ګورم چې ډيوېډ کمرون همدا اوس بکنګهم قصر ته لاړو چې خپله استعفا په رسمي توګه ملکې ته وړاندې کړي. نوې صدراعظمه تېريسامې هم ورپسې د صدارت په موټرو کې لاړه چې ملکه د هغې نه په رسمي توګه د حکومت جوړولو غوښتنه وکړي. بله مهمه خبره دا ده چې دولتي موټر يې سمدستې پرېښوده او په شخصي موټر کې د خپلې کورنۍ سره بکنګهم قصر ته لاړ. زموږ عادي دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکي نه موټر پربږدي او نه نور دولتي امتيازات. د سياسي قدرت په انتقال کې هم دومره څنډه راولي چې خبره بالاخره د تېر مامور او نوي مامور د تقرر په سر جنگونو او دښمنيو ته ورسېږي. ښه به موږ ترقي وکړو.

**د پورته ليکنې په اړه په لس گونو دوستانو نظرونه درلودل او د افغانستان په حال يې افسوس کاوه. زه يو څو نظرونه په مشخصه توگه رااانتقالوم چې لوستونکي پرې هم د خپل ځان سره قضاوت وکړي.**

**سيد معروف همدرد ليکلي وو:**

د لندن له جوړ سيستم سره د افغانانو پرتله کول لويه بې انصافي ده.

**ما ورته په ځواب کې وليکل:**

همدرد صاحب! د هغوی سيستم هم جوړ نه و خو هغوی جوړکړ. اوس هم غواړي چې نور هم خپل سيستم ښه کړي. بې انصافي دا ده چې موږ نه غواړو چې خپل وطن په خپله جوړ کړو او هغوی ته طمعه لرو. په هرحال ستاسې نظر او لرليد هم په خپل ځای دی.

**همدرد بيا وليکل:**

صاحب! زموږ د سيستم جوړول هم وخت ته اړ تيا لري. د ځلوېښتو کلونو وران سيستم جوړول ډېر وخت ته او کار ته اړ تيا لري. د لندن اوسني حالت ته چې افغانان رسي شايد زموږ د درېو څخه تر ځلورو نور نسلونه، همدا ستونزې وگالي.

**ما ورته بيا په ځواب کې وليکل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زموږ په فکرونو کې تغییر راغی، د وخت فاصله راکمېږي او که نه وي راغلی، نو د تېرو څلورو لسیزو او څلورو نسلونو په شان به زموږ حالت همداسې په خپل ځای اوسي.

**همدرد بیا ولیکل:**

د ارتباطاتو او اړیکو د علم له نظره د فکر تغییر ډېر وخت او کار ته اړتیا لري.

**ما ورته ولیکل چې:**

نو موږ باید خپلې پښې ونه غځو او کار باید وکړو. دا بحث ځکه کوم چې موږ لا په دې عقیده نه یو چې زموږ په فکرونو او عملونو کې تغییر راغلی او تغییر باید راشي.

**ابراهیم افغان لیکلي وو:**

جناب میاخېل صاحب!

دلته جلال آباد کې یو رئیس له دندې نه لرې شو پر ځای یې بل رئیس راغی، نوی رئیس گردېوال صاحب معرفي کاوه، هغه پخواني رئیس د دفتر کیلي له ځان سره کور ته وړې وه او شمېره یې هم بنده وه بیا یې دوه ورځې وروسته د چا په لاس رالېږلې وه.

**محمد رفیع صیاد لیکلي وو:**

د هغوی سره دوه شیان دي، احساس او د قانون زور. که د احساس له مخې داسې ونه کړي نو قانون به یې د خولې خوند وربرابر کړي او دلته...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا د انټرنېټ استعمال شیطاني عمل دی او که نه؟**

۱۵ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

فیسبوک له دوستانو سره پر اړیکو درلودلو سربېره د معلوماتو او ایډیاو د راټولولو او د ولس د هیلو څرګندولو او هم د ولس د ستونزو نه د خبرېدلو ښه وسیله ده. ډېر ښه او پوه کادرونه که ځوانان دي او که مشران، د مختلفو موضوعاتو په اړه همېشه ډېر ښه نظریات څرګندوي او هم ډېر ښه وړاندیزونه خپلو دوستانو او وطنوالو ته کوي. دولتي چارواکي کولی شي چې بې له فیس او واسطې، د فیسبوک نه د ښه مشاور په توګه ګټه واخلي په دې شرط چې دولتي چارواکي د فیسبوک او ایمیل اکاونټونو په درلودلو او استعمال پوه شي.

بعضې دولتي چارواکي او د ټیټو دیني زده کړو مفتیان چې د انټرنېټ په استعمال نه پوهېږي، د انټرنېټ استعمال ورته یو نوع شیطاني عمل ښکاري. افسوس دا دی چې د دولت په ټولو ادارو کې اوس هم داسې کسان شته دي چې د انټرنېټ سره اشنایي نه لري او دا ورته یو نوع کفري عمل ښکاري. د دې علت دا دی چې دوی پرې نه پوهېږي نو ځکه ورته د انټرنېټ استعمال یو شیطاني عمل ښکاري. فکر کوم که دوی د انټرنېټ په ګټه پوه شي نو بیا شاید دوی د کفر ټاپې په خلکو ونه لګوي چې ولې دوی انټرنیت استعمالوي. ښه مثال یې طالبان دي چې په خپل وخت کې د ټلوېزیون درلودل یې په کورونو کې منع کړي و خو اوس دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډش ټلوېزيونونو د خوند نه برخورداره دي او انټرنېټ نه د خپلو تبليغاتو د ښې وسلې په توګه ګټه اخلي. حال دا چې همدا طالبان چې پخوا نه پوهېدل، انټرنېټ خو څه کوې چې د ټلوېزيون درلودل ورته هم حرام ښکاره کېدل. يوه قصه مې رايادېږي شوه:

مجاهدينو هم دا کار کاوه. په ۱۹۸۷م کال کې زما يو ملګرى و چې په ۳۰۰۰ کلدارې يې يو سونې تور او سپين ټلوېزيون اخيستى و او د منډا په کمپ کې اوسېده نو ټوله کورنۍ يې ورته په قهر وه چې اوس به ملايان دربانديې د کفر ټاپه ولګوي نو ژر دا ټلوېزيون پټ کړه او يا يې خرڅ کړه. په دغه وخت کې ما هم يو څه استقلال حاصل کړى و او د کچه ګړۍ د کمپ نه زه يوازې د خپلې کورنۍ سره يونيورسټۍ ټاون ته کډه شوى وم او د امريکا غږ راډيو سره مې کار کاوه نو ما هم د يو ټلوېزيون ګوټې د اخيستلو نيت وکړ. هغه ملګري مې راته وويل چې ټلوېزيون مه اخله او زه يو په کور کې لرم، هغه به درکړم. بيا مې د هغه نه هغه ټلوېزيون په ۲۵۰۰ کلدارې راونيوه که څه هم هغه پيسې نه اخيستلې.

عجيبه وخت و، عجيبه ماحول او عجيبه فتواګانې او عجيبه احساساتي ماحول. موږ هم ځان تباه کړ او هم مو وطن خراب کړ. دا انقلابي وروڼه دې نه خوشالېږي دوى هم عجيبه ماحول او عجيبه احساسات درلودل چې هم يې ځانونه تباه کړل او هم يې وطن خراب کړ.

لنډه دا چې راځئ سره ومنو چې موږ ټولو ډېرې اشتباګانې کړې دي او اوس يې هم کوو او که دا نه منو نو بيا به هم نورې اشتباګانې په راتلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هم کوو. زه فکر نه کوم چې په زړو تنظیمونو، ډلو او احساساتو دا وطن سره جوړ کړای شو. د موجوده شرایطو سره یو نوی فکر ته اړتیا ده.

**ملکیت د هر چا خپل دی:**

۱۵ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

نن د ترکیې هېواد د پوځ یوې ډلې د ترکیې جمهور رئیس رجب طیب اردوغان پر ضد د ناکامه کودتا هڅه وکړه نو ما په ټویټر کې ولیکل:

ترکیه: د ښه او یا بد نیت لپاره د کودتاګانو لړۍ د غندلو ده. د حکومت مشران باید د خلکو په رایو انتخاب یا لرې شي نه د ټوپک د شپېلۍ په زور.

دې کې شک نه و چې کودتا د عام ولس له خوا ناکامه شوله ځکه په زرهاو کسان د اردوغان په ملاتړ سړکونو ته راووتل او د ټانکونو مخې ته یې ځانونه واچول او په ټانکونو وروختل اما زموږ یو شمېر احساساتي افغانانو دی د نړۍ د مسلمانانو مشر وګاڼه او په فیسبوک کې یې لیکنې وکړې چې دی د اسلامي اخوت سمبول دی.

**ما بیا په فیسبوک کې ولیکل:**

د ترکیې د جمهور رئیس پر ضد ناکامې کودتا څخه وروسته، رجب طیب اردوغان خپلو پلویانو ته د خپلو خبرو په اخره کې وویل چې دوی د ترکیې د یوه بیرغ لاندې د یو واحد ملک په توګه اوسېدل غواړي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکيې مشر دا ونه ويل چې دی د اسلامي نړۍ مشر دی او يا غواړي چې اسلامي نړۍ د يو واحد بيرغ لاندې راولي.

زه حيران دا خپلو ځينو کسانو ته يم چې تر اوسه نه په اسلام پوه شول او نه په سياست. خواخوږي د يو چا سره او يا د يو ملک سره جلا خبره ده؛ خو د يو واحد اسلامي حکومت ادعا سره توپير لري. ترکيه د هغوی ملکيت دی او افغانستان زموږ ملکيت دی. شخصي ملکيت په اسلام کې خوندي دی. موږ ته دې خدای خپل ملک آباد لري او نورو ته دې خپل ملکونه. راشه درشه به سره کوو خو وطن او ملکيت د هر چا خپل دی.

**د اکثريت رول په ديموکراسۍ کې يا Majoritarion Rule:**

۱۶ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

چرچل وايي چې ديموکراسي د حکومت کولو او حکومتولۍ تر ټولو خراب سيستم دی؛ خو د دې نه بهتر تر اوسه نشته دی. دا ځکه چې په دموکراتيکو هېوادونو کې، پنځوس سلنه او يا د هغه نه کم کسان په ټاکنو کې برخه اخلي خو بيا اکثره مشران د پنځوس سلنې په نيمايي جمهور رئيس يا د حکومت مشر ټاکل کېږي. په دې توګه په حقيقت کې د يو هېواد د حکومتونو مشران په ۲۵ سلنه رايو قدرت ته رسېږي او د ټول ولس استازيتوب نه شي کولی. اما د دې سره، دا مشران ځانونه د ټول ولس نماينده ګان ګڼي او د سل سلنه ولس په استازيتوب حکومت اداره کوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ملک او ولس په اړه تصاميم نيسي او د دوی تصاميمو ته مشروع تصاميم ويل کېږي.

په ديموکراتيکه ټولنه کې يو څو اصله نور هم مهم دي، چې هغه بايد ټاکنې په خپل وخت وشي او ټاکنې بايد خلکو ته د قبول وړ وي يعنې ولس بايد د ټاکنو په پروسه اعتماد ولري. همدا شان با اعتباره اپوزيسون بايد موجود وي او حاکم گوند او ډله بايد د اقليتونو او وړو ډلو گټې يا سهم  په نظر کې ونيسي. که قوي اپوزيسون نه وي  نو بيا يوه ډله د ډېر وخت لپاره په قانوني  توگه په قدرت کې پاتې کېږي ؛خو دې  ډول قدرت ته په سياسي علومو کې د Majoritarian Rule يا د اکثريت رول وايي. د اکثريت رول بالاخره په يونوع د کتاتوري نظام باندې بدلېږي چې مثالونه د هټلر حکومت په جرمني کې، ايران، مکسيکو، جاپان او يا نورو هېوادونو کې شته دي. نو په دې توگه د ديموکراسۍ ريښې په داسې هېوادونو کې چې د اکثريت رول په واسطه اداره کېږي، ضعيفه وي. ترکيه هم يو له هغه هېوادونو نه ده چې د اکثريت رول پکې د تېرو پنځلس کلونو راپه دې خوا حاکم دی. که څه هم ترکيه د اکثريت رول ستونزه لري خو د اکثريت حکومت هم بايد د قانوني لارې چې ټاکني دي، د قدرت نه لرې کړای شي نه د کودتاگانو له لارې. که د اکثريت حکومت په کودتاگانو باندې لرې کړای شي، دا د هغه ملک لپاره نوره هم خطرناکه تمامېږي او د يو ملک د بې ثباتۍ سبب گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي مطلق قدرت، مطلق فساد رامنځته کوي؛ د ترکيې د حالاتو په اړه لنډه تبصره:**

۱۶ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

په سياسي علومو کې يو ه مهمه اصطلاح ده چې وايي Absolute power corrupts absolutely يعنې مطلق قدرت، مطلق فساد رامنځته کوي ځکه انسانان او د حکومتونو مشران په خاصه توگه، د قدرت تر تاثير لاندې راځي او بيا هر غيرقانونې عمل ورته قانوني ښکاري. همدا مطلق العنانه مشران په يو نوع دکتاتورانو باندې بدلېږي چې په اوږدمهال کې خپل ولس او وطن د زياتوستونزو سره مخامخ کوي. داسې معلومېږي چې په ترکيه کې د ناکامه کودتا نه وروسته، د ترکيې جمهور رئيس رجب طيب اردوغان په دې پلمه چې د ترکيې د سيستم نه ميکروبونه لرې کړي، شايد خپل د قدرت پنجې نورې هم قوي کړي. دی لا پس د ديارلس کلونو قدرت وروسته هم دې ته چمتو نه دی چې قدرت پرېږدي. زما په اند ده ته به دا ښه وي چې د دې دورې جمهوري رياست نه وروسته په عزت سره قدرت پرېږدي ځکه د ولس حمايت بالاخره کمېږي. که څوک سياسي قدرت د خپل حکومت او يا کار په اوج کې پرېږدي نو د هغه کس نوم تل ژوندی وي. که اردوغان همدا اوس اعلان وکړي چې دی نور نه غواړي د دې دورې په پايله کې بيا ځان کانديد کړي، دا به ترکيې ته او هم د ده شهرت لپاره ښه وي. ښه بېلگه يې د جنوبي افريقا جمهور رئيس نيلسن منديلا دی چې د يوې دورې جمهوري رياست نه وروسته بيا ځان کانديد نه کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سياسي قدرت يې پرېښوده چې نوم يې اوس هم په ښه توګه يادېږي. اردوغان که دا کار ونه کړي او نور هم وغواړي چې خپلې د قدرت منګولې قوي کړي نو شايد چې د ده د قدرت خودخواهي به په راتلونکې کې نه ده ته ښه وي او نه د ترکيې خلکو ته او هم د سيمې نورو هېوادونو ته. عاقبت به خير.

**اکبر پادشاه او بيربل:**

۱۷ جون ۲۰۱۶م کال، کابل

وايي اکبر پادشاه خپل وزير بيربل ته ويلي وو چې داسې شعر راته ووايه چې اوله مصرع مې په قهر کړي او دويمه مصرع مې خوشاله کړي. مصرعې مې يو څو په ياد دي خو نه يې ليکم.

کله چې په فيبسوک کې د بعضې دوستانو ليکنې ګورم نو سخت خفه شم چې کله به مو سر خلاصېږي او د فيبسوک نه مو زړه تور شي خو چې کله د بعضې دوستانو منطقي، د وخت مطابق او مهمې ليکنې ګورم نو زړه مې ببرته خوشاله شي چې خدايږو موږ ډېر ښه، با احساسه، اګاه او په مسايلو پوه وطنوال لرو نو انشالله دا وطن به جوړېږي

الله تعالی دې دا د خوشالولو وګړي ډېر کړي او دعا به کوو چې موږ هم د دې دويمې ګتګورۍ دوستانو په نقش قدم لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له مولوي محمد يونس خالص سره مرکه: خبرې زما کار دی او ايډيټ ستا کار دی**

۲۰ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

نن مې د مولوي صاحب خالص دا عکس په فيسبوک کې وليد چې د مصاحبې په حال کې دی او ژورنالست ورته ميکروفون نيولی دی. زما هم يو قصه راپه ياد شوه غواړم چې د دوستانو سره يې شريکه کړم:

تقريباً ديرش کاله پخوا زه په پېښور کې د امريکا غږ راډيو خبريال وم او د مولوي صاحب خالص سره مې مرکه درلوده. په هغه وخت کې ټکنالوژۍ دومره پيشرفته نه وه او ايډيټ د مرکو جنجالي کار و. نو ما مولوی صاحب خالص ته وويل چې غواړم چې مشخصې پوښتنې درنه وکړم او که مختصر ځوابونه راکړئ نو ښه به وي ځکه زما کار به اسانه شي او هم



به ټوله مرکه ستاسې  په خپل اواز خپره شي.

مولوي صاحب خالص رانه زما د ټيپ ريکارډر ميکروفون واخيسته او ويې ويل پوهېږم چې ستا لاس ستړې کېږي نو دا ميکروفون به زه په خپله په لاس کې ونيسم. کله چې مولوي صاحب ميکروفون په لاس کې ونيوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو راته یې وویل چې زه ملا یم او ملا سړی چې اوږده مقدمه خپلو خبروته کښېنږدي نو په اصل موضوع خبرې نه شي کولی. خبرې زما او ایډیټ ستا خپل کار دی. خدای دې یې وبخښي.

د مولوي صاحب خالص یوه بله خاطره: د مجاهدینو په مؤقت حکومت کې مولوي صاحب خالص د داخله چارو وزیر و او په یونیورسټي ټاون کې یې دفتر درلود. په یو خبري کنفرانس کې ما ترې پوښتنه وکړه چې د کوکنارو کرل په افغانستان کې مخ په زیاتېدو دي نو تاسې د مؤقت حکومت د داخله وزیر په توګه د کوکنارو د کرکیلې د مخنیوی لپاره څه پلان لرئ؟

ما ته یې وویل چې زه د څه شي وزیر داخله یم، د پاکستان په یو کرایي کور کې ته هم اوسېږې او زه هم اوسېږم. کوم مې پولیس دي او کوم مو حاکمیت دی چې د کوکنارو د کر کیلې مخه ونیسم. مولوی صاحب یو واقعبین سړی و.

## د ټاکنو د تبې لپاره ایا د درد درېیم مسکن فرمان ورکول ضروري دی که نه؟

۲۳ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

(د ټاکنو په اړه د حکومت دوه تقنیني فرمانونه رد شوي دي او د پارلمان د اوړي د رخصتیو په وخت کې اجرائیه ریاست کوشش کوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئيس غني بل تقنيني فرمان د ټاکنو په اړه ورکړي؛ نو ځکه ما دا لاندې پوست په فيسبوک کې وليکه

(ځينې ځينې چې په حکومت کې بله اجنډا نه لري، لا اوس هم د ټاکنو د تبې د درد نه ځورېږي. دوی کوشش کوي چې حکومت دوی ته کوم بل د ټاکنو د درد مسکن فرمان ورکړي؛ خو د دوی تبه په دې فرمانونو نه ښه کېږي. که د حکومت دا نسخه بالفرض که عملي هم شي، نو بيا به دا تبه د ټاکنو کمېسيونونو او ملت ته سرايت وکړي. مخکې له دې چې جمهور رئيس کوم بل د ټاکنو د درد مسکن فرمان ورکړي، بايد په عواقبو يې ښه فکر وکړي.)

**ژورناليزم يا اکتيويزم (Activism):**

۲۳ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

نن د هزاره ګانو بعضې ګروپونو په کابل کې د برق د هغې پروژې پر ضد چې د سالنګ د لارې تېرېږي مظاهره کوله او دوی غوښتل چې د برق مزي بايد د باميانو له لارې تېر شي. د دوی دا غوښتنه منطقي نه وه او بلکې د دوی بعضې مشرانو غوښتل چې د حکومت نه باج واخلي نو ځکه دا لاندې پوست ما وليکه.

ترهر څه د مخه په دهمزنګ کې نننی انفجار چې يو شمېر افغانان پکې زخمي او شهيدان شول په کلکه غندم او په هيڅ توګه منطقي دليل ورته نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جدا خبره ده چې ایا د دوی تظاهرات حق په جانبه دي او که نه؟ دا په حکومت او افغان ملت پورې اړه لري چې د دوی د غوښتنو په وړاندې څه تصمیم نیسي.

دا چې ځیني ټلوېزیوني چینلونه غواړي خلک نور هم خشونت ته تشویق کړي، ښه کار نه دی. دوی باید خبر خپور کړي نه دا چې خلکو ته ووایي چې هله ژر شئ خبرې وکړئ چې ستاسې احساسات خلکو ته ورسوو او نور هم خلک خشونت او بدامنۍ ته تشویق کړي. دا ژونالیزم نه دی بلکې دې ته اکتیویزم وایي او اکیتویزم د ژونالسیتکي اصولو خلاف کار دی. همدا ډول افسوس په دې کوم چې ولې پوه کسان د فیسبوک او ټلوېزیونونو له لارې د مړو او زخمیانو عکسونه خپروي. د ناپوهو او خودغرضه عناصرو نه خو ګیله نه ده په کار. دا د انساني او ژورنالیستیکي اصولو خلاف کار دی.

**ایا د امنیتي ارګانونو د منسوبینو وینه د نورو نه کمه ده؟**

۲۴ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

زه په دې ډېر خفه کېږم چې څوک زموږ په امنیتي ارګانونو باندې انتقاد کوي. دې کې شک نشته چې یو څو کسه به یې اهلیت ونه لري یا به په فساد کې اخته وي خو په سلو کې ۹۹.۹۹ د امنیتې منسوبینو ژوند هره ورځ په خطر کې دی تر څو زموږ او ستاسې امنیت وساتي او موږ په خپلو بسترو کې ارامه خوب وکړو. دوی په ډېرو کمو امتیازاتو خپل وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلو خلکو ته خدمت کوي او د بل هر گروپ او ډلې نه دوی د دې وطن او خلکو لپاره زیاته قرباني ورکړې او ورکوي يې. هغه څوک چې د امنيتي ارگانونو په منسوبينو انتقاد کوي، ايا دوی دې ته حاضر دي چې د دوی په امتيازاتو د دوی په ځای وظيفه اجراکړي؟ فکر نه کوم چې دوی دا کار وکړي. هيچا په پرونۍ پېښه کې د امنيتي ارگانونو د قربانيو او مېړانې يادونه ونه کړه چې هم يې قرباني ورکړه او هم يې يو ځان وژونکی وواژه او د لس گونو نورو مظاهره چيانو د ژوند مخنيوی يې وکړ. ايا د امنيتي ارگانونو د منسوبينو وينه د نورو نه څه توپير لري او يا کمه ده؟ نه هيڅکله نه.

**مابين همه کجا اين بيچاره هم کج**

**(اين شعر را از قبله گاه خود شنيده ام که او از ملا غلام نبی چارباغی سرخرودی شنيده بود)**

۲۴ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

يارمن برچهره دارد چهارگل وهرچهارکج
زلف کج و کاکل کج و گفتار و رفتار کج
يا الهی بشکند اين کجا که دارد يار من
صبح کج و پيشين کج و ديگر کج و هرشام کج
پس اين بيچاره هم کج در مابين کجا امروز

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په تصميم نيولو کې عجله:**

۲۴ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

سمدلاسه، آني، فورې او بې سنجشه تصاميم داسې دي لکه څوک چې په ځان کې په زوره خارښ پيدا کوي او يا هغه ځای ته لاس وروړي چې خارښ نه کوي. په ګرولو بيا وروسته په خپله په تنګ شي چې کاشکې مې د خارښ ځای ته لاس نه وی وروړی او داسې تصاميم مې نه وی نيولي خو بيا اوبه د ورخه تېرې وي او نه راګرځي.

**ترخپلې وسې د قدرت نه سؤ استفاده يا د ځنګل قانون:**

۲۴ جولای، ۲۰۱۶م کال، کابل

د پرون راهيسې دا چرت وهم چې ايا موږ په افغانستان کې د انساني اصولو او اسلوبونو په اساس ژوند کوو او که د ځنګل د قانون په شان هر څوک ترخپله وسه د قدرت نه سؤ استفاده کوي؟

ټول ګروپونه او مطرح اکټران مې د سترګو نه تېر کړل، په اجمالي توګه مې په تصور کې لږ لږ د هر يوه کړو او وړو ته نظر واچوه او بالاخره دې پايلې ته ورسېدم چې موږ ټول مقصر يو. دا ځکه چې سياسي ټيکه دارانو، مامورينو، واليانو، وزيرانو او د دولت مشرانو هر يو د خپل واک په تناسب د قدرت نه سؤ استفاده يا غفلت کړی دی. همدا شان ملايانو او استادانو، ملکانو او خانانو، خيرات خورو او بدماشانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعرانو او ليکوالانو، عوامو او خواصو، مدني او غيرمدني فعالانو، دوکاندارانو او تاجرانو، نرينه و او ښځو، مشرانو او کشرانو او داسې نورو هم د خپل توان په تناسب د خپل قدرت نه سؤ استفاده کړې ده. تفصيل ته يې حاجت نشته ځکه کتابونه پرې ليکل کېدی شي.

نو اوس راته ووايئ چې زموږ په ټولنه کې څوک ملامته دي؟ ايا موږ ټول ملامته يو او که يوازې څو کسه؟

**يا الله ته په دې بعضې ژورنالستانو ورحمېږې!**

۲۵ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل

څو شېبې د مخه مې د محتوا په لحاظ په يو مهم کنفرانس کې چې په سوله کې د ځوانانو د رول په اړه و، خبرې کولې خو د خبرو نه وروسته يوه ژورنالسته راغله او راته يې وويل چې دا خو د دې کنفرانس په خبرې ارزښت پوه نه شوه چې ښنگه خبر جوړ کړي. ما ورته وويل چې دا خو ستا ستونزه ده، نو ښه به دا وي چې د ژورناليزم کورسونه او پوهنځي که دې نه وي ويلې نو هغه تعقيب کړه.

دا يو ځل نه دی بلکې څو ځلې زه د داسې خبرې سره مخامخ شوی يم ځکه چې زموږ د يو شمېر زياتو چاپي، صوتي او تصويري رسينو ژورنالستان يا مسلکي نه دي، يا يې ځانونه نه دي رسولي او يا دوی کومه خاصه اجنډا په مخ بيايي که خبر يې د دوی د اجنډا سره موافق نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یا نه نشروي او یا یې تحریفوي. یا الله ته زموږ په دې بعضې ژورنالستانو ورحمېږي.

**د خدای بخښلي کشمېرخان د جنازې په مراسمو یوه لنډه تبصره:**

۲۵ جولای ۲۰۱۶م کال، کابل





په دې بحث نه کوو چې ایا ولې کشمیر خان د افغانستان د حکومت سره مخالف و او یا په تېرو څو لسیزو کې د جهاد په دوران کې او هم د کونړ په سیمه کې او یا د هغه نه د مخه څه کړي دي ځکه دا جدا بحث دی او تاریخ به پرې په خپله قضاوت وکړي.

د بحث مسئله دا ده چې په تېرو پنځلس کلونو کې سره له دې چې کشمېرخان د حکومت سره مخالف و، د کونړ د شیګل او لاحسین په غرونو کې یې په ارامه توګه ژوند کاوه، د خپل ولس ملاتړ ورسره و او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې خپلو کسانو ته ويلي وو، چې نه به په عسکري افرادو ډزې کوئ او نه به مکتوبونو ته د زده کوونکو د درس ويلو مخه نيسي. همدا علت دی چې نن په زرهاو کسانو په کونړ کې د ده د جنازې په مراسموکې ګډون وکړ.

موږ او تاسي وليدل چې د طالبانو مشران هم له منځه لاړل خو هغوی ونه شو کولی چې د کشمېر خان د جنازې غوندې خپل مړي خاورو ته وسپاري ځکه هغوی د خپل ولس په زړونو کې ځای نه درلوده.

زما په اند، هغه ډلې او ټپلې او يا اشخاص چې د حکومت سره په نظرياتي لحاظ مخالفت لري او که غواړي چې د افغانستان په راتلونکې کې رول ولوبوي، نو دوی دې هم د کشمېرخان د جنازې نه عبرت واخلي. دوی هم بايد مکتبونه وران نه کړي، کلي ونه سوځوي، دولتي ودانۍ ورانې نه کړي، پلچکونه بايد له منځه يو نه سي او د وطن کادرونه او مشران بايد ونه وژني ځکه دا ټول د افغانستان سرمايه ده. هغه ډله او کسان چې د افغانستان سرمايه له منځه وړي نو هغوی نه شي کولی چې په راتلونکې کې د افغانستان په سياست کې برخه واخلي او يا د ولس په زړونو کې ځای ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ننګرهار په پوهنتون کې د سولې او کړکیچ د مرکز پرانیسته:**

۱ اګست ۲۰۱۶ م کال، کابل






پرون (جولای ۳۱مه) مو د ننګرهار په پوهنتون کې د سولې او کړکیچ په نوم تحقیقاتي مرکز د ننګرهار پوهنتون د مشرتابه په مرسته او په خاصه توګه د هڅاند مشر او رئیس پوهندوی ببرک میاخېل د هلو ځلو په نتیجه کې پرانیسته. په دغه پرتمنیه غونډه کې د ننګرهار ولایت مرستیال محمد حنیف ګردیوال، د سولې د شورا رئیس حاجي صاحب محمد نذیر، د ولایتي شورا مرستیال دراني صاحب، د ننګرهار پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو رئیسانو، استادانو او محصلینو برخه درلوده. زه په خپل وار په دغه پرانیست غونډه کې د ټولو ګډونوالو نه مننه کوم چې د پوهنتون د رخصیتو او ګرمیو با وجود یې په دغه پرتمنیه غونډه کې ګډون وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننګرهار پوهنتون چې د افغانستان په کچه دويم پوهنتون و، اوس ديارلس پوهنځي لري او تقريباً شل زره محصلين د ننګرهار په پوهنتون کې زده کړې کوي. د سولې او کړکيچ د حل مضمون به په لومړي سر کې د شرعياتو، حقوقو او سياسي علومو، ژورناليزم، د ژبو او ادبياتو او تعليم او تربيه په پوهنځيو کې بنسټيزه کېږي. د افغانستان په لوړو زده کړو کې د سولې او کړکېچ حلولو د مضمون بنسټيزه کول او په ننګرهار پوهنتون کې د دغه مرکز پرانستيل به استادانو او محصلينو ته دا لاره هواره کړي چې دا مضمون د افغانستان د لوړو زده کړو په تعليمي نصاب کې ځای ونيسي. د دې نه د مخه د لوړو زده کړو وزارت په ګوهر شاد خصوصي پوهنتون کې د سولې د زده کړې مضمون د دوه اختياري کريدتونو په توګه قبول کړی او په بېلابېلو پوهنځيو کې اوس تدريس کېږي. د هرات پوهنتون سره هم د متحده ايالاتو د سولې د انستيتيوت له خوا دا همکاري روانه ده چې هلته هم د سولې مضمون بنسټيزه شي.

د نړې په نورو هېوادونو کې د سولې مضمون د کودکستان نه پيل کېږي او هيله ده چې زموږ د پوهنې وزارت هم دې  مضمون ته جدي پاملرنه وکړي  چې د سولې مضمون د لومړي  ټولګې نه پيل شي تر څو زموږ پوهه او علم زموږ د ژوند د کردار اوعادتونو برخه وګرځي. زموږ ستونزه دا ده چې موږ پوهه لرو خو پوهه زموږ د ورځني ژوند د کردار او عادتونو برخه نه ده ګرځېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د خپل دفتر د همکارانو حمیدالله ناطق او رفیع الله ستانکزي او هم د ننګرهار پوهنتون مرستیال، سروري صاحب او د دغه کمېټې د بېلابېلو پوهنځیو د استازانو نه په خاصه توګه مننه کوم چې په ډېر لنډ وخت کې یې د دې مرکز د پرانیستلو چارې بشپړې کړې او امېد دی چې په راتلونکې یوه کال کې د ننګرهار پوهنتون د علمي شورا په مرسته د سولې او کړکیچ د حل مضمون نصاب ترتیب او تصویب کړي تر څو د بېلابېلو پوهنځیو محصلین د دغه مضمون د تدریس نه په راتلونکې کې ګټه واخلي. ( د دوستانو د توجه لپاره د دغه غونډې یوڅو عکسونه هم د تاسې سره شریکوم)

**د مشرانو د کاغذي عکسونو سره عکس اخیستل:**

۴مه اګست، ۲۰۱۶م کال، کابل

ډېر پخوا امریکا مې نه وه لیدلې، پېښور کې مې د امریکا غږ راډیو سره کار کاوه، یوه ورځ مې د امریکا غږ راډیو خپل بل همکار، سید فضل اکبر پاچا په دفتر کې د هغه عکس د امریکا د جمهور رئیس رونالډ ریګن سره ولید. پاچا صاحب د ما نه مخکې امریکا ته تللی و نو زه هم په تعجب شوم چې ده څنګه د ریګن سره ولیدل. پوښتنه مې ترې وکړه چې د ریګن سره مو څه وخت، څنګه او د څه لپاره ولیدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا صاحب هم راته په ډېره سړه سینه او په ارام انداز کې وویل چې هو کله چې دی واشنګټن ته لاړ، نو بیا لاره هواره شوه او د ریګن سره یې وکتل نو دا عکس یې بیا هلته واخیست.

زه هم ساده وم او د هغه دا خبره مې ومنله او ده ناځوان هم راته ونه ویل چې ده دا عکس د ریګن د کاغذ نه جوړ شوي عکس سره چې د سپینې ماڼې سره نږدې بعضې کسانو د لارې په سر ایښودلی وي، اخیستلی دی. په هغه وخت کې به چې چا دا عکس اخیسته نو پنځه ډالره به ترې عکاس اخیستل اوس شاید قیمت یې زیات شوی وي. زیاتره کسان یې د تخفنې په شکل د امریکا د جمهور رئیس د کاغذي عکس سره خپل عکس اخلي ته به وایې چې په رښتیا یې د جمهور رئیس سره لیدلي دي.

که د کرزي صاحب کاغذي عکس جوړ شي او د هغه د کور په مخکې کې ولګول شي او هرڅوک چې ورځي او د هغه سره عکس د یو فیس په مقابل کې اخلي، څنګه به وي؟ فکر کوم چې ډېر ښه بزنس به په دې ورځو کې وشي. خو کرزی صاحب سخي سړی دی او پیسو ته اړتیا نه لري نو د هر چا سره په خپله عکس اخلي او که بې خرڅه شو نو باید دا کانسپټ په فکر کې وساتي چې د نورو سره په عکس اخیستلو ښه بزنس کولی شي. پام کوئ چې دا چل نورو پخوانیو او موجوده چارواکو او مشرانو ته ونه ښیئ چې بیا به، بې فیسه درسره نه ګوري او نه به درسره عکس اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي مېږه ووژنه خو مېږانه يې مه وژنه: ( د محمود صيقل په اړه)**

د اگست څلورمه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل

د پرون نه راپه دې خوا په فيسبوک کې په ملگرو ملتونو کې د افغانستان د سفير محمود صيقل په اړه دا اوازه خپره شوې وه چې گوندې هغه په عمومي اسمبلۍ کې شعر ويلی او نور څه يې نه دي ويلي. ما ته هم دا عجيبه غوندې ښکاره کېدله چې محمود صيقل په انگليسي ژبه روانې خبرې کولی شي او په مسايلو هم پوهېږي نو څنگه يې شعر ته لاس اچولی دی.

بالاخره دا معلومه شوله چې هغه کلپ چې جوړ شوی هغه جعلي دی. دا چې د محمود صيقل د نظرياتو سره څوک موافق وي او که نه جدا خبره ده خو بېځايه تهمت فکر نه کوم چې ښه کار وي او دا قسم بې بنياده تبليغات ښه کار نه دی ځکه دا يوازې د محمود صيقل شخصيت ته صدمه نه رسوي بلکې د افغانستان حيثيت ته هم صدمه رسوي. ما په خپل پوست کې ليکلي وو چې زه هغه پېژنم او که رښتيا دا کار يې کړی وي نو ما ته هم سوال و؟ زه يو ځل بيا د ټولو دوستانو نه هيله کوم چې غيرموثق تبليغات د يو چا شخصيت ته صدمه نه شي رسولی بلکې د هغه محبوبيت او شخصيت ته نور هم رشد ورکوي. هماغه متل دلته صدق کوي چې مېږه ووژنه خو مېږانه يې مه وژنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په لوګر کې د پاکستان د هليکوپټر سقوط:**

د اګست څلورمه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل

نن د لوګر ولايت په ازرې ولسوالۍ کې د پاکستان يو هليکوپټر اضطراري ناسته وکړه او د هليکوپټر اووه کسه عمله طالبانو ونيول نو ما دا لاندې پوست وليکه:

لوګر خو د ډيورند فرضي کرښې نه لرې ولايت دی، څنګه د پاکستان هليکوپټر، د افغانستان هوايي فضا ته داخل شو او فکر نه کوم چې پيلوټ به سهوه شوی وي. د پاکستان په قول که دا هليکوپټر د پنجاب د حکومت دی او روسي ته د ترميم لپاره تللو او د افغانستان د قلمرو نه تېرېدو، نو په دې صورت کې هم پاکستان بايد د افغانستان حکومت ته د مخه خبر ورکړی وای. په عوض د دې، پاکستان د صافي د سورليو الوتکې ته نن اجازه نه ده ورکړې چې په اسلام آباد کې کښته شي. د پاکستان زياتي او سپين سترګي د حده تېره شوې ده. د افغانستان بې شمېره ويانډويان ولې تر اوسه پورې غلي دي چې څه نه وايي؟

**د افغانستان د پيازو صادرات:**

د اګست ۴مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

وايي دولس زره ټنه پياز سږکال افغانستان صادر کړي دي او فکر کوم چې اکثره به پاکستان ته صادر شوي وي ځکه د هغو تجاران هرکال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library




پیاز اخلي، په یخو سټورونو کې یې ذخیره کوي او چې د پیازو سیزن ختم شي نو بېرته یې په دوه چنده قیمت په موړ خرخوي. بل خبر وايي چې افغانستان هرکال ډېرش زره ټنه پیاز د پاکستان نه واردوي. په دې اساس د پیازو تولید د کرنې وزارت لاسته راوړنه کې نه شمېرل کېږي او د خبرونو په سرخط کې باید نه وي.

**د کونړ ولایت کتاب چاپ ته تیار شو:**

د اگست ۶مه نېټه، ۲۰۱۶م کال، کابل

**د کونړ ولایت: سیاسي او قومي جوړښتونه، دودونه او تاریخي پېښې**




په کتابونو د مالیه د زیاتولو سره سره، دا دی د کونړ ولایت په اړه زما کتاب د دوه درې کلونو زیاتو هڅو نه وروسته چاپ ته تیار شو او ان شاالله ډېر ژر به د چاپه راووځي. دا کتاب ځکه ډېر وخت ونیوه چې زیاتو مرکو، د مؤخذونو پیداکولو او د موادو لوستلو ته اړتیا درلودله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو هغه دوستانو نه چې د دې کتاب په ليکلو او چاپ کې د ما سره مرسته کړې، د زړه له کومې مننه کوم. اميد دی چې دا کتاب د افغانستان د نورو ولايتونو لپاره هم يو ماډل شي. البته د دې خبرې يادونه اړينه بولم چې دا کتاب نور تحقيق او ريسرچ ته هم اړتيا لري تر څو موږ د کونړ ولايت په اړه کافي معلومات تر لاسه کړو خو د يوې مقدمې په توګه فکر کوم چې شايد دا کتاب، خاص تاريخي ارزښت ولري. اميد دی چې زموږ نور ليکوالان په خپلو راتلونکو ليکنو کې د دې کتاب هغه تشې ډکې کړي کوم چې په دی کتاب کې نه دي تکميل شوي او زياتو تفصيلاتو او څېړنو ته اړتيا لري.

**په ننګرهار کې د الشفا تش په نامه روغتون:**

د اګست د مياشتې اتمه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

تېره اونۍ زما د يو همکار پلار د ننګرهار د الشفا روغتون کې بستر و، زه يې پوښتنې ته ورغلم. دوی د شپې ۶۰۰ افغاني د مريض نه يوازې د بستر په نوم اخلې. د جلال آباد په ګرمۍ کې په خونو کې پکو هم سم کار نه کاوه او زموږ د همکار پلار په دهليز کې بستر و، نه نظم و او نه تداوي او که ما قدرت درلودلی نو په هماغه ساعت مې د دې مرده خانې دروازې تړلې. زما همکار پلار هم په حق ورسېده او د دې نه مخکې مرحوم حسام صاحب هم دې تش په نامه روغتون ته لومړی وړل شوی و او ورته يې ويلي وو چې ستا د معدې تکليف دی او څه د معدې دوا يې ورکړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې په هغه باندې قلبي حمله راغلې وه او هغه يې بايد دلته ساتلی وی چې بېرته په لاره کې بل روغتون ته د وړلو په حالت کې وفات شو.

کله چې ما پوښتنه وکړه چې دا ناروغتون د چا دی، نو دوستانو راته وويل چې دا د يو پاکستاني ډاکتر دی. د شپې د يو دوست کره مېلمه وم نو دا قصه مې ورته وکړه او هغه سمدلاسه دا ډاکتر راوغوښته او زموږ مريض يې وکوت؛ خو زما ملګري راته وويل چې دا ډاکتر لا تر اوسه طب پوهنتون تکميل کړی نه دی او دلته په چالاکۍ سره دا روغتون چلوي. دا جناب چې واقعاً ډېر چالاکه ښکاره کېده، د ننګرهار د لوړپوړو او زوراکو سره خاصې رابطې هم لري نو د چا پلار به پرې دا تش په نامه روغتون وتړي. تر کومه حده چې ماته معلومه ده، په ننګرهار کې او هم د افغانستان په نورو سيمو کې د زياتو تش په نامه روغتونو او هم د ډاکترانو د معاينه خانو همدا حال دی. همدا علت دی چې زموږ د ولس اعتماد په خپلو ډاکترانو، روغتونو، دواګانو، لابراتوارونو او معاينه خانو کم او يا په نش سره حساب دی. هره ورځ په زرګونو کسان ايران، پاکستان، دوبۍ او هندوستان ته د عادي معايناتو لپاره ځي. په هره ساحه کې چې څوک د خپل مسلک، خپل وطن او خپلو خلکو سره خيانت کوي د غندلو دی. قصې ډېرې دي خو خلاصه دا چې صحي سکتور ته هم د امنيتي سکتور په شان جدي توجه په کار ده څکه دوی هم د خپل ولس د ژوند سره لوبې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نورو قضاوت:**

۹ اگست ۲۰۱۶م کال، کابل

دا مهمه نه ده چې نور ستا په اړه څه قضاوت کوي. مهمه دا ده چې ته د ځان په اړه ښنگه قضاوت کوې او ستا وجدان او ضمیر تا ته څه وايي. همېشه د نورو قضاوتونه د رد او یا تایید یو څه افراطي بڼه لري او مبالغه هرو مرو پکې وي. که څوک خپل وجدان ته خجالته نه اوسي همدا کافي ده چې خپلو ښو کارونو ته دوام ورکړي.

**د آزادۍ د ورځې په اړه:**

۱۳ اگست ۲۰۱۶م کال، کابل

دا چې څوک د خپلې آزادۍ په مفهوم او قدر پوه نه شي هغوی د خپل ولس او هېواد نه هم دفاع نه شي کولی او په عوض به د خپل ولس په مقابل کې جنگېږي او خپل وطن به ورانوي.

زموږ یوشمېر ځوانان چې د پردیو په مدرسو او روزنتونو کې د بېلابېلو مجبوریتونو او مهاجرتونو له امله روزل شوي دي د هغو نه د آزادۍ احساس اخیستل شوی دی. همدا علت دی چې زموږ په وطن کې د څلورو لسیزو راپه دې خوا جگړه روانه ده او موږ لا تراوسه د سولې، سوکالۍ، آزادۍ او د سکون ژوند نه برخمن نه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حکومت سقوط د نظام سقوط دی:**

۱۵ اګست، ۲۰۱۶م کال، کابل

دا لاندې لکینه د ډاکټر عبدالله عبدالله د غوښتنو او نظام د ګواښولو په اړه ولیکل شوه.

که څه هم زه شخصاً د اول نه د ملي وحدت په نامه د حکومت د جوړېدو سره مخالف وم او په هغه وخت کې زما مقاله چې په فارن پالیسي کې نشر شوې ده، ښه ثبوت دی. په دغه مقاله کې ما ویلي و چې زر فقیران د یوې لوې خیمې لاندې ژوند کولی شي خو دوه پادشاهان په یوه لوی ملک کې سره ژوند نه شي کولی. د الله تعالی د وحدانیت فلسفه په همدې بنا ولاړه ده چې یو خدای د کائیناتو مالک او تنظیم کوونکي دی او که خدایان دوه وی نو نه به دا دنیا وی او نه به دا شمسي نظام.

په تېرو تقریباً دوه کلونو کې په ثبوت ورسېدله چې د ملي وحدت حکومت لا اوس هم د ټاکنو په تبه اخته دی او که وضعیت همداسې دوام وکړي، د افغانستان مزمن سیاسي مرض به د تدریجي زوال سره مخامخ وي چې پایله به یې د حکومت او نظام سقوط وي. دا چې په افغانستان کې ملکي او پوځي مؤسسات لا ډېر ضعیفه دي، زما په اند که حکومت سقوط کوي نو نظام هرو مرو سقوط کوي ځکه د نظام او حکومت تر منځ فرق نشته دی. که ځیني ډلې او اشخاص په دې فکر وي چې دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت مخالف دي خو د نظام مخالف نه دي نو دوی زما په اند تر اوسه هم د خپل ملک او نظام نه سم درک نه لري او په خیالي نړۍ کې اوسېږي.

که خدای ناخواسته موجوده حکومت له منځه ځي نو د دې حکومت او نظام بدیل به موجوده اکټران چې په حکومت کې دننه دي اوکه بهر، نه وي بلکې د حکومت بدیل به یوازې داعش یا طالبانو مسلح اپوزیسون وي. د مسلح اپوزیسون په راتګ سره به بیا دا اکټران چې په حکومت کې دننه دي او که بهر، او هم د افغانستان د ملت هغه لویه برخه چې د نظام د جوړېدو امېدونه د یو سوکاله او پرامنه افغانستان او ښه ژوند لپاره غواړي، د ټولو نه زیاته ضربه وګوري. خدای ناخواسته که دا نظام د سقوط سره مخامخ کېږي، نو افغانستان به داسې ضربه وګوري چې راتلونکي څو نسلونه به په فقر، بدبختۍ او جنګونو کې اخته وي او د افغانستان موجوده سیاسیون به د خدای او تاریخ په وړاندې ملامته وي.

دا ډېره اسانه خبره ده چې ولس څوک تحریک کړي او سرکونه ته یې راوکاږي او یا سیاسي مشران داسې مسایل مطرح کړي چې د هغو په اساس ملت نور هم د بې اتفاقۍ په لوري سوق کړي تر څو ملت د یو بل پر ضد سیاسي، نژادي، قومي او سمتي مورچې ونیسي. اما د داسې مسایلو مطرح کول او یا ولس سرکونو ته راویستل داسې مرحلې ته رسېږي چې بیا وضعیت شاید د دوی د کنټرول نه ووځي. زما لیکنه ټولو خواو ته متوجه ده او هره خبره او یا غوښتنه چې سیاسیون کوي باید عواقبو ته یې پام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ګیله د دواړو ټیمونو نه ده چې یو ټیم ټوله ورځ په ایمیلونو او فیسبوکونو اخته دی او یو بل ته د خپلو فیسبوکي لیکنو، ایمیلونو او فعالیتونو معلومات ورکوي او یا په اصطلاح یو بل بریف کوي اما بل ټیم په شخصي، قومي او نژادي غوښتنو او تشریفاتو اخته دی. اصلي مسایلو ته چې د افغانستان لپاره ستراتیژیکي اهمیت لري، هیڅ توجه نه کوي. زما په اند په حکومت کې دننه او هم بهر سیاسي اکټران که غواړي چې افغانستان کې سوله وي او ولس په امن کې ژوند وکړي، په دې حساسه مرحله د تاریخ کې باید لاندې سیاسي مسایلو ته خاصه توجه وشي:

۱) دوی باید ملت ته اطمینان ورکړي چې نظام سقوط نه کوي او دوی په متحده توګه د مسلح اپوزیسونونو په مقابل کې واحد موقف لري.

۲) د افغانستان مسلحې قواوې چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې هره لحظه قرباني ورکوي، دوی باید هغوی ته مورال ورکړي نه چې د هغوی مورال نور هم ضعیفه کړي. د افغانستان مسلحې قواوې او ولس چې په حکومت کې دننه او بهر د سیاسي اکټرانو خبرې، بیانیې، ناخوالې، شخصي او سلیقوي غوښتنې او یا ناسم مدیریت ګوري، هغوی مایوسه کېږي او دا د هغوی په مورال منفي اغېز لري. د یو حکومت او نظام سره چې د ولس او خپلو پوځي او سیاسي مؤسساتو حمایت نه وي، هیڅکله کامیابېدی نه شي.

۳) په دې اساسي وخت کې د افغانستان سیاسیون یو ملي موقف ته اړتیا لري چې د مسلحو اپوزیسونونو او د هغوی د پلویانو په مقابل کې ونیول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي که نه د هغوی مورال نور هم قوي کېږي او پایلې یې د ټولو په تاوان دي.

٤) په دنیا کې ډېر زیات نور بحرانونه شته دی او افغانستان د نړۍ د مسایلو په سر کې واقع نه دی. همدا شان دنیا هم په افغانستان کې ستړې شوې ده نو که دوی هر ورځ منفي خبرونه د افغانستان نه اوري نو فکر نه کوم چې دنیا هم خپلو مرستو ته تر ابده دوام ورکړي. دا ډېره ښه خبره ده چې موږ په خپلو پښو ودرېږو خو متأسفانه تر اوسه زموږ پوځي او ملکي مؤسساتو شتون ټول په بهرني مرستو ولاړ دي.

٥) که څه هم د افغانستان د درې ګونو قواو حقوقي مشروعیت اوس هم له سوال سره مخامخ دی، خو په حکومت کې دننه او هم د حکومت نه بهر د سیاسي اکټرانو بې مسوولیته بیانیې، خبرې او غونډې د حکومت او نظام مشروعیت نور هم له سوال سره مخامخ کوي. د هر حکومت او نظام حقوقي او سیاسي مشروعیت چې څومره کمېږي اویا د سوال سره مخامخ کېږي، په هماغه اندازه هغه حکومتونه او نظامونه ضعیفه وي چې بالاخره نظام او حکومتونه په خپله د داخل نه سقوط کوي چې نمونې یې موږ څو ځله په افغانستان کې تجربه کړې دي.

زما په اند د افغانستان د حکومت او نظام د ثبات لپاره دا پورته پنځه ټکي د نور ټولو مسایلو نه ډېر زیات اړین دي او د ټولو دنده او مسوولیت دی چې د پورته ټکو د عملي کولو لپاره کار وکړي څکه که حکومت او نظام نه وي نو بیا هیڅ نشته دی او نه بیا سیاسي اختلاف څه ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف د نظر او يا سياسي رقابتونو اهداف همېشه بايد په ملي منافعو ولاړ وي او که په ملي منافعو ولاړ نه وي نو بيا زور بالای زور به لکه د ځنګل د قانون په توګه حاکم وي.

پژواک خبري اژانس هم دا يورته ليکنه خپره کړې ده:

http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D۸٪AF-%D۸٪AD%DA%A۹٪D۹٪۸۸٪D۹٪۸۵٪D۸٪AA-%D۸٪B۳٪D۹٪۸۲٪D۹٪۸۸٪D۸٪B۷-%D۸٪AF-%D۹٪۸٦٪D۸٪B۸٪D۸٪A۷٪D۹٪۸۵-%D۸٪B۳٪D۹٪۸۲٪D۹٪۸۸٪D۸٪B۷-%D۸٪AF%DB٪۸C

روهي ويبپاڼې هم دا ليکنه خپره کړې وه:

http://www.rohi.af/fullstory.php?id=٤۸۳۳۱

**د آزادۍ د ورځې په مراسمو کې د سقاو د زوی حبيب الله کلکاني عکس لګول:**

۲۸ اسد ۱۳۹۵ ل چې ۱۸ اګست ۲۰۱۶م کال سره سمون خوري

نن د افغانستان حکومت د اسد ۲۸مه، د استقلال د آزادۍ ورځ لمانځله او په دغه ورځ يې د امان الله خان او د نورو عکسونو سره د سقاو د زوی، حبيب الله کلکاني عکس هم ځړولی و. د افغانستان د حکومت مشرتابه او په خاصه توګه د دفاع وزير جنرال عبدالله حبيبي دا يوه لويه تېروتنه کړې وه چې د استقلال ورځ کې د استقلال پرضد شخص عکس هم ځړولی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما دا لیکنه په فیسبوک کې خپره کړه چې په سلهاو دوستانو پرې تبصرې هم لیکلې وې:

رسمي مجالس ځانته پروتوکول لري د اشخاصو د ناستې نه نیولې د ستیج تر ډیزان او عکسونو نصبولو پورې او حتی اندازه او سایزونه د عکسونو هم باید په نظر کې ونیول شي. نن چې کوم عکسونه په دفاع وزارت کې لګول شوي وو، دا د آزادۍ د ورځې د پروتوکول سره یې هیڅ تړاو نه درلود. د ارګ مسوولین باید د نننۍ غونډې منتظمینو او هم د پروتوکول مشر ته سخته سزا ورکړي چې بیا داسې کار تکرار نه شي.

د اګست په ۱۹مه نېټه مې دا لاندې لیکنه وکړه ځکه د سقاو د زوی عکس ځړول، د آزادۍ د ورځې مراسم ډېر پیکه کړه:

پرون چې کوم عکسونه د استقلال د ورځی په رسمي مراسمو کې ځړول شوي و او په غونډه کې هغه برخوالو چې ځانونو ته ملي ملي وایي په سترګو نه لیدل او نه چا پرې اعتراض وکړ. د دې خبرې معنی دا ده چې دوی ټول د مشر نه نیولې تر کشر پورې د سترګو د شبکورۍ په مرض اخته شوي دي. د شبکورۍ مرض یوه مهمه نخښه دا ده چې د نظر د کمزورۍ ترڅنګ، د انسان فکري توازن هم خرابوي. کله چې فکري توازن خراب شي نو بیا حکومتداري هم د سرې نه خرابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ورځ زياترو دوستانو د فيسبوک په صفحو خپل لوی لوی عکسونه خپاره کړي و، چې د امان الله خان عکس يې وړوکی په کوم کنج کې خپور کړی و نو بيا ما هم دا لاندې ليکنه خپره کړه:

دا چې د آزادۍ د ورځې لپاره په فيسبوک کې مو خپل عکسونه غټ ډيزاين کړي او د امان الله عکس مو په کنج کې وړوکی ډيزاين کړی دی مطلب څه دی؟ چې ايا تاسي د امان الله خان نه مهم ياست او که څنگه؟ د پروتوکول په لحاظ، څوک چې مهم وي نو د هغه عکس لوی او څوک چې لږ مهم وي نو د هغه عکس په عين ډيزاين کې وړوکی وي.

**پپوليست سياست:**

۱۸ اگست ۲۰۱۶م کال، کابل

ياره دا د پپوليست سياست پيرو تحليگرانو خو زما زړه د ټلوېزيونونو د پروگرامونو د ليدو نه تورکړی دی. ټلوېزيونونه هم نه پوهېږي چې دوی د دوی د تحليل او تبصرو نه څه غواړي.

**موږ د دايمي سولې لپاره ډېرې اوږدې مبارزې ته اړتيا لرو:**

۱۹ اگست ۲۰۱۶م کال، کابل

تېرو څو لسيزو ايډيالوژيکو جگړو په افغانستان کې دومره زياتې ټولنيزې ستونزې زېږولي چې زوی پلار ته کافر ښکاري، پلار زوی ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور ورور ته، خپل خپل ته، گاونډي گاونډي ته او داسې نور. په يو بل بې باوري او بې اعتمادي دومره زياته شوې چې د مينې او همکارۍ اړيکي يې سره شلولي دي. پخوا به د کور او کلي مشر ته د درنښت په سترگه کتل کېدل خو نن د کور او کلي د مشرانو په خوله څوک پياز هم نه خوري. پخوا به اکثره کورنيو غړو په يوه ماحول کې ژوند کاوه چې په عمومي توگه د کورنيو د غړو ترمنځ د اقتصادي، فکري او ټولنيز ژوند واټن ډېر کم و، خو نن دا واټنونه د هرې کورنۍ د غړو په منځ کې ډېر زيات شوي دي. اوس موږه اکثره د خپلو کورنيو د نږدې غړو د کړو وړو او طرز فکر نه خبر نه يو چې څه کوي او د چا سره اړيکې لري. دا ډول ستونزې اوس زموږ د ټولنې واقعيتونه دي او ترڅو چې زموږ د ټولنې جوړښت بېرته نارمل حالت ته ونه گرځي، د افغانستان هر حکومت به د ښې حکومتدارۍ، امنيتي او اقتصادي ستونزو سره لاس او گرېوان وي. سوله او سکون به لادرکه وي.

موږ پخوا دين، ادب، کورنۍ او ټولنيز مسوولیتونه په کور، حجرو او ديرو کې زده کول خو د تېرو څلور لسيزو د جنگونو او ناخوالو له امله زموږ محلي او محيطي روزنتونه له منځه لاړل او په عوض يې زموږ زياتو ځوانانو په هېواد کې دننه او يا بهر په مدرسو، وړکتونونو او مرستونو کې تربيه حاصله کړله. دوی ته د خپل وطن تاريخ، د کورنۍ ژوند خوبيانې او اجتماعي دود او دستور نه دی ښودل شوی او دوی ته هر څه پردي ښکاري. د دوی په مغزو کې بېلابېلې آيډيالوژۍ په خرابه او يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



انحرافي ډول ترزيق شوي او د دوی ماغزه Brain Wash يا وينځل شوي دي. نوی نسل، د وژنو، جنګونو او ورځنيو نا خوالو سره معافيت اخيستي دی. اکثرو ته کورني، ملي او حتی اسلامي ارزښتونه چې د دې بعضو ډلو د تکفيري ايډيالوژيو د تګ لارې سره برابر نه دي کفر ښکاري او په دې فکر دي چې زموږ ټولنه او هم دنيا په غلطه روانه ده او يوازې همدا څو محدودې تکفيري ډلې دي چې په سمه لار، روانې دي.

ځوانان همېشه د منفي نظرياتو اود پرديو د اډيالوژيکي اغېز لاندې ډېر ژر راځي. باالخاصه هغه ځوانان چې د هويت د بحران يا Identity Crisis سره مخامخ دي. دا ځوانان چې د هېواد نه بهر زېږېدلې دي، دوی نه پوهېږي چې د دوی هويت څه دی او د افغانانو د ځوانانو لپاره دا ستونزه د ټولو نه زياته ده. د افغانستان د جنګ موده ډېره اوږده شوه او دا څلورم نسل دی چې په جنګ کې اخته دی. د دې ځوانانو ريښه او هويت په اصل کې افغاني دی خو دوی ته بيا د اسلامي هويت په نامه پېچکارۍ ووهل شوه او ورته وويل شول چې اسلام سرحد نه لري او دوی ته عقيده د هويت په ځای تلقين شوه. ځينې چې په غربي هېوادونو کې اوسېږي، والدين ورته همدا وايي چې بايد ښه مسلمان اوسې او هم ښه افغان، خو د کور نه بهر شرايط بيا داسې نه دي. اسلام او افغانيت دوی د يو شعار په توګه پېژني. د دوی نه د يو ښه افغان او يو ښه مسلمان نمونه ورکه ده او نه پوهېږي چې ښه مسلمان او ښه افغان يعنې څنګه؟ د دوی په مغزو کې د افغانيت او اسلاميت کلمه سمه نه کښېني او کله چې دوی انټرنېټ ته سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردننه کوي تر څو ښه افغان او ښه مسلمان پسې لټون وکړي نو بيا په بېلاريو سر شي.

يو دوست راته قصه کوله چې يو ډله ځوانان د ماسپښين لمانځه لپاره په کلفورنيا کې جومات ته روان وو، چې د عربانو غوندې اوږده کمېسيونه يې اچولي او چلتارونه يې په سر وهلي وو او هم ورسره اوږده اوږده ډانگي (لکړې) وي. ده ترې پوښتنه کړې وه چې په دې ډانگو څه کوئ؟ هغوی ورته ويلي وو چې رسول الله (ص) او صحابه کرام چې کله جومات ته تلل نو د ځانونو سره به يې ډانگي جومات ته وړل. دا ځوانان په دې نه پوهېدل چې د مکې سيمه غرنۍ سيمه ده او په هغه وخت کې چې برق نه و، د شپې به څوک جومات تله نو د ډانگو وړل د ځانونو سره ښه کار و چې څوک د کومې پرخې او يا گړنگ نه ونه غورځېږي. اما په کلفورنيا کې چې سرکونه هوار دي او د برق روښنايي هم شته دي نو د ځانونو سره د ډانگو وړولو څه اړتيا ده. دا ډول حرکات په عوض د دې چې د اسلام د ترويج سره مرسته وکړي، د اسلام پرضد ذهنيت سؤ تبليغاتو ته لاره هواروي.

ډېر کسان دا وړانديز کوي هغه ځوانان چې د حکومت پرضد جنگېږي، بايد ونيول شي او يا ووژل شي. فرض کړو چې حکومت په زرهاو کسان ونيول، بنديان يې کړل او يا يې ځيني ځيني اعدام هم کړل، بيا هم زموږ ستونزه نه حل کېږي. دا ځکه چې د بنديانو، شهيدانو، زخميانو، او وژل شويو کسانو د کورنيو پالنه به څوک کوي؟ که د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنيو سمه پالنه ونه شي نو بيا به هم د يو بندي، زخمي، شهيد او يا وژل شوي کس کورنۍ يوه مريضه کورنۍ وي چې په ټولنه به بار وي او د هغوی اولادونه به بيا هم د جنګ په لاره روان وي. د تکفيري ډلو لپاره د همداسې مجبوره او عقده يي کورنيو نه د ځوانانو د جلب او جذب ښه او اسانه لار ده. زما په اند، د حکومت نه به دا توقع  بې ځايه وي چې دا ټولنيزې ستونزې دې ډېر ژر حل  کړي ځکه د دايمې ثبات لپاره د کور کلي نه نيولې د ټول هېواد په کچه يوې اوږدې مبارزې ته اړتيا ده.

پورته مسايلو ته په پام سره، زموږ ټولنه اوس يوه مريضه او نيمګړې ټولنه ده او دا ډېر وخت ته اړتيا لري چې زموږ دا مريضه ټولنه ښه شي او د ځوانانو فکري نظر تغيير وخوري.  موږ هر يو ته په کار ده چې په خپله ساحه کې د خپل توان او امکاناتو په چوکاټ کې په خپل کورنو او کلي کې جدي مبارزه وکړو ترڅو يو فکري تغيير رامنځته شي  او افغانستان يوې دايمي سولې ته ورسېږي.

پژواک خبري اژانس هم دا پورته مقاله خپره کړې ده:

http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D٩٪٨٥٪D٩٪٨٨٪DA٪٩٦-%D٨٪AF-%D٨٪AF%D٨٪A٧٪DB٪٨C%D٩٪٨٥٪D٩٪٨A-%D٨٪B٣٪D٩٪٨٨٪D٩٪٨٤٪DB٪٩٠-%D٩٪٨٤٪D٩٪BE%D٨٪A٧٪D٨٪B١٪D٩٪٨٧-%E٢٪٨٠٪٨C%E٢٪٨٠٪٨C%E٢٪٨٠٪٨C%E٢٪٨٠٪٨C%E٢٪٨٠٪٨C%E٢٪٨٠٪٨C%DA٪٨٩٪D٩٪٨A%D٨٪B١٪DB٪٩٠-

(c) ketabton.com: The Digital Library



%D8%A7%D9%88%DA%96%D8%AF%DB%90-
%D9%85%D8%A8%D8%A7%D8%B1%D8%B2%DB%90-
%D8%AA%D9%87-%D8%A7%DA%93%D8%AA%DB%8C%D8%A7-
%D9%84%D8%B1%D9%88

**د تېرو څو لسيزو جګړې او د سولې ناکامې هڅې:**

۲۱ اګست ۲۰۱۶م کال، کابل

هر جنګ ځانته علل او معلول لري او ترڅو چې موږ د جنګ په علل پوه نه شو، تر هغې پورې موږ د جنګ معلول ته د حل لارې نه شو پيدا کولی  په افغانستان کې اکثره ولس او سياسيون د جنګ علل يا عوامل په Conspiracy Theoriesيا د شک او دسيسې په تيوريو کې ګوري. د شک تيوريګانې همېشه د افغانستان د ناکامه سياسيونو او مشرانو له خوا په اګاهانه او غير اګاهانه توګه د ولس په مغزو کې پيچکارۍ شوي دي. په افغانستان کې د اوسنۍ جنګونو په اړه د شک د تيوريګانو يو څو بېلګې په لاندې ډول دي:

۱. ډېرې مشران او تحليل ګران په دې عقيده لري چې افغانستان د منطقوي او نړيوالو سياستونو، او Proxy Wars يا نيابتي جنګونو قرباني دی. ترڅو چې منطقوي او نړيواله همغږي، توافق او يا د دوی د مشترکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټو د تمرکز ټکي پیدا شوي نه وي تر هغې پورې به په افغانستان کې جنګ دوام کوي.

۲. نړیوال او په خاصه توګه امریکا غواړي چې په افغانستان کې جنګ تود وساتي ترڅو د خپلو اقتصادي او یا ستراتیژیکي ګټو د اهدافو لپاره په افغانستان کې د خپلو قواو د شتون لپاره دلایل ولري.

۳. افغانستان ډېر زیات طبیعي ذخایر لري نو نړیوال د افغانستان د ذخایرو د لوټولو لپاره دلته راغلي دي د بېلګې په توګه تر څو د هلمند او بدخشان نه یورانیوم یوسي او یا داسې نور.

٤. منطقوي او نړیوال هېوادونه دلته جنګ یوازې د پښتنو په سیمو کې تود ساتي ترڅو د لر او بر پښتنو د خود ارادیت داعیه ووژل شي.

٥. طالب او داعش د غربي هېوادونو او په خاصه توګه د یهودو پروژې دي ترڅو اسلام بدنامه کړي او په دې توګه د مسلمانانو په منځ کې تفرقه واچوي.

که د هرې تیورۍ په علل او عواملو باندې بحث وشي نو فکر کوم چې کتابونه پرې لیکل کیدای شي. دا زه نه ردوم چې د هرې تیورۍ ترشا یو څه دلایل او یا حالات داسې مساعد شوي دي چې د ولس باور په دې تیورګانو باندې زیاتوي خو زما په اند دا ټولې تیورګانې ناسمې دي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې د افغانستان سیاسون چې همېشه د ستونزو د حل د اصلي علتونو نه فرار کوي او یا خپله ملامتیا نه مني نو ولس ته همېشه د شک تیورګانې ترمخه کوي. د شک تیوري همېشه مسایلو ته لنډ، د ولس په ژبه ساده او قانع کوونکې ځواب په اسانه توګه ورکوي. د شک په تیوریوګانو باندې د نړۍ په پرمختللي هېوادونو کې هم سیاسون باور لري چې ښه مثال یې د امریکا د روان جمهوري ریاست لپاره د جمهوري غوښتونکو د ګوند نوماند، ډونالد ټرمپ دی او د امریکا یو تعداد زیات ولس د ده د شک په تیوریو او پپولیست شعارونو غولېدلي هم دي ځکه ده خپل ولس ته د نړیوالو مسایلو حل په ساده شکل وړاندې کړی دی حال دا چې د نړیوالو کړکیچونو حل دومره ساده نه دی لکه څنګه چې دی شعارونه ورکوي.

رابه شو پورته دوه عمده پوښتنو ته:

زما په اند، د افغانستان د جنګ عمده عوامل پخوا او اوس هم د سیاسي او اقتصادي قدرت انحصار دی. که لږ لنډ ځغلنده نظر تېرو څلورو لسیزو ته واچوو، نو د خلق ډموکراتیک ګوند پرضد ولس ځکه راپاڅیده چې دوی سیاسي او اقتصادي قدرت په خپل انحصار کې ونیوه. د دوی نه خبره ځکه خرابه شوله چې دوی بیا په خپلو منځو کې د قدرت د انحصار په سر سره نه جوړېدل او د یو بل پر ضد یې دسیسي پیل کړې. خپل حکومتونه یې په خپله له منځه سره یوړل او خپل ملګري یې په خپله سره بندیان او ووژل او بالاخره دوی د سیاسي ضعف او مدیریت له امله ناکامه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاهدينو ډلو هم د قدرت انحصار غوښته. په شريکه سره يې د کابل کمونيستي رژيمونو ته سقوط ورکړ خو بيا په خپلو منځو کې د قدرت د انحصار لپاره، د يو بل پرضد دسيسې پيل کړې، يو بل يې سره ووژل او د دوی د لاسه د وطن کادري سرمايې لويه برخې فرار وکړ او د افغانستان فزيکي سرمايه ټوله چور کړی شوه.

طالبانو هم د قدرت انحصار غوښته او نورو ته يې په حکومت کې برخه نه ورکوله او بالاخره سقوط يې وکړ او اوس د قدرت د انحصار لپاره، طالبان څو ډلې دي او بی هدفه جګړه يې د افغانانو په مقابل کې پيل کړې ده چې هره ورځ په لس ګونو بېګناه ملکي افغانان د دوی د ناروا جنګونو له امله له وژل کېږي.

د بن د قرارداد نه وروسته د حامد کرزي په څو دورو کې هم سياسي او اقتصادي قدرت انحصار د څو محدودو ګروپونو او اشخاصو ترمنځ وېشل شوی و اوس هم همدا لړۍ روانه ده. د ملي وحدت تش په نامه حکومت د مشرانو ترمنځ چنې وهل هم د سياسي او اقتصادي قدرت د انحصار لپاره دي.

زما په اند ترڅو چې د سياسي او اقتصادي قدرت د انحصار لړۍ روانه وي، تر هغې به په افغانستان کې جنګ دوام پيدا کوي او ثبات به نه وي. ولس به د څو محدودو ډلو او ټپلو، او يا اشخاصو د قدرت د انحصاري ګټو د ساتلو لپاره قرباني ورکوي. د قدرت انحصار يوازې او يوازې هغه وخت ختميداي شي ترڅو په يو ملک کې د حکومتدارۍ سياسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي ابعادو مديريت ښه شوی نه وی. البته دغه نوبل يا ښه اهدافو ته په دوه توګه يو ملک رسېدلی شي. اول دا چې د حکومت مشرتابه د ولس د منځ نه د ولس په خوښه راوټوکېږي او بيا د ډيموکراتيکو اصولو په چوکاټ کې حکومتداري وکړي. په دې توګه حقوقي او سياسي مشروعيت د يو نظام او حکومت د سوال لاندې نه وي او بالاخره داسې ملکونه يو باثباته ډيموکراسۍ ته رسېږي چې په سياسي علومو کې ورته Qality Democracyيا با کيفيته ډيموکراسي وايي. دويمه طريقه يې دا ده چې که مشرتابه په هره وسيله قدرت ونيوه نو بيا داسې پروګرامونه او کړنلارې رامنځته کوي ترڅو د خپل حکومت کولو په دوران کې د قدرت انحصار ته په عملي توګه د پای ټکی کېږدي او راتلونکې کې د سياسي قدرت مديريت يو سم او منتخب مشرتابه ته انتقال کړي يعنې د قدرت انحصار په فکر کې بايد نه اوسي. د داسې حکومتونو حقوقي مشروعيت په لومړي سر کې د سوال لاندې وي خو د سياسي مشروعيت له لارې او د خدماتو په عرضه کولو سره ولس د دوی حقوقي مشروعيت ته ډېر پام نه کوي. متاسفانه د سياسي او اقتصادي انحصار لپاره، تر اوسه د افغانستان د ټولو نظامونو او حکومتونو حقوقي او سياسي مشروعيت همېشه د سوال لاندې دی نو ځکه دوی په دې نه دي توانېدلي چې د يو با ثباته حکومت او نظام لپاره قوي تهداب کېږدي.

پژواک خبرې اژانس هم دا پورته ليکنه خپره کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D۸٪AF-%D۸٪AA%DB٪۹۰٪D۸٪B۱٪D۹٪۸۸-%DA٪۸۵٪D۹٪۸۸-%D۹٪۸٤٪D۸٪B۳٪D۹٪۸A%D۸٪B۲٪D۹٪۸۸-%D۸٪AC%DA%AB%DA٪۹۳٪DB٪۹۰-%D۸٪A۷٪D۹٪۸۸-%D۸٪AF-%D۸٪B۳٪D۹٪۸۸٪D۹٪۸٤٪DB٪۹۰-%D۹٪۸٦٪D۸٪A۷٪DA%A۹٪D۸٪A۷٪D۹٪۸۵٪DB٪۹۰-%D۹٪۸۷٪DA٪۸۵٪DB٪۹۰

**د ټاکنو د اصلاحاتو په اړه د افغانستان د کابینې د پریکړې هرکلی:**

۲۳ اګست ۲۰۱۶م، کابل

په خبرونو کې راغلي دي چې پرون کابینې د ټاکنو په قانون باندې بحث وکړ او هغه طرحه چې د ټاکنو سیسستم حوزوي شي منلی دی. که دا فیصله رښتیا وي نو فکر کوم چې د کابینې دا پریکړه ډېره مهمه او په ځای پریکړه ده. د ټاکنو د ټولو اصلاحاتو نه همدا یوازینۍ پریکړه نهایت زیات اهمیت لري. کاوون کاکړ او ما چې کله د ټاکنو د اصلاحاتو د کمېسیون نه بایکاټ وکړ یو علت یې همدا و چې د اصلاحاتو د ټاکنو د کمېسیون نورو ټولو کمشرانو د ټاکنو د اصلاحاتو سیستم په داسې ډول غوښته چې د افغانستان د اساسي قانون سره په ټکر کې و، د ولس نمایندګي په سمه توګه نه کېدله، په تخنیکي او عملي لحاظ قابل د تطبیق نه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقلب ته يې زياته زمينه مساعدوله او هم په اقتصادي لحاظ حکومت او نوماندانو ته قيمته تمامېدله.

زموږ د طرحې مهم ټکي همدا و که د ټاکنو په سيستم کې تغيير راځي بايد داسې تغيير راشي چې د اساسي قانون سره په ټکر کې نه وي، د ولس ښه نمايندګي وشي او هيڅ قوم او ګروپ بايد د استازيتوب نه محروم نه شي، د تقلب کچه بايد په کې کمه او يا د تقلب مخه نيول اسانه وي، ولس ته بايد عام فهمه وي ترڅو ولس په اسانه خپل د خوښې نوماند ته رايه ورکړای شي، او په اقتصادي لحاظ هم حکومت او هم کانديدانو ته ارزانه وي. يوازنۍ طرحه د افغانستان په شرايطو کې چې د افغانستان د اساسي قانون د ۸۳ مادې پر اساس چې د د نيا په ډېرو نورو هېوادونو کې تطبيق شوې ده هغه حوزوي سيستم دی چې هر حوزه د ټاکنو بايد يو وکيل ولري. په دری ژبه کې ورته تک کرسي، په پښتو کې حوزوي سيستم يعنې هره حوزه د ټاکنو بايد يو وکيل ولري او په انګليسي کې ورته Single Member District (SMD) وايي.

د دې خبرې يادونه په کار ده چې زه د افغانستان د پارلمان دواړو جرګو نه مننه کوم چې دوی پخوانۍ طرحې چې د اساسي قانون سره په ټکر کې وې دوه ځلې رد کړې.

اميد دی چې د افغانستان جمهور رئيس د کابينې د پرېکړې په اساس د ټاکنو قانون په اړه فرمان چې حوزوي سيستم تايد کړي، ډېر ژر توشيح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود ته نه پاڅېدل:

۲۳ اگست ۲۰۱۶م کال، کابل

په يو مجلس کې وم چې تقريباً په دوه سوه کسانو محلصينو، استادانو او مشرانو په منځ کې د پوهنتون يو استاد ملي سرود ته اوچت نه شو. ما فکر وکړ چې دا اشنا چې پوه پښه يې په ښوکې ځړونده کړې وه او بله پښه يې اوچته کړې وه او په ښوکې په يوه پښته ناست و، ښوک دی. نو د خپل ښنگ د پوهنتون استاد ښخه مې پوښتنه وکړه چې دا اشنا ښوک دی؟ نږدې ملگري مې راته وويل چې دا اشنا د طب د پوهنځي استاد دی.

نن يو بل پوست مې په فيسبوک کې وليده چې د ننگرهار د طب د پوهنځي دوه استادان د ښلويښتو ورځو لپاره په تبليغ تللي دي. د مامورينو د قانون په اساس، قانوني رخصت په کال کې شل ورځې دی او دا چې دوی زيات وخت تېروي نو دوی شايد دوه دروغه او يا خيانت د خپل ځان، د خپلو شاگردانو او د خپل ولس په وړاندې ترسره کړی وي. اول دوی به هرو مرو چاته ويلي وي چې د دوی د حاضري خانې سپينې پرېږدي او يا په جعلي توگه د دوی امضا وکړي. که دوی د اوږي د رخصتيو په په وخت تللي وي نو رخصتي د استادانو لپاره د چکر لپاره نه ده بلکې استادان بايد په رخصتيو کې ريسرچ او تحقيق وکړي ترڅو راتلونکي سمستر لپاره خپلو شاگردانو لپاره ښه پروگرامونه د تدريس برابر کړي نه دا چې د کلونو زاړه نوټونه خپل شاگردانو او محصلينو ته هرکال تقسيم کړي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل علم او ترتیب د تدریس کې هیڅ نوی والې رانولي. دویمه دا چې هغه معاش یا معاش چې دوی اخلي،دوی یې مستحق نه دي.

د پوهنتون کوم استاد چې ملي ارزښتونو ته ارزښت نه ورکوي، نو داسې استادان به خپلو محصلینو ته څنګه د ملي ارزښتونو الګو او نمونه شي. زما په اند د داسې استادانو دنده چې ملي ارزښتونو ته ارزښت نه ورکوي باید سمدلاسه وځنډول شي.

سوال دا دی چې تبلیغ ته ځي خو دروغ او چل په خروارونو کوي. هماغه د رندۍ مسئله ده چې د دوی ثواب او عذاب سره برابرېږي او تکلیف یې اضافه دی.

**په اصطلاح د سیاسي نخبه ګانو جفا د افغانانو سره:**

د سپتمبر ۲مه نېټه، کال ۲۰۱۶م، کابل

زما په اند، د افغانستان په اصطلاح سیاسي نخبه ګان د فیل په غوږ کې ویده دي. په عوض د دې چې خپل ولس ته د ملي وحدت روحیه ورکړي په عوض یې ملت نور هم په قومي او سمتي ناولو انګیزو کرغیړن کوي چې عواقب یې هم د دوی قومي او شخصي اجنداو ته شاید خطرناکې پایلې ولري او هم د افغانستان مظلوم او بېچاره ملت ته چې په تېرو څلورو لسیزو کې د دوی د شومو اهدافو قرباني شوي دي او وي به. زما په اند، دوی هم د خپلو خلکو او قومونوسره او هم د افغانستان د خلکو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهايت زياته جفا او خيانت کوي چې جبران به په راتلونکې نږدې وختونو کې غير ممکن وي.

من فکر ميکنم که به اصطلاح نخبه گان سياسي افغانستان د گوش فيل خواب هستند. به عوض اينکه مردم خود روحيه وحدت ملي را بدهد، براى اهداف نا پسند خود مسايل قومي و سمتى را دامن ميزند. عواقب اينچنين مسايل نه به اينها، نه به اقوام و مردم ايشان که اينها بنام نمايندگى ميکند و نه به افغانستان کدام فايده خواهد داشت و شايد عواقب نهايت خراب خواهد در پا داشت. مردم افغانستان بخاطراهداف شخصى و شوم اينها در چهاردهه گذشته قرآنى دا ده و شايد ديگر هم قربانى بدهد. به فکر من اينها در حقيقت با اقوام خود و ملت افغانستان جفا نا بخشودنى ميکند که شايد جبران ان درا اينده هاى نزديک غير ممکن خواهد بود.

**زما نوی کتاب د چاپ نه راووته**

۲ سپتمبر کال ۲۰۱۶م، کابل



(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستونزو او مصروفيتونو ترخنگ، زما نوی کتاب چې د کونړ ولايت: سياسي او قومي جوړښتونه، دودونه او تاريخي پېښې نومېږي، بالاخره د چاپ نه را ووآته. د ټولو هغه دوستانو نه چې د دې کتاب په ايډيټ، مرکو او معلوماتو په شريکولو کې يې ما سره مرسته کړې، د زړه له کومي مننه کوم. په خاصه توگه د رحمان الله بهير نه مننه کوم چې د دې کتاب په چاپ او ډيزاين کې راسره مرسته کړې ده.

يوه مسئله چې نهايت زياته مهمه ده هغه دا ده چې د دې کتاب په لوستلو سره چې د مشت نمونه خروار په توگه معلومات لري، دا جوته کوي چې د کونړ په سيمه باندې د وخت حاکمانو او پخوانيو نظامونو او رژيمونو څومره ظلمونه کړي دي. البته د نورو سيمو ولسونه او يا قومونه چې د پخوانيو رژيمونود ظلمونو نه شکايتونه کوي، دوی ته به دا هم پته ولږېږي چې د کونړ په سيمه کې پخوانيو رژيمونو ظلمونه که د نورو سيمو نه زيات نه و نو کم هم نه دي. پخوانيو رژيمونو يوازې د خپل قدرت د تحکيم لپاره کار کاوه او هغوی ته قومي مسايل هيڅ مطرح نه و بلکې يو قوم يې د بل قوم پرضد جنگاوه. نو په دې توگه مونږ د پخوانيو رژيمونو د مشرانو ظلمونه که تاجک و، که پښتون او يا د بل کوم قوم پورې تړاو درلوده د هغه قومونو پورې نه شو تړلی ځکه هغوی يوازې د خپلو شخصي گټو او د قدرت د ټينگولو لپاره کار کاوه. تاريخ پخيله د پخوانيو رژيمونو د مشرانو په اړه قضاوت کړی او کوي يې او د تاريخ قضاوتونه څوک بدلولی نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۲۰۱۰ م کال د پارلمان پرېکړې ته درناوی:**

۴ سپتمبر ۲۰۱۶ م کال

په اول د سپتمبر د حبیب الله کلکانی (بچه سقاو زوی) پلویانو د هغه هډوکي چې معلومات نشته چې د چا هډوکي دي، د نادرخان د تپې د ببخ نه راوویستل او غوښتل یې چې په دولتي مراسمو یې د شهرا ارا په غونډۍ کې خاورو ته وسپاري چې بیا پرې د دوستم پلویانو ډزې وکړې دوی ویل چې دا تپه د دوی د مشرانو یادګار دی او دلته باید د دوی هډوکي ښخ نه شي چې یو کس په دغه نښتو کې ووژل شو او درې کسه نور زخمیان شول. بیا دوی د کلکاني هډوکي د شپې لخوا ښخ د یو تفاهم په پایله کې ښخ کړل. دا د اشرف غني په حکومت کې د ټولو نه سترګه اشتباه وه ځکه د ده د ښخولو امر او فرمان ډاکتر عبدالله عبدالله ورکړو او اشرف غني یې مخنیوی ونه کړ. نو په دی خاطر ما په فیسبوک کې دا لاندې تبصره ولیکله:

که یاد مو شي د افغانستان پارلمان په ۲۰۱۰ م کال کې پرېکړه وکړه چې د تېرو کلونو ټول جنګي جنایتونه باید وبخښل شي او په دې تور نور څوک محاکمه نه شي. زما په اند د همدغه پرېکړې په رڼا کې پخواني عالي رتبه دولتي مشران او تش په نامه پادشاهان چې د دغه پرېکړې نه د مخه مړه شوي او یا وژل شوي دي، هم شامل دي. نو په دې توګه حبیب الله کلکانی هم په دغه ډله کې شامل دی او د ده په څېر، شاه شجاع ببېچاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تره کې، حفيظ الله امين، ببرک کارمل، ډاکتر نجيب الله، ملا عمر، ملا منصور او نور مړه مشران ټول د بخښلو دي. خدای دې ټول وبخښي اخرت د هر چا خپل دی او هرچا سره به د خپلو اعمالو په انډول الله تعالی حساب کوي. يوې بلې پريکړې د پارلمان ته هم اړتيا شته چې دا ژوندي فاسد مشران هم وبخښي نو بيا به ان شاالله هرڅه ښه شي او د هيچا سره به د محاکمه او پوښتنې تشويش نه وی.

**زړه مو د تيږې نه کلک شوی دی:**

که څوک د انسان زړه ولري، هره ورځ هره حمله او د مرګ ژوبلې خبر زړه دردونکي دي، د هر چا ژوند قيمتي دی او د هرې ودانۍ د هرې خښتې تخريب زړه ماتونکی دی.

په دعاګانو، غندلو، مشورو او انتقادونو مو زړه وخوړ خو په موږ نه الله تعالی رحم کوي او نه نور انسانان ځکه چې موږ په خپل ځان په خپله ترحم نه کوو. خفه کېږو به نه د انسانيت او ترحم روحيه زموږ له منځه تللې ده او يو څو شيبې اه وافسوس د يوې پيښې نه وروسته وکړو خو بيا بېرته هماغه کاسه او هماغه اش وي او فکر کوو چې په وطن کې خير خيريت دی.

نور به چوپ کينو ځکه نه مو حکومت د حکومت کولو اهليت لري او نه د حکومت مسلح او غير مسلح اپوزيسون د سړي زامن دي چې د خپل وطن او خلکو غم ورسره وي او نه خاموش اکثريت څه کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه منجلاب کې به ټول غرق کېږو خو هغه کسان به د ټولو نه زيات تاوان گوري چا چې په تېرو پنځلس کلونو کې د خپل وطن او خلکو سره زياته جفا او خيانت کړی دی. عاقبت به خير.

**انجينر سيد فريدالله فريد زما د پورته پوست په اړه ليکلي و:**

مياخېل صاحب احساسات او د هغې تبلور د مجازي خپرندويې له لارې ډېر د قدر وړ دي. کوم دي هغه غوږونه چې يې واوري؟ کوم دي هغه سترگې چې و يې گوري او ويې لولي؟ کوم دي هغه مغز چې د دارنگه ليکنو هدف درک کړي؟ او کوم دي هغه څوک چې د نيکو غوښتنو په رڼا کې قدم کېږدي؟

تاسې د خاموش اکثريت يادونه کړې ده نو زما په اند هغه اوس اکثريت نه دی پاتې او د حالاتو او ناخوالو د تاثير لاندې اکثريت په دنباله روانو بدل شوي. راشئ يو وار د خپل شا اوخوا کسان وڅېړو نو جوته به شي چې هر يو به په يو شکل نه په يو شکل دکومې سياسي انديښنې تر سيوري لاندې راغلی وي او هر څه د دغه انديښنې له عينکو گوري، غوږونه يې يوازې د دغه تفکر شعار اوري، مغز يې پر هغه څه تمرکز کوي چې د هغه سياسي چاپېريال يې ورته ديکتې کوي او بالاخره هغه څه کوي چې د هغه لارښونکی يې کوي ځکه چې هغه يې د شعور يوه برخه گرځېدلې ده. اگر چې دا پسيميزم دی چې زه يې قلبا مخالف يم خو بيا هم کله کله د دري لاندې شعر ته پناه وړم:

طبيب از ديده خون باريد و از بالين من برخاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



گفت تدبیر وعلاج این دل خونین نه خواهد شد

**د رسمي او غیررسمي سفرونو او هم د مثبت او منفي تبليغاتو تر منځ توپير:**

۱۵ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

زه څو کرته کندهار ته تللي یم خو همېشه زما سفرونو رسمي بڼه درلوده خو پرون د دوه ورځو لپاره کندهار ته په غیر رسمي توګه د پارلماني چارو کې د دولت وزیر جناب فراهي صاحب او د یو دوست، حاجي عزیزجان په بلنه لاړم. د کندهار په اړه دا تبلیغات چې د کندهار ولایت او ښار ناامنه دی او هم د عینو مینې ځمکه د جمهور رئیس کرزي ورور، محمود کرزي په زوره نیولې ده او هلته یې ښارګوټې په کې جوړ کړی دی، دا تصور زما په ذهن کې و. دا په دې معنی چې کندهار ته هیڅ کار نه دی شوی او کندهار د ژوند کولواو سرمایه ګذاري لپاره مناسبه سیمه نه ده.





(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هرې منطقې  په ستونزو خبرې نه کوم او شايد د همدې سؤ تبليغاتو کې يو څو سلنه ربنتيا هم وي خو په سلو کې نوي سلنه مثبت اړخونه د کندهار نه دي منعکس شوي. دا ځل چې ما کندهار په شخصي سفر کې وليد، زما تصور بالکل د کندهار په اړه بدل شو او د افغانستان هره سيمه چې آباديږي، ما لپاره جلاجلا خوند لري. غواړم چې د کندهار سترګو د ليدلو يو څو خاطرې د تاسې دوستانو سره شريکې کړم نور قضاوت ستاسې:

**عينو مينه:**

عينو مينه يوازې د افغانستان په سطحه نه بلکې د سيمې په سطحه يوه له مهمو پروژو نه ده چې د کابل په شمول، د افغانستان په هيڅ ولايت کې د دې پروژې په پرتله دومره کار نه دی شوی. تقريباً شپږ زره کورونه په ډېر مدرن، منظم او د نړۍ په سطحه د ښاري پلان د نقشو مطابق جوړه شوې سيمه ده او په ليدو ارزي. د دې سيمې کورونه په خاصو نقشواو منظم ډول جوړ شوي دي چې تر اوسه تقريباً درې سوه کيلومتره سړکونه پکې پاخه شوي دي او په همدومره اندازه د نورو د سرکونو د پخولو پلان لري. تفريحګاوې، د خورا زياتو بنډارونو، کورنيو او ځوانانو ته د چکر ځايونه لري چې د افغانستان په بل هيڅ ښار کې دا ډول ځايونه نشته دی چې هم پاکه او ارامه فضا ولري او هم چاته د ګشت او ګذار مزاحمت نه وي. د غريبو، متوسطو او زياتو متمولو کسان لپاره پکې جلاجلا ساحې لري چې د غريبو کورنيو لپاره يې يو کور د ځکمې سره په شپږو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالرو پلورلي دي خو که په راتلونکي کې د دې غريبو کورنيو اولادونه هم په داسې يوه فضا کې وروزل شي نو د عينو مينې له برکته به د دې کورنيو بچيان په سالمه توگه ټولنې لپاره خدمت وکړی شي. د عينو مينه د تعليم او تربيې او هم د صحت په برخه منظم کلينکونه او د افغان ترک ليسه هم لري.

بله لويه گټه د عينو مېنې دا ده که دا پروژه نه وي نو په سلهاو ميليونو ډالرو سرمايې به د افغانستان نه فرار کړی وي چې د سرمايه د فرار د مخنيوي لپاره دا يوه ډېره مهمه پروژه ده. د عينو مينې پروژه يو فکري تغيير په دغه سيمه کې راوستی چې دا تغيير د بلې هر لارې دلته امکان نه درلوده او ترڅو چې فکري تغيير په يوه سيمه کې رامنځته نه شي نو فزيکي پرمختگ هيڅکله راتلای نه شي. همدا شان، د عينو مينې پروژې د اوبو د تحفظ، کاناليزيسون او نورو سهولتونو ته په خاصه توگه توجه کړې ده چې دا هم د نورو ولايتونو لپاره يو ښه ماډل کيدی شي. زما په اند په عينو مېنه ډېر څه ليکل کيدی شي خو زما وړانديز د افغانستان ټولو واليانو، ولسوالانو او ښاروالانو ته دا دی چې دوی بايد هرو مرو د عينو مينې پروژه وگوري او د دغه سيمې نه بايد مهم او مثبت ماډلونه خپلو سيمو ته انتقال کړي.

امنيتي وضعيت د کندهار ډېر ښه شوی دی. موږ د ميرويس نيکه مقبرې ته لاړو، هم مو د بابا صاحب زيارت او د ارغنداب سيمه وليده چې په زرهاو کسانو د ميلې لپاره هلته راټول شوي و. د شپې تر دولس بجو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې مو په عينو مينه کې پياده تقريباً دولس کيلومتره مزل وکړ چې خورا خوند يې درلود اود امنيتي لحاظه څه تشويش نه و ځکه د موږ سره باډيګارد او مسلح کسان نه و او د عادي کسانو په څېر مو چکر واهه. ويلی شم چې د عينو مېنې ښار (زه ورته ښارګوټی نشم ويلی) د افغانستان په سطحه يو له ژونديو ښارونو څخه دی. که ما دا شخصي سفر نه وی کړی نو د کندهار په اړه به زما تصور همداسې د پخوا په شان و حال دا چې داسې نه ده او دا اړينه ده چې افغانان د يو بل سيمو ته سفرونه وکړي او د خپل وطن مثبت کارونه او فکرونه خپلو سيمو ته انتقال کړي. په خپل ځان او په خپل وطن زموږ باور بايد يوازې د څو محدودو ټلوېزيوني شبکو د تبليغاتو پورې منحصر پاتې نه شي. که په يو ولايت کې يو څه نيمګړتياوې شته خو ډېر ښه مثالونه هم شته دی خو متاسفانه د افغانستان صوتي، چاپي او باالخاصه تصويري رسنۍ يوازې منفي خبرونو ته زياته لمن وهي چې دا کار هم د ژورناليزم له پلوه او هم د وطن د ملي منافعو له اړخه سم کار نه دی. موږ بايد ښو ته ښه او بدو ته بدو وايو او بيلانس او Objectivity بايد په خبرونو او تبليغاتو کې موجود وي. د دې سفر يو څو عسکونه هم د فيسبوک درنو دوستانو سره شريکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نظام ړولونه د افغانستان ستونزه حل کولی نه شي:

۱۷ سپتمبر کال ۲۰۱۶م، بنکاک، ټایلینډ




د نظام ړولونه د افغانستان ستونزه حل کولی نه شي

نن د دوه غونډو او کنفرانسونو لپاره د ټایلینډ مرکز، بنکاک ته راورسېدم او سبا ته به کنفرانس پیل کېږي. نن لږ فرصت مې درلوده، نود بنکاک په ښار کې مې یو څه چکر وواهه. زه درویشت کاله پخوا بنکاک ته راغلی وم او څنګه مې چې د بنکاک هوايي ډګر ولیده چې په سترګو یې یو سر او بل سر نه ښکاري دا راته معلومه شوله چې دوی په تېرو درویشت کلونو کې ډېر زیات پرمختګ کړی دی حال دا چې موږ په تېرو درویشت کلونو کې خپل وطن وران کړی او یو بل مو سره وژلي دي. د سرې زړه ډېر زیات خفه شي چې موږ به کله د جنګونو او د دې بدبختیو نه خلاصېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټايلينډ کې شاهي نظام دی خو د افغانستان لپاره يو نظام هم کار ونه کړ. نه شاهي نظام ښه و، نه جمهوري، نه کمونيستي او سوسياليستي، نه ديموکراسي، نه د مجاهدينو او طالبانو مذهبي او د کتاتوري نظامونه. دا ځيني لا چې د پارلماني او فدرالي نظامونو چيغې وهي، که هغسې نظامونه په افغانستان کې رامنځته شول نو فکر کوم چې د تېرو ټولو نظامونو ارمان به وکړو.

زموږ ستونزه د نظامونو په ډول او شکلونو کې نه ده بلکې زموږ ستونزه دا ده چې نظامونه څوک چلوي. زموږ مشرانو او هم لا موږ تر اوسه د خپل وطن جوړېدو ته متعهد نه يو او پړه همېشه په بهرنيانو، په يو او بل اچوو او په خپله کمزورۍ باندې اعتراف نه کوو. يو څو عکسونه د تاسې دوستانو سره شريکوم. د دې عکسونو شريکول د خودنمايي لپاره نه دي بلکې په دې خاطر دي چې د خپل وطن د جوړېدو سوچ بايد موږ ټولو سره پيدا شي او بيا عملا خپل وطن ته کار وکړو.

که موږ د خپلو بشري او طبيعي منابعو نه په سمه توگه گټه واخلو او د خپل وطن او خلکو سره صادقه واوسو، ډېر څه کولی شو. په ځان اتکا د بريالیتوب اصلي راز دی، خو متاسفانه موږ د خپل قوت او منابعو زياته برخه د يو بل پر ضد استعمالوو او منفي فکرونه مو په مثبت فکرونو باندې زياته غلبه لري. نو ښه به دا وي چې دا تناسب سرچپه کړو او په مثبتو کارونو بايد زيات فکر وکړو. په شخصي او ټولنيز ژوند کې چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره ځانونه د منفي گرايي د طرز تفکر نه وساتو، هماغومره به موږ په شخصي او ټولنيز ژوند کې بريالي اوسو.

**بعضې کسان د خولې له خوا د اسهال په مرض اخته دي:**

۲۰ سپتمبر کال ۲۰۱۶م، بنکاک، تايليند

الله تعالي انسانانو ته دوه غوږونه او يوه ژبه د دې لپاره ورکړې ده چې لږې خبرې وکړي او ډېر واوري او يا د منطق په اساس، انسانان بايد دوه چنده وخت د نورو خبرو اونظرياتو اورېدلو ته وقف کړي او يوه برخه وخت خپلو خبرو کولو ته ورکړي. زما په اند د دې نه هم انسانان بايد زيات وخت اورېدلو ته ورکړي ځکه ژبه د خبرو ترڅنگ نورې دندې هم لري. که داسې نه وی نو الله تعالی به هر انسان ته دوه ژبې او دوه غوږونه ورکړي وای او يا دوه ژبې او يو غوږ ورکړی وای.

هغه کسان چې خبرې ډېرې کوي او اورېدل لږ نو داسې انسانان د خولې له خوا د اسهال په ناروغۍ اخته دي او فکر کوم چې د ژبې فزيوتراپې ته اړتيا لري. دا ډول انسان چې خبرې بې سوچه او فکره ډېرې کوي، د خپل طبيعي جوړښت په خلاف حرکت کوي او په عوض د دې چې کمې او مهمې خبرې وکړي، د زياتو خبرو په وجه بې معنا او بې مفهومه خبرې کوي چې په دې توگه هم ځان ته او هم ټولنې ته تاوان رسوي.

**ډاکتر صاحب فريد بزگر ليکلي و:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياخېل صاحب دا يو ډول رواني تکليف دی چې د طبابت له اړخه ورته logorrhea وايي او بايد تداوي يې وشي.

**همايون تره کي صاحب د حافظ صاحب دا شعر راته ليکلي و:**

در بساط نکته دانان خود فروشی شرط نيست
يا سخن دانسته گو ای مرد عاقل يا خموش

**قاضي صاحب لودين ليکلي و:**

هوکی جناب محترم معين صاحب همداسې ده. الله ج دی موږ ته هدايت وکړي چې خبرې کمی وکړو او عمل زياد..{{ خپله خوله هم قلعه ده او هم بلا ده }} الهی موږ د خپلې ژبې د شر نه وساتې.

**حق سعيد صاحب ليکلي و:**

په همدې مفهوم يو حديث شريف هم شته ( من کان يومن بالله فليقل خيرا او ليصمت) څوک چې په الله ايمان لري نو يا دې شي خبرې وکړي او يا دې غلی کيني. سه شه وايې شيخ فريده چوپه خوله دی بهتري ده.


**د سولې نړيواله ورځ:**

۲۱ سپتمبر کال ۲۰۱۶م، بنکاک، تايليند

نن د سولې نړيواله ورځ ده، نو د موږ لپاره په کار ده چې يو څو لحظې د سولې او سوليز ماحول په اړه بايد فکر وکړو چې سوله زموږ د ژوند لپاره څومره زيات اهميت لري او د سولې لپاره بايد څه وکړو. نو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library





توګه افغانانو ته د بل هر چانه زیات د سولې په ورځ د سولیز ژوند لپاره سوچ په کار دی چې څه باید وکړي. د ښه فکر لپاره ښه ورځ ولري.

د سولې په ورځ په بنکاک کې د یو کنفرانس په حاشه کې له دوستانو سره



د ښی خوا نه: ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال، شاه محمود میاخېل، ډاکتر انورالحق احدي، احسان ضیا او سید طیب جواد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید زما او د دې دوستانو ترمنځ په ډېرو مواردو کې د نظریاتو، لرلید او طرز فکر په اړه ډېر توپیر سره موجود وي خو دا د دې معنی نه لري چې موږ سره یو ځای خوشاله وخت نه شو تېرولی او یا د افغانستان د ګټو په اړه شریک موقف نه شو نیولی.

همدې ته سوله ییز ژوند وايي چې د نظریاتو د اختلاف ترڅنګ د یو بل سره تفاهم کولی شو او هم خوشاله وخت درلودلی شو.

خدای دې وکړي چې موږ ټول د یو بل سره د سوله ییز ژوند لپاره د تفاهم ژبه پیدا کړو تر څو افغانستان کې دایمي سوله ټینګه او ټول سوکاله ژوند ولرو.

**وايي که غواړې چې د ټوپک نه زړه بد کړې نو نخښه ورته لرې کېږده:**

۲۱ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، بنکاک هوايي ډګر، تايلینډ

د زياتو چيز فهمه افغانانو او په خاصه توګه د ځوانانو غټه ستونزه دا ده چې یو شخص ته او یا سیاسي مسایلو ته د یوې زاویې نه ګوري او هر څه ورته تور او یا سپین ښکاري. یو کس ورته یوه ورځ د سولې سپینه مرغۍ ښکاره شي خو بله ورځ ورته هماغه شخص د قارغه نه هم تور ښکاري.

حال دا چې انسانان په شخصي ژوند کې او هم د نړۍ سیاست او کاروبار په دا ډول نه دی چې هرڅه به یا ټول ښه وي او یا ټول بد. هر انسان او په خاصه توګه هغه مشران چې په سیاست کې بوخت دي همېشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشتباوې کوي. موږ باید سیاسي لوبغاړو ته د فرشتو په توګه ونه ګورو او هغوی ته باید د نورو انسانانو په سترګه وګورو چې هره ورځ هرو مرو اشتباوې به کوي.

قضاوت باید داسې وي که د چا د ښو کچه زیاته وه هغه شخص او یا سیاسي لوبغاړی ښه دی او که د بدو کچه د چا زیاته وه هغه شخص او یا سیاسي لوبغاړی بد دی. که داسې نه وي نو بیا به زموږ د ټولو نه او حتی د خپل ځان نه هم شاید زړه بد وي ځکه موږ هم په خپله هره ورځ زیاتې اشتباوې کوو چې په ځینو یې پوهېږو او په ځینو یې نه پوهېږو.

**د کونړ ډاډه او انار:**

۲۶ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، خاص کونړ، د منګوال کلی

د جمعې (۲۳ سپتمبر) په ورځ خاص کونړ ته د ملګرو سره لاړ وم، د جوارو سیزن مخ په ختمېدو دی خو د دې سره مو ښه ډاډه د وړو واچوله او ډېر زیات خوند یې وکړ. یو قسم نوی د جوارو تخم په کونړ کې رایج شوی دی چې ورته د ګوتې جوار وایي یعنې د ګوتې په ذریعه په قطار کرل کېږي او ډېر زیات حاصل کوي. د دې جوارو خوند خوږ دی چې په انګلیسي کې ورته Sweet Corn وایي. باور وکړئ چې د بنکاک د سفر نه د دې سفر خوند زیات و ځکه وطن تر هر څه خوږ وي. زموږ د کلي په دی سپین ږیري بوډا باندې خپل وطن د بل هر چا نه ډېر خوږ دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library





خپلې حجرې په دیوال یې د افغانستان ښایسته بیرغ رسم کړی دی. که مینه د خپل وطن ورسره نه وای نو د بیرغ په عوض یې بل څه رسم کولای شول.

یو ملګري مې د خپل کورنه راته دا انار وشکول او راته یې وویل چې دا وخوره چې د کندهار د انارو خوند دې هېر شي. رښتیا خواږه و خو د دې انارو نیالګي یې د کندهار نه راوړي و او په کونړ کې یې روزلي دي. دا څومره ښه خوند کوي چې د یو ځای نه ښې میوه دارې ونې د افغانستان بل کنج ته انتقال کړئ. همداسې موږ باید د نورو سیمو نه ښې تجربې خپلو سیمو ته انتقال کړو او هغه شیان چې زموږ د سیمو د عیني او ذهني شرایطو سره برابر نه دي باید خپلو سیمو ته انتقال نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرکسوني نهادونه او ستونزې:

۲۶ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

د پنچشنبه (۲۲ سپتمبر) په ورځ د دوبۍ نه کابل ته راتلم چې گورم یو ځوان تورن صاحب منصب په یونیفورم کې هم کابل ته راځي او د ښي مټ سره یې د خپل یونیفورم ترخنگ، د ډاکتر نجیب الله عکس هم لگولی دی. د الجزیرې یو ژورنالست چې هغه هم کابل ته راتله نو راته یې وویلې چې د دې عکس د لگولو د ملي اردو د دریشي سره څه مطلب او مفهوم لري؟ ما هم کوم خاص ځواب نه درلوده، نو ورته مې وویل چې دا سم کار نه دی او بله دا چې دا اړینه نه ده چې دا صاحب منصب دی په پوځي یونیفورم کې سفر وکړي. که سفر هم کوي باید داسې عکسونه په خپلو بازوگانو ونه لگوي.

زما په اند د یو ملک د بقا لپاره د اساسي قانون درلودل همېشه اړین او ضروري دی. په اساسي قانون کې د نظام طرز، د افرادو حقوق او وجایب او د دولتي قواو ترمنځ د تعادل مسئله ډېره مهمه ده. که څه هم افغنستان اساسي قانون لري خو په تېرو څو کلونو کې دا اساسي قانون بېچاره د دولتي چارواکو، تنظیمونو، ډلو او ټپلو او هم د افرادو له خوا په متواتره توگه نقض شوی دی. د اساسي قانون په اساس د افغانستان دولتي ملکي او نظامي نهادونه او سیاسي تنظیمونه باید د ډلو او ټپلو په اساس جوړ نه شي او په خاصه توگه د افغانستان امنیتي ارگانونه، عدلي او قضائیه قوه باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي منافعو په بنياد د ډلو او ټپلو پورې تړلي نه وي. دا سم کار نه دی چې د دولتي ادارو افراد په خپلو سينو او بازوګانو، په دولتي موټرو او دفاترو په ودانيو باندې د مختلفو ډلو د مشرانو عکسونه او موازي بيرغونه د ملي بيرغونو ترڅنګ و ځړوي. د داسې عکسونو او نښانونو په ليدو، د مقابل لوري حساسيت او عکس العمل راپاروي او د افغانستان دولتي ارګانونه د مليتوب په عوض فرکسوني کېږي او د فرکسوني نهادونه پايله بالاخره بې ثباتي ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی پوست د فیسبوک په صفحو یو اوږد بحث راپورته کړ او دا ځکه چې د افغانستان ولس اوس هم په ډلو او ټپلو وېشل شوی دی او هرچاته د خپلې ډلې مشر پرېښته ښکاري حال دا چې هر سیاسي مشر او انسانان په صورت د کل کې همېشه نیمګړتیاوی لري او د خپل قدرت په وخت کې هرو مرو اشتباګانې کوي ځکه سیاسي مشران زموږ او تاسي غوندې خلک دی شاید بعضې یې یو څه زیات استعداد ولري. نو د دې لپاره چې د دې بحث نه عبرت واخلو نو زه د دغه بحث د دوستانو تبصري او زما ځوابونه دلته کټ مټ رانقلوم. دا د لوستونکو پورې اړه لري چې د دې تبصرو، تحلیل او برداشتونو نه څنګه ګټه اخلي او یا فکر پري کوي.**

**رویال اسد افغان صاحب لیکلي و:**

میاخېل صاحب! دا خو عکس دی اساسي قانون ټول د هغو لخوا د پښو لاندې کېږي چې د جوړولو دعوه یې لري. زه د ټولو عکسونو د لرې کولو طرفدار یم خو یو نجیب ته قانون راباسل ناځواني ده. کابل هوایي ډګر کې د مسعود عکسونه کومه خوشالۍ کې لګېدلي؟ مسعود جوړ کړی د مسعود په نوم دی یا؟؟ ټولو ته قانون باید یو وي.

**زما ځواب:**

افغان صاحب! ستاسې خبره سمه ده او ما د ټولو خبره کړې چې په دولتي ودانیو او یا په یونیفورم د هرچا عکسونه او نښانونه لګول کېږي سم کار نه دی. دی کې استثنا نشته. دا عکس او په یونیفورم کې د دوبۍ په هوایي ډګر کې هم سم کار نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغان صاحب:**

زه درسره موافق یم. ما د توپیري چلند خبره وکړه چې باید ونه شي او برابر تطبیق شي. اوس د حکمتیار د جنایتونو او بخښنې غوښتو کیسې کېږي خو دا نور ځانونه سپین بازان ګڼي چې زه د دې هم مخالف یم. صرف حکمتیار جنګ کې دخیل نه و دا کابل چې پنځلس شل کاله خوري دا ټول یې برخه و باید یو شان قانون پرې پلی شي.

**زما ځواب:**

همداسې ده که زما لیکنې او حتی که زما وروستی کتاب وګورئ نو ما دې خبرو ته اشاره کړې ځکه همېشه تاریخ د هغه چا په ګټه لیکل شوی څوک چې په قدرت کې پاتې شوی دی او مقابل لوری یې محاکمه کړی دی نو همدا علت دی چې د تاریخ په اړه مختلف ډوله لیکنې شته دی.

**افغان صاحب دا خبره تایید کړه.**

**خواجه صدیقي صاحب چې د ډاکتر نجیب الله سره یې نږدې کار کړی او زما ملګری هم دی، لیکلي یې وو:**

په دغه ورځ کې چې د ډاکتر صاحب نجیب الله د شهادت ورځ ده اود هغه پلویان اوطرفداران د هغه سوګواري کوي دغه رقم پوستونه نشرول مناسب کار نه دی خلاف د اصول د دموکراسۍ هم دي. افغانستان کې اوس نیم بنده دموکراسي په پخېدو ده هر څوک کولای شي چې په دموکراتیکه فضا کې د خپل خوښ احزاب او لیدرانو نه لمانځنه وکړي او د افغان ولس که نظامیان دي او که ملکیان دي کولای شي چې د خپل خوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبرانو عکسونه او يادګاري او خاطراتي پوستونه ځان سره وګرځوي. خوشبختانه اوس دا حق ټولو ته ورکړل شوی دی چې رښتيا هم ډېر ښه کار هم دی. هغه پخوانۍ وچه اردو داري او د سياست نه لر نظامي ساختارونه اوس له مينځه تللي موږ او تاسو ګورو چې اوس اکثره نظامي جنرالان وظيفو ته په ملکي دريشۍ کې ځي او حتی وزير د دفاع او وزير د داخله ملکي دريشۍ کې دفتر او حتی د قطعاتو معايناتو ته ځي. دلته په بريتانيا کې داسې کوم قيودات نشته چې څوک او ياکوم افسر د کوم رهبر او يا د حزب کوم ليدر عکسونه کوم سرباز او يا افسر پخپل دفترکې او يا ځان سره انتقال کړي. دا قسم تنګ نظرانه اوعقدتي،حسادتي موضوع ګيرۍ تنها افغانان يې لري. موږ د يو طرف نه د ځان نه يو شريف انسان او ښه حکومت دارۍ ته پابند ګڼو او د بل طرفه بيا په داسې وقت کې چې د افغانستان اکثريت خلک په غمونو اوکړاونو کې ګرفتار دي اود دې ارمان کوي چې ولې دايم زموږ نه فرصتونه ځي او داسې کم طالع او بدبخت ولس ولې يو چې هر وقت يو ليډر او يا رهبر موږ کې پيدا شي نو بيا هغې ته دسيسه جوړ شي او د بهرنۍ استخباراتو پلاس وشړل شي او په بې رحمانه صورت ووژل شي. امان الله خان غازی باندې همداسې وشوه، داودخان باندې هم همداسې وشوه او بالاخره ډاکترصاحب نجيب الله باندې هم همداسې وشول. او خلکو وليدل چې د هغه د مصالحه ملي او ملل متحد پروګرامونه او بې طرف حکومت جوړونه يو اساسي او فوق العاده ښه طرحه وه چې افغانانو بايد تېر په هېر کړی وای او دغه بعدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوه لسيزه جنايتونو نه خو مخنيوی. کېدای شي تاسو باندې به د خپل سياسي او ايدلوژيکي اختلافونو په بنا چې يو طبعي خبره ده داکترصاحب نجيب خوښ نه وي او يا هغې سره به مخالف واوسئ مگر د اوسني سيستم او عصر چې گذار د سيستم يکه حزبي او يکه تازي نه د ټولو احزابو ازادانه فعاليتونو دور دی ستاسو دا نشريه اکثريت خلکو ته د منلو وړ نه وه او قابل د تقبيح هم دی. ستاسو ټول عمر په امريکا کې تېره شوې د دوی په اردو او نظامي ساختارونو کې داسې کوم ممانعت نشته چې سرباز او يا افسر د خپل خوښې رهبر عکسونه ورته منع کړي حتی عکسونو، پوسترونو او يا حتی بعضې اعلانات تجارتي، د تيليفونونو، کريمونو، شامپوگانې، لباسونو د دوی په داخل نظامي گانيزونونو کې شته. دا ټولې خبرې نه قانون اساسي پورې مربوط دي او نه کوم ناقضين د نظامي يونيفورمونو کې راځي. اکثره افغاني سربازان او افسران زموږ اوس په عسکري يونيفورمونو باندې پولند، جرمني او دوبۍ ته چې د ناټو قرارگاوې هلته دي سفرونه کوي. هغوی اصلا وظيفه کې وي په عسکري لباسونو باندې سفرکوي. که کوم ممانعت وايي نو بيا به قوماندان او يا امر مربوطه به ورته ويل او يا که خلاف د تعليمات نامه او خدمات داخله وای هم به ورته گوشزد کېدل. تاسو بايد يو ښه قهوه خانې او يا چای خانې ته تللی وای او خپل چايونه او د سفر ستړتيا به هم هلته ايستلی وای دا به ښه و نه دا چې دايم د خلکو شخصياتو او بدون د هغې د اجازې نه د هغه عکسونه مو نشر کړي وای. دلته اروپا کې دا يو جرم هم دی او که دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې پیدا شي چې تا د دې عکس بدون د هغې اجازې نه اخیستی او مطبوعات، اخبار، رسانو او مجلو او فیسبوک کې بدون د دې د اجازې نشر کړی کولای شي چې محکمې ته د کش کړي او مجازات هم شي پرې باندې .

بل دا چې په دغه ماتم ورځ کې دا قسم غرض الود پوست نشرول هم د بخښلو نه دي ته گوره چې امرالله صالح چې د مخالیفونو په گروپ کې هم راځي او د ملل متحد د سبوتاژ تیم کې د مسعود او د پینځم ستون یو غړی هم دی نن د دې پښېماني ښودلې چې داکتر صاحب نجیب الله قتل یو جنایت کارانه عمل و.

اوس د پوره آزادۍ عصر دی هر افغان کولای شي چې هر څوک یې خوښ وي د هغه تصویرونه، ځان سره، کور کې، دفتر کې او هر چېرته چې پرې ښه ښکاري وګرزوي. اوس د افغانستان خلکو پورې مربوط دي، مطبوعات هرڅه ازاد دي چې څوک یې خوښېږي، چا ته رایه ورکړي، د چا پلویان واوسي. هغه دیکتاتورانه، تنگ نظرانه، یکه تازي دورې مخ په خلاصېدو دی انشاالله اوس به سیاسي مبارزې به شروع کېږي، هغه دی حزب اسلامي سره هم روغ او جوړه روانه ده، لږ باید خپل ځانونه مدرن کړو، څه چې لیکوو په عمل کې هغه تطبیق کړو او د هر قسم تعصب، بدبینۍ او پخوانیو اشتباهاتو نه انتباه او عبرت ترینه واخلو ولې تکرار یې نه کړو.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما ځواب:**

صدیقي صاحب! په ټول احترام سره موږ هر څه تور او سپین ګورو. زما پوست که یو ځل بیا ولولې استثنایي جنبه نه لري. زموږ ستونزه همدا ده چې تر اوسه موږ ټول په خپلو اشتباګانو باندې اعتراف نه کوو او چا چې په کومه کاسه مړۍ خوړلې، د هماغه کاسي هر څه ورته ښه ښکاري. دا باید ومنو چې ټولو ډلو ډېرې اشتباوی کړې دي. که ته ما ته دا حق نه راکوي چې ولې مې داسې ولیکل او سمدست په مرچل کې راسره کیني نو دا هم سمه نه ده. ستا نظر ستا د لرلید په اساس به سم وي او زما نظر زما د لرلید په اساس سم دی. اما کېدای شي چې هم ستا او هم زما نظرونه د ډېرو نورو لپاره د قبول وړ نه وي.

**صدیقي صاحب:**

مننه ګرانه میاخېل صاحب. د هر چا لرلید ته زه په خپله ډېر زیات احترام لرم تاسو ته خو بیا ډېر زیات په دې کوشش کې یم چې هغه خام، پرې مجور لرلیدونه چې موږ سره د یو بل په ضد لرل د هېواد د ملي ګټو په بنا سره رانژدې کړو او تفاهم ته د ټولو افغانانو رارسېدل او سراسري امن او بیا سره سیاسي مبارزه کول خپل یو غایه او استراتیژیک هدف بولم او ښکاره خبره ده چې موږ ټول ډېر، ډېر اشتباهات او ناخوالې لرلې او لرو یې دا ځکه زموږ وطن هم همدا زموږ د لاسه زما په شمول دغه بدحال ته رسېدلی دي. تاسو ولیدل چې د حزب اسلامي یو لوړپوړي شخص په مطبوعاتي کنفرانس کې یو ستر علمي کاري وکړل هغه دا چې د ملت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې معذرت وغوښتل موږ يواځې کولای شو چې د عفو په ذريعه چې د خدای او رسول لاره ده خپل زړونو سره لوی کړاو وطن د بربادۍ څخه وژغورو مينه او ورورولي راولو.

مګر زما ننۍ ګيله که څما د اعتراض اساسي مفهوم ته وکتل شي دا دی چې نن د داکتر صاحب نجيب االله د شهادت شلم تلين ورځ ده په دغه ورځ کې چې هغه خوا غږ د تفاهم او مصالحې کېږي او تاسو په خپله په څو ورځني مخکني پوست کې ليکلی و چې نظريات او تفاوتونه به لرو سره او يا به مختلف موضوع ګيرګاني مګر داسې نشي کېدلی چې سره خبرې اترې او نظريات سره شريک نه کړو چې د هغې په بنا يو ښه تفاهم ته سره رسېدای شو. دا خو دقيقه خبره ده چې ستاسو سياسي موضوع ګير چې ستاسو مدني حق دی ستاسو سره دی زه نه وايم چې تاسو ولې د چا سره مخالفت لرئ او څوک مو خوښېږي او څوک مو نه خوښېږي هغه چې وايې"دلم بايسکل ام" مګر څما سياسي حق چې د شهيد داکتر نجيب الله د مصالحه ملي او د ملل متحد پينځه فقره ييز پلان د طرفدارانو څخه يم هم همدا و چې هغه ښکاره کړم چې ګوره بلې ورځ ته به دې که هر قسم انتقاد مو لرل کړای به مو وای دا نن ولې؟؟؟ حال دا چې هغه افسر بې چاره چې ډېر ښه ښکلی، ملبس او ډېر باسليقه منصبدار دی تاسو يې په پټه عکس واخيستل او چا سره چې هغه مينه لري او پی باندې ګران دی مدني حق يې دی او دا کار خلاف د تعليمات نامه او خدمات داخله هم نه دی ولې موږ او تاسو پی باندی انتقاد وکړو او مطبوعاتو کې نشر کړو؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوره خبره به نه اوږده وم زه په خپله تر اخر۱۹۹٤ پورې رئيس د فابريکه حربي وم د مجاهدينو سره مې هم درې کاله کار کړی چا بر طرفه کړی هم نه يم د وړکتوب نه چې ديارلس کلن وم نظامي دريشي او گيتس مې اغوستی او سخت د دسپلين د نظامي ته چې هغه زما په رگونو کې ښخ دی احترام لرم او نظامی خدمات داخله باندې سخت پابند هم يم ما مکمله خپله نظامي عالي تحصيلات کړي او ديپلوم انجينر او ماستر علمي نظامي يم خو د ستاينې نه وايم. مگر په ضمن کې د هغه وختونه و چې منصبداري او افسران او سربازانو سره هغه وچه چال چلند هم غندم سياست خو لا پرېږده. مگر فابريکې ته چې مجاهدينو ورونه راغلل په شخصي لباس به راتلل غير منظم او چوکۍ گانې ميزونه مات کړل او ټوله فابريکه ځما په سترگو کې تالا والا کړل او په ځمکه کې کينولو ډېر څه منفي صحنې وې او ليدلي مې دي مگر ضرور ندی چې په هغې پسې اوس ورگرزو او نشر يې کړم او هره ورځ هغه افشا کړم لکه چې دا نور لگيا دي د يو بل په ضد چې څه يې کمونيستان وايي او په مقابل کې څه ورته په ځواب کې اشرار، جنگ سالار او نور اصطلاحات استفاده کوي. بايد چې يو ميانه او متوسط لارو ته چې درجه د بدبينۍ د يو بل په مقابل کې کم کړي هغه لاره اختيار کړو.تر څو چې وطن د بلا څخه وژغورو.دې وطن بې چاره ته څه نه و چې موږ پی باندې ونکړل؟؟؟؟؟؟

پورته مې ولوستل چې بعضې چاپلوس او جعلي اسنادونو والا ټيکه داران چې په سياست اگاه ندي او فقط ځان ښودنو باندې انتظار دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځای ته ورسېږی او په نوبت ولاړ او وطن د دغسی اشخاصو نه برباد شول تاسو ته د حوصله مندی غږونه کوي او لاره د موږ نه ورکوي.

چې نتېجې ته سره ورسېږو.

روغ او بريالی اوسې گرانه مياخېل صاحب هسې د خپگان ورځ دې ځان به سره ډېر نه خپه کوو.

په درناوي

**زما ځواب:**

صديقي صاحب ډېره به يې نه چېږو ځکه خبره شخصي کېږي که څه هم تاسې شخصي کړه چې زه دې په دې گرم کړم چې ولې امريکې ته تللی يم حال دا چې تاسې په خپله په لندن کې اوسئ خو زه تا نه ملامتوم ځکه موږ ټول مجبوريتونو خواره کړي يو. په هر حال دا تصادفي وه چې په همدې ورځ يو ځای راغلو او کومه توطيه نه وه. مصالحه ولې ناکامه شوله ځکه ډېر عوامل يې درلودل او چې عملي پلان نه و يوازې په خبرو چې په اخره کې حکومت د ځنکدن په حالت کې و نو د مصالحه اعلان وشو. داکتر نجيب الله پسې خپل ټيم راوچت شو او سقوط يې ورکړ. دا بايد ومنو چې د حکومتونو د غلطو پاليسو په اساس افغانان مهاجرت ته مجبور شول او ما خپل دوه سکه وروڼه او ډېر خپلوان د لاسه ورکړل نو زه به د هغوی پوښتنه د چا نه کوم. هر کور دردېدلې دی او د دې علت د حکومتونو او سياسي مشرانو ناکامه پاليسو وي. زما ارزو دا ده چې موږ بايد د تېرو نه زده کړو او هر څه راته بايد تور او سپين ښکاره نه شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه اشتباوې بيا بايد ونه کړو نو اينده به نوره هم خرابه وی. که زموږ نظر دا وي چې کوم مشر سره ما کار کړی او هيڅ اشتباه يې نه ده کړی او هر څوک په خپل موقف ولاړ وي نو بيا هماغه درک او هماغه خرک.

**صديقي صاحب:**

مننه گرانه او قدرمنه مياخېل صاحب روغ او بريالی اوسې

**الهام الدين مومند ليکلي وو:**

تاسو هم يو غير قانونی کار کړيدی. د افسر عکس مو د هغه له اجازې پرته اخيستي دا د يو چا په شخصي حريم تېری دی

او بيا مو مېډيا ته وروړاندې کړی دی.

**زما ځواب:**

مومند صاحب! په يونيفورم کې خو ستر نه و چې ما يې بې پردې عکس اخيستی وي.

**الهام الدين مومند:**

ايا دا په ځان خبر وه چې تا يې عکس اخيسته؟

**زما ځواب:**

د دوبۍ په هوايي ډگر کې په يونيفورم کې مطلب همدا دی چې ماته گوري او زما ننداره کوي او د هر شي چې ننداره کوي نو د عکس اخيستلو اجازه يې هم لري.

**سنگرمل پښتون ليکلي وو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرمن مياخېل صاحب درسره موافق يم خو د دې وروړ احساس راته د هغه لنډغرو د احساسه قدرمن او د ملي احساس په فکر ولاړ ښکاري. دا سړی عبدالمالک صافی نومېږي زموږ د ځوکۍ دی زما استاد هم پاتې شوی دی امريکا ته د درس لپاره تللی و له هغې ځايه يې همداسې يونيفورم کړی و. زه يې احساس ته ځانګړی سلام کوم. په درنښت.

**زما ځواب:**

سنګرمل صاحب سلام! زما خبره د شخص د ښه والي او بد والي پوره نه ده زما خبره د اردو د مليتوب ده که هر ځوک په يونيفورم، موټر او مختلف بيرغونه ځړوي ښه کار نه دی ځکه دا ډول عمل حساسيتونه راپاروي. کاشکې موږ ټولو يو مشر درلودلی او تقسيم نه وی.

**سنګرمل:**

همداسې ده د ملي احساس ته مو کامل احترام. رب دې داسې ورځ راولي چې دلته ميشته ټول قومونو ستاسې په څېر په ملي روحيه سمبال ووسو.مننه

**عبدالمتين عمران ليکلي وو:**

مياخېل صاحب تاسو ډېره ښه او پرځای خبره کړې او بايد همداسې وي. يواځې يوه تبصره لرم او هغه دا چې زما د تحليل له مخې دا عکس العملي حالت دی او د ځينو ټوپکسالارانو د عکسونو له ليدو په منفي تاثر د غبرګون په توګه ځينې خلک د ډاکټر نجيب الله عکسونه استعمالوي. د دې خلکو اصلي مطلب د جنګسالارانو او ټوپکسالارانو غندنه وي خو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار ښکاره نه شي کولای. په هر صورت، د اردو يا په ټوله کې د وسله والو ځواکونو د يو غړي په صفت هيڅوک بايد دا حق ځانته ورنکړي چې د يو چا عکس پر خپل نظامي لباس ولګوي، که دا عکس د يو ټوپکسالار وي يا پخواني جمهور رئيس يا بل چا.

**واحد فقيري صاحب ليکلي وو:**

مياخېل صاحب ستاسو خبره حق ده. خو تاسو ښه پوهېږئ چې د افغانستان د اردو ملي اړخ ډېر کمزوری دی. او پر مختلفو ډلو باندی وېشل شوی دی. په تاريخ کې، د دې ډول پوځ تر ګټې تاوان زيات وي. ځکه دا ډول مسلح قوتونه د سياسي بې ثباتيو لويه منبع وي. او د عمومي ناکراريو په خورولو کې زياته ونډه لري. اصلا هغه اردو چې کور، ډوډۍ، او کالي يې د پرديو له مالياتو څخه برابرېږي، د ملت په درد نه خوري.

**استاد غلام دستګير خاورين ليکلي وو:**

که د هېواد يو فوجي د نجيب بل يې د مزاري او بل د رباني او همداسې هر يو فوجي د خپې ډلې مشر عکسونه پر ځان و ټومبي دا په فوج کې د فوجي دسپلين د نه شتون نخښه ده. داسې فوج نه بيا ټمه نه ده په کار.

**حامد ساپي ليکلي وو:**

ښه کار يې کړی ولې ته په حکومتي موټرو د مسعود عکسونه نه ګورې که نه يوازې دغه ځوان په مټ دې د يو قهرمان عکس ليدلی او په سو دقيقو کې دی فيسبوک ته اوچت کړی دی.

**زما ځواب:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساپي صاحب لطفا پوست ولوله هر ځوک چې دا کار کوي سم نه دی. رقابت باید داسې نه وي چې که یو بد کار وکړي نو بل باید د هغه نه ډېر بد وکړي. دې ته منفي رقابت وايي او منفي رقابت د وطن په خیر نه دی.

**رحمان الله رحماني لیکلي وو:**

یاره ښه ده چې د سقاو زوی عکس یې ندی لګولی نجیب خو خدمتګاره سړی و الله دی وبخښي.

**زما ځواب:**

رحماني صاحب! د سقاو د زوی عکس چې په دفاع وزارت کې د استقلال په ورځ ځړول شوی و که زما پوست وګورئ نو د ټولو نه د مخه ما غندلی دی. سوال دا دی که غواړو چې نظام او سیستم ولرو، اتفاق راشي، سوله او امن وي نو د هرچا د مړو د عکسونو ځړول او باالخاصه د اردو په یونیفورم او یا امنیتي ارګانونو په ودانیو او موټرو موږ دې هدف ته نه شي رسولی.

**په هر حال همداسې نور مثبت او منفي پوستونه و چې ما یې یو څو نمونې دلته رانقل کړې ترڅو زموږ ځوانانو ته دا د بحث کولو یوه بېلګه شي او د بحث کولو حوصله باید ولري. موږ باید هم خپله خبره وکړو او هم باید د نورو نظریاتو، انتقادونواو پیشنهادونو ته په واز وچلي هرکلی ووایو. ژوندي بحثونه په ټولنه کې همېشه د جنګ او جګړې نه ښه وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او په دې توګه دا ډول بحثونه په ټولنه کې يو مثبت رقابت رامنځته کولی شي.**

**د تراژيديو د عکسونو خپرولو په اړه يوه لنډه مشوره:**

په عريانه توګه د تراژيدي عکسونو خپرول که له يوه اړخه د ظلمونو د غندلو او ښکاره کولو لپاره ښه کار دی خو له بله پلوه د داسې عکسونو په ليدو سره د خلکو بې تفاوتي د روانو پېښو او جنايتونو په اړه زياتوي او د ولس روحيه په اوږد مهال کې وژني. که د تراژيدونکو پېښو عکسونه په لږه تراژديکه بڼه خپاره شي او څو کرښې د وضاحت په اړه ورسره وليکل شي، نوښه به وي.

جنايت کاران همېشه کوشش کوي چې د ځوانانو په مخکې جنايتونه وکړي، انسانان حلال کړي، خلکو ته زجر او شکنجه ورکړي تر څو دوی نور انسانان په داسې اعمالو روږدي کړي او بالاخره په روحي لحاظ دوی ته جنايتونه يو عادي څيز ښکاره شي. زما په اند د زياتو تراژيديکو عسکونو په ليدو شايد موږ هم د پېښو په اړه بې تفاوته پاتې شو ځکه پېښې نهايت زياتې دي او موږ نه شو کولای چې د هرې پيښې په اړوند څه وکړاي شو.

په هر حال د سايکالوژي متخصيصين شايد دا مسايل د مانه ښه تشريح کړاي شي چې د تراژيدونکو عکسونو ليدل په انسانانو او په خاصه توګه په ځوانانو څه اغېز درلودلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اتفاق او اتحاد ډولونه:

۲۸ سپتمبر ۲۰۱۶ م کال، کابل

تېره اونۍ ملک طاوس خان د چمیارۍ چې د خاص کونړ یو سپین ږیري دی، راته په کونړ کې وویل چې د انسانانو اتفاق او اتحاد په درې ډوله دی:

۱) یو ډول اتفاق او اتحاد د مچانو په شان دی چې سره راټولېږي خو نه خوارږه لري او نه ترخه او بې شمېره راپیداکېږي او مري.

۲) بل ډول اتفاق او اتحاد د سرو مچیو په شان دی چې سره راټولېږي او په دښمن او یا د چا نه چې وېره لري په هغوی په متفقه توګه حمله کوي خو دا چې په خپلو منځو کې مشر او کشر نه لري نو د دوی نه هم څه نه جوړېږي ځکه دوی هم ځان ته تاوان رسوي او هم نورو ته.

۳) درېیم ډول اتفاق د شهدو د مچیو په شان دی چې د شهدو د مچیو کالونۍ د یوې ملکې تابعداري کوي، په خپلو منځو کې یې وظایف او کارونه وېشلي او هرڅوک چې د خپلو کارونو نه خلاف ورزې وکړي او یا باندې په ګنده ځای ناست وي نو مؤظف کارګران یې دننه نه پرېږدي چې جراثیم خپلې کالونۍ ته راوړي، نو د ملکې او کارګرانو له خوا ورته سزا ورکول کېږي. دا ډول اتفاق چې نظم ولري هم ځانته ګټه رسولی شي او هم نورو ته. د شهدو مچیو نه موږه هم ګټه اخلو او هم که دوی ته خپله غذا په خپل وخت ونه رسېږي نو د خپلو شهدو نه استفاده کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مشر وویل چې ترڅو د افغانانو اتفاق او اتحاد د شهدو د مچیو په شان نه شي نو د افغانانو نه څه نه جوړېږي. اوس د افغانانو اتفاق د مچانو او یا د سرو مچیو په شان دی.

د دې مشر خبره خو د لیکلو وه نو ځکه ما هم ولیکله او فکر مې وکړ چې دا خبرې باید د فیسبوک د دوستانو سره هم شریکې کړم، نو بده به نه وي.

**د افغانستان حکومت او اسلامي حزب سره د سولې د هوکړې لاسلیک:**

۲۰ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

نن په ارگ کې د افغانستان جمهور رئیس محمد اشرف غني د اسلامي حزب د مشر، گلبدالدین حکمتیار سره د سولې تړون امضا کړ. د اسلامي حزب مشر د تړون لاسلیک او خپله وینا د یو ویډویي کیست له لارې د افغانستان د راډیو او ټلوېزیون له لارې خپور کړ او جمهور رئیس دا تړون د سلام خاني په ماڼۍ کې په داسې حال دستخط کړ چې د افغانستان پخواني جمهور رئیس حامد کرزي، د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله، د سولې د عالي شورا رئیس پیر سید احمد گیلاني، د اتحاد اسلامي مشر پروفیسر عبدالرب رسول سیاف، د پارلمان رئیسان او گن شمېر دولتي او غیر دولتي چارواکي او د بین المللي ټولنې استازو گډون درلود او ټول پروگرام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندۍ بڼه د ټلوېزیونو له خپریده. څرنګه چې دا یوه تاریخي ورځ وه، نو ما خپل د فیسبوک په پاڼه ولیکل:

**د اسلامي حزب او حکومت ترمنځ د سولې موافقه د دایمي سولې په وړاندې یو نیک اقدام دی. امید دې چې نورې ډلې هم په همدې ډول جرأت وکړي چې د وینو تویولو مخه ونیول شي او د سولې لاره خپله کړي. خدای دی وکړي چې زموږ د جنګ کلتور په سولیزه توګه په سیاسي مبارزه باندې بدل شي.**

په پورته مراسمو کې پیر صاحب سید احمد ګیلاني چې د سولې د شورا مشر دی خبرې وکړې خو دا چې پیر صاحب ډېر ورو خبرې کوي نو بعضې دوستان د پیر صاحب په خبرو پوه شوي نه و نو د پیر صاحب د خبرو په اړه یې لیکلي و چې دوی خو د پیر صاحب په خبرو پوه نه شول نو ما بیا په فیسبوک کې ولیکل:

**د پیر صاحب سید احمدګیلاني د هلو ځلو نه مننه:**

څه موده د مخه چې د خبرو اترو لړۍ د ناکامي سره مخامخ وي نو ما پیر صاحب ولید او راته یې وویل چې نور به مایوسه وي خو دی مایوسه نه دي او امید شته چې د سولې خبرې کامیابې شي. نور هم بریالیتوبونه د ښه صحت سره پیر صاحب ګیلاني ته د الله د درباره غواړم.

نو په دی اساس، وروڼو او خویندو تاسې د پیر صاحب په فصاحت او بلاغت څه کوئ خو کار یې وګورئ چې کلونه کلونه نورو زور وواهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سولې  په پروسه کې څه پرمختګ راشي او ميلونونه ډالر يې هم مصرف کړل خو هيڅ يې ونه شو کړای. اما پير صاحب په ډېرو لږو امکاناتو يو لاسته راوړنه په ډېر لږ وخت کې ولرله. اميد دې چې د خبرو پرته همداسې نورې لاسته راوني هم په راتلونکي کې ولري.

**نن د شهيد استاد برهان الدين رباني د تلين په غونډه کې د نا مناسبو او بې سنجشه الفاظو استعمالول:**

**وايي: د زخم پرهار جوړېږي خو د ژبې پرهار نه جوړېږي**

۳۰ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

په افغانستان کې څو لسيزې  جګړې او کورني جنګونه تېر شوي دي، د الفاظو د استعمال په اړه د مختلفو ډلو او سيمو د خلکو برداشتونه سره توپير لري. هر انسان ته په کار دي  چې د الفاظو په استعمال کې همېشه د ډېر دقت او احتياط نه کار واخلي او داسې الفاظ په خپلو خبرو او بيانيو کې استعمال نه کړي چې د يوې بلی سيمې خلکو زړونه پري خفه شي. هغه کسان چې د سياسي مشرانو او نخبه ګانو ادعاوي لري دوي بايد د خپلو الفاظو په استعمال کې د بل هرچا نه زيات دقت او احتياط وکړي.

اما متاسفانه د افغانستان اکثره تش په نامه مشران او نخبه ګان  اکثره وخت  په خپلو خبرو او بيانيو کې د الفاظو په استعمال کې د ډېر دقت او فکر نه کار نه اخلي او داسې الفاظ استعمالوي چې د افغانستان ولس نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم سره جلا کوي او د ولس په منځ کې د بی اتفاقي اور ته لمن وهي. زما په اند، د خيانت، فساد او بيګناه انسانانو د وژنو ترڅنګ، د هغه تش په نامه سياسي مشرانو او نخبه ګانو د ټولو نه لويه جفا به د افغانستان د ولس سره دا وي چې دوي په خپلو خبرو او بيانيو کې داسې الفاظ استعمال کړي چې د ولس په منځ کې نور هم بی اتفاقی، سمتي او قومي تضادونو ته لمن ووهي.

څومره چې قومي، سمتي، مذهبي او ژبني تضادونه په يو ملک کې زيات وي په هماغه اندازه به هغه ملک وروسته پاتې هېواد وي او د مصاحبتونو او نا امنيو په ګرداب کې به غرق وي. نو په دی توګه ټولو ته په کار ده چې د الفاظو په استعمال کې د دقت او فکر نه کار واخلي. هيڅوک بايد داسې الفاظ استعمال نه کړي چې د ولس په منځ کې د وحدت، وروګلوي او اتفاق روحيه کمزوري کړي. امن او سوکالي په يوه ملک کې يوازې د ولس ترمنځ د اتفاق او اعتماد په فضا کې راتللی شي. وايي: د زخم پرهار جوړېږي خو دخوله پرهار نه جوړېږي.

**د فيسبوک ليکنو زما همېشه د دوستانو سره يو قسم دوستانه بحثونو ته لار هواروله نو بعضې وخت مې په دې کتاب د دغه بحثونو يو څو نمونې هم ذکر کړي دي د پورته ليکنې بحث هم جالب دی نو ځکه يو څو نمونې غواړم چې دلته را انتقال کړم:**

**رويال اسد افغان صاحب ليکلي و:**

مياخېل صاحب رباني د څه شي شهيد شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مايې په څواب کې ورته وليکل:**

رويال صاحب! که څه هم په افغانستان کې د شهيد کلمه هر څوک خپلو مړو ته استعمالوي خو اخرت نه څوک نه دی راغلی چې دا واضحه شي چې څوک شهيد دې او څوک نه دی. زه هم ديني عالم او قاضي نه يم چې ديني فتوا ورکړم خو زما په اند هرڅوک چې د عدلي او قضايي محکمې له پريکړې په غير د هرچا له خوا ووژل شي هغه ماته شهيد دې. رباني استاد هم په خپل کور کې د خپل ميلمه له خوا چې ده ورسره غوښتل وګوري شهيد کړای شو. هغه سړي درې ګناوې وکړې يو يې خپل ځان مړ کړ، بل دا چې خپل کوربه يې شهيد کړ او دريم دا چې ده داسلام او افغانانو ټول نورمونه د پښو لاندې کړل.

**رويال صاحب بيا وليکل:**

مشره! ستا خبره زه منم خو دې دلايلو کې ډاکټر نجيب او نورو سره توپيري چلند کيږي. د هغوی هر سړی شهيد شو زموږ هر سړي ته دلايل تراشل کيږي. نه مو عبدالحق شهيد وبلل شو نه مو ملا برجان شهيد وبلل شو نه نجيب او همداسې نور. ما هغه بله ورځ هم له توپيري چلند سر ټکولی و. تا هغه وخت ډاکټر نجيب ته شهيد نه و ليکلي نن د رباني ته ليکلي دی.

**ما بيا ورته وليکل:**

رويال افغان صاحب! هره ليکنه خپل کانټکس لري او دهغه ليکنې کانټکس جدا و (هغه ليکنه زما پورته په همدې کتاب کې شته دی). خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا شايد بل شکل ونيسي. ډېر پخوا د مانه يو دوست پوښتنه کړې وه چې زما نظر د ډاکټر نجيب الله په اړه څه دی، نو ما ورته ليکلي و چې د ډاکټر نجيب الله د قدرت وختونه زه په دريو برخو ويشم. اول دوره کې چې د خاد رئيس و هغه دوره يې غندم، دويمه مرحله چې د خپل حکومت مشر و ماته ناکامه مشر ښکاري ځکه هر مشر چې ارمان ولري او خپل ارمان عملي نه شي کړی ناکامه او ارماني مشر دی او درېيمه مرحله يې د مظلومت ده او د دې مرحلې سره خواخوږي لرم. هر څوک بې له کومې محکمې او ثبوته په بې رحمانه توګه ووژل شي نو په طبيعی توګه د اکثره انسانانو خواخوږي د مظلوم سره وی. نو په دی اساس زما د پورته فرموله په اساس دی هم شهيد دې.

## ضد او نقيض خبرې:

۳۰ سپتمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

بعضې کسان داسې دروغ وايي چې وروسته رسوا کېږي او بعضې کسان داسې دروغ وايي چې په هماغه شيبه رسوا کېږي. دې ورځو کې د افغانستان د اکثره سياسيونو خبرې او بيانې دومره ضد او نقيضې دي چې سړی نه پوهېږي چې ايا د دوی د خبرو مبتدا دروغ او بې مفهومه ده او که دخبرو متن او که د خبرو اخر يې ځکه خپله خبرې په خپله ردوي. فکر کوم چې د حالاتو په وجهه او يا د سن د زړښت له امله د دوی فکري توازن ته څه ضربه رسيدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افراط او تفريط**

۲ د اکتوبر کال ۲۰۱۶م، کابل

دافراط او تفريط په اړه مې پخوا ډېر څه په پخوانيو ليکنو کې ليکلي دي. موږ عجيبه مخلوق يو، يو کس چې په هرډول جنايتونو کې لاس لري، په يوه خبره چې هغه هم په حقيقت کې بی مفهومه او بې معنی خبره وي ورته د ملي مشر، قهرمان او داسې نور خطاب کوو. دا نه گورو چې دې کسانو ملت ته څومره توهين کړی او د ملت چور او چپاول ته يې څنگه لاره هواره کړې ده.

**د ننگرهار د شينوارو ستونزه:**

۲ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

د شينوارو يو شمېر اوسيدونکي د بې پيلوټه الوتکې په بمبارۍ کې شيهدان شول نو مشرانو يې پرېه په يو بل اچوله نو ځکه ما دا لاندې څو کرښي وليکلي:

د ننگرهار د شينوارو ولس په خاصه توگه په تېرو دوه کلنو کې د ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ شول. په زرهاو کورنۍ بيکوره شولې، په لس گونو مشران يې شهيدان او زخميان شول، په سل گونو ځوانان يې شيهدان او معيوبه شول او داسې نور........ خو نه د شينوارو مشرانو د دې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا خوالو نه عبرت واخيست او نه حکومت ورته کومه د حل لار پيدا کړه. کېدای شي چې د شينوارو ستونزې زيات بهرني اړخونه ولري خو زياته ستونزه د شينوارو د مشرانو خپله ده چې يو بل باندې پړه اچوي. تر څو به ولس د دې مشرانو په ذات البيني تربګونيو کې سوځي؟ زما په اند هغه مشر مشر نه دی چې په خپل ولس يې زړه درد ونه کړي او د شخصي بې مفهومه تربګنيو نه تېر نه شي. دا وخت د تربګنيو نه دی بلکې يو بل ته د لاس ورکولو وخت چې خپلو سيمو ته امن راولي او ولس په امن کې ژوند وکړي. چې ولس نه وي نو په سيمه به څه وکړې، هره سيمه په خپلو خلکو ښه ښکاري.

## د ننګرهار د ولايت آوازې:

۳ اکتوبر، ۲۰۱۶م کال، کابل

پرون د ننګرهار والي سليم خان کندوزي د دندې استعفا ورکړه او په فيسبوک کې ډېرو زياتو ملګرو او دوستانو زما په اړه غوښتنه درلوده چې زه دې د ننګرهار والي شم. دا چې ما د سلهاو دوستانو حسن نيت وليده نو مجبوره شوم چې دا لاندې څو ټکي وليکم په بيا هم پرې په سل ګونو دوستانو نيک نظرونه ورکړي و او هغه نظرونه دلته نه رانقلوم ځکه توصيف پکې زيات و:

که څه ونه ليکم شايد ځينې دوستان دا فکر وکړي چې د ننګرهار د ولايت لپاره د فيسبوک کمپياين زما په خوښه روان دی ځکه زه د فيسبوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنکي (Junky) يم او ټولې نوشتې گورم او څه نه وايم. که څه ليکم شايد ځيني دوستان خوشاله او ځينې مايوسه او خفه شي. دوستان شايد زما دا نوشته ولولي چې دا د دوی خپل حسن نظر دی او ډېري دوستان زه د نږدي نه هم نه پېژنم او نه ما دوی ته ويلي چې دا نوشتي وکړي او نه زما له خوا کوم کمپاين روان دی. زه په خپله موجوده دنده کې تر هر چا زيات خوشاله او اسوده يم خو دا څو ټکي اړين بولم چې ويې ليکم:

اول د ننگرهار محترم پخواني والي، کندوزي صاحب ته دا په کار نه وه چې دبروکسل د کنفرانس دمخه يې دی اوازو ته لاره هواره کړه او د ملي منافعو په بنياد يې بايد د بروکسل د کنفرانس نه وروسته دا کار کړی وی. (د بروکسل کنفرانس د اکتوبر په څلورمه او پنځمه و چې نړيوال د افغانستان سره د خپل حمايت د دوام لپاره ژمني کوي)

دويم د ټولو دوستانو د حسن نظر نه مننه او همدا زما لپاره د ولايت د دندې نه مهمه ده چې ولس زما حمايت کوي. زما په اند د هرچاسره چې د ولس حمايت وي نو بيا د ولايت د دندې اجرا کومه خبره نه ده. د خلکو زور د خدای زور دی خو متاسفانه زموږ مشران د خلکو په زور اتکا نه کوي.

دريم د يو دوست د مسيج په ځواب کې مې ليکلي و، نو غواړم هماغه ليکنه دلته راانتقال کړم:

مننه! ستونزه دا ده چې زه نه د مافيايې کړيو په حلقه کې يم او نه چاته سوالونه کولی شم او نه د پيسو د پيدا کولو لپاره تاوان کولی شم نو ځکه


(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستونزمنه ده چې زه دی د ننگرهار والي شم. که د هر چا په واسطه والي شولې نو بیا مجبوره یې چې د هغه کسانو خیال وساتی. که جمهور رئیس او د دولت مشرتابه د خدمت غږ وکړي، نه هم نه کوم او د خدمت کول نه اوږه نه خالي کوم ځکه په خپل ولس مې زړه درد کوي او څه چې زما په وس او توان کې وی باید دریغ یې نه کړم خو منډې هم پسی نشم وهلی او نه څه شخصي مجبوریت لرم. په درنښت

**د معلم د ورځې په یاد:**

۴ اکتوبر، ۲۰۱۶م کال، کابل



د خپل مرحوم پلار په یاد د معلم ورځ دی ټولو استادانو او معلمینو ته مبارک وي.

زما خدای بخښلی پلار د خپل وخت یو تکړه معلم و او د دارالمعلمین نه په ۱۳۲۶ هجري شمسي کال کې په لومړې درجه فارغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي و. د عدلي او کورنيو چارو په وزارتونو کې د دندو نه يې سربېره د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې يې د معلم او سرمعلم په توګه دندي اجرا کړې وي. د عمر تر اخره يې د مطالعي سره ډېره مينه درلوده او هر ځل به چې ورسره کيناستم نو ما به ترې نوی خبرې زده کولی او هره خبره به يې د درس او عبرت خبره وه.

زما د مرحوم پلار په شمول، الله تعالي دې ټول هغه استادان او معلمين وبخښي چې د دې هېواد بچيو ته يې په ډېرو سختو شرايطو کې تدريس او خدمت کړی دی. همدا شان د ټولو هغه استادانو او معلمينو خدمت د ستايلو او تقدير وړ دی چې اوس هم په ډېرو سختو شرايطو کې د دې هېواد مظلومو ماشومانو او ځوانانو ته يو څه ورزده کوي او خدمت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کونړ د کتاب مخکتنه:**

**د کونړ ولايت: سياسي او قومي جوړښتونه، دودونه او تاريخي پېښې**
**شاه محمود مياخېل فرهنگي او ټولنيز مرکز، تنر کلی، خاص کونړ**

۱۶ ميزان ۱۳۹۵م کال چې د ۲۰۱۶م کال د اکتوبر د ۶مې نيټې سره سمون خوري زما په اند د کونړ کتاب يوازې د کونړ سيمې ته نه بلکې د افغانستان د ځينوتاريخي پيښو يو مهمه بېلگه ده او د دې معلومات راټول او چاپول ما لپاره ډېر اړين و. د مصروفيتونو ترڅنگ، د کومې ورځې نه چې ما د دې کتاب د ليکو اراده وکړه نو تقريباً پنځه کاله يې ونيول چې دا کتاب چاپ کړم. د دې لپاره چې دا کتاب تکميل شي نورو څېړنو او تحقيقاتو ته اړتيا لري چې




ترڅو د کونړ ولايت جوړښتونه او پيښې چې د افغانستان د تاريخ مهمې پيښې دي په تفصيل سره وليکل شي خو دا کتاب د مقدمې په توگه نورو ليکوالانو او محقيقينو ته زمينه مساعدوي هغه تشې چې په دی کتاب کې موجودي دي تکميل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب مخکتني ته په سل گونو دوستانو، د علم او ادب مينه والو، ليکوالانو او شاعرانو، دولتي چارواکو او قومي مشرانو د ډېرو لرو سيمونه د خاص کونړ ولسوالي ته تشريف راوړی و نو زه د هر يو نه په ځانگړې توگه مننه کوم. که د دوی سره د خپل وطن مينه نه وی نو د يو کتاب مخکتنې ته په اوسنۍ سختو شرايطو کې ځوک دومره لری سيمې ته سفر نه کوي.

د کتاب د مخکتنې ترڅنگ، غواړم چې د افغانستان خلکو ته يو وړانديز ولرم چې د افغانستان دښمنان همېشه کوښښ کوي چې د افغانستان ټول حالات مايوس کننده وښايي او داسې وښايي چې په ټول افغانستان کې جنگ روان دی او دا نظام سقوط کوي. دی کې شک نشته چې په ډېرو سيمو کې د افغانستان ځينې حلقي د پرديو په ملاتړ په ارادي او غير ارادي توگه کوشش کوي چې افغانستان بی ثباته کړي خو يو قومي مشر راته په کونړ کې ډېره ښه خبره وکړه چې که د افغانستان د هر ولايت په يوې ولسوالي کې جنگ وي نو دا داسې ښايې چې د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې۳۴ جنگونه روان دي خو د دې ترڅنگ چې د افغانستان د هر ولايت نورې ولسواليو خلک په امن کې ژوند کوي، د هغوی يادونه ځوک نه کوي. په هرحال موږ بايد د وطن د دښمنانو د سايکالوژيکي جگړې ښکار نه شو، خپلو کلو او باندو ته بايد سفرونه وکړو او کوشش وکړو چې د داسې غونډو لړې په خپلو ولسواليو کې زياتي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړې ډول زه د دکونړ ولایت محترم والي وحیدالله کلیمزي صاحب، د جمهور رئیس په علمي او فرهنګي چارو کې ستر سلاکار استاد لعل پاچا ازمون صاحب، د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت مرستیال زردشت شمس صاحب، د ملي امنیت د شورا ستر سلاکار، استاد نحیب الله منلي صاحب، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتود مرکز رئیس استاد رفیع الله نیازي صاحب، د علومو اکاډمي د نشراتو رئیس څېړندوی عبدالظاهر شکیب صاحب، د علومو د اکاډمي غړی څېړنوال عبدالقیوم مشوانی صاحب، احمدالله ارچیوال صاحب، د مثبت بدلون د ټولنې مشر استاد عبدالبصیر سباوون صاحب، د کونړ ولایت د ولایتي شورا مرستیال، د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس جنت ګل فدا صاحب، د امنیتي او غیر امنیتي ارګانونو مشرانو، د کونړ ولایت قومي مشرحاجی صاحب فضل اکبر، داکتر محمد یونس بارګامي صاحب، استاد نعمت الله کریاب صاحب، او ګڼو نورو لیکوالانو، قومي مشرانو، د رسنیو او د علم او ادب مینه والونه مننه کوم چې د لرو ځایونو نه یې خاص کونړ ته تشریف راوړی و او په دې غونده کې یې د موږ سره ګډون وکړ. زه شخصاً د خاص کونړد امنیتي ارګانونو او په خاصه توګه د محلي پولیسو او د خاص کونړ د ولسوال مولوی عنایت الله او د امنیه قوماندان ادم خان، د خاص کونړ د ځوانانو او مشرانو نه مننه کوم چې د دې میلمنو قدرداني یې وکړه او د غونډې ترتیب او تنظیم یې په غاړه نیولې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم مرداري خوري او هم مکوښه څنډي:**

۸ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

پرون د اکتوبر په اومه نېټه په افغانستان باندې د امریکا د پوځي حملې پنځلسمه کلیزه وه او یو شمېر کړی چې د طالبانو اجندا یې په مخ بیوله، په کابل کې غونډه جوړه کړې وه او د ټلوېزیون په مخ مې داسې کسان ولیدل چې دوی د پاکستان سره خاصې اړیکې درلودې او هم یې په تېرو پنځلس کلونو کې د افغانستان په حکومت کې ډېرې لوړې دندې درلودې او یا په اصطلاح د افغانستان سیاست یې په مخ بیوه خو دوی هم په حکومت او د امریکا په سیاست نیوکې کولی. ځینې لا د دوی په امریکا کې هم اوسیدل نو ما ته عجیبه غونډې ښکاره شوله چې دا کسان څومره ابن الوقته کسان دي چې په انګلیسي ژبه کې ورته Hypocrites وایې نو ما دا لاندې لیکنه د خپل فیسبوک په وال یا صفحه ولیکله:

دګرم جنګ سره همېشه سوړ جنګ یا تبلیغاتي جنګ ډېر مهم رول لوبوي چې د جګړې میدان ګرم ساتي او جګړه مارو ته روحیه ورکوي. د افسوس خبره دا ده چې د افغانستان د حکومت پرضد دجګړې طراحان او پلي کوونکي په دی خبره کې ډېرپیشقدمه دي چې دوی د دولت په امکاناتو د دولت پر ضد د حکومت د مخالفینو په ګټه تبلیغات کوي.

دا کسان معلوم الحاله کسان دي چې په رسنیو کې د مخالفینو او تروریستانو په ښکاره ډول استازیتوب کوي او د هغوی د موقف نه ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. که حکومت نور څه نه شي کولی لږ تر لږه د دې کسانو نه بايد د حکومت امکانات واخلي او د حکومت په پيسو دی دوی نور نه چاغوي.

دا ډول کسان د چرګانو پشان دي چې هم هغه څه ته چې دوی مرداري وايي هغه خوري او هم خپلې مکوښي څنډې.

که د لس دولس کسو نه موټرې او باډيګارډ واخيستل شي او تنخواګاني پرې ودرول شي نو د دوی عقل به په خپله سرته راشي چې دوی څه کوي او څه وايي.

## د لونګۍ ورځ:

۱۸اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

نن د فيسبوک ډېرو دوستانو لونګي په سر کړې وي او خپل عکسونه يې په فيسبوک کې خپاره کړي و او ويلي چې د لونګۍ د ورځې په وياړ خپل عکسونه يې د دوستانو سره شريکوو. ما ته سوال راپيدا شو چې دا د لونګۍ ورځ د کومه ځای نه راپيدا شوله نو ما دا لاندې پوست وليکه:

په درنښت سره زه پوه نه شوم چې دا دلونګۍ ورځ څه وخت د افغانستان حکومت تصويب کړې ده اويا د ملګرو ملتونو اسمبلۍ څه وخت دا فيصله کړې ده چې نن ورځ دې د لونګۍ په سر کولو ورځ وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند لونګۍ پنځه ګزه ټوټه، تکه یا کپړه نه ده چې د چا په سر شي نو عزت به یې لوړ شي. شمله هغه وخت د یو افغان لوړیزې چې د شملۍ د اوچتولو کارونه وکړي.

**حسیب شینواري صاحب د خوشال خان دا شعر لیکلی و:**

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

**د ورځو د تجلیلولو لړۍ:**

۱۰ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

دوستانو زما هیره وه چې نن د څه شي د لمانځلو ورځ خو وه او سبا ته به د یوبل شي د لمانځلو ورځ وي؟ چې ځانونه ورته اماده کړو. پرون د لونګۍ په سر کولو ورځ وه نو مالیکلي و چې د دې ورځي د تجلیل لړۍ څنګه او څه وخت پیل شوله او مطلب تري څه دي؟ زما مخکښې لیکنه لوستلی شئ. د فیسبوک یو ملګري راته لیکلي و چې په فرانسه کې د پیازو ورځ هم لمانځل کیږي او د ورځو په لمانځلو کې څه تاوان دی؟

وروره! که موږ د پیازو او کچالو، د لونګیو او پکول، د چپن او برزو، د څادر او ټغر، د ژوندیو او شهیدانو، دیني او مذهبي، د دهقان او معلم، د ښځو او نرانو، د مور او پلار، د خور او ورور، د نارنج او کونړ سیند، د نښتر او انارو، د خربوزو او پیستو، د ګل سرخ او نوروز، د غوزانو او بادامو، د کارګر او منصبدارو، د متخصیصینو او روشنفکرانو، د عوامو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواصو او داسې نورې ورځي هر ورځ ولمانځو، نو د افغانستان غونډې غريب هېواد ته يې ډېر زيات تاوان دی چې هم پرې فکري انرژی او وخت زيات مصرف کېږي او هم د خلکو توجه د وطن اصلي ستونزو نه بلې خوا ته اړوي. که د دې ټولو ورځو مصارف راټول شي نو زما په اند يوه عامه المنفعه ښه پروژه پرې هر کال جوړېدي شي. ايا دا به ښه نه وی چې د دې مصارفو په عوض يوه عام المنفعه پروژه عملي شي؟

تېره اونۍ يو څو فاتحو او ودونو ته لاړوم نو د ځآن سره مې فکر وکړ چې د دولتي ملکي او پوځي کسانو نيمايې وخت د همدې وادونو او فاتحو د مراسمو په ادا کولو تېرېږي او اکثريت يې ضروري هم نه وی او نمايشي بڼه لري. که موږ د دوی وخت او د موټرو د تگ او راتگ مصارف وسنجوو نو شايد ميليونونو ډالرو ته هر کال ورسېږي. دا چې د لارو د بندولو له امله عام خلکو ته څومره تاوان رسېږي هغه جدا محاسبه غواړي. نو په دی توگه زما په اند د زياتو ورځو په لمانځلو کې د افغانستان خير نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مثبت بدلون هلې ځلې د ستایلو دي:

۱۲ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل






د مثبت بدلون ټولني نن په ننګرهار کې غونډه درلوده چې زه هم ورته د دغه ټولنې د مشر استاد عبدالبصیر سباوون له خوا بلل شوی وم خو ومې نه شو کړای چې د دوی د فراغت په مراسمو کې ګډون وکړم. استاد هجرت الله اختیارصاحب لیکلي و:

زموږ همدومره له وسه پوره دي، کوو یې. موږ د بدلون تکل کړی موږ یې راولو. موږ نږدې دوه زره ځوانانو ته د وړیا زده کړو له لارې د مثبت بدلون فکر ورسوه موږ له دې لارې پر بدلون باور لرو ځکه مو دا لار نیولې. دا زموږ شناخت دی

دا موږ یوو موږ د خپل عمل له لارې وپېژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثبت بدلون کارونه واقعاً د قدر وړ دي نو ما دا لاندې څو کرښي د اختيار صاحب په ځواب کې وليکلي:

د مثبت بدلون د ټولنې د مشرتابه او ټولو هغه دوستانو او استادانو چې د ځوانانو په تعليم او تربيه کې په داوطلبانه توگه برخه اخيستې مبارکي وايم او د دوی هلې ځلې قابل د قدر او تمجيد دي. د مثبت بدلون د ټولنې هلې ځلې د هېواد نورو سيمو لپاره يو ښه ماډل دی چې څنگه په لږو امکاناتو او داوطلبانه توگه خپل ولس او خلکو ته خدمت کولی شو. الله تعالی د درباره دوی ته په دنيا او اخرت اجر عظيم غواړم.

**ليډرشيپ او مديريت:**

د افغانستان امنيتي وضعيت ورځې تر بلې خرابيږي خو د افغانستان د حکومت مشرتابه لا تر اوسه نه اولويت پېژني او نه ژر تصاميم نيولي شي او همېشه په تيوريگانو غږيږي نو دا لاندې طنز مې وليکه:

خبرې سل

. سر يې يو

تبصرې پرې سل

از هرچمن ثمنی

خدای دی ترې گلدسته جوړه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عاشورا د ورځې دوه حملې:**

۱۲ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

تېر ماښام په کارته سخي سیمه کې مسلحو کسانو د شیعه ګانو په تکیه خانه ننوتل او هلته یې ۱۸ کسه شیهدان او د پنځوسو کسو په شاواخوا کې زخمیان کړل. همدا شان نن په مزار ښار کې هم د شیعه ګانو په یوه تکیه خانه باندې د حملې په نتیجه کې ۱۴ کسه شیهدان او د شلو کسو په شاوخوا کې زخمیان شول. نو ما په فیسبوک دا لاندې څو جملې ولیکلې.

د کارته سخي حملې د شهیدانو او زخمیانو کورنیو ته د الله د درباره صبر جمیل غواړم. دا جوته ده چې د افغانانو د دښمنانو او تروروستانو ستراتیژي همدا ده چې د ولس په منځ کې ویره واچوي، بیګناه انسانان ووژني، د خلکو نارمل ژوند مختل او وحشت خپور کړي. دی تروروستانو ته هیڅ نوع دیني، مذهبي او افغاني ارزښتونه اهمیت نه لري. د افغانانو لپاره په کار ده چې یو بل ته لاس ورکړي او په حکومت فشار راولي چې حکومتداري ښه شي تر څو د ولس او حکومت ترمنځ واټن کم شي. دهوسا او پر امن افغانستان لپاره همدا یوازینۍ لار ده.

**د قدرت د نفوذ یا Authority، مشروعیت:**

۱۳ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

د قدرت د نفوذ مشروعیت په یوه ټولنه کې د دریو لارو راتلای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱) په روايتي، قبيلوي، روحاني او ديني شکل باندې د کور، کلي، سيمې او د مملکت مشر ټاکل کېږي او د خلکو په منځ کې د دوی مشرتوب مشروعيت پيدا کوي. د بېلګه په توګه کورنې، يو قوم او يا يوه سيمه د يو مشر د وفات نه وروسته يو څوک په خپلو منځو کې د مشر په توګه ټاکي. يا يو پير يو څوک خپل جانشين، خليفه او مؤذن ټاکي او د پير پيروان بيا د هغوی پيروي کوي. يا يو پادشاه خپل وليعهد ټاکي او د هغه د مرګ نه وروسته د يو ملک اوسيدونکي وليعهد د پادشاه په توګه مني او د هغه پيروي کوي.

۲) دويمه کټګوري مشروعيت د ايډيالوژيکي مفکورې په بنسټ منل کېږي لکه په ايران کې روحاني مشرتوب د شعيه ګانو لپاره يوه منل شوی مرجع ده.

۳) دريېمه کټګوري مشروعيت ته Structural and Institution Authority يا د سيستم له لارې د قدرت د نفوذ مشروعيت وايي لکه د ټاکنو په ذريعه د قدرت نيول مشروعيت پيدا کوي. يا په بعضې مواردو کې د کوتاه له لارې.

که موږ د قدرت د نفوذ د مشروعيت پورته دريو کټګوريو ته وګورو نو په افغانستان کې د قدرت د نفوذ د مشروعيت ستونزه د ټولو هېوادونو په پرتله زياته ده ځکه د تېرو څلورو لسيزو جنګونو او د قدرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انحصار له امله، د افغانستان د قدرت د نفوذ مشروعیت د لومړۍ کټګورۍ له منځه تللی او یا نهایت ضعیفه شوي دي، دویمه کټګوري سیستم په افغانستان کې نشته دی او دریيمه کټګورۍ د قدرت د نفوذ مشروعیت هم د ستونزو سره مخامخ دی.

په یوه ټولنه کې چې د قدرت د نفوذ مشروعیت د سوال سره مخامخ وي، هغه ټولنه به هرو مرو د ښې حکومتدارۍ، امنیت او اقتصادي ستونزو سره مخامخ وي. زما په اند د افغانستان حکومت باید د اوس نه د پارلماني او جمهوري ریاست په ټاکنو فکر وکړي او ټاکنو ته لاره هواره کړي چې خدای نا خواسته زموږ دا ضعیفه حالت د قدرت د مشروعیت نور هم ضعیفه نه شي.

**چې ګرځې ډیر څه به اورې او ګورې؛ تبلیغي حضراتو ته مشوره:**

۱۶ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

همېشه سیاحت او ګرځېدل د انسان په فکر مثبت او منفي اغېز کوي خو دا د انسان پورې اړه لري چې په څه نیت سفر کوي او هدف یې د سیاحت او ګرځېدلو نه څه دی، څه ګوري او څه یادوی؟ یو شاعر وایې:

په خالي ویلو څوک نه سړی کېږي
څو سیاح د هر بلاد نه شي سړی

خو په دې بعضې کسانو باندې ګرځېدل چندان تاثیر نه کوي که څه هم د دوی مؤخه او نیت به ښه وي. هدف مې دا نه دی چې ټول کسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه گروپ او يا ډله کې وي هغه دې شيانو ته پام نه ساتي څکه استثنی شته دی. په دې نړدي وختونو کې زه د څوتبليغي دوستانو سره مخامخ شوم او خدای شاهد دې چې د دوی په خبرو او اوريدو مې زړه ډېر بد اوخفه شو او دځان سره مې وويل چې الله تعالي دی په موږه، د افغانستان په ولس او هم دوی باندې رحم وکړي. زه دا څو نموني د درنو دوستانو درسره شريکوم نور قضاوت به تاسې  په خپله وکړئ چې زموږ په دې ملک کې ديني او غير ديني افراط څومره اوج ته رسيدلی دی.

څو ورځې د مخه زما يو ملگري چې هم صنفي مې هم دی او د کابل د پل تخنيک پوهنځي نه خلاص شوی او اوس هم د معلم په صفت دنده اجراکوي،  زما کورته راغی جې اوس  ډېر کلک تبليغي شوی دی. د هغه چا سره چې د ده کار و قصه يې اوږده ده خو ما ورته د يو کس د تليفون شيمره ورکړه چې د هغه سره اړيکه ونيسي. ده راته وويل چې دی نه شي کولی چې په خپل تليفون کې شمېره ثبت کړي نو که زه يې ورته ثبت کړم ښه به وي. ما ورته وخندل چې ته ټوکه کوي او که رښتيا وايې؟ ده راته وويل چې دی د ځان سره تليفون نه گرځوي او دا تليفون ډېر خراب شي دی او فساد خپروي نو ځکه دی ورسره اشنا نه دی. اوس يې هم دا تليفون په دی خاطر د کوره ځان سره راوړی دی چې کابل ته راتله نو کېدای شي چې په کار يې شي. سوال دا دی چې دی به څنگه خپل شاگردان دی ته اماده کړي چې د نړي په اوسني شرايطو کې د يو ملک ستونزې حل کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلال آباد ښار د بزازي په جومات کې مې د تېرې جمعه په ورځ د جمعه لمونځ کاوه نو جومات مې ډېر خوښ شو او ډېر ښايسته يې جوړ کړې و خو د خطيب خبرو مې زړه بد کړ. پوښتنه يې وکړه چې دا ترکي ډرامې چا کتلي دی او که نه؟ خو چا جرأت ونه کړ نو ده وويل چې په ترکيه کې د اتاترک نه وروسته اسلام نشته دی او دوی د کفر ډرامې جوړوي او داسې نور. مذهبي اختلافاتو ته يې هم لمن ووهله او بالاخره يې وويلي چې دا تلويزن، فيسبوک او داسې نور شيان بايد بند شي ځکه دوی کفر او الحاد ترويجوي او په اخره کې يې خلک تبليغ ته دعوت کړل چې په جلال آباد کې اجتماع ده او بايد ورشئ. مولوی صاحب دا نه ويل چې خبره په ټلوېزيون او تکنالوژي کې نه ده خبره په استعمال کې ده او بايد د تکنالوژي نه مثبته ګټه واخيستل وشي.

څو ورځې د مخه د محيط زيست يو افغان متخصص سره مخامخ شوم او راته يې وويل چې دا نهايت ظلم دی چې د بدرفونو اوبه د باران او سيندونو د اوبو سره څوک يو ځای کوي. څه وخت د مخه زه د کونړ مرکز اسعدآباد ته تللی وم چې هلته په منډه کول چينه کې د تبليغيانو د مرکز په لس ګونو تشنابونو بدرفونه او هم د ښار د نورو ودانيو بدرفونه د کونړ سيند ته ويستل شوي واو همدا شان په جلال آباد کې د تبليغي مرکز تشنابونه هم د افغان مينې په سيمه کې د سرخرود سيند ته ويستل شوي دي. زما په اند تبليغي حضراتو ته په کار ده چې د خپل او هم د محيط د پاکۍ خيال وساتي او د خپلو مرکزنو د بدرفونو چاره بايد په جدي توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي ترڅو د دوی دا کار نورو ته د عبرت او لارښوونې سبب وګرځي.
زما په اند د ځان، کور، کلي، خپلې سيمې او هېواد پاکي هم د دين يوه لويه برخه ده او دی ته بايد جدي توجه وکړي. دا مې هسي انديښنه وه چې زموږ طبيعي زيرمي لکه سيندونه اوس څومره چټل شوي دي او څومره تاوان هغه خلکو ته رسوي څوک چې د دي سيندونو اوبه استعالوي.
خدای دی وکړي چې زما دا ليکنه په تبليغي حضاراتو باندې بده ونه لږيږي.

## د بيروکراسۍ ټال ټال:

۱۷ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

که څوک ځانونه بزرګان ونه ښايي، نو په قطعو يا پرو خو ډېر کسان پوهيږي، کله چې يوکس خپله پره نه ښايې او يا يې ميدان ته نه اچوي نو هغي ته ټال چال وايې او ټال چال يوازې سايکالوژيکي خبره ده تر څو حريف دې ته مجبور شي چې شکست يا بايلودل ومني.

په بيروکراسۍ کې ټال چال دا دی که چارواکي غواړي چې يو کار معطله کړې نو هيئت او کميټه ورته ټاکي او که غواړي چې يو کار د سره ونه شي نو بيا د کمېسيون ټاکنه ورته ښه کار دی.

په دې ورځو کې د بيروکراسي ټال چالونه راته ډېر زيات ښکاري خدای دی هغه وکړي چې زموږ او ستاسې او هم زموږ د چارواکو پکې خير وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مخابراتو د جعلي شبکو عمده غلاوې:

۱۷ د اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

مخابراتي شبکې اکثره د مشتريانو نه پيسې وهي او په تخنيکي لحاظ کال ډراپ اوټ Call Drop Out يې ښکاره ستونزه ده چې ټيليفونونه زيات قطع کېږي او د دې ترځنګ نور تخنيکي چلونه هم وهي خو د مخابراتو وزارت يې په غم کې نه دی البته څه شرعي عذر به لري.

دا ډېر وخت کېږي چې زما د اريبا د تليفون يوې شمېرې سختې پيسې نوش جان کولی، نو زموږ د کونړو په اصطلاح راته پټه ولږيده چې هرو مرو څه چل شته دی ځکه د مشتريانو د خدمتونو شمېرې يې هم کار نه کاوه چې دا ستونزه مې ورسره حل کړې واي. بالاخره تليفون مې د اريبا دفتر ته نن ولېږه چې ستونزه يې معلومه کړي. د اريبا د دفتر کارکوونکو ورته ويلي و چې دا تليفون په دقيقه کې د تاسي نه دولس نيمي افغاني خوري او دا ځکه چې د دې تليفون اړيکو کنټرول د دوی سره نه دی او کومه بله جعلي شبکه ده چې داسې پنځه زره نمرې يې د دوی نه غلا کړي او کنټرول يې د هغوی سره دی او مفتي پيسي وهي. کله چې دوی ته ځوک شکايت وکړي نو بيا دوی د هغه مشتريانو تليفونونه بېرته عادي حالت ته په ۲۴ ساعتونو کې راګرځوي ځکه هغه دستګاه چې کوم زورواکه ځوان راوړی ده، هغه دوی نه شي کنټرولي او نه يې په نخښه کولی شي نو هغوی د دې لاري ډېري پيسي لاسته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره د دوی سمه ده ځکه څو کاله د مخه هم همداسې دستګاوې په کابل او جلال آباد کې و او هغه بیا ونیول شوي. دی ته شهر نا پرسان وايي او هیله ده چې د مخابراتو وزارت، امنیت ملي او نور ارګانونه د داسې دستګاو مخه ونیسي ځکه دوی خو لس سلنه ټکس د خلکو نه د خدمت په مقابل کې اخلي. خدمت یې په تندر ولګوه، دا ډول دستګاوي امنیتي خطر او ستونزې د حکومت او هم د خلکو لپاره پیداکوي. خدای دې وکړي چې د حکومت کوم زړه سوانده چارواکی زما دا پوست وګوري او عاجل اجراات وکړي چې داسې جعلي دستګاوي کشف او ضبط کړي او فني غلو او د هغوی ملاتړ کوونکو ته سخته سزا ورکړي.

**له فیسبوک او یا نورو رسنیو نه زړه مه بدوئ:**

۱۸ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

اجتماعي رسنۍ، فیسبوک او داسې نور د معلوماتو سرچینې، داسې دي لکه منډوي یا لکه د پنساري دوکان چې هر څه پکې وي خو تاسې هغه څه ترې اخلئ کوم شي ته چې ستاسې اړتیا وي او یا ذوق ورسره لري. د هغه شیانو په اړوند چې ستاسې ورته اړتیا نه وی، هغه نه اخلي او نه یې په قصه کې یاست.

زما مشوره دوستانو ته دا ده چې هغه خبرې او معلومات چې د دوستانو په شوق او ذوق برابرې نه وي او یا ورته اړتیا نه لري چې ځانونه پرې پوه کړي، باید خپل ذهنونه یې په لیدو او اوریدو خراب نه کړي او نه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعصاب پرې ماتېيجن کړي او نه ملامتيا په دې رسنيو ورواچوي. هغه څه ترې اخلي چې تاسې ته ذهني سکون درکوي او يا مثبته ګټه ترې اخيستلې شي.

**زما دا نهه بلډېګونه تکميل شول:**

۱۹ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل




زما دا نه بلډېګونه تکميل شول او درې نور د تکميليدو په حال کې دي. دا بلډېنګونه نه زړېږي او نه نوره خرڅه د سا تلو ورته په کار ده او نه څوک دا سرمايه غلا کولی شي. که د چا مينه ورسره وي، نو ډېر کسان ترې ګټه هم اخيستلې شي. د ښو اولادونو او ښه دوستانو ترڅنګ همدا زما لويه سرمايه ده او همدې ته قناعت وايې لکه څنګه چې رحمان بابا وايې:

قناعـت مـې د خرقـي لانـدې اطلـس دی
په ظاهر ګدا پټ د درست جهان پادشاه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند قناعت د فقر ژوند ته نه وايې بلکې قناعت دا دی چې څوک چاته احتياج نه وي او خپله سرمايه او د ژوند مصارفات په خپله خواری او پاکي سره لاس ته راوړي نه دا چې خپل ژوند او عايد د خيانت، ظلم، رشوت او يا د نورو د حقوقو په پايمالولو سره تر لاسه کړي.

**د ماشومان او لويانو ترمنځ توپير:**

۲۰ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ښکنځلې، بدې او خرابې خبرې ماشومان هم کولی شي خو ښې او پرمعنی خبرې د مشرانو، لويانو، پوهو، مؤدبو او ښو کسانو کار دی.

**ناست په سياسي چوکيو دي خو فکرونه يې د چريکي قوماندانانو دي:**

۲۲ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ډېر کلونه وړاندې د مشرقي د شورا د يو شمېرمشرانو سره مې په جلال آباد کې خبرې کولې، نو ما ورته وويل چې پوهېږئ چې ستاسې اصلي ستونزه څه ده چې په خپلو منځو کې تفاهم او يا مشرقي ته خدمت نه شي کولئ؟

يو د دې مشرانونه راته وويل چې نه؟ ما ورته وويل چې تاسي په سياسي چوکيو ناست ياست خو ستاسې فکرونه لا اوس هم د چريکي قواندانانو دي. که غواړئ چې خپلې چوکۍ وساتئ او هم ولس ته خدمت وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید په خپل فکرونو کې تغییر راولئ که نه د چریکي قوماندانانو ژوند همېشه لنډ وي.

دا خبره مې د دې پورې راپه یاد شوله چې ځینو مشرانو چې اوس هم سیاسي چوکۍ نیولي دي، د دوی فکرونه اوس هم د چریکي قوماندانانو دي او ترڅو چې د دوی فکرونه همداسې وي، دوی وطن ته خدمت نه شي کولی.

**چې باوري نه یاست، د چا مه ښه وایاست ا و مه بد:**

۲۳ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

دا څو ورځې په فیسبوک کې گورم چې یو شمېر فعالان چې ځانونو ته پوه کسان وایي په هره ښه او بده خبره یو قسم عکس العمل ښکاره کوي. که دوی ته ځانونه پوه ښکاري نو د دوی عکس العمل هم باید منطقي او په ځای وی او که بیا ځانونو ته د پوهو کسانو خطاب نه کوي نو بیا خو د دوی نه گیله په کارنه ده.

دا خبره مې ځکه وکړه چې زموږ په وطن کې شخصیت وژنه نهایت زیاته ده چې کله کله واقعیتونه او تهمتونه سره سړی جلا کولی نه شي. زما عاجزانه هیله د فیسبوک د دوستانو نه دا ده چې د چا په اړه سل په سلو کې باوري نه یاستي مه د چا توصیف کوي او مه چا پسي بد وایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جګړه به وګټې خوجنګ ګټلی نه شي:**

۲۴ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل





په دې څو ورځو کې ما د افغانستان د جمهور رئیس د لومړۍ مرستیال عکسونه په فیسبوک کې ولیدل چې په نغري یې چای جوش ایښی او اور لکړه یې په لاس ده او په خوند سره په اور کې لکړه وهي او د داسې ساده ژوند نه خوند اخلي او یا په بل عکس کې په یوه وران کنډر کې په چوکۍ خوشاله ناست دی او په تلیفون غږېږي. څو ورځې د مخه مې د طلوع ټلوېزیون نه ولیدل چې د ننګرهار ولایت د کوټ ولسوال حاجي غالب سره یې مرکه درلوده، خبرېال ته وایي که جمهور رئیس ده ته اجازه ورکړي، دی دې ته حاضر دی چې کندوز ته لاړ شي او هلته جنګ وکړي او بیا وایي چې دی د جنګ نه خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دې کې شک نشته چې هر ژوندی مخلوق د ژوندي ساتلو لپاره مناسب محیط ته اړتیا لري که نه ژوندی مخلوق بې له خپل مناسب محیط نه ژوندی پاتې کیدې نه شي اوکه هم وي خوشاله به نه وي، د بېلگې په توگه د ماهیانو لپاره د ژوندي ساتلو محیط اوبه دي او که د اوبو یې راکاږئ نو مري. همدا ډول هر انسان په خپل ژوند کې د ژوندې ساتلو او ژوند کولو لپاره د ځان لپاره یوچاپېریال جوړوي چې په هغه چاپېریال کې ښه ژوند کولی شي او د هغه چاپېریال نه خوند اخلي. دې انسانانو ته که بل ښه چاپېریال هم جوړ کړي، هلته به خوشاله نه وي او د هغه چاپېریال نه خوند نه شي اخیستلی ځکه چې دوی خپل ټول عمر په جلا چاپېریال کې تېر کړی دی. په دې بحث نه کوم چې کوم چاپېریال زموږ د فرهنگي، ټولنیز او د یني ارزښتونو له اړخه ښه دی او کوم بد دی. زما هدف په یو خاص چاپېریال کې د ژوند کولو او د هغه چاپېریال نه د خوند اخیستلو په اړه دی.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د جمهور رئیس لومړی مرستیال د جنگ په محیط کې ټول عمر تېر کړی او جنگي حالت نه خوند اخلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا په اطراف کې يې ساده ژوند ورته د جمهوري رياست د مرستيالۍ نه خوند ورکوي. زما په اند، د جمهور رئيس لومړی مرستيال او هم ولسوال صاحب غالب به د جنگ نه خوند اخلي او يا ساده ژوند شايد د دوی خوښ وي ؛خو د دوی موقفونه دا نه ايجابوي چې دوی د خپلو اصلي دندو پرځای د جنگ ډگر ته ورشي بلکې د دوی وظيفه سازماندهي، عامه اړيکي، د پاليسو وضع کول او د پاليسيو د تطبيق نظارت دی. که زما د تېرې ورځې ليکنه وگوري، دوی په سياسي چوکيو کار کوي خو د دوی فکرونه لا اوس هم د چريکي يا جبهه يې جنگونو د قوماندانانو دي.

په انگليسي ژبه کې يومتل دی چې وايي Winning the Battle but Losing the War يعنې جگړه به وگټې خو جنگ به بايلې. دوی فکر کوي که دوی جگړه وگټي نو دوی به جنگ هم وگټي داسې نه ده. په نظامي لحاظ هم دا سمه نه ده چې دومره مهم شخص دې د جنگ اول خط ته لاړ شي او هلته دې جنگ رهبري کړي. که خدای نا خواسته ده ته کومه صدمه ورسېږي، دا د دښمن مورال نور هم تقويه کوي او د گټې نه به د دوی تاوان په سايکالوژيکي او تبليغاتي لحاظ زيات وي. ښه دا ده چې دی خپلې اصلي دندې ته متوجه شي او د ټول افغانستان په اړه د جنگ گټلو په پاليسيو فکر وکړي نه دا چې د يوې وړې جگړې گټلو په فکر کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ليکلو لنډه مشوره ځوانانو ته:**

۲۵ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

په فيسبوک کې ليکني عامه معلومات دي او هر څوک ترې گټه اخيستلی شي خو د ليکلو د قواعدو په اساس هغه ځوانان چې د چا ليکنې دوباره خپروي، دا به ښه وي چې د مخکني ليکوال نوم ياد کړی ځکه په دې توگه د ليکلو طرز او قواعدو سره به اشنايي پيدا شي او دا ځوانان به په راتلونکې کې ډېر ښه ليکوالان شي. هيڅا ليکوالي په يوه ځل ليکلو نه ده ياده کړې او څومره چې ډېري ليکنې او لوستل څوک کوي هماغومره د ليکلو طرز د ليکوال ښه کېږي. صرف په کټ او پيست څوک ليکوال کيدې نه شي.

**دوی د بل چا زامن دي:**

۲۷ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، کابل

يو سړی په خپلو زامنو د قوماندان، ډگرمن او جگړن نومونه ايښودلي و. کله به يې د چا سره شخړه درلوده، نو غږ به يې وکړ چې هغه قوماندان، ډگرمن اويا جگړن ته غږ کړې چې دلته راشي او دا سړی سم کړي. جانب مقابل به هم وارخطا شو چې قوماندان، ډگرمن اوجگړن د ده په خوله راځي نو ښه دا ده چې ځان تری وساتي او په تيښته به شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مشوره د دولت مشرتابه ته دا ده چې په دی کې شک نشته چې قوماندانان، ډگرمنان او جگړنان درسره دي خو اکثره د دوی د بل چا زامن دي ځکه دوی د بیلا بیلو صاحبانو په فرمایش مقرر شوی دي. د اکثرو تعهد خپلو مشرانو ته دی نه د دولت مشرانو ته او که په بله اصطلاح یې ووایو نو د دولت اکثره مشران هم نظام ته وفاداره نه دي بلکې خپلو ډلو او قومي جوړښتونو ته وفاداره دي. ښه به دا وي چې د دولت مشرتابه په امنیتي او هم نورو سکتورونو کې داسې د وطن زامن مقرر کړي چې نظام ته وفاداره وی او د صاحبانو د وفاداری نه تېر شي.

**شرافت د انسان په علم او ادب دی نه په نسب**

۲۷ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، دوبي هوايي ډگر

که په دی خبره عقیده ولرو چې انسانان د بابا ادم علیه والسلام اولاده ده نو بیا د نصب په اساس په انسانانو کې تفوق د کوم ځای نه شو او ولې موږ پړي سره شکوو. د اسلام له نظره تفوق دانسان په تقوی کې دی. سورة الحجرات او د حجته الوداع خطبه لوستل په کار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عمده تفاوت د حکومت او د مسلحو مخالفینو او تروړستانو ترمنځ:**

۲۹ اکتوبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

د حکومت نه د ولس توقعات همېشه زیات وي چې حکومتداري ښه کړي، امنیت راولي، ولس ته د تعلیم او ښه ژوند زمینه مساعده کړي، سوله راولي، اجتماعي عدالت او قانون باید حاکم کړي او داسې نور..

خو په مقابل کې د مسلحو مخالفینو او تروړستانو کار دا دی چې حکومتداري خرابه، سړکونه، پلونه او مکتبونه وران کړي، بیګناه انسانان ووژني او ناامنۍ راولي. د بې امنۍ او د جنګي حالت په دوام کې مخدره موادو قاچاق، د طبیعي منابعو چور او چپاول او پردو ته لاره هواره کړي چې د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله وکړي.

که حکومت ستونزې لري ځکه چې د د حکومت مقابله څو اړخیزه ده اما د جانب مقابل کار یوازې تخریب دی نو ځکه د دواړو اړخونو مقایسه سره سمه نه ده.

**د نقیب احمد خپلواک په یاد د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت له خوا د نښان رسامي وښودل شوه:**

۳۱ اکتوبر ۲۰۱۶م کال




ډېر دوستان وايي چې ولې مور خپل ژوندي نه نمانځو او همېشه خپل مړي نمانځو دا ځکه چې د افغانانو ژوند، همېشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزه او پهلواني ده او هغه ولس چې دلوبې په ډګر کې په پهلوانۍ اخته وي نو دوی ته د دې فرصت په لاس نه ورځي چې د پهلوانۍ د مبارزې د حلقه نه بهر فکر وکړي او همېشه دوی په دې فکر کې وي چې دا مبارزه څنګه وګټي ترڅو هم ځانته او هم خپل وطن او خلکو ته نېک نوم پرېږدي. په دې خاطر موږ د خپلو ژونديو د نمانځلو فرصت نه لرو.

شهيد نقيب احمد خپلواک هم د خپل ژوند په مبارزه کې اخته و، که څه هم د افغانستان په کچه په هېواد کې دننه او هم په امريکا کې ديني او دنيوي زده کړې کړې وې، حافظ د قرآن و، خو دی په دې قانع نه و او کوشش يې کاوه چې د دوکتورا تر کچې خپلې زده کړې تکميل کړي او په دې لاره کې يې د انګلستان په اکسفورډ پوهنتون کې د دويمې ماسترۍ لپاره داخله کړې وه. د تعليم او تدريس په څنګ کې يې په افغانستان کې د دايمي سولې راوستلو لپاره د متحده ايالاتو د سولې انستيوت په دفتر کې د حاکميت د قانون په برخه کې د پروګرام منيجر په توګه کار کاوه. ده هم خپل ځان رساوه، هم يې خپله کورنۍ، وروڼه او خويندو لپاره د تعليم زمنيه مساعدوله اوهم يې نور ته تعليم زده کاوه. خپلواک خپل ژوند ټول په زده کړه او نورو ته د تعليم د زده کولو په لار کې تېر کړ او بالاخره په دې لار کې د ۳۲ کلونو په عمر د اګست په ۲۴مه نېټه د افغانستان او بشريت د دښمنانو له خوا په داسې حال کې شهيد شو کړی شو، چې د افغانستان بچيانو ته يې د کابل په امريکايي پوهنتون کې د حقوقو په څانګه کې په خپل صنف کې تدريس کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه د پورته حالاتو په رڼا کې افغانانو ته همېشه دا ستونزمنه وي چې د داسې ډول مبارزي او پهلوانۍ په میدان کې خپل ژوندي سم وځلېږي او نمانځلي شي ځکه افغانان په نورمال حالت کې ژوند نه کوي خو بیا هم شهید نقیب احمد خپلواک د خپلو دوستانو، خپلوانو، همکارانو او هغه ادارو له خوا چې ده هلته زده کړې او یا یې کارکړی و، په ډېر ښه شان سره ونمانځل شو او د ده حق یې تر یوه حده پورې ادا کړ.



د شهید خپلواک د نمانځلو په دې لړ کې د متحده ایالاتو سولې انستیتوت هم په خاصو مراسمو کې چې د دغه انستیتوت په سل ګونو کار کوونکو پکې برخه درلوده، د نقیب احمد خپلواک په نوم د دغه رسم شوي نښان نمونه د دغه انستیتوت د مشرې او معاونینو له خوا نن وښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه او دا ډول نښان به د دغه انستيتوت په دفتر کې وروسته په دايمي توګه وځړول شي. د دې خبرې يادونه اړينه بولم چې هر کال تقريباً نيم ميليون کسان د متحده ايالاتو د سولې انستيتوت کتنه کوي او دا ټول کسان به د نقيب احمد خپلواک نوم د سولې د قربانيانو په لړ کې ګوري او د ده په ژوند او خدمت به فکر کوي. روح دې يې ښاد وي.

**مثبت فکر کول په خپله مؤثريت دی**

۲ نومبر ۲۰۱۶م کال، امريکا ويرجينيا

د متحده ايالاتو د سولې انستيوت په دفتر کې مې پورته ودانۍ ته کتل چې ښکلې يې دا ښايسته ودانۍ جوړه کړې ده چې د انستيتوت عکاس زما دا عکس په خاص انداز کې اخيستي و او راته يې راواستوه. د يادګار لپاره بد نه دی چې د دوستانو سره يې شريک کړم. کله کله که مو ياديديم نو دی عکس ته ګورئ ځکه په ژوند هم چندان اعتبار نشته دی.

منزل د ټولو يو دی خو سفر جداجدا؛ ډېر به زړه هم نه بايلو ځکه دنيا په اميد خوړل کېږي. ترڅو چې ژوندي يو، ژوند به د ژوندو سره کوو او کوشش به کوو چې د خپل ژوند د هرې لحظې او شيبې نه په مؤثره توګه ګټه واخلو. موثريت شايد هرچاته جلا تعريف ولري خو زما په اند موثريت همېشه مثبت فکر کول دي هم د ځان په اړه او هم د نورو په اړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دوستانو نه په غیر ژوند هم ستونزمن دی او فکر کوم چې په هغه دنیا کې به هم ستونزمن وي ځکه ځانته به په جنت کې څوک څه وکړي چې دوستان درسره نه وي. د ټولو دوستانو او هېوادوالو سره په دواړو دنیاو کې دښه، ارامه او سوکاله ژوند په هیله.

**ستا په جنت کې دې ژرندې وي:**

۲ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

پخوا د ژرندو درلودل په اطرافونو کې خورا مهمه خبره وه، نو زموږ د سیمې یو مشر چې ژرندې یې درلودلې، نو د خپلو ژرندو غم ورسره و چې ایا په هغه دنیا کې به ژرندې په جنت کې وي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ يې زموږ د سيمې يو مهم مولوی نه پوښتنه وکړه چې مولوی صاحب په جنت کې به ژرندي وي که نه؟ مولوی صاحب چې هم ډېر پوه سړی و نو ورته يې وويل چې په کتابونو کې داسې څه د ژرندو په اړه نه دی راغلي خو د بما يشتهون کلمه راغلي ده څه چې دې خوښه وي هغه به الله تعالی درکوي. دا چې ستا ژرندې خوښې دي او که چېري ته جنت ته لاړې او ژرندي دې خوښې وې نو ستا په جنت کې دې ژرندې هم وي.

بعضو کسانو سره چې د خپلو ژرندو غم دی، فکر کوي که د دوی ژرندو ته دانه ونه رسېږي نو هر څه به فلج وي او دا بعضې چې د اخرت لپاره هم ځان وژني او هم نور، دوی هم د حورو او غلمانو په فکر کې دي او د دوی رضا د الله تعالی رضا نه ده. زما په اند د دوی به دنيا او هم اخرت خراب وي ځکه د دوی هدف يوازې حوري او غلمان دي.

**شخصي اجنډاوې او که ملي اجنډاوې:**

۶ نومبر ۲۰۱۶م کال، واشنګټن دی سي، امريکا

اکثره لوړ پوړې چارواکي او دوستان چې په حکومت کې دننه او يا له حکومت څخه بهر تر ولسمشره پورې زه پېژنم، د افغانستان او د ملي وحدت د حکومت په ستونزو ښه با خبره دي، د ولس له درد او غم نه هم پوره معلومات لري، د نړيوالې ټولنې ستونزې هم ورته پوره معلومې دي، د ګاونډيانو شوم نيتونه او له پروګرامونو څخه هم کافي خبرتيا لري، په تيوري او عملي لحاظ هم ډېری يې په کارونو ښه پوهېږي، نو سوال دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ولې دوی نه شي کولای چې د افغانستان د ستونزولپاره د حل لارې پیدا کړي؟ ولې د افغانستان مظلوم ملت لا هره ورځ د اور په لمبو کې سوځي؟ او ولې حالات له یوې ورځې نه بلې ورځې ته خرابیږي؟

کېدای شي چې دا لیکنه د دې دوستانو او حکومت د مشرتابه خوښه نه شي خو که نور څه نه شو کولای باید واقعیتونه ووایو او که دوی دا لیکنه سمه او په غور ولولي او په خپلو کړنو کې یو څه تغییر راولي شاید دا لیکنه د دوی لپاره گټوره وي او هم شاید د افغانستان ولس لپاره یو څه مؤثره تمامه شي.

تر کومه حده چې زه له دې مشرانو سره پېژنم او د دوی له نږدې کسانو سره مې خبرې کړي، له دوی سره یوازې شخصي اجنډاوې مطرح دي، نو ځکه دوی په خپلو کارونو کې ناکامه دي. د خپلو شخصي اجنډاوو د درلودلو په حالت کې دوی د موجوده حالاتو په دوام یا (Status quo) ساتلو خوشحاله دي. اما د موجوده حالاتو دوام د افغانستان خلکو لپاره او هم د نړیوالې ټولنې لپاره چې له افغانستان سره مرسته کوي د قناعت وړ نه دی. د موجوده حالاتو له دوام سره یوازې د حکومت پرضد مسلحې تروریستي ډلې، ځیني گاونډي هېوادونه، جنایي او مافیایي کړۍ خوشحاله دي.

زه په دې ډاډه او باوري یم که له دوی سره شخصي اجنډاوې مطرح نه وي نو دوی د دې ظرفیت او کفایت لري چې د افغانستان ستونزو لپاره مناسبې د حل لارې پیداکړي. نه غواړم چې د ډېرو اشخاصو نومونه واخلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو يوازې غواړم چې د افغانستان د حکومت د مشرتابه او يو شو لوبغاړو د نومونو اخيستل اړين بولم، ځکه د افغانستان موجوده حالات او هم راتلونکې د دوی د کړنو او پاليسيو پورې تړلې دي.

راځئ چې له ولسمشر څخه يې پيل کړو:

ولسمشر له لومړۍ ورځې څخه په دې فکر دی چې څرنګه بيا د جمهوري رياست لپاره ځان کانديد کړي او د دې کار لپاره بايد داسې کسان په شاوخوا راټاو کړي چې د ده دغه اجنډا په مخ بوځي، نو په دې توګه ولسمشر نه غواړي چې داسې ټيم جوړ کړي چې د ده له شخصي اجنډا سره موافق نه وي. د دغه کار لپاره هم ولسمشر کوم مناسب ټيم چې يوازې د ده اجنډا تعقيب کړي، تر اوسه پورې نه دی جوړ کړی. کوم ټيم چې د ده په شاوخوا تراوسه پورې څرخي، هغه سوری ټيم دی او يا ده ته وفاداره ټيم نه دی.

په دې سوري ټيم کې چې هرڅومره کانې اچوي نو لاندې غورځيږي او فکر نه کوم چې د جمهور رئيس دا ټيم تکميل شي ځکه د شاوخوا کسان هم خپلې اجنډاوې لري. دوی د رسمي کارونو او د موقف ساتلو په درلودو سره د خپلو ځانونو لپاره کار کوي يا په بله معنی له خپلو موقفونو څخه د شخصي اجنډاوو لپاره د يوې وسيلې په توګه کار اخلي.

اجرايي ه رئيس هم په همدې فکر دی او غواړي چې له خپل موقف څخه څنګه د خپل شخصي نفوذ ساتلو لپاره ګټه واخلي او د راتلونکو ټاکنو لپاره ځان برابرکړي. د ده ټيم هم سوری دی، ځکه د دغه پوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د ده په خپل ټيم کې ډېر رقيبان شته دی. يو مثال يې د مزار والي دی چې غواړي له ولسمشرسره يو څه معامله وکړي ترڅو د ده نفوذ په حکومت کې او هم د حکومت نه بهر زيات شي او په عوض د دې چې په راتلونکي کې بل څوک سپانسر کړي ولې په خپله ميدان ته نه رادانګي.

د ملي امنيت سلاکار هم همدا خوبونه لا له پخوا څخه ليدل او غواړي چې خپل معتمدو کسانو لپاره چې د ده اجنډا پر مخ بوځي، د حکومت په منځ کې ورته د کار کولو زمينه مساعدوي. په سوشل مېډيا کې هم ده ته ليواله کسان کله کله د ده نوم د راتلونکي جمهوري رياست د ټاکنو لپاره زمزمه کوي. دوه درې نورو وزيرانو نومونه هم د راتلونکي جمهوري رياست لپاره خوبونه ګوري او کله کله يې نومونه په شوشل مېډيا او محافلو کې اوړي رااوړي.

د پخواني ولسمشر د شاوخوا کسان هم په همدې هيله هلې ځلې کوي چې د حکومت مؤثريت اوحيثت راټيټ شي، ترڅو د ده د حکومت ارمان د افغانستان ولس وکړي. د حکومت په غيبت خوشحاليږي خو ډېر څه په خوله نه وايې  او يوازې غواړي چې خارجيان د افغانستان د ټولو نيمګړتياوو په اړه ملامته کړي، ځکه ده ته يې د دې لاره هواره نه کړه چې لا نور هم په قدرت کې پاتې شي. خپله بېچاره هيڅ ملامتيا نه مني چې ګوندې په تېرو پنځلس کلونو کې د دې ټولو بدبختيو او ناکاميو يو اصلي لوبغاړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حکومت څخه بهر د يوشمېر نورو کسانو نومونه هم مطرح کېږي او د راتلونکي جمهوري رياست لپاره خوبونه ګوري، هغوی هم د تېرو نيمګړتياوو اصلي لوبغاړي و خو نن ځانونه ملامته نه ګڼي او فکر کوي چې د دوی لپاره به زمينه بيا مساعده شي چې د قدرت واګې لاسته راوړي.
له هېواد څخه بهر د بعضې کسانو شوق هم راتلونکي جمهوري رياست لپاره کېږي. د بېلګې په توګه که ډانالډ ترمپ په امريکا کې ناکام شو نو د زلمي خليلزاد شوق هم شته دی او نوم يې په محافلو کې يادېږي. که څوک په کابل کې اوسېږي او له دې مشرانو سره ليدنې او کتنې لري نو دوی پوهېږي چې دا پورته تحليل واقعيت دی او په انکار يې څوک سترګې نه شي پټولی.

دا چې د حکومت دا پورته مشران د راتلونکو ټاکنو په فکر کې دي، نو د حکومت کارونه ځکه له ګډوډۍ سره مخامخ دي او مسلحې تروريستي ډلې همدا حالت له خدايه غواړي. حکومت لومړی بايد امنيت تامين، حکومتداري او اقتصادي حالت ښه کړي ترڅو د راتلونکو ټاکنو لپاره لاره هواره شي. که حکومت دا فکر کوي لکه څنګه چې يې د پارلماني ټاکنو پروسه شاته واچوله نو دوی به د جمهوري رياست د ټاکنو پروسه هم شاته واچوي او په قدرت کې به پاتې وي، نو زما په اند دوی د فيل په غوږ کې ويده دي.

د پورته حالاتو او ګډوډيو په نظر کې نيولو سره د افغانستان راتلونکې، د پنځه اپشنونو او يا له حالاتو سره مخامخ دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د موجوده حالاتو او حکومت دوام دی
۲- د جمهوري رياست لپاره وختي ټاکنې
۳- د لويې جرګې راغوښتل او د افغانستان د حکومت په راتلونکي غور کول
۴- نظامي کودتا
۵- د حکومت او نظام سقوط او داخلي جنګ

په پورته پنځو حالتونو کې د موجوده حکومت او هم ولس ګټه په يوه حالت کې هم نشته. که موږ دا پورته پنځه حالتونه لږ تجزيه او تحليل کړو او د پنځم حالت نه پيل وکړو، نو د حکومت او نظام په سقوط کې د هيچا خير نشته. که نظام او حکومت سقوط کوي، حکومتي غړي، پخواني ولسمشر او په نامه سياسي اپوزيسون ټول له ولس سره يو ځای غرقيږي او د دوی متبادل يوازې مسلح مخالفې ډلې دي او دوی ته هيڅ چانس نشته.

څلورم حالت هيڅ امکان نه لري ترڅو چې خارجي قواوې په افغانستان کې وي د کودتا امکان نشته. که باالفرض کودتا کيږي، نو بيا به دا د خارجيانو په ملاتړ وي. ترکومه حده چې زما پرې سر خلاصيږي، دا حالت نه شي راتلای.

دريم حالت د لويې جرګې د جوړېدو دی. پخواني ولسمشر دې حالت ته ډېر خوشحاليږي. دا حالت هم امکان نه لري ځکه لويه جرګه بايد ولسمشر را وغواړي او زه فکر نه کوم چې اوسنی ولسمشر دې دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. د اساسي قانون په اساس هم د لويې جرگې د جوړېدو امکان نشته او نه نړيواله ټولنه د دې کار حمايت کوي او هر تغيير چې په دې ډول راشي، نظام نور هم بې ثباته کوي. فکر نه کوم چې نړيواله ټولنه هم د لويې جرگې د جوړېدو حمايت وکړي که څه هم د ملي وحدت د حکومت د جوړېدو په تفاهم نامه کې د لويې جرگې د راغوښتو يادونه شوې، خو هغه وخت هم په ارامه تېر شو.

دويم حالت هم امکان نه لري ځکه فکر نه کوم چې موجوده ولسمشر استعفا وکړي ترڅو وختي ټاکنو ته لار هواره شي. که ولسمشر استعفا کوي، نو د جمهور ريي س لومړی مرستيال به د نوو ټاکنو ترپايلې پورې جمهور ريي س وي. دا حالت هم د ملک په دننه او يا بهرنيانو ته د تحمل وړ نه دی او نه په تخنيکي لحاظ وختي ټاکنې امکان لري. په پورته پنځو حالتونو کې يواځنی ښه نسبي حالت د دې حکومت دوام او ښه کېدل دي. دا هم هغه وخت امکان لري چې ولسمشر د راتلونکي دور د ټاکنو له خوبونو څخه تېر شي او يوازې په اوسني حالت د ښه کېدو په فکر کې شي. که اقتصادي، امنيتي او سياسي حالت ښه شو نو هيڅ کمپاين ته د اوس نه حاجت نشته، ځکه دا ولس دومره احسان فراموشه نه دی چې څوک دې ورته خدمت وکړي او هغه هير کړي. که اقتصادي، امنيتي او سياسي حالت لکه څنگه چې تراوسه مخ په خرابيدو دی او همداسې دوام وکړي نو بيا دا ملت دومره ويده هم نه دی چې ده ته او يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د سوري ټیم کوم بل غړي ته رایه ورکړي او یا دوی سم حکومت وکړای شي.

ولسمشر او د ده سوري ټیم ته یوازې همدا اجنډا په کار ده چې څرنګه دا دوه درې کاله خدمت وکړي او د راتلونکي خوبونو له لیدو څخه دې اوس تېر شي. د حکومت تش په نامه سیاسي اپوزیسون غړو ته په کار ده چې د حکومت ملاتړ وکړي، ځکه د حکومت په ثبات کې ټاکنې ممکنه دي او دوی بیا کولای شي چې د راتلونکو ټاکنو لپاره کمپاین وکړي. د حکومت په دوام او د نظام په سیاسي او حقوقي مشروعیت کې د ټولو خیر دی. د ولسمشر لپاره په کار ده چې په خپل ټیم کې جدي تغییر راولي او په ملي اجنډا کار وکړي. ټول باید د خپلو شخصي او مقطعي اجنډاوو څخه تېر شي.

دا پورته لیکنه د پژواک خبرې اژانس لومړی خپره کړه:

goo.gl/IPQvnv

**د امریکا د جمهوري ریاست ټاکنې:**

۸ د نومبر ۲۰۱۶م، امریکا ویرجینیا ایالت

د امریکا په مختلفو ایالتونو او ښارونو کې د جمهوري ریاست، سنا، د کانګریس د نمایندګانو د جرګې، محلي ښاروالیو او نمایندګانو څو قسمه ټاکنې نن روانې دي او د ټاکنو مسوولیت د محلي حکومت دنده ده او هر ایالت د ټاکنو ځانګړي قوانین او سیستم لري نو په دی توګه د ټاکنو پایله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوال لاندې نه راځي او نه څوک د چا ادعا چې ثبوت ونه لري، منل کېږي. دا خبره چې دونالد ټرمپ به پایلې ونه مني او گل مرجانې حکومت به جوړ شي، هوايي خبرې دي. دې کې شک نشته چې د نظريات توپير او کرکه د يوبل نه زياته ده خو د دوی سيتم ريښي لا ډېرې کلکې دي.

همدا شان د امريکا د ټاکنو په ورځ دا پوست وکړ چې د افغانانو هم د دې ټاکنو عبرت واخلي:




موږ بايد همېشه د خپلې ټولنې مثبت اړخونه تقويه کړو او د نورو د مثبت کارونو نه بايد زده کړه وکړو. خو دا چې د تېرو څلورو لسيزو ستونزو زموږ په ذهنونو منفي تاثير کړې نو هر څه ته موږ د منفي اړخه گورو. زما په اند موږ بايد د مثبت فکر کولو روحيه تقويه کړو او منفي انديښنې شاته وغورځوو. دی عکس ته چې گوري ډېره مهمه خبره پکې دا ده چې هغه کسانو چې نن په امريکا کې وټ ورکاوه هغوی ته يې هغه ستېکر يا نښان چې ما وټ ورکړ، ورکاوه، خو که د وټ اچونکو سره واړه ماشومانوته يې دا بل ډول ستکر ورکاوه چې پرې ليکل شوي و چې راتلونکې وټ ورکونکی. دوی دا کار د دې لپاره کوي چې له يوه اړخه ماشوم مايوسه نه شي چې والدينو ته يې نښان ورکوي او دوی ته يې نه ورکوي خو له بله اړخه دوی ماشومانو ته د وټ ورکولو د حق تربيه هم په دی توگه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتيا به وايو چې ايا موږ هم خپلو ماشومانو ته دا قسم تربيه ورکوو او که په عوض يې خشونت ته تشويقوو؟

د ټاکنو وړاندې دونالد ټرمپ په مناظره کې ويلي و که دی منتخب نه شي نو ټاکني به ونه مني او د دې خبرې تبصرې په افغانستان کې دا اوازي خپري کړې وي چې شايد د افغانستان په شان به د ملي وحدت حکومت جوړشي. په دی خاطر ما د پورته ليکنه وليکله. دا وړاندوينه په خپل ځآی سمه وه ځکه د مبصرينو او وړاندويونو په خلاف ډانالد ټرمپ ټاکني وګټلي او د هغه رقيبې ميرمن هيلري کلنټن ټاکني وبايلودي خو دې د ټاکنو پايلي بې له کوم قيد او شرطه ومنلې او د ټاکنو خپل رقيب ته يې مبارکي ورکړه که څه هم د ټاکنو په وخت کې د دواړو رقيبانو ترمنځ ډېري ترخي خبرې سره تبادله شوي وي.

## د بريالي نوماند کاري برياليتوب او ناکامي د ټاکنو وروسته معلومېږي:

۹ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

ټاکنې ګټل اسانه دي ځکه کله نوماند د خپلو خلکو د احساساتو نبض پيدا کړي نو بيا د هغوی د احساساتو نه په استقاده سره ټاکني ګټي خو د بريالي کانديد کار هغه وخت سخت کېږي چې په ټاکنو کې يې ډېري هوايي وعدي خپلو خلکو ته ورکړي وي او بيا هغه تر سره کولای نه شي.

د امريکا د منتخب نوي جمهور رئيس کار اوس سخت شو چې څنګه خپلې وعدې پوره کړي که څه هم د کانګرس د دواړو جرګو اکثريت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د ګوند سره دی. د ده اصلي کاميابي او ناکامي به د ده د کاري ټيم د جوړېدو او کار کولو نه وروسته پته لګيږي.

**وايي نا راستي د کور نيستي ده:**

۱۱ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

څومره ښه متل لرو:

وايي نا راستي د کور نيستي ده.

که رښتيا ووايو موږ افغانان تنبله او مفت خوره اموخته شوي يو نو ځکه زموږ چاري نه سمېږي. موږ په خپلوځانونو اعتماد نه لرو کنه موږ د دنيا د نورو ملکونو نه هيڅ بدتري نه لرو. کله چې تنبلي په انسان اغېز وکړي نو بيا ورته پچه هم پيچومی ښکاري او سپينې دانسان بيا تښتيدلې وي، نوپه دې توګه تنبلي يوهېواد او هم کورنۍ نيستمنه کوي.

**د پورته پوست په اړوند عزيز بابکرخيل صاحب دا لاندې بيتونه د حمزه شينواري ليکلي و:**

د هستۍ په لويه لاره ځي وختونه نه ودرېږي
لارويه(ای افغانه) څه ته ناست يې ستاو چا ته انتظار دی
نه فرهاد شوی په عمل کې نه منصور شوی په مانا کې
تا يو ګټ مات کړې نه دی وايې عمر مې په دار شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احساساتي برخوردونه:**

۱۲ جنوري ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

نن سبا د افغانستان سیاسیون په لږ څه خوشاله او په لږ څه خفه وي یا په بله معنی دوی لکه د ماشومانو په شان دي چې په یوه لحظه کې په ژړا شي خو په بله لخطه کې بیا خوشاله وي. زما په اند د څو کسو په خوشالولو او خفګان باندې امنیت او حکومتولي ښه کیدې نه شي او که کېدای شولې نو په تېرو پنځلس کلونو کې دا لوبغاړي په بیلونونو ډالرو خوشاله نه شول، نو فکر نه کوم چې په راتلونکې کې هم دوی خوشاله وساتل شي. د افغانستان ولس امنیت او ښه حکومتولې غواړي تر څو د ولس بشري او فزیکي امنیت تامین شي.

د حکومت لپاره په کار ده چې ولس په خپل اعتماد کې ونیسي نه دا څو کسه لوبغاړي چې هیڅ نه مرېږي. حکومت باید د مسایلو سره عاطفي او احساساتي برخورد ونکړي ځکه احساساتي برخوردونه همېشه مقطعي او پراګنده وي او اصلي هدف ته څوک نه شي رسولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بعضې ملکونو د خلکو او مشرانو نه دا مرغان هم هوښيار دي:**

۱۲ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا





نن ښايسته هوا په ويرجينيا کې وه او تقريباً اته کلومتره مزل مې وکړ.
په هوا کې مرغان هم تېريدل نو زوی مې راته وويل چې پوهېږئ دا مرغان ولې د V يا زموږ په اصطلاح د اتو ۸ په شکل الوتنه کوي؟ ما ورته وويل چې نه؟ ده راته وويل چې نوی تحقيق شوی دی چې د دې لپاره مرغان اوږده لار ووهي او د يوې سيمې نه بلې سيمې ته مهاجرت وکړي، نو دوی د V په شکل الوتنه کوي ترڅو انرژي سپما کړي. د مخکښې مرغانو د وزونو د څپوهوا په وروستي مرغانو تاثير کوي او کمه انرژي مصرف کوي. کله چې سرکښې مرغه ستړی شي، نو ځای نورو مرغانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پريږدي او وروستي مرغان په خپله په منظمه توگه مخکې کېږي او يو بل ته ځآی پريږدي او په دی توگه په الوتنه کې د يو بل سره مرسته کوي.

ما ويل چې دا مرغان خو زموږ د خلکو او مشرانو نه ډېر زيات هوښيار دي ځکه هغوی خو يو بل ته ځای نه پريږدي بلکې يو بل په خپلو موقفونو او گټو وژني او چې قدرت ونيسي نو بيا خو فکر کوي که دا مخکښ نه وی نو وطن غرقيږي. دوی ترڅو په خپلو څوکيو او موقفونوسر نه وی ورکړې او يا په زوره لرې شوي نه وي ترهغې د خپلو موقفونو او گټو نه تېريږي. که د افغانستان مشران او خلک د دنيا د نورو ملکونو د مشرانو په توگه د قدرت د پرېښودلو نه عبرت نه شي اخيستلي، نو لږ تر لږه خو دی د دې مرغانو نه وشرميږي.

**وزير صاحبانو د وزارتونو بودجه شايد د ښې بدې ورځې لپاره ساتلې وي د حکومت لپاره هم يو سپيناوی په کار دی:**

١٢ نومبر ٢٠١۶م کال، ويرجينيا، امريکا

دا چې پارلمان نن د بهرينو چارو، د فوايد عامي او د معلولينو، شهداو، کار او اجتماعي امورو د وزارتونو وزيران د بودجه د کمې سلنې د مصرف لپاره سلب اعتماد کړل نو زما يوه قصه راپه ياد شوله:

وايي.يو سړي په کور کې کفن ساتلی و، يو وخت يې پلار مړ شوي و خو ده بازار ته منډې وهلې چې د خپل پلار لپاره کفن راوړي. يو دوست يې ورته ويلي چې بازار ته ولې منډې وهې کفن خو په کور کې لرې، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سان (سان ټوټه چې د کفن لپاره استعماليږي) نه ولې خپل پلار ته کفن نه ورکوي؟ دې سړي ورته ويلي و چې هغه کفن مې ښي بدې ورځې لپاره ساتلی دی.

فکر کوم وزير صاحبانو د وزاتونو بودجه به ځکه نه وي مصرف کړې شايد دا بودجه به يې د کومې ښې بدې ورځې لپاره ساتلې وي.

د دې خبرې سپيناوی هم په کار دی چې وزيران ملامتيا د تدارکاتو کمېسيون په مرکزي کېدو اچوي او د تدارکاتو کمېسيون دا ملامتيا په وزارتو اچوي نو ښه به دا وي چې دوی په خپلو منځو کې سپيناوي وکړي. په هر حالت کې دا مهمه ده چې بودجه بايد مصرف شي تر څو اقتصادي انکشاف رامنځته او هم افغانانو ته کار پيدا شي.

**خدايه! دا زموږ وزيران، معينان، واليان، وکيلان، قاضيان او مشران ولې دومره سپک شول؟** ١٣ نومبر ٢٠١٦م کال، ويرجينيا، کابل

پخوا به د کاتب صاحب، ضابط صاحب، حوالدارصاحب، مامور صاحب، محرر صاحب، مبصر صاحب، معلم صاحب، کمپوډر صاحب او وکيل صاحب نومونه د خلکو په منځکې په ډېر درنښت سره اخيستل کېدل. حکومت به هم يو رعب او دبدبه درلوده او ديو کوټوالي ځواب به ټول کلي نه شو ويلې. اما اوس د خلکو په منځ کې د وزيرانو، معينانو، واليانو او قاضيانو نومونه دومره په سپکه سره اخيستل کېږي چې هيڅ حد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري. د صاحب لفظ خو د دوی د نومونو اخیستلو سره بیخي له منځه تللی دی.

زما پلار دی خدای وبخښي یو وخت معلم او هم مدیر و او زه هم یو وخت معین وم، خو باور وکړئ چې دهغه نوم په کلي او کور کې اوهم د دوستانو په منځ کې اوس هم زما د معینت په پرتله په درنه توګه اخیستل کېږي.

حال دا چې په دولت کې کارکول جرم نه دی بلکې خدمت او ثواب دی په دې شرط چې په صداقت سره ښوک خدمت وکړای شي. فکر کوم چې پخوا به صداقت، اخلاص او تعهد د خپلو خلکو او وطن په وړاندې زیات و نو ځکه د هغوی نومونه په درنښت سره اخیستل کېدل.

خدایه ته دا پخوانۍ روحیه زموږ په دولتي مامورینو کې بیا راژوندۍ کړې چې په صداقت سره خپلو خلکو او وطن ته خدمت وکړي ترڅو د دوی د نومونو یادونه بیا په درنښت سره د افغانستان د خلکو په منځ کې رواج شي. د دولتي مامورینو درنښت د وطن درنښت دی او د دوی سپکاوې د وطن سپکاوې دی. تر څو چې دوی سپک وي دا وطن به هم سپک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په واشنګټن کې د افغانستان د سفیر ډاکتر صاحب حمدالله محب سره کتنه**

۱۳ د نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا



تېره اونۍ مې (۸ نومبر) په واشنګټن کې د افغانستان سفیر ډاکتر صاحب حمدالله محب سره وکتل. د افغانستان د روابطو په اړوند مو د امریکا سره د نوو ټاکنو د تاثیراتو په اړه

خبرې اترې وکړې. سفیر صاحب محب هلې ځلې د ستایلو وړ دي چې افغانانو ته یې د سفارت دروازه پر مخ پرانستې او د دوی سره د وطن په ګټه سلامشورې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده په قول شريکې همکارۍ ته په ټولو ساحو کې اړتيا ده ترڅو د افغانستان جنګي تصور ته تغيير ورکړای شي. په دې اړه سفير صاحب محب په امريکا کې د تعليمي، دولتي او غيردولتي ادارو سره تماسونه نيولي او هلته يې لکچرونه ورکړي دي. حتی په امريکا کې د ښوونځيو زده کوونکي اوس د افغانستان د ښکلي سفارت نه ليدنه او کتنه کوي او د دوی تصور د پخوا په پرتله يو څه بدل شوی دی، خو لا اوس هم ډېر کار ته اړتيا ده. ډاکټر صاحب محب او د ده همکارانو ته د الله د درباره توفيق غواړم چې نور هم خپلو خلکو او افغانستان لپاره د خدمت مصدر وګرځي.

**پارلمان په دوه ورځو کې پنځه وزيران سلب اعتماد کړل:**

۱۴ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

که خفه نه شو د اکثره افغانانومحبت او کرکه دواړه په احساساتو ولاړه ده. کاشکې چې داحساساتو سره لږ عقل هم يوځای وی نو بيا به پريکړو يې ښه پايله درلودای. د الفت صاحب خبره عقل او احساس سره لازم او ملزوم دي. بې احساسه عقل هم په درد نه خوري او بی عقله احساس هم د ولس دوا کېږي نه.

د وزيرانو Knock out يا چپه کېدو ته خو خوشالېږي، که په ځای يې د دوی نه بدتر راشي بيا به څه کوي او يا که دوی د سپنتا (پخواني د بهرنيو چارو وزير) غوندې سرپرسته پاتې وي نو بيا به خو خبره نوره هم خرابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او د حکومت اعتبار به نور هم خراب شي. زما په اند په دې شرايطو کې چې څومره د حکومت اعتبار راټيټيږي، د افغانستان په ګټه نه ده.

**په حکومت کې د ټولو نه ستونزمنې دندې کومې دي؟**

۱۴ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

په هرحالت کې د يو ملک د ويندويانو او سفيرانو دندې ستونزمنې دي چې په هېواد کې دننه او بهر د دولت د کارونو او پاليسيو نه دفاع وکړي. زما په اند په اوسني حالاتو کې د دولت د ويندويانو او سفيرانو دندي تر ټولو نورو دندو ډېرې ستونزمنې دي چې د حکومت استازيتوب يا تمثيل وکړاي شي ځکه د پاليسيو سردرګومي ده او همېشه د ملک د داخل نه بد او جنجالي خبرونه زمزمه کېږي او دوی نه شي کولای چې د خپلو خبرو او يا د دولت د کارونو نه سمه دفاع وکړي شي. که دفاع هم کوي نو خپل زړونو کې ناارامه وي چې د دومره دروغو تمثيل ترکله.

زه حيران دی ته يم چې يو شمېر هوښياران ولې اوس خپلې مهمې دندې د سفارتونو او ويندويانو پوستونه ته پرېږدي؟ زما خو پری سر خلاص نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکل د څه لپاره؟

۱۶ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

لیکل هم موډ ته اړتیا لري او انسان کله د شطرنج د لوبې په شان زیچ او ګیچ شي چې څه ولیکي، د چا لپاره یې ولیکي، ولې یې ولیکي، ایا د لیکلو نه به د لوستونکو انتباه څه وي؟ ایا لیکل به په چا څه مثبت تاثیر ولري او کنه؟ په دی تصور کې ایا د هرې لیکنې نه به یو کس هم ګټه واخلي او کنه؟ ایا لیکل هسي د لیکلو لپاره به وي ترڅو خپل لیکل سړی پاخه کړي او یا د لیکلو بحثونه به یوازې د بحث لپاره وي او که هدف هم ترې متصور دی؟

زما په اند په هر حالت کې لیکل ښه دي ترڅوخپلې تجربې، نظریات او د ستونزو لپاره د حل لاري چارې شریکې کړو. که چا ترې ګټه وانخستله خپله د لیکلو لیک دود خو به پرې پوخ شي چې دا هم یوه لویه ګټه ده په دی شرط چې د لیکلو او قلم عقت وساتل شي. که څوک د چا د نظریاتو او یا اعمالو سره مخالف او موافق هم نه وي، نیوکي همېشه باید د قلم او لیکلو د عفت په چوکات کې وي ځکه په زشته او ترخه لهجه او بدو خبرو اصلاحات نه شي راتلای بلکې تضادونه او د ټولنې د غړو ترمنځ کرکه، نفرت او نفاق لا زیاتوي. که څوک د دې خبرې سره موافق نه وي نو بیا باید د ځان نه پوښتنه وکړې چې د نیوکو نه یې هدف څه دی؟ ایا هدف د اصلاحاتو، ثبات او د ورورګلوي فضا جوړول دي او که غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ ټولنه نوره هم سره بی ثباته، تيته او پراګنده شي او زموږ ولس لا نور هم په فقر او ذليل حالت کې ژوند وکړي.

که هدف مو اصلاحات، د وطن آبادي او د ولس سوکاله ژوند وي نو بايد موږ نيوکې په نرمه او ارامه لهجه وکړو، د ليکلو او قلم عفت بايد وساتو، احساسات بايد کنټرول کړو او د تحمل او برده بارۍ روحيه بايد په ځانونو کې تقويه کړو.

**د ننګرهار پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د مشرتابه نه د نعمان دوست صاحب د ليکنې او پرځای د ګيلې په اړه نعمان دوست صاحب يې د ماستري پروګرام ته نه و نيولی نو ليکلي يې و:**

۱۷ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

يو وخت زه په پېښور کې د بلجيم د کميټې مرستيال وم، د کمپونو د کمشنرۍ د مکاتبومعلمينو لپاره مو د پيداګوژي اصولو تدريس او يو څه د زده کړو د لوړوالي ځلورمياشتنی پروګرامونه درلودل. په اوله دوره کې چې د افغان کمشنرۍ د تعليم او تربيه بخش موږ ته ځلويښت استادان د کمپونو د مکاتبو نه معرفي کړل، نيمايې يې مطلق بيسواده و، ليکل او لوستل نه شو کولی خو دوی د کمشنرۍ په مکاتبو کې معلمين و. زموږ څلور مياشتني کورسونه چې بايد دوی ډېر څه د تدريس د اصولو په اړه زده کړي وې، د اکابروو په کورس بدل شو ځکه دا معلمين د کمشنرۍ له خوا په پيسو او واسطه مقرر شوي و او دوی په خپلو مکاتبو کې د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو استادان نه منل ځکه د کمپ هر مکتب د یو راشني ملک په کنټرول کې و چې د افغان کمشنري سره یې مستقیمي اړیکي درلودي.

دی تش په نامه استادانو ته ما وویل چې ستاسې جفا او ظلم د افغان ماشومانو سره د هغه قوماندانانو په پرتله چې سلاوي خرڅوي او ظلم کوي څو چنده زیاته ده ځکه تاسي د افغانانو یو نسل بیسواده تربیه کوي.

افغانستان ډېري ستونزې لري خو موږ د پېښور او هم د نورو هېوادونو نه ډېر بد شیان افغانستان ته راانتقال کړي دي. یو له دي بدو شیانو نه د افغنستان تعلیمي نظام دي چې ډېري کسان لسانس او ماستري لري خو نه لیکل کولی شي او نه د دوه خرو اوربشي بیلولای شي.

**مرغان هم د ښي هوا نه خوند اخلي:**

۱۷ نومبر ۲۰۱۶م کال، اشبرن، ویرجینیا، امریکا





(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې مزل کاوه چې دی قازانو او ایلیو هم د ښه موسوم نه خوند اخیست او هیڅ ویره ورسره نه وه چې انسان به دوی ته ضرر ورسوي، خو په افغانستان کې د بعضې انسانانو نه انسانان ویریږي او لکه د درنده ځناورو نه چې څوک ځان ساتي هماغسي باید تری ځان وساتی.

**افغانانو ته کاذب غرور او درواغجن تاریخ پاتې دی:**

۱۷ نومبر ۲۰۱۶ م کال، ویرجینیا، امریکا

ډیر افغانان چې پوه کسان هم وي وایي چې افغانستان او جاپان په یوه ورځ ازادي اخیستې ده نو ولې د افغانستان او جاپان ترمنځ دومره زیات توپیر د ترقۍ په لحاظ موجود دې؟

ترکومه حده چې ما کتابونه لوستلي دي او یا معلومات لرم، جاپان هیڅکله اشغال شوی نه دی او د زرگونو کلونو راهیسې ازاد هېواد دې. په اوله جهاني جگړه کې جاپان جرمني ته په Qingdao ټاپو کې چې د چین نه یې په اجاره اخیستی و، ماتي ورکړه. کله چې په لومړي جهاني جگړه کې یې روسیې ته هم ماتي ورکړه، نو د غربیانو لپاره دا د تعجب خبره وه چې څنگه یو شرقي هېواد وکړای شول چې روسیه ته ماتې ورکړي؟ بالاخره جاپان په ۱۹۱۹ م کال کې د لیگ اف د نیشن ( The League of the Nation)غړیتوب یې په خپل قوت سره تر لاسه کړ. تر دویمي جهاني جگړي پورې جاپان دومره پرمخ تللي بحري او هوایي ځواک درلوده چې د پرل هاربر(Pearl Harbor) په حمله کې یې د امریکا یي قواو ۱۲ جنگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



كشتي گاني او تقريباً درې سوه الوتكې له منځه يوړې او دا حمله د امريكا لپاره يوه ډېره ترخه پېښه وه چې د دې پېښې نه وروسته امريكا د جاپان په مقابل كې جنگ اعلان كړ او د لومړي ځل لپاره امريكايانو په جاپان باندې اتومي سلا استعمال كړه او د همدې حملې له امله جهاني جگړه كې جاپان او جرمني شكست وخوړ.

د دويمې جهاني جگړې نه وروسته د جاپان اساسي قانون د امريكايانو د نفوذ لاندې وليكل شو او جاپان د تهاجمي سلاو د جوړولو نه لاس واخيست او امريكا د جاپان د امنيت ذمه وارې په غاړه واخيستله او تقريباً اوس هم د شپيتو زور په شاوخواكې امريكايي عسكر په جاپان كې د امريكا سره د يوې معاهدې له مخې پراته دي چې د جاپان لپاره دا ډول امنيت ساتل د امريكا له خوا ارزانه تماميږي او په عوض يې جاپان خپل داخلي انكشاف او ترقي ته توجه وكړه او بالاخره جاپان د نړۍ دويم متمول ترين هېواد شو اما اوس د چين او امريكي نه وروسته د نړۍ درېيمه درجه سرمايه داره هېواد دې.

زه پوه نه شوم چې دا دروغجن تاريخ زموږ غوږونو ته څنگه رارسيدلی دی چې افغانستان او جاپان په يوه ورځ ازادی اخيستې ده. په ۱۹۱۹م كال كې چې افغانستان د انگلستان نه ازادي اخيستله، افغانان په خېټه هم ماړه نه و او يوازې چقمک او دنباله پور يو څو ټوپكي يې درلودې. بل دا چې موږ ته همېشه دا ويل شوي دي چې افغانستان هيڅكله چا نه دی نيولی حال دا چې بابر، سلطان محمود غزنوي او نادر افشار خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان نه و چې د هند پورې يې په دې ټولو سيمو په کلونو کلونو پادشاهي کوله. نه پوهېږم چې دا خبره هم چې افغانستان هيڅکله چا نه دی نيولي د کومه ځای نشئت کړې دی ځکه دا ډول کاذب تاريخ موږ ته کاذب غرور راکړې دی.

کيدی شي دوستانو ته د ما نه ښه معلومات وي او په دی دواړو موضوګانو په اړه که رڼا واچوي ښه به وي چې تر څو زموږ ذهنونه روښانه شي.

پورته ليکنې په فيسبوک کې يو ښه او مستدل بحث رامنځته کړ ترڅو موږ خپلو ستونزو ته متوجه شو. ما فکر کاوه چې بعضې دوستان به احساساتي توګه نيوکې وکړي خو خبره دا سی نه وه او د دوستانو نظرونه مثبت و.

**دنيا په امېد خوړل کېږي خو کله د انسان ارمانونه د خاورو سره خاوري شي:**

۱۹ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

د دنيا ژوند په اميد خوړل کېږي خو بعضې وخت د انسان اميدونه د خاورو سره خاوري شي. نن مې څه عکسونه لټول چې د استاد نقيب احمد خپلواک د عکس سره مخامخ شوم. د جنورۍ په مياشت کې د موږ سره و خو نن نشته دی الله تعالی دی وبخښي. د ده او د دې د کورنۍ ارمانونه د خاورو سره خاوري شول. په دې عکس کې په دويم قطار کې د ښي خوانه دريېم کس دی. په واشنګټن کې د متحده ايالاتو د سولې انستيوت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسيا د برخي د همکارانو او د دغه انيستيوت د عمومي مشري سره يو ځای دا عکس اخيستل شويدی.

**شرع ظاهر مني:**

۱۹ نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

ډېر شيان حقيقت وي خو که په شرع يعنې ظاهر برابر نه وی نوهغه څوک نه مني ځکه شرع په ظاهر قضاوت کوي. د تصوف پيروان وايي چې شرع يا ظاهر لکه د وجود د پوستکي په شان دی چې د وجود د داخلي سيتستم د جوړښت اجزا اوغړي لکه رګونه، وينه، غوښه، هډوکي، پلې او ماغزه يې خوندي ساتلي دي. که د پوستکي يا ظاهر خيال ونه ساتل شي نو د وجود داخلي اعضاوې وراسته کېږي، بوی کوي او له منځه ځي. د انسانانو په زړونو هم څوک نه پوهېږي خو موږ همېشه د انسانانو په ظاهري عمل، خبرو، حرکاتو او قيافه باندې قضاوت کوو. قاضي هم په ظاهري شواهدو او استنباط قضاوت کوي. د بلګي په توګه که دوه ملګري په يوه کوټه يا خونه کې وي، يو وغواړي چې خپل ځآن ووژني خو دا بل ملګری يې نه پريږدي چې ځان ووژني، اما د ملګري د کوښښ سره سره دا ملګری يې په دی وتوانيږي چې ځان په خپله مړ کړي، نو کله چې د مقتول ملګری د خونې نه راوځي اوخلک يې وګوري چې د ده ملګري په کوټه کې مړ پروت دی، که دا ملګري يې هر څومره استدلال وکړي چې ده  خپل ملګری نه دی وژلی، اما څوک ورسره دا نه مني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شخص د خپل ملګري قاتل ګڼل کېږي ولو که ده د خپل ملګری په وژنه کې هيڅ لاس نه درلوده، ځکه شرع ظاهر مني. داسې شواهدو ته په قضايي اصطلاح کې قرينه قاطعه وايي.

په سياسي مسايلو کې هم څوک د يو مشر په زړه نه پوهېږي او نه څوک د يو مشر په سياسي پوهه قضاوت کولی شي، خو خلک د يو مشر په ظاهری اجراء تو، ټيم او د پاليسيو د تطبيق په اغېز باندې قضاوت کوي. که د يو مشر نيت هر څومره ښه وي، اما ونه شي کړی چې ښه ټيم جوړ کړي، خپلې پاليسۍ عملي کړي، او ولس په خپلو کارونو قانع کړي نو نيت او يوازې پوهه چندان ګټه نه لري او دا مشر د ولس په زړونو کې ځای نه شي نيولی.

سياست پوه او سياستمدار او همدا شان اقتصاد پوه او تجار هم سره توپير لري. يو کس به د پوهنتون د اقتصاد ښه پروفيسر وي خو ښه تجار کيدې نه شي که داسې وی نو د اقتصاد ټول استادان به ميلونران وي. خلک په ظاهر کې د تجار تجارت او پيسو ته ګوري نه د يو استاد باطني پوهې ته ځکه هغه څه چې استاد پرې پوهېږي او تدريس کوي هغه په خپله عملي کولی نه شي. همدا شان يو څوک به د سياسي علومو ښه استاد وی خو ښه سياستمدار او مدير به نه وي کنه د سياسي علومو ټول استادان به جمهور رئيسان وي. که يو شخص ښه سياست پوه او هم ښه سياستمدار او مدير وي نو دې ته نورعلی نور وايي. افغانستان کې نورعلي نور ته اړتيا ده او که دا نه وی نوښه سياستمدار او ښه مدير بايد هرو مرو وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د دې ستونزو نه وکاږی، خومتاسفانه افغانستان لا په دی برخه کې چندان طالع نه لري. نور بیا

**فکري انکشاف او فکري رغونه:**

**د پروت مزری نه گرځنده گیدړ ښه دی**

۲۰ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

فکري انکشاف یوازې د کتابونو په لوستلو او حفظ کولو نه شي راتلای. ترڅو چې انسان تر خپله وسه په خپلو سیمو، هېواد کې او د هېواد نه بهر سفرونه ونه کړي، ښه او بد ونه گوري او بیا د خپل ژوند د خوږو او ترخو تجربو نه د خپل ژوند لپاره او هم د ټولنې لپاره ترې گټه وانخلي، په انسان کې فکري تغییر نه شي راتلای. د فکري انکشاف نه پغیر اقتصادي انکشاف، سوله او ثبات او د خلکو سوکالي په یو هېواد کې امکان نه لري ځکه چې د فکري انکشاف او فکري رغونې نه پرته د یو هېواد اوسیدونکي د خپل ملک د بشري او طبیعي منابعو نه مثمره او مؤثره گټه نه شي اخیستلای او همېشه به نورو ته محتاج وي. موږ په پښتو ژبه کې ډېر ښه متل لرو چې وایي د پروت زمري نه گرځنده گیدړ ښه دی.

همدا شان یو شاعر وایې چې:

په خالي ویلو نه سرې کېږي    څو سیاح د هر بلا نه شي سرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اول ځان جوړ کړئ بیا خپل کور، کلي او وطن جوړ کړئ:**

۲۱ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

کله چې په الوتکه کې کینې نو د الوتکې عمله درته د اظطراري حالت په اړوند معلومات درکوي او وايي کله چې اکسیجن کم شي نو په اتوماته توگه د اکسیجن د تنفس کولو کڅوړې راغورځیږي او هغه باید خپلې پوزې ته واچوي. مهمه خبره دا کوي چې لومړی باید د اکسیجن کڅوړه خپلې پوزې ته واچوې او د هغه نه وروسته که کوم ماشوم درسره نږدې وي او یا د بل چا سره چې غواړي مرسته وکړي نو مرسته ورسره وکړه. دا خبره ځکه مهمه ده که انسان په خپله سم تنفس ونه شي کړې نو د بل کس سره مرسته نه شي کولی. د اولیه کمکونوپه ټریننگ هم دا خبره مهمه ده چې اول باید ماحول د ځان لپاره مصؤن کړه بیا د نورو سره مرسته وکړه.

که موږ نه شو کولاې چې خپل ځان په علمي، اقتصادي، اجتماعي او کلتوري لحاظ باندې ورسوو او خپل ځانونه په خپله اصلاح کړو نو دا هیڅکله ممکنه نه ده چې د بل چا سره مرسته وکړې شو. که موږ همېشه مریض او ناجوړه اوسو نو په هیڅوک صورت کې نه د ځان لپاره، نه د خپل کور او کلي لپاره او نه د خپل وطن لپاره په درد لږیږو په عوض به یې موږ په خپلې کورنۍ، ولس او ملک باندې بار اوسو. نړي خو لا پریږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دنیاوال زموږ د اکتشافونو نه ګټه واخلي لکه څنګه چې موږ د دنیاوالو د انکشافونو نه د ستني د جوړولو پورې ګټه اخلو.

**موږ باید په خپلو لیکنو کې مرچکي کم کړو:**

۲۱ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

په کابل کې په جومات کې د نن ورځې د وحشیانه حملې د تصویرونو په لیدو (د شیعه ګانو د امام باقر په جومات کې ۳۰ کسه ملکي کسان شهیدان او ۳۵ نور زخمیان شوي و) او د ځینې کسانو په فیسبوک کې د طالب په نوم د ملا د مخالفت او یاد ملا او طالب د ملاتړ په الفاظو مې خوا ډېره بده شوه ځکه دا افراط او تفریط نه د افغانستان خلکو ته ګټه رسوي او نه اسلام ته.

د یو ملک د فهمیده او پوه کسانو وزن دنن ورځې د فیسبوک د لیکنو د معیار نه معلومېږي چې څومره زموږ پښې د ګمراهي په چقلو او پلندیو کې ډوبې دي او همدا علت دی چې زموږ پښې ورځ تر بلې په پلندیو کې ښخېږي او موږ د ټولې دنیا نه په معنوي او مادي لحاظ وروسته پاتې کیږو.

کوم څوک چې د کوم نوم صفتونه نه لري هغوی بیا د هغه ډلو پورې تړلي نه دي. که یو عالم ښه وي او عمل یې هم ښه نو د قدر وړ دی او که عمل یې ښه نه وی نو داسې دی لکه چې په خره کتابونه بار کړی. دا زما خبره نه ده دادیني خبره ده. همدا شان دا سې ګناهونه دي چې انسان ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیا او اخرت کې په شخصي لحاظ تاوان رسوي او بل داسې گناهونه دي چې نورو ته تاوان رسوي. زموږ د دې بعضې لیکنو تاوان او گټه نورو ته رسېږي. هغه چې توهین د دین او علما کوي هم بد کار دی او څوک چې په دغه خرابو الفاظو په اظهارولو حمایت کوي هم ښه کار نه دی.

په همدی خاطر مې نن د فیسبوک ځیني دوستانو ته په یوه مغازه کې دا د مرچو عکسونه دتحفه لپاره واخیستل که دوی د ترخو خبرو د لیکلو شوق لري نو د دې مرچکو نه باید لږ وشرمیږي ځکه بیا د مرچو او

د دوی د لیکنو تر منځ به څه فرق نه وي ځکه دا مرچکي هم د خلکو زړه بدولې شي او د دوی لیکنې هم. ښه به دا وي چې موږ په خپلو لیکنو کې مرچکي لږ کم کړو ځکه مرچکي هم خلک په خپله اندازه استعمالوی.

**هسې یوه چوټ اندازه پوښتنه:**

۲۵ نومبر ۲۰۱۶م کال، ویرجینیا، امریکا

ایا شاعران په عمومي توگه په ښارونو کې زیات دي که په اطرافونو، کلو او بانډو کې؟

**د پورته سروی په اړه د دوستانو دنظرونو په اړه تبصره**

د پورته سروې په بنیاد، شاعران عموما په کلو، بانډو او اطرافونو کې زیات دي او زیاتره دوستانوویلي وچې په اطرافونو کې بیکاري زیاته ده، د وخت کمبود نشته، د سوچ او فکر لپاره زمینه او ماحول مساعد دې، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شاعران په عمومي توګه د خپل محيط د ناخوالو او ژوند نه ستومانه دي نو ځکه په اطرافونو کې شاعران زيات دي. دا چې شعر هم الهامي دی او هم کسبي نو په اطرافونو کې الهامي شاعران اما په ښارونو کې کسبي او درباري شاعران ډېردي. رحمان مومند صاحب د سهيل تندر د شعر دا لاندې بېلګه وړاندې کړې وه:

نه مې خوښه نه مې خيال نه مې کوشش وو
ما دا وخت څپېړه وخوړه شاعر شوم
روښان خادم صاحب ليکلي و:

ما د دې ټولو دوستانو نظرونه په دې باب ولوستل، عجيبه راته ښکاره شوه او هغه دا چې ډېرو کسانو ليکلي و چې په کليو کښې شاعران ډېردی ځکه هغوی کار نه لری او ورته وزګار دی. د دې کسانو په فکر شاعري بيکاري او شاعر هم يو وزګار شخص دی. که د شاعر او شعر په باب ذهنيت داسې وي زموږ ټولنه او تعليميافته ګان ډېرو زده کړې ته ضرورت لري تر څو شاعر او شعر وپېژني. د مجيد قرار په قول شاعران په کليو کې او متشاعران په ښارونو کې زيات دي. همدا شان امان هوسا صاحب په نظرشعر ديوې خوا په ښکلا زېږونه کی راځي؛ چی ښکلا پېژندنه هغه وخت پيليږي چی دانسان لومړنۍ اړتياوي پوره وي لکه خواړه،اوبه،خوب،سکس او نور.خو په دوهمه مرحله کی شعر هغه احساسات دي چی انسان دځان او يا ټولنی اړتياوي يا هم ظلمونه په نثر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکی په نظم ليکي؛ داسی بريښي چی ساده شعر ليکونکي په کليو کې او ژور فکره شاعران په ښارنو کې ډېر وي.

**زما نچوړ د دې سروی نه:**

د اوسنې نړۍ د ټولو يو شمېر مهمو استانتياو لکه انټر نيت، راډيو، ټلوېزيون، د مطالعي او کار لپاره د کاري زمينې درلودلو ترڅنګ د افغانستان بانډو، کلو، او ښارونو ترمنځ په فکري او انکشافي توګه اوس هم ډېر زيات توپير واټن موجود دې او څومره چې دا واټن په يوه هېواد کې زيات وي، په هماغه کچه په هغه ملک کې بې ثباتي هم زياته وي ځکه د کلو او بانډو خلک د حکومت د راچپه کېدو کوښښ کوي او د ښارونو اداره غواړي چې په کلو او بانډو باندې خپل تسلط ټينګ کړي. د تېرو څلورو لسيزو د جنګونو يو مهم عوامل د ښارونو او اطرافونو ترمنځ په فکري، اقتصادي او ټولنيز لحاظ زيات واټن دی. د دې ستونزې د حلولو لپاره د حکومت، تعليميافته کسانو او ولس ترمنځ يو ګډ کمپاين ته اړتيا ده ترڅو د اطرافونو، کلو، بانډو او ښارونو ترمنځ په فکري، اقتصادی او ټولنيز لحاظ واټن کم کړي. زما په اند يوازې په شعر ويلو څه نه کېږي بلکې شعر نور هم د خلکو احساسات راپاروي او ولس نور هم د ستونزو سره مخامخ کوي.

په اطرافونو کې ډېر سهولتونه د ښاري ژوند په پرتله شته دی او د هغو فرصتونونه بايد کار واخيستل شي د بېلګي په توګه ځوانان او مشران کولی شي چې په شريکه سره کار وکړي، اشر وکړي د محيطي منابو نه د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمو د رشد لپاره ګټه ترې واخلي او يوازې د حکومت په طمعه بايد کيننې. په غربي نړۍ کې زيات کسان چې تقاعد هم شي خوش به رضا يا Volunteer په توګه په مکاتبو، کتابخانو، روغتونونو او نورو ځايونو کې کار کوي او خپل وخت په مؤثره توګه مصروفوي. د طب له اړخه په کور کې ناسته، تشويش او سوچ د ډېرو مرضونو مور ده او ولس بايد لاس د زنې کيننې. په لاندې لينک کې که تاسې دا ويډيو وګورئ نو د يو فکر په پايله کې په اطراف کې د يوې وچې ونې نه ښنګه ښايسته د نقاشۍ مجسمه جوړوي او فکر کوم چې د کلي ماشومان، ښځې او نر او هم د نورو سيمو سيلانيان به د دې مجسمې د ننداري نه خوند اخلي او هم دا ډول فکر د راتلونکې نسل د فکري انکشاف لپاره مهم دي. د نن ورځې په معلوماتي نړۍ کې د منابعودرلودلو نه فکری انکشاف زيات مهم دی ترڅو ولس خپله بشري سرمايه په مؤثره توګه استعمال کړي. زموږ د ټولنې دا متل چې تکړه زوی ته مال مه ګټه او بيغرته زوی ته مال مه پريږده ښه صدق کوي. تکړه نسل په خپله ځانته هر څه جوړولې او پيدا کولی شي اما بيغرته، بې تعليمه او په فکري لحاظ وروسته پاتې نسل د پلار او نيکه ګټلې نوم او سرمايه ټوله له منځه وړي. موږ بايد خپلو ځوانانو ته ښه فکر او د ښه تعليم زمنيه مساعده کړو او په دی فکر کې ونه اوسو چې خپلو اولادونوته يوازې ځمکه، پټي، کور او بلډينګونه وګټو. اوس دا لينک او تاسې.

https://www.youtube.com/watch?v=٢a١QISYNGHs&sns=em

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مدير او رهبر ترمنځ فرق:

نومبر ۲۰۱۶م کال، ويرجينيا، امريکا

مدير ته چې ورشې نو هغه درته ځان دومره وپړوسوي چې ګوندې هغه ډېر مهم شخص دی، د هرڅه صلاحيت ورسره دی او بايد خبره يې ومنل شي اوا حترام يې وشي. رهبر ته چې ورشې نو ته بايد داسې فکر وکړې چې ګوندې ته مهم شخص يې او رهبر ستا لپاره ناست دی او ستا په غم کې دی يعنې تا ته اهميت درکوي. يا په بله اصطلاح مدير ځانته اهميت ورکوي او رهبر خلکوته. البته په اوسني دور کې رهبر بايد د رهبري د مشخصاًتو ترڅنګ ښه مدير هم وي.

که دا پورته دوه معيارونه سره مقايسه کړو نو دا راته ووايي چې په افغانستان کې موږ مديران ډېر لرو که رهبران؟

کېدای شي چې بعضې دوستان دا ووايي چې موږ مديران نه لرو خو دا سمه نه ده ځکه هرڅوک چې په خپل شاوخوا کې يو څو کسه ښه او خراب راټولی شي او د هغوی نظارت کولی شي، هغوی مديران دي خو دا چې مديريت د څه لپاره استعمالوي، ښه مديران دي او که خراب، جلا خبره ده.

ښه رهبران کوشش کوي چې څو نور کسه د رهبري لپاره وروزي ترڅو د ده دورې د ختم او يا مرګ نه وروسته بايد د رهبری د خلا تشه رامنځته نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د محمد رياض قصه:**

۲۸ نومبر ۲۰۱۶ م کال، کابل

د اشنا ټلوېزيون د محمد رياض په اړه يو راپور خپور کړ چې ده دوه کاله په ملي اردو کې خدمت کړې دی او په پکتيکا کې زخمي کېږي او دواړه پښې يې قطع کېږي خو دی خپل همت د لاسه نه ورکوي او په معذوره ځان معماري کوي او خپلې کورنۍ ته حلاله روزي ګټي. دا ځوان ۳۵ کلن دی او د کونړ ولايت اوسيدونکي دی خو د ننګرهار په تنګي سيمه کې اوسېږي او هيچا ته سوال نه کوي. ده لا تر اوسه پورې واده نه دی کړی خو پلار يې هم مريض دی او د کورنۍ لپاره کار کوي او وايي چې د خپل وطن سره خاصه مينه لري او ځان ورته معيوبه نه ښکاري. دا ويډيو په زرګونو کسانو وکتله نو ما هم د دغه ويدو په ليدو سره دا لاندې څو جملې وليکلي او د ده عکسون مې د اشنا ټلوېزيون د راپور نه واخيستل:

د دغه ځوان همت او اوچت مورال ته سلام. د ده بلا دې په هغو ولړي چې د عسکرو د معاش او اباته نه ځانونو لپاره کورونه جوړوي او هم دې د ده بلا په هغو ولړي چې خپل وطن ورانوي. د دغه ځوان اسلامي جزبه او خپل وطن سره مينه د هغو کسانو نه ښکاره زياته ده چې ځانونه د اسلام او دين ټيکداران بولي. د ده ويډيو په لاندې ليکنک کې ليدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



https://www.facebook.com/Kunar.ghazi١/videos/١٣٨٧٧٥٢٠٣٤٦٣٣٠٤٧/?autoplay_reason=gatekeeper&video_container_type=١&video_creator_product_type=٢&app_id=٢٣٩٢٩٥٠١٣٧&live_video_guests=٠

**د فيدل کاسترو د ژوند محاسبه يا قضاوت:**

۲۹ نومبر ۲۰۱۶م کال، کابل

دنومبر په ۲۶مه نېټه د کيوبا پخوانی دکتاتور فيدل کاسترو د نوي کلونو په عمر مړ شو. د فيسبوک بعضې کسانو د هغه په اړه ليکلي و چې ده يوازې ښو جوړه جامې او يو وړوکی کور درلوده نو دا ډېر ښه سړی و. ما په د فيسبوک کې په خپله پاڼه وليکل:

د يو مشر اعمال په ځانګړې توګه نه محاسبه کېږي بلکې د هغه د ژوند او کار د ټولو اړخونو د ښوبيانو او خرابيو مقايسه کېږي. د فيدل کاسترو په اړه منجمده مقايسه سمه نه ده چې ښو جوړه کالي ترې پاتې دي او يا يو وړوکی کور او داسې نور يعنې دا فاسد نه و، نو ځکه دا ډېر ښه ليډر و. د قدرت نه سؤ استفاده په خپله فساد دی.

ده پنځوس کاله په کيوبا دکتاتوري حکومت کړی او ډېر خپل مخالفين، رقيبان او حتی خپل نږدې ملګري د حزب يې له منځه وړي دي او په لکهاو کسان د ده د ظلم له امله د خپله وطنه کډه کولو ته مجبوره شوي دي. ده کيوبا ته يو ډېر کمزوری اقتصاد پريښی دی او د کيوبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکی  هم نامعلومه دی چې څه به کېږي. د قدرت واګې  يې خپلې کورنۍ ته وسپارلې او په پنځوس کلونو کې يې پنځوس کسه د خپل ځان ناستي لپاره تربيه نه کړل يعنې ده نه د خپل حزب په غړو اعتماد درلوده او نه د کيوبا په خلکو او خپل ورور يې خپل جانشين وټاکه. زما په اند داسې مشران د يو ملک لپاره چې خپل ځان ورته د بل هرچا نه لوړ او ښه ښکاري، ګټه نه لري.

**خاوري به دا وطن جوړشي چې انجينران يې په دار ځړول کېږي:**

۲ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل



(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه انجينر چې پوليتخنيک د څلورم ټولګي محصل، فيض الرحمن رحماني نوميده، د وردګو د چک په ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا په دار ځړول شوی دی. فيض الرحمن رحماني په اخري ځل د خپل فيسبوک په پاڼه ليکلي و:

د دې نه مخکې طالبانو اعلان کړې و چې دوی به عام المنفعه پروژې نه ورانوي او د هغوی حمايت به کوي خو په عمل کې نور څه و نو ما دا پوست وليکه:

طالبانو اعلان کړی چې دوی به عام المنفعه پروژو ساتي خو هغه انجينران او کارکوونکي چې عام المنفعه پروژې جوړې او حفاظت يې کوي هغه به اعداموي. افسوس افسوس د دې وطن په حال چې د جاهلانو له خوا يې تعليميافته او پوه کسان يې په ډېره بيرحمانه توګه له منځه وړل کيږي. دې انجينر به هم د خپلې کورنۍ او خپل وطن لپاره ډېر ارمانونه په زړه کې درلودل، خو د وطن د دښمنانو له خوا د ده ټول ارمانونه د خاورو سره خاورې شول.

خاورې به دا وطن جوړ شي چې يوه لويه برخه ولس يې د جهالت ملاتړ کوي او افسوس په هغه تعليميافته کسانو باندې چې په ارادي او غير ارادي توګه د داسې جهالت ملاتړي دي. دوی چې د وطن تعليمافته کسان اعداموي، خاورې به سوله ټينګه شي او خارجيان به د افغانستان نه ووځي. همدوی دی چې د خارجيانو راوستلو او خارجيانو د شتون دوام ته يې لاره هواره کړې ده. که دوی د عربانو ګروپونو ته پناه او بيا جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې دوام نه وې ورکړئ، خارجیانو دلته څه بلا غوښتله، خو په جنګ کې او ګډوډیو کې د لوفرانو او د ټولو سازمانیافته او یا غیر سازمانیافته جنایي ډلو ساعت همېشه تېر وي او همدوی دي چې د جنګ د دوام لپاره په مختلفو پلمو زمینه مساعدوي.

د طالبانو ځیني طرفدارانو په فیسبوک کې د دې عمل نه دفاع کوله او ویل چې دی یې ځکه اعدام کړی چې ده د طالبانو کوم دوه کسه وژلي دي خو داخبره سمه نه وه نو بیا دا لاندې تبصره ولیکله:

د وردک ولایت په چک ولسوالۍ کې د ځوان انجینر ځړولو عمل ته هیڅ توجیه نه شي کیدی. دا چې د طالبانو طرفداران په فیسبوک کې د دې عمل نه ملاتړ کوي نو د دې  نه جوتیږي چې طالبان هم د تروریستي ډلو برخه ده. هغه تروریستي ډلې چې مرکز، د محکمه دفتر، د قاضي  پوه او پیژندګلوی. ساحه د نفوذ، مشر او نور څه معلوم نه وی، د دوی قاضي او خودسري  فیصلې څه مشروعیت او څه معنی لري.

یوازنۍ توجیه همدا ده چې وحشت دی او افغانان د درنده ځناورو په فارم کې ژوند کوي.

## د ځمکي خلکو د خدای په امان:

۴ د دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

یو شمېر ساینسدادان حاضر شویدي چې د دې  سیارې  (ځمکي) نه مریخ ته د خلکو سره لاړ شي. مریخ ته تګ یو طرفه دی یعنې بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتگ نشته او تر اوسه د دوه لکه کسانو نه يوازې سل کسه د دغه ماموريت لپاره انتخاب شويدي چې هلته که په خير سره ورسېدل نو د انسانانو کالوني (کلي ) به جوړوي. دغه کسانوته اوس تربيه او روزنه ورکول کېږي او بالاخره د ۲۰۲۴ م کال نه وروسته به په شپږو جوپو کې ۲۴ کسه ليږي. هغه کسان چې د دې ماموريت لپاره حاضر شويدي وايي چې دوی بايد د خپل مرگ نه مخکې داسې کار وکړي چې د راتلونکي بشريت لپاره مؤثره وي او د بشريت په تاريخ کې د دوی نوم په ښه توگه وليکل شي چې دوی د بشريت لپاره د خدمت لپاره خپل ژوند قرباني کړ. د زياتو معلوماتو لپاره دا لاندې لينک کتلي شي. د اوسني تکنالوژي په درلودلو سره اوه مياشتې د دوی سفر نيسي او دوی يوازې هلته د ۶۸ ورځو لپاره ژوندي پاتې کېدلي شي.

زما مشوره د افغانستان هغه کسانو ته چې خپل ځانونه په بمونوالوزوي او د نورو ژوند له منځه وړي دا ده که دوی په رښتيا د ژوند نه تنگ او ستړي وی او خپل ځانونه وژني، نو ولې دوی د دغه کفارو په شان د يو ښه کار لپاره ځانونه نه قرباني کوي. دا کافر پوهېږي چې مريخ ته د دوی تگ يو طرفه دی، بېرته نه شي راتلای، خو بشريت ته د خدمت لپاره قرباني ورکوي. په عوض د دې چې دا ځانمرگي خوشي چتې پتې هم ځانونه او هم نور کسان له منځه يوشي ښه به دا وی چې دوي د دغه کفارو په شان د يو ښه کار لپاره قرباني ورکړي.

/http://edition.cnn.com/۲۰۱۵/۰۲/۱۷/tech/mars-one-final-۱۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته ليکنې په اړوند وکيل صاحب سميع الله ساپي ليکلي و:

بـنـيا د م د تـفـا وتـونـو پـه (ارزښت کـې)!

ځينې لـګـيا دي د بـشـريـت ژغـورلـو پـه مـوخـه، ځـا نـونـه قـربـانـوي؛ نـور بـيا ځـا نــتـه د جـنـتـونـو لـپـاره د بـشـريـت پـه تـبـاهــي اخـتـه د ي.

څـوک ځا ن پـلـوري چـــې وطـن خــرڅ کــړي...

څـوک د وطـن لـپـا ره ځا ن قـربـا نـوي...

څـوک د رښـتـيا پـه تـور پـه (د ا ر) ځـړول کېږي...

نـــور د "د روغــو پـه وسـلـه" او "سيا سي فـسـا د" پـه مـتـو، د وُلـسـونـو لـه څـتـېــونـو د راکــوزېـد و نـــد ي...

څـوک زړونـه خـوري، خوله لاسه يې څه ندي پوره...

نـورلکـه بـګـيـل مـړزا ن "قُـــو..." شـويـد ي، د را وېـښـېـد و نـد ي...

د چا مـرګ د "هـنـد وکُش" لـه غـره د رونــد، ا و د چـا د "بـتـې" لـه بـنـکـې سـپـک!

د ا د ئ د خــدای د " ارزښـتـونـو " وېـــش!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فکر:**

۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

د افغانانو شکایتونه او نیوکې زیاتې دي چې ولې موږ د یویشتمې پیړۍ سهولتونه لکه بریښنا، مکتب، سړک، صحي کلینک، ښه امنیت، ښه اقتصاد او داسې نور نه لرو. څو ورځې د مخه د ځمکې نه د مریخ سیارې ته د تګ په اړه د تحقیق او ریسرچ کومه لړې د ساینسدانانو له خوا روانه ده، دهغه معلوماتو په اړوند لیکنه کړې وه او هغه معلومات مې د افغانستان د روانو حالاتو سره پرتله کړي و، نو یو کس راته په فیسبوک کې لیکلي و چې الله تعالی دې غرق کړه چې ته د کفارو صفت کوې او ځان دې گناهګار کړ.د دغه کس فکر به همدا وي.

که موږ ووایو چې دا موټر او یا انټر نیت ډېرښه شیزونه دي چې دنیا یې سره رانږدې کړې ده او په موټر کې د یو ځای نه بل ځای ته په اسانې سره سفر کولی شو او دا کفارو جوړ کړي دي نو په دې کې دګناه او د کفر څه خبره ده. دا کس ما نه پېژني چې زه څومره په خپل خدای او اسلام عقیده لرم، ایا څومره زه په دیني مسایلو پوهېږم او ترکومه حده مې دیني زده کړې کړي دي، د ما سره یې خبرې او اترې نه دي شوې او نه زما د ژوند نه خبر دی خو دا مفتي صاحب دا ډول فتواګانې ورکوي او هرڅه ورته تور او سپین ښکاري او سمدلاسه د جنت او دوزخ نسخې لکه د اتلسمې پیړۍ د اروپا د پاپانو په شان خلکو ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول کسان چې ټوپک يې په لاس کې دی، موږ او تاسي يې گورو چې زموږ تعليميافته او مشران په بېلابېلو نومونو وژني او همدا شان د دا ډول فکرونو يو شمېر نور کسان چې په نظام کې دننه دي د تعليميافته او ښو کسانو د کار مانع گرځي. په دا ډول بی علمه فکرونو باندې چې نه په دين پوهېږي او نه په دنيايي علمونو، افغانان به څنگه ارامه شي، سوله به په دی ملک کې څنگه ټينگه شي او افغانستان به څنگه آباد او خود کفا شي؟ نو ځکه ما دا لاندې جمله د خپل فيسبوک په وال وليکله:

***(موږ افغانان هم عجيبه مخلوق يو. فکرونه مو داتلسمې پېړۍ دي او سهولتونه د يويشتمی پېړۍ غواړو.)***

**د فيسبوک د مفتيانو د فتوا نه ځان ساتل:**

۸ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

دوستانو!

د فيبسوک نه مننه مه کوئ ځکه کفارو جوړ کړی دی که نه فيسبوکي مفتيان او خلاصه يي ملايان به دربانډی د کفر د فتوا ټاپې ولگوي.

**افغانستان لپاره د ترياژ پروسه په کار ده:**

۱۵ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ډاکتر صاحبان د ترياژ (Triage) په کلمه د مانه ښه پوهېږي. کله ټکر، زلزله او داسې نور لويې پيښې وشي، د مريضانو او زخميانو شمېر زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، ټولو مریضانو ته ډاکټران او طبي پرسونل همزمان نه شي رسیدلی، نو ډاکټران مریضان سمدلاسه گټګوري کوي او د هغه مریضانو پالنه کوي چې هغوی د مرگ نه ژغورلې شي.

ماشاالله پیښې او ستونزې خو په وطن او خلکو کې ډېرې دي، خو حکومت او ولس باید جدي ستونزو ته متوجه شي او د هغو ستونزو لپاره د حل معقولې لارې چارې باید ولټوي. هغه ستونزې چې نظام ته سمدلاسه ضررنه شي رسولی په هغوی باید لږ وخت تېر کړي ځکه هغه پیښې او ستونزې وروسته هم بررسي کېدلې شي. که داسې ونه کړو، نو بیا به ټول اوتر اوتر گرځو او سرگردانې به مو زیاته وي.

## هسې یادونه!

۱۵ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ما د خپلو چاپ شوو کتابونو تقریباً پنځه ویشت زره نسخې تراوسه دوستانو ته ویشلي دي خو باوروکړي چې یوازې یو کس، ښاغلی محمد یعقوب براتزاده، په خپله حاضر شوی و او ډېر ټینگ و او غوښتل یې چې زما د کتابونو په چاپ کې برخه واخلي، نو زر ډالره یې راکړي دي. اما دا نورځومره کتابونه چې ما تقسیم کړي او یا چا ته مې ورکړي دي، ډېرو کمو کسانو یې ستاینه کړېځ ده. کله مې چې کتاب چا ته ورکړې دی، نو احسان هم د هماغه کس په ما باندې و چې گوندې دی لا زما کتاب لولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدف مې دا نه دی چې څوک دی زما د لیکنو ستاینه وکړي او یا زما د کتابونو د چاپ پیسي دی راکړي ځکه د خدای فضل دی چې تر یوه حده دومره وسه او مالي توان لرم چې د خپلوکتابونو د چاپ د عهده نه ووځم.
د دې خبرې یادونه مې ځکه وکړه چې لا تراوسه د کتاب لوستلو او په کتاب د پیسو ورکولو کلتور زموږ په ټولنه کې ډېر ضعیفه دی. زه هم دا ستونزه لرم چې په کتابونو په اسانی سره پیسي نه ورکوم او اکثره زما د انګلیسي ژبي د افغانستان په اړه کتابونه راته زما زامن اخلي ځکه هغوی په دی عادت دي چې په کتابونو خرچه وکړي.
بل دا چې هرچا ته خپل کار او لیکنې ښې ښکاري خو تر یوې کمې کچې ما هم تر خپلې وسې د پښتود لیک دود د رواجولو او د افغانستان د روان تاریخ یو اندازه محدودي پیښي په خپلو لیکنو کې خوندې کړي دي.
کله چې یو دوست ستا په لیکنو یو څه ولیکي نو بیا انسان هرو مرو خوشالیږي چې یاره زما د لیکنو نه خو یو څو کسو ګټه اخیستې ده. څه موده د مخه تکړه لیکوال او ژورنالست، استاد محمد داود وفا زما کتابونه غوښتي و او هغه مې ورته لیږلي و. د کتابونو د سرسری مرور نه وروسته یې راته دا لاندې لیک راولیږه. د وفا صاحب د اجازې پغیر یې دوستانو سره شریکوم خدای دی وکړې چې خفه رانه نه شي.
درانه میاخېل صاحب ته سلامونه او درناوی وړاندې کوم!
هیله ده، چې روغ و جوړ به یاست. نن ورځ مې ستاسو له خوا راستول شوي کتابونه له لیکوال او ژورنالیست بازمحمد عابد نه په جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



آباد کې واخيستل. د ډېر وخت هيله مې پوره شوه، ځکه چې ددغو کتابونو په اړه مې ډېر لوستي و او اورېدلي و. که څه هم چې « بېړنۍ لويه جرگه» او « د واقعيتونو په بهير کې» کتابونه مې مخکې ليدلي او کتلي هم وو. وروستی کتاب خو مې له سره ترپايه ټول لوستی و؛ خودا پاتې نور رانه پاتې وو. اوس دا دی کېناستم، د وطن معماران، دريیمه زاويه او مخکتاب، د کونړولايت سياسي او قومي جوړښتونه کتابونه مې مخې ته پراته دي. سرسري مې په منډه منډه ولوستل، خو ژور به يې هم لولم او که امکان يې لاره، نو بيا په تفصيل سره خپل نظريات هم يا خپاره کړم او يا به يې تاسو ته وليکم.

ستاسو د ليکنې ژبې صميمې ده. مشکل لغتونه په کې نه شته او ځانښودنه هم په کې نه ښکاري. ځينې ليکوال او څېړونکي په لوی لاس د ليکنې ژبه سوچه کوي او يا په اصطلاح په ناگومان راوتاويږي. زياتې خبرې لنډې هم کېدی شي، خو د ځينو عادت وي، چې لنډې يې نه ليکي. ستاسو خبرې لنډې، صريحې او فصيحې دي. مطلب ترې زر اخيستل کېږي او زما په شان ټيټ سواده کسان هم په اسانه پوهوی شي. زه فکر کوم، چې دا يو کمال دی او هر څوک يې نه لري. ممکن ځينو ته به دا کوم کمال نه ښکاري، خو له ډېر وخت راهيسې زموږ په باسواده پوړ کې دا توپير کتل کېږي، چې د ليک او وينا ژبه يې يوه نه وي، ځکه خو زيات پښتو کتابونه يوازې د ليکوالو ته پاتې دي او تبصره کول او کره کول يې هم دليکوالو دنده گڼل کېږي، په داسې ترڅ کې چې کتابونه د خلکو مال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او معمولا د عامو خلکو او ولسونو لپاره ليکل کېږي. په دې ډول ستاسو ليکلي آثار هم د ليکوالو او څېړونکو لپاره دي اوهم دعامو خلکو او ولسونو لپاره.

« دوطن معماران » کتاب يوه ښه او ژوندۍ هڅه ده، که څه هم زه باوري يم چې، دا ډول يوه هڅه تاسو په خپله په يوازې ځان هم ترسره کولی شوه، خو دا چې يو بل څېړونکی مو هم له ځان سره راګډ کړی، ستاسو پراخه سينه او نرۍ ليد راښيي. په دې کتاب کې معرفي شوي شخصيتونه ټول د دې مستحق دي، چې بايد معرفي شوي وای. زه پوهېږم، چې دا ډول ملي شخصيتونه ولې تاسو معرفۍ ته ټاکلي او دوی څوک وو، چې نن يې په يادونو او لمانځنو وياړو. يقينا چې دا خلک په يادولو ارزي او ستاسو انتخاب ډېر عالي دی. زموږ زياتره څېړونکي اوليکونکي معمولا ليکوال، شاعران او ادبي څېړونکي زيات معرفي کوي. که څه هم چې دا به ضرورت وي، خو د اجتماعي شخصيتونو او نومياليو په معرفۍ کې زموږ پښتو ليکوالو لږه ناغېړي کړې، ستاسو هڅه په دې لړ کې د درناوي وړ ده، هم مو ليکوال او فرهنګي شخصيتونه او هم مو ټولنيز شخصيتونه په دې کتاب کې راټول کړي، چې اصلي هدف په کې د وطن د لوړو ګټو او ملي تګلارو د خاوندانو يادون او درنښت دی.

د کونړولايت سياسي او قومي جوړښتونه، دودونه او تاريخي پېښې، که څه هم د دې کتاب عنوان راته لږ اوږد ښکاره شو، خو مهمه څېړنه ده. ځکه په دې باب پخوا کومه څېړنه نه ده شوې. کونړي پښتنو خو صرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد کړی او د خپلې سیمې تاریخ او کولتور پېژندنې ته لاهم نه دي وزګار. نو تاسو له ډېرو بوختیاوو سره سره لوی کار کړی. هیله ده، ځوان پښتانه محققین په تېره کونړي هغه دا ډول موضوعات ښه پسې وغځوي او لا ډېره څېړنه وکړي. ستاسو د دې لیکنې یوه ځانګړنه راته دا ښکاره شوه، بلکې ستاسو زیاتره څېړنې داسې دي، چې په خپله مو ریسرچ کړی، مرکې مو کړي او مشاهدې مو راټولې کړي. له مخکنیو چاپ شویو اثارو مو لږه استفاده کړې. اوسني زیاتره ځوان څېړونکي کتابخانه یې ریسرچ کوي. که څه هم چې دا ډول ( کتابخانه یي ریسرچ) هم د ریسرچ یو ډول دی، خو چې ډېر شي، نو بیا خوند نه کوي، په تېره چې له نورو اثارو معقوله استفاده ونه شي. خو ستاسو لیکنې موثقې او جامع دي. په اصل کې دا فیلډ ریسرچ ګڼلی شو، دا ډول ریسرچ سخت کار دی. اوسني ځوان څېړونکي په کاله کې ناست وي، له نورو کتابونو څېړنې کوي، چې ډېربښت یې بدرنګي رامنځته کړې.په دې ډول مشاهداتي او خاطره یې لیکنو او مرکو د لوستونکو دلچسپي زیاتېږي او لوستل یې خوند کوي.

« دریېمه زاویه» او « مخکتاب » دوه نور کتابونه چې ستاسو فیسبوکي لیکنې او د هغو په اړه د کتونکو نظریات دي، یوه نوې هڅه ده. ځکه چې انلاین خپراوی بېل خوند لري او په کتاب کې لوستل بېل. ځینې لا تراوسه په انلاین لیکنو لوستو عادت نه دي. بله دا ده، چې د انلاین په ساتنه دومره باور نه دی په کار. کېدی شي، اکونټونه هک شي او یا پرې کومه بله پېښه وشي، نو چې په کتابونو کې خوندي شي، دا ډېر لوی او غنیمت کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لړ کې د خلکو نظریات په امانتدارۍ راخیستل او نیوکي منل او زغمل هم ستاسو په شان لویه حوصله غواړي، چې په اوسني وخت کې د هر زړه تنګي پښتانه کار نه دی. ستاسو په فیسبوکي لیکنو کې ډېر ټولنیز واقعیتونه او حقیقتونه راغلي، چې اوسني ځوان نسل ته د ښو تجربو د انتقال یوه غوره وسیله یې ګڼلی شو. په تېره ستاسو لیکنۍ ژبه، چې هرکله په کې صمیمیت، ملګرتوب او حوصله مندي ښکاري، زما په فکر د زیاترو لوستونکو خوښه ده او د منلو وړ یې ده.

میاخېل صاحب، تاسو ته دې خدای نور هم همت درکړي، چې دغه ډول نوي او بکر موضوعات د خپلو لیکنو محتوا ټاکئ. ما په لنډ ډول دا څو کرښې ولیکلې. که وخت مې وموند، ستاسو په کتابونو به یوه عمومي اوږده او په اصطلاح هراړخیزه تبصره کوم، په تېره په څېړنیزو لیکنو مو، چې زه ورسره مینه لرم. خدای دې اوږد عمر درکړي، چې هر څېرته مو په لیکنو او ویناوو کې د وطن مینه په څپو او ولولو وي.

درنښت محمد داود وفا جلال آباد

**څلور نسله سالمې روزنې ته اړتیا ده:**

۱۵ دسمبر کال ۲۰۱۶م، کابل

افغانستان لا د تېرو څلویښتو کلونواډیالوژیکي، کلتوري او فرهنګي ټکرونو په لوبه کې تر اوسه هم ښکیل دی، تراوسه لا موږ په خپلو دردونو نه پوهېږو، لا تر اوسه هم موږ بیخوده یو او نه پوهېږو چې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای مو درد کوي، د چا نه ګیله وکړو او څنګه خپلو ستونزو ته د کورنۍ نه نیولی د وطن او دنیا په کچه د حل لارې چارې پیدا کړو.

څلویښت کلنو ناورین زموږ ټولنیز جوړښتونه دومره خراب کړي دي چې ډېر اوږد سالم رونیز کمپین ته اړتیا ده. که زموږ توپیرونه او احساسات همدا وی چې څنګه نن ورځ یې موږ په دې ملک کې لرو، څلور نسله سالمی روزنې ته اړتیا ده ترڅو موږ په خود شو او مخکنې حالت ته بېرته وګرځو، او یو ځل بیا د پرمختګ په لورقدم کیږدو.

**د ولس او حکومت ترمنځ رابطه او فیسبوکي مبارزه:**

۱۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ستونزه دا نه ده چې ولې جرم واقع کېږي، ځکه په بشري ټولنه کې به هرو مروجرم او جنایت وي. ستونزه دا ده چې ولې د جرمونو پوښتنه نه کېږي او یا په جرمونو کې څوک لاس لري؟

که د جرمونو پوښتنه او دمظلوم حمایت ونه شي، جرمونه بیا ورځ تربلې په خپله زیاتېږي. مثال یې داسې دی لکه په خونه کې چې دچت د سوري د راڅڅیدومخه ونه نیول شي، د څڅوبۍ په ډېریدو سره چت ټول راغورځیږي او په خونه کې ټول ناست کسان ضرر ګوري.همدا شان که په خونه کې ناست کسان یوازې د خونې د مالک په طمعه ناست وي او ګوري چې څڅوبۍ زیاتېږي او مالک یې هم څه غم نه خوري نو ناستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو ته هم په کار دي چې یا مالک د کور مجبوره کړي چې د ښځوبې غم وخوري اویا دوی په خپله باید ښځوبې بند کړي.

د ولس او حکومت ترمنځ رابطه د پورته مثال په شان ده.زما په اند، په اوسني حالت کې فیسبوک په حکومت باندې د فشار راوستلو او دعامه اذهانو د روښانتیا او د ولس دملاتړ لپاره، ښه وسیله ده. کېدای شي چې هره فیسبوکي مبارزه رنګ رانه وړي خو ډېر کارونه یو څه سر نیسي لکه په فراه کې د ماشوم د اختطاف، د شربت ګلې، د کرکټ بورد، د ننګرهار د برق، د بروکسل د غونډې نه حمایت، د بعضې چارواکو لرې کېدل، د جوزجان او په ننګرهار کې د وروستیو ستنونځو په ګوته کول او داسې نورې پیښې.

همدی ته مبارزه وایي او فیسبوک د مبارزې لپاره یوه ښه وسیله ده. مایوسي نه ده په کار بلکې د مبارزې همغږي کول مهم دي.

**د یو نظام د بقا لپاره حقوقي او سیاسي مشروعیت دواړه مهم دي:**

۱۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

حقوقي مشروعیت هغه دی چې څنګه قدرت یو شخص یا ګروپ تر لاسه کوي. لکه د ټاکنو د لارې، میراثي نظامونه، د انقلابونو له لارې او یا په زوره د کودتاګانو له لارې. سیاسي مشروعیت دقدرت نیولو نه وروسته د عامو خلکو په نزد د نظام مشروعیت دی چې ایا د خلکو فزیکي امنیت تامین دی او که نه؟ ایا عدالت او پوښتنه د مظلومو خلکو کېږي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اياحکومت اساسي خدمات خلکو ته برابرولی شي او که نه؟ ايا روحا ولس خوشاله دی او که نه؟. او داسې نور.

متاسفانه د افغانستان نظام د حقوقي او سياسي مشروعيت د دواړو ستونزو سره مخامخ دی ځکه چې د حکومت تهداب په معامله کیښودل شوی او د معامله نه وروسته حکومت ونه شو کړای چې د ولس ستونزو ته دحل سمې لارې چارې پيدا کړي.

امنيت ورځ تربلی خرابيږي، حکومتداري ورځ تر بلې مخ په خرابيدو ده، اقتصادي وضعيت هم ورځ تر بلی بدتريږي، ولس ته د خپلو حقوقو او وجايبو لر لوری ورنه کړل شو، نو په دې توگه د ولس فزيکي او بشری امنيت مصؤن نه دی.

که حکومت خپلو کارونو ته جدي توجه او د تېرو دوه کلونو خپلې کړنې سمې ارزيابې نکړي، فکر کوم د افغانستان راتلونکی راته ډېر تت ښکاري.

**د فيسبوک د ليکنو په اړه دوه نظرونه:**

۱۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

افغانستان د ټولو کور دی او دا فکر بايد د موږ سره نه وي چې وطن يوازې په ما گران دی او دا نور ټول د وطن سره خيانت کوي. هرڅوک تر خپلې وسې مسووليت لري چې د وطن او خپلو خلکو لپاره کار وکړي. هيڅوک بايد په يو بل احسان ونه کړي او نه څوک د يو قوم او ټول ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيکه دار دی او نه دا منديت يا صلاحيت موږ ته چا راکړی چې د ټول ملت او يا د يو قوم او سيمې په استازيتوب خبرې وکړو او يا يې ادعا وکړو. د هرچا نظر انفرادی نظر دی، د هيڅ يو قوم، سيمې او يا کتلی استازيتوب نه کوي.

دويمه دا چې دا اړينه نه ده چې زموږ د ټولو نظرونه سره همغږيږي او يوشان وي ځکه د هر چا نظر د هغه د معلوماتو، تجربه، تحصيل، او انځورگيرنې يا برداشت په لرلو سره به هرو مرو توپير لري، نو دا سمه نه ده چې موږ د خپل نظر مخالف باندې د کفر او اسلام، د خاين او صادق، د بيسواده او باسواده، د پوه او جاهل، د ښه او خراب او يا داسې نورې ټاپې ولگو. که موږ د يو بل د متفاوتو نظرونو د اوريدو او لوستلو تحمل ونه لرو نو بيا خو فکري تغيير هيڅکله نه شي راتلای ځکه د فيسبوک دوستان خو لا اقل لوستونکي او پوه کسان دي.

**تقرر مرکزي کول ښه کار نه دی:**

۱۷ د دسمبر ۲۰۱۶ م کال، کابل

اوس مې د آزادۍ راډيو نه خبر اوريدو چې يو لوی چارواکي وويل چې زموږ پروسه سخته ده چې څوک پکې واسطه واچوي مطلب يې دا و چې د دوی د تقرر په پروسه کې څوک د واسطي نه کار نه شي اخيستلای. که واسط نه وی نو زما په اند شايد همدې چارواکي دا مهمه دنده نه درلودی. يوه قصه مې راپه ياد شوله، يوه ورځ زما د يو هم صنفي، ډگرمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



امين شاه څه کار د لوی درسيتز سترجنرال شيرمحمد کريمي صاحب سره و نو ما هغه ته تليفون وکړ او دا مې وروليږه. امين شاه راته وويل چې کريمي صاحب ته مې وويل چې زه غريب سړی يم او واسطه نه لرم که د مزار نه مې جلال آباد ته تبديل کړې نو ښه به وی. لوی درستيز ورته کښته پورته کتلي و او ورته يې ويلي و که واسطه دې نه درلوده نو ته دلته زما دفتر ته راتللی شوې. امين شاه راته وويل چې سخت يې خجالته کړم.

په هر حال د چارو ادارې ځوانانو ته اعلان کړی چې خپلې سوانح د ايميل په ذريعه دوی ته وليږي او دوی به بې له واسطې مقررشي. زما په اند که تقرر ټول مرکزي شي د ګټې نه به يې تاوان زيات وي ځکه تقرر کې د تحصيل ترڅنګ بايد ډېر نور فکتورونه په نظر کې ونيول شي. د يو ديپارټمنت، وزارت، ولايت يا ولسوالۍ مشران د خپلو تشکيلاتي اړتياو په اړه د يو بل کس په پرتله چې لرې وي او تصميم نيسي، ډېرښه پوهېږي. د داسې خيالي پروسو استخدام څه ګټه نه لري هسې د ځوانانو د تکليف او د ادارو د خرابيدو باعث ګرځي. حکومت ته په کار ده چې د ادارو مشران ښه کسان وټاکي نه دا چې صلاحيتونه دادارو نه څو کسه په مرکز کې قبضه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان کې پرزې شته؛ خو انجن ترې جوړولی نه شو:**

۱۷ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

نن مې د کورنیو چارو پخوانې وزیر پروفیسر علی احمد جلالي صاحب سره بنډاردرلوده نو ښایسته خبره یې وکړه چې په افغانستان کې موږ پرزې لرو خو ماشین ترې جوړولی نه شو. همدا شان اشخاص او پوزیشنونه لرو خو انستیتوشن یا مؤسسات نه لرو چې داشخاصو رول مؤثره وي.

**په هر قیمت چې وي باید د جنګ مخه ونیول شي:**

۱۸ دسمبر ۲۰۱۶ م کال، کابل

په افغانانو باندې جبري او تحمیلي مهاجرتونو، جنګونو، دربه دري، فقر او لوږې، د نفوسو کثرت، د منابعو کموالی، د دیني او عصري تعلیمي ادارو بې کیفته نصاب او زده کړې، په ځوانانوباندې د کورنیوکمرنګه نفوذ، نړیوال او سیمه ییزو مداخلو، بې امنۍ او داسې نورو داخلي او بهرني فکتورونو په افغانستان کې د جنګونو د دوام او دضعیفه حکومتونو د رامنځته کېدو لپاره لاره هواره کړې ده. دا لړۍ به تر هغې پورې دوام لري ترڅو چې په افغانستان کې جنګونه دوام ولري.

په پاکستان، ایران او هم په افغانستان کې اکثرو کورنیو خپل ماشومان دیني مدارسو ته یوازې د دین د زده کولو په مؤخه نه استول بلکې د فقر او مجبوریتونو په اساس به ماشومان مدرسو ته لېږل کېدل ځکه هلته یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ مرسته او مساعدې (خوراکي مواد) په مختلفو نومونو ورکول کيده. دا کارد دې لامل شو چې اکثره ځوانان د خپل وطن د تاريخ او ټولنيز کلتور نه بيگانه او نا خبره پاتې شول او دوی د دين نه سم برداشت ونکړ. يا په بله اصطلاح دوی برين واش شول يعنې ماغزه د دوی ومينځل شول او د تکفيري اډيالوژي د تاثير لاندې راغلل.

د عصري ښوونځيو او پوهنتونونوفارغين هم دا پورته ستونزې درلودې. د دې ترڅنگ د عصري ښوونځيو او پوهنتونونو تعليمي نصاب بی کيفيته او د مارکيټ د ضرورت سره متناسب نه و او نه دی. په موجوده وخت کې د پنځوس زرو نه زيات ځوانان د پوهنتونونو نه هرکال فارغيږي او فکر نه کوم چې په سلو کې لس سلنه دا فارغين په دولتي او يا خصوصي سکتورونو کې د خپل تعليم په زورځانونو ته کار پيدا کړي، نو په دی توگه هر کال په لس گونو زره ځوانان بيکاره پاتې کيږي.

طبعي او غير طبيعي منابع ورځ تر بلې کميږي خو په مقابل کې د نفوسو تعداد بيحده په زياتيدو دي. کورنۍ او هم دولت د نفوسو د زياتيدو د مخنيوي لپاره کوم سم پلان نه لري. کورنۍ يوازې د ماشومانو توليد کوي او بيا ماشومان کوڅو ته خوشي کوي او د خپلو ماشومانود تعليم او تربيه په فکر کې نه دي او همدا يوه خبره کوي چې الله تعالی روزي رسان دی. دا نه گوري چې الله تعالی دوی ته عقل او فکر ورکړی او بايد د فکر او عقل نه هم کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند، د ټولو نه مهمه لار په لومړي سرکې د نفوسو د کثرت مخه نيول او بيا په تعليمي نصاب فکر کول دي چې د وطن د اړتياو په تناسب عيار شي. دا شرط نه دی چې هرڅوک دی د پوهنتون نه فارغ شي بلکې تخنيکي او حرفوي زده کړو ته بايد زياته توجه وشي ترڅو ځوانان بيکاره پاتې نه شي.

د ټولو نه مهمه مسئله حکومت او هم مخالفو ډلو ته دا ده که دوی واقعاً د افغانستان، افغانانو او اسلام په غم کې وي نو دوی بايد د جنگ مخه ونيسي. د وطن لپاره، د اسلام لپاره او د خپلو خلکو لپاره بايد مخالفې ډلې او حکومت سره توافق ته ژر ورسېږي ترڅو د افغانانو وينه نوره بېځايه تويه نه شي. هرکال په لس گونو زره افغانان په جنگونو کې له منځه ځي، د دوی کورنۍ په حکومت او هم په ملت باندې به بار وي او د دې کورنيو اولادونه چې بيکاره او بې تعليمه پاتې کېږي، د راتلونکې نورو جنگونو لپاره به وسيله وي. د جنگ په دوام کې زموږ دردونه زياتېږي، کميږي نه.

زما په اند په هيڅ وجهه افغانستان کې د جنگ د دوام لپاره ديني، مذهبي او يا سياسي دليل نشته دی. په هره توگه چې کېږي بايد د جنگ د بنديدو غم وخوړل شي. که د جنگ د بنديدو لپاره هره خوا، که هر څومره قيمت ورکړئ بيا هم به دا قيمت، د جنگ د دوام د قيمت نه په مراتبو لږ وي.اوس د افغانانو ټوله انرژي او منابع د يو بل پرضد په جنگ او د ځان د حفاظت لپاره مصرفيږي او د افغانستان راتلونکي لپاره هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان نه عملي کېږي. د افغانستان ستونزې د معجزې په توګه يو دم نه شي حل کيدی، موجوده او هم راتلونکې ډېرحکومتونه به د پورته ستونزو د حلولو په اړه د ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان وي. که چېرې جنګ بند شي او د اوس نه سم کار پيل شي بيا هم ډېر وخت ته اړتيا ده چې پورته ستونزو ته دحل لارې چارې پيدا شي. موږ خپلو ستونزو او دردنو ته دوا يوازې او يوازې د سولې په موجوديت کې پيدا کولو شو نه د جنګونو په دوام کې. روهي ويبپاڼې او پژواک خبرې اژانس هم دا ليکنه خپره کړې ده.

http://www.rohi.af/fullstory.php?id=٥١٧٠٨

http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D٩٪BE%D٩٪٨٧-%D٩٪٨٧٪D٨٪B١-%D٩٪٨٢٪DB٪٨C%D٩٪٨٥٪D٨٪AA-%DA٪٨٦٪DB٪٩٠-%D٩٪٨٨٪D٩٪٨A-%D٨٪A٨٪D٨٪A٧٪DB٪٨C%D٨٪AF-%D٨٪AF-%D٨٪AC%D٩٪٨٦٪DA%AB-%D٩٪٨٥٪D٨٪AE%D٩٪٨٧-%D٩٪٨٨٪D٩٪٨٦٪DB٪٨C%D٩٪٨٨٪D٩٪٨٤-%D٨٪B٤٪D٩٪٨A

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ويلو او ليکلو ژبه بايد ساده او عام فهمه کړو نه سخته:**

۱۹ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

د پښتو او دري ژبو د ويلو، ليکلو او د انګليسي نه ترجمې نوو لغاتونو استعمال زموږ غوندې د جودان وهلو کسانو کار ډېر سخت کړی دی. د مفهوم نه مو د لغاتونو او جملو استعمال ته همېشه زيات فکر وي.

نن سهار مې د ازادی راډيو اورېدله چې دکرکټ ټيم د بريا په هلکه يې راپور درلوده، نو نظاق ويلي چې ټيم زير۱۹ ساله او يا په پښتو کې د ۱۹ نه لاندې ټيم لوبه وګټله. دا کټ مټ د انګليسي ژبې ترجمه ده. خو ووايه چې د ۱۹ نه کم عمرو ځوانانو ټيم، لوبه وګټله يا ټيم جوانان که عمر کم از ۱۹ سال داشت بازی را برد. د زير يا لاندې لغات څه معنی لري دلته. يا په طلوع ټلوېزيون کې بل وايي چې پيام های تنقيح ناشده. اوس به څوک په دی جمله پوه شي.

د راډيو او ټلوېزيون ژبه بايد ساده وی چې حتی يو نالوستی کس هم ترې سل په سلو کې په لومړي ځل مطلب واخلي. د اخبار ژبه بايد هم دومره ساده وی چې يو کس لږ لوستل کولی شي د لوستلو په وخت کې بايد په مطلب پوه شي. که څوک غواړي چې خپل ادبي منتر پوخ کړې نو خپلې ليکنې دې ادبي مجلو او ژورنالونو ته ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## راځي چې ښه خبرونه د خپلو سيمو سره شريک کړو:

۲۴ دسمبر ۲۰۱۶م کال





هره ورځ موږ بد او زړه بوگنونکي خبرونه ډېر اورو چې د ښو خبرونو اړخ يې ډېر کمزوری کړی دی. راځي چې د خپلو سيمو ښه خبرونه هم سره شريک کړو. نن د کونړ ولايت د سيد جمال افغان پوهنتون د څلورو پوهنځيو نه ۶۶۹ محصلين فارغ شول. د مراسمو په دغه غونډه کې چې دکونړ ولايت د مرکز چغه سرای سره نږدې د پوهنتون په انگړ کې د محصلينو او استادانو له خوا جوړه شوې وه، ما هم پکې گډون وکړ. ډېر د خوښۍ ځای و چې په زرگونو دولتي چارواکو، محصلينو او د محصلينو د کورنيوغړو په دغه شانداره مراسمو کې گډون کړی و. ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرغونه رپېدل، امنيتي فضا ښه وه، محصلين ډېر خوشاله و، د خپلو خوليو او چپونو سره يې عکسونه د خپلوانو او دوستانو سره اخيستل.

په دغه غونډه کې ما ته هم موقع راکړل شوه چې يو څو خبرې وکړم.

زما پيغام محصلينو ته دا وچې بايد دوی نور هم کوښښ وکړي چې نورې زده کړې وکړي او يوازې په لسانس اکتفا او قناعت ونه کړي ځکه ځوان نسل د نورو ستونزو ترڅنګ د تعليم په ساحه کې د هېواد په کچه او هم د نړۍ په کچه د زيات رقابت سره مخ دی نو دوی بايد لا زيات کوښښ وکړي چې د رقابت له لارې سر لاري اوسي. د دې ترڅنګ مې په مراسمو کې د ګډون کوونکونه وغوښتل چې که جنګ په افغانستان کې بند نه شي، زموږ نيمګړتياوي به په ټولو ساحو کې همداسې زياتې وي. افغانستان لا اوس هم د آسيا په هېوادونو کې د ټولو نه فقير هېواد دی. هغه پيسې چې په جنګ مصرف کېږي، هغه بايد په بيا رغونه، انکشاف، تعليم او تربيه باندې ولګېږي. دوه کاله د مخه د USIP په مالي مرسته، د EPD مؤسسې د يوې سروې په اساس امنيتي او خصوصي سکتور په شمول يوازې په پنځو سکتورونو کې هرکال ۹ ميلیارده امريکايي ډالره د افغانانو په جنګ باندې مصرف کېږي که دا پيسې د افغانستان په ولسواليو تقسيم شي نو هرې ولسوالي ته ۲۵ ميليونه ډالره رسېږي. که موږ يوازې د جنګ د تاوان همدا پيسې په هره ولسوالي مصرف کړو نو افغانستان به د مترقي هېوادونو په لړ کې حساب شي. که موږ دا پيسې په تېرو څلويښت کلونو د جنګ سره ضرب کړو نو پوهېږو چې موږ څومره لوی تاوان د جنګونو د دوام له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله کړېږ دی. د مادي شتمنيو د له منځه وړلو ترڅنګ موږ خپله زياته بشري سرما يه هم د لاسه ورکړې او يا زموږ بشري سرمايه ته د رشد زمينه نه ده مساعده شوی او په عوض يې د رشد مخه هم نيول شوی ده.

زما اخرې پيغام دا و کومه فزيکي او بشري سرمايه چې موږ د يو بل په راپرزولو کې مصرف کوو ښه به دا وی چې دا سرمايه د خپل ملک په آبادۍ کې مصرف کړو.

**د ځوانانو لپاره د قلم د ښوونيز، ټولنيز او فرهنګي مرکز نه مننه:**

۲۳ دسمبر ۲۰۱۶م کال






زه په کامه کې د ځوانانو لپاره د قلم د ښوونيز، ټولنيز اوفرهنګي مرکز د مشرتابه او غړو نه په خاصته توګه د انعام الله مياخېل او زاهدالله احمد نه مننه کوم چې زما په وياړ يې د جمعه په ورځ د کامه ولسوالي د قلعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخند په سیمه کې غونډه جوړه کړېځ وه. همدا شان زه د ټولو هغه دوستانو، همزولو، مشرانو او فرهنګپالو نه مننه کوم چې دی غونډې ته یې تشریف راوړ و او هم ځینو دوستانو زما په اړوند خبرې وکړي که څه هم زه دومره مستحق ځان نه ګڼم. په خاصه توګه زه د ننګرهار پوهنتون د رئیس  پوهندوی ببرک میاخېل، ځوان فرهنګي ارشاد رغاند، استاد او حقوقپوه سید خالد سادات، څېړنوال عبدالقیوم مشوانی، د مثبت بدلون د ټولنې مشر استاد عبدالبصیر سباوون، لیکوال او شاعر اسدالله ساحل، ځوان ژورنالست نوراغا ځواک، د ننګرهار پوهنتون د ژورنالیزم د فاکولته مرستیال استاد خالد ضیا او استاد غلام فاروق نه مننه کوم چې په غونډه کې یې خبرې وکړې.

دا چې په افغانستان کې مشرقي یا لوی ننګرهار د علم او فرهنګ مرکزبلل کیږي، که مبالغه ونه کړم، د دغه علمي او فرهنګي سیمې مرکزثقل د کامه ولسوالي ده چې په خپله غیږ کې یې په قدیمو اومعاصرو وختونوکې ډېر نومیالي پوهان، متفکرین او سیاستوال روزلې دي. د تفسیر یسر مؤلف مراد علي صاحب، جهادي شخصیت د سرکانو میاصاحب، صدراعظم محمد موسی شفیق، مولوی غلام نبي صاحب، مولوی محمد ابراهیم کاموي، علامه استاد قیام الدین خادم صاحب، ملي شاعر او لیکوال امان الله سیلاب صاحب، استاد محمد اصف صمیم او داسې نورپه سل ګونو کسان پوهان او ادیبان د کامه د سیمې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پیغام همدا و چې په ښه حکومتدارۍ کې باید ولس برخه واخلي او د جنګ مخه باید ونیول شي. کله چې موږ د ښې حکومتدارۍ خبره کوو نو په دې برخه کې یوازې حکومت نه دی بلکې د ولس او ټولو غیر دولتي او خصوصي سکتور ونډه په ښه حکومتدارۍ کې مهمه ده. بله خبره زما دا وه که په ښه حکومتدارۍ کې او هم په سیاست کې ولس برخه وانخلي نو یو شمېر محدود کسان به برخه اخلي او بیا به هغوی د ولس په سرنوشت لوبې کوي. که ولس په ښه حکومتدارۍ او سیاست کې فعاله ونډه واخلي نو بیا ولس به د خپل سر نوشت په اړه په خپله تصمیم نیسي.

دا چې دا سیمه د علم او فرهنګ مرکز دی نو ځکه دوی د نورو سیمو د علمي کدرونو او فرهنګیانو ستاینه کوي وایي د زر قدر په زرګر وي، نو ځکه د علم او فرهنګ قدر په دوی کې شته دی. الله تعالی دی په دوی کې همدا روحیه ژوندی د تل لپاره وساتي. په اخره کې زه د احسان الله کاموال نه مننه کوم چې د قلم ښوونیز مرکز لپاره یې ښکلي ودانۍ او نور سهولتونه برابر کړي دي.

## د پرفیکشنستانو Perfectionists قضاوته هم عجیبه غونډې وي:

۲۵ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ځیني بزدله انسانان د هر کار په کولو او یا لیکنو کې دومره سوچ کوي چې په اخره کې په خپله د هیڅ کار نه وي، خو د بل په کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې به د نیوکو مزری وي. داسې کسانو ته د محافظه کاره او یا د مضر احتیاط خاوندان هم ویلو شو.

د مضر احتیاط کسان ټاپو لګولو، انتقادونو او نیوکو لپاره ډېر تکړه وي او نور هم دی ته هڅوي چې احتیاط کوه، باید هیڅ کار دې نیمګړی نه وي او په کارونو کې باید هیڅ اشتباه ونه کړي. داسې کسانو ته په انګلیسي ژبه کې او یا د سایکالوژیکي د علم له نظره Perfectionists پرفیکشنست وایي چې هیڅ نیمګړی کار ورته د قبول وړ نه وي.

پرفیکشنستان نه په خپله کار کوي او نه د نورو د کارونو ستاینه کوي. زما په اند که کار کوي، نو اشتباه او غلطي به هرو مرو کوي. سوال دا دی چې د اشتباه نه څه یادو، ایا اشتباه قصدي ده که تصادفي؟ او یا نیمګړتیا او اشتباه د ماحول د شرایطو له امله ده، یا د وخت، معلوماتو او امکاناتو ته د نه لاس رسي له امله ده؟ او داسې نور په هرحال موږ باید د نیوکو نه ویره ونه لرو او خپل کارونه باید په صداقت، ایمانداری او بی له ویري پر مخ بوزو. نه د چا د تشویق په هیله اوسواو نه د چا د نیوکو باندې خفه شو. که ښه او پرځای نیوکه وه باید خپله اشتباه ومنو او هغه اصلاح کړو او که پرځای او تعمیري نیوکه نه وه نو هغه باید د خپلو مغزو نه دلیت Delete کړو او باطل دانئ ته يې واچوو او عقده باید د چا سره ونه ساتو چې ولې يې زما په لیکنو او کارونو نیوکه کړیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خپل قيمتي وخت او د امکاناتو د مصرف محاسبه همېشه په کار ده:**

۲۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

که دکال ۳۶۵ ورځي محاسبه کړو نو د افغانانو د نيمايې نه زيات وخت د ورځو په غندلو او د ورځو په لمانځلو تېرېږي. همدا شان د افغانانو او دولتي چارواکو نور زيات وخت په ودونو او فاتحو کې په ګډون کولو سره تېرېږي. ويل کېږي چې سږکال د طالبانو تلفات هم زيات و او د دوی د قوماندانانو او مشرانو هم زيات وخت په جنازو او فاتحو تېر شوی دی. که همدا مو حال او احوال وي نو فکر نه کوم چې موږ دې د وطن په آبادۍ فکر وکړای شو.

موږ بايد خپل قيمتي وخت او امکانات هسې په شعارونو، غندلو او تايدولو مصرف نه کړو. ښه به دا وی چې د خپل ځان سره محاسبه وکړو چې دا روان کال مو د خپل ځان لپاره، د خپلې کورنۍ لپاره، د خپلو خلکو او وطن لپاره څه کړي دي. ايا د خپل قيمتي وخت او د خپلو محدودوامکاناتو نه، که شخصي وي يا دولتي، ايا مؤثره ګټه اخيستلې ده او که نه؟

که موږ د خپلو درلودلو امکاناتو او وخت نه مؤثره ګټه نه شو اخيستلی، نو بيا موږ هيڅکله نه شو کولاي چې د نورو د مرستو او کمکونو نه مؤثره ګټه واخلو نو دا دا توقع بايد ولرو. ښه به دا وي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قيمتي وخت او امکاناتو د مصرف محاسبه بايد همېشه د موږ سره وي.

**د خپلې سيمې يو بل ښه خبر:**

۲۶ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل





نن سبا په ننگرهار او کونړ کې  د يارانو او دوستانو سره د چکر ډېر ښه موسم دی. گورئ چې د کامې د همايون غزنوي اصلي شريخ له وطني پېروي سره او د خاص کونړ له سپين جومات سره د زميندار هوتل يخني ښوروا، چپلي کباب او د شيدو چای هير نه کړئ.

سخت کيف کوي چې د کونړ د سيند په غاړه دې کټ اچولی وي او د پولوشن يا کثيفي هوا نه بچ وي او د سيند شرار اوري. بيا د دوستانو سره په خپله حجره کې شين چای په مزه څښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





فکر کوم چې همدا سکون، د خپلوانو او دوستانو سره لیدنه خاص ارزښت لري چې د دنیا په نورو سیمو کې یې نه شي پیدا کولی. زاړه یادونه تازه کوي خو یو فرق یې دا دی چې پخوا به په جاله او کشتیو کې پورې وتلو، نن سبا په پلونو باندې په موټرو کې تېرېږو او هرځای د خوراک او څښاک سهولتونه زیات دي. د پخوا په شان جوش کړې هګۍ او کباب کړي چرګان څوک په سفر کې نه ګرځوي. همدی ته انکشاف هم وایي. د لارو په هر ځای کې دومره ګڼه ګوڼه ده چې ما په خپله لس کاله پخوا یې هیڅ تصور نه شو کولی. د خوراکونو بیه د کابل په تناسب په کونړ او ننګرهار کې ډېر ارزانه ده ځکه په کابل کې دوکانداران ډېر بې انصافه دي او دلته یو څه انصاف او مینه په خلکو او دوکاندارانو کې شته دی. انصاف ښه څیز دی وطن ته آبادي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نیم بسمل مرغه:**

۲۷ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

نن چین، روسیې او پاکستان په مسکو د افغانستان د مسایلو په اړه غونډه ده چې افغانستان یې نه و دعوت کړی. افغانستان کوښښ کوي چې پاکستان د نړۍ په کچه د انزوا حالت ته بوزي خو بیا پاکستان همدا کوښښ کوي د افغانستان پرضد دا ډول پالیسي اختیارکړي.

زموږ د وطن نیم بسمل مرغه الوتلی نه شي او نه تری دا توقع باید ولرو چې د عنقاب د مرغه پشان د هندوکش د غرونو د پاسه پروازونه وکړي.

عجیبه حالاتو سره ګیر یو که بهرنۍ سره (کیمیاوی کود ) په نیالګو یا بوټو باندې زیاتېږي، بیا هم مو وضعیت خرابیږي، نیالګي وچېږي او د جنګ ډګر ګرځو؛ که سره کمیږي، بیا هم د کمزوری له لاسه به مو د نیالګو پاڼې ورځ تربلې ژیړیږي او نیالګي وچېدو ته نږدې کېږي.نه سره لمر ته د ودریدو طاقت لرو او نه د ژمي یخ سورې سره ګوزاره کولی شو. د نیم بسمل مرغه په شان، مرګ او ژوند ته شپې او ورځې سبا کوو. په داسې حالاتو کې لا زیات کسان سور سالو غواړي او دا نه ګوري چې څه وکړو او څنګه د وطن نیم بسمل مرغه د بقا لپاره سره لاسونه ورکړو.

دا لوبه سخته هو ښیاري غواړي چې د وطن نیم بسمل مرغه روغ شي او د عنقاب د مرغه په شان بیا د هندوکش د غرونو د پاسه پروازونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږه نړۍ یوه وروسته پاتې نړۍ ده:

۲۸ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل




د نومبر په دویمه نېټه په واشنګټن کې د USIP په مرکزي دفتر کې د باستان د پوهنتون (Boston University ) استاد عادل نجم د Climate Change یا د محیط زیست د تغییر په اړه لیکچر ورکاوه چې دلچسپه او هم بوږنوونکی و.

دی وايي که دنیا ته د یوې بلې سیارې نه د یو ملک په توګه نظر واچوو نو زموږه نړۍ (دنیا) لکه د یو وروسته پاتې هېواد په شان ښکاري. د دې وروسته پاتې نړۍ اکثریت ولس په فقر او یا د فقر د کرښې نه کښته سطحه کې ژوند کوي، په دې نړۍ کې امنیت نشته او تقسیمه شوې نړۍ ده، د دې نړۍ مدیریت ډېر ضعیفه دی او دا نړۍ د تنزول خواته روانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محیط زیست د له منځه وړلو، د منابعو د کمښت او د نفوسو د زیاتوالي له امله به مهاجرتونه زیاتېږي او زیات مهاجرتونه به د زیاتو جګړو لپاره زمینه مساعدوي. هغه هېوادونه او سیمې چې د محیط زیست د ښه کېدو لپاره پلان نه لري، افغانستان هم د دغه هېوادونو په لړ کې دی، د سختو ستونزو سره به مخامخ وي خو د دې هېوادونو ستونزې په ټوله نړۍ تاثیر لري.

**د ستونزو د حل لپاره یوه طریقه؛ د مخابراتي شبکو تجربه**

۲۹ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

ټول په دې پوهېږو چې د افغانستان په دولت او خلکو کې زیاتې ستونزې شته دی، همدا مو غر او همدا مو کربوړې

زما په اند ټول چارواکي بد خلک نه دي او ډېر یې زموږ او ستاسې نه هم ښه احساس لري ځکه دوی د ټولو ناخوالو سره سره حکومتي دندې قبولې کړې دي او په دې پوهېږي چې هره ورځ دوی ولس ملامتوي، خو بیا هم کوښښ کوي چې خدمت وکړي.

د ستونزو د حل لپاره یې یوه لار دا ده چې یوه ستونزه مشخصه کړو او بیا هماغه ستونزې د حل لپاره کوښښ وکړو.

**زه درسره یوه تجربه شریکوم:**

څه موده د مخه زما د اریبا د تلیفون د شمېرې نه د دقیقې خبرو په سر دولس نیمې افغانۍ کټ کېدلې نو ما دا ستونزه په فیسبوک کې ولیکله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مې اریبا دفتر ته خبر ورکړ. اریبا دفتر چې نمبر وکاته نو وویلي چې داسې پنځه زره نمبرې د دوی نه غلا شوي دي او چا کومه جعلي دستګاه راوړې او پیسي هغوی په څه شکل اخلي.

د اترا مشر عزیزي صاحب ماته مسیج وکړ چې نمبر ماته راواسته چې د دې مسلي پوښتنه وکړي. ما نمبر واستوه او بالاخره دوی تحقیق وکړ او د ټولو کمپنیو د تلیفون داسې شپږویشت زره نمبرې غلا شوې وې او هغه یې بېرته سمې کړې. یوه ستونزه پاتې ده چې هغه جعلي دستګاه یا دستګاوې د امنیتي ادارو په مرسته کشف او ونیسي. همدا مبارزه د فیسبوک یو څه نتیجه ورکړه چې د شپږویشت زره کسانو د جیب وهلو مخه ونیول شوه. زه د عزیري صاحب نه مننه کوم.

یوې بلې ستونزې ته هم د مخابراتو وزارت جدي توجه په کار ده. هغه بله ورځ د مخابراتو وزارت د معین نه په آزادۍ راډیو کې یو اوریدونکی پوښتنه کوي چې د تلیفون کمپنې د مشتریانو د اجازې پرته بعضې پروګرامونه یا بنډلونه فعالوي او د خلکو نه په داسې ډول غلا کوي. معین صاحب وایي چې دا غلا نه ده اور چارج (Over Charge) یا اضافي پیسې اخیستل دي. زما په اند دا ښه سمه مسلکي غلا ده او هره کمپنۍ چې دا کار کوي باید ښه سم جریمه شي او د چا نه یې چې داسې غلا کړې، باید هغوی ته د یو کال لپاره مفت یا فري د تلیفون خدمات ورکړي. خدای دې وکړي چې د اترا اداره او یا نور چارواکي دې مسلې ته هم متوجه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند په هرحالت کې ټوله مبارزه ده:**

۳۱ دسمبر ۲۰۱۶م کال، کابل

دا چپ خوا ته زموږ ډېر قدرمن مشر ډاکټر صاحب سید قاهر عاطف دی چې د جراحي پخوانی متخصص و او عالي تحصیلات یې په امریکا کې کړي دي او څو لسیزې یې د افغانستان په اردوکې د طبیب او سر طبیب په توگه دندې اجراکړي دي. داکتر صاحب ته دی الله تعالی ډېر عمر ورکړي که څه هم دی اوس د اوه اتیا کلونو دی خو د مانه هم تکړه دی او په قصو یې هیڅوک نه مړېږي. پرون (۳۰ دسمبر) د جمعه په ورځ مو په خاص کونړ کې ورسره ښه بنډار وکړ.

دا ښي لاسته مستری سیف الرحمن نومیږي چې پس له ډېرو کلونو مې ولیده او نهایت زیات خوشاله شوم ځکه زموږ پخواني وختونه یې تازه کړل. کله چې په لیسه کې وم نو زموږ بایسکلونه به یې راته جوړول. هغه وخت موږ د خپل کورنه لیسې ته یو ساعت او پنځلس دقیقې په بایسکل تللو. هغه زده کوونکي لا ډېرخوشبخته و چې بایسکلونه یې درلودل خو زیاتو زده کوونکو به په پښو هره ورځ دوه ساعته له یوې خوا او دوه ساعته له بلې خوا زموږ د کلي نه د خاص کونړ لیسه ته مزل کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دې ټولو ستونزو سره موږ هیڅکله د سبق ویلو نه شکایت نه دی کړی. اما زموږ دا اوسني ځوانانو باندې چې لږه سخته راشي نو بیا په شکایتونو سر شي. فکر کوم چې د ژوند په یوه حالت کې هم شکایت نه دی په کار ځکه ژوند په واقعیت کې په هر حالت کې ټوله مبارزه ده.

د ۲۰۱۶م کال اخري پوست

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**